غنی

او

اجمل

۱۳۶۵

دغني او اجمل د زوکړې د کاليزو
په مناسبت علمي ادبي سيمينار

غني او اجمل

د پښتو د نوميالیو شاعرانو خان عبدالغني خان او اجمل ختک
په باب د ليکوالو د مقالو مجموعه

خپروونکی

د قومونو او قبايلو وزارت
د نشراتو او فرهنگي چارو رياست

۱۳۶۵ هش

PROPERTY ACKU No. 7184
PROPERTY OF ARIC Established 1989

غني او اجمل

دقومونو او قبایلو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست ویاړي چې داځل د پښتو ژبې او ادب د دوو نومیالیو او ننګیالو معاصرو او ژوندیو شاعرانو د زوکړې د کالیزو په مناسبت علمي او ادبي سیمینار جوړوي.

دد غه سیمینار علمي کار د تیر کال په جریان کې د پښتو او دری ژبو د نومیالي شاعر او لوی لیکوال سلیمان لایق په هدایت د یوه علمي کمیسیون تر نظر لاندې پیل شو.

ددې کمیسیون مشر: ملګری عبدالرشید وزیری و، زلمی هیوادمل او عبدالودود وفامل یې غړي وو، ددې کمیسیون په لاره ښوونه د سیمینار د لا در نښت په خاطر د ځینو آثارو چاپ او خپرول ومنل شول او همدا رنګه د هیواد له لیکوالو او د نظر له خاوندانو څخه لیکلی غوښتنه وشوه چې د پښتو د دغو دوو نومیالیو شاعرانو د ژوند او آثارو او د دوی د علمي او ادبي فعالیتونو

په باب خپلې خېرنې موږ ته راولېږي. د هیواد پوهانو زموږ دې غوښتنې ته مثبت ځواب ووایه او د خپلو علمي څېړنو په رالېږلو يې موږ ته داویاړ او باخښنه چې موږ د خپلو دغو دوو نوميالیو شاعرانو د ژوند د دې مهمې حادثې رويداد په یوه مجموعه کې سره خوندي کړو.

ټولې راغلې مقالې خطاطي شوې، تصحيح شوې او چاپ ته آماده شوې. د مجموعې د مدون په خوښه په دې مجموعې د (غني او اجمل) نوم کښېښود شو، چې دادې د نشراتو د رياست له خوا د ښت سره ګرانو لوستونکو ته وړاندې کېږي. د قومونو او قبايلو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو رياست لپاره به دا ډېره د خوښۍ خبره وي چې د دې مجموعې محتويات په واقعي توګه د پښتو د دغو نوميالیو شاعرانو د ژوند انځور زموږ خلکو ته وړاندې کړي.

په درناوی

عبدالودود وفامل
د نشراتو او فرهنګي امورو رئيس

فهرست

مخ	لیکوال	گڼه مضمون
۱	مدون	۱- یادداشتی از همدلان و مجموعه
۵	زرین انځور	۲- په معاصره پښتوکې ....
۲۶	سرمحقق دوست شینواری	۳- داجمل خټک په اشعارو کې ...
۳۴	محمد ابراهیم عطائی	۴- غني څه وایي او چاته وایي ....
۵۱	اکبر کرگر	۵- اجمل خټک او د پښتو په شعري جریانونو کې ...
۷۵	پوهنیار آصف بهاند	۶- دغني خان فلسفي افکار
۹۱	نصرالله حافظ	۷- اجمل خټک او غزل
۱۰۴	سرمحقق دکتور د. م. لودین	۸- اجمل خټک د پېر ګنو د لاره ښود ....
۱۱۵	اکبر کرگر	۹- دغني د شګو په محل کې ...
۱۴۵	پوهنیار لطیف بهاند	۱۰- داجمل شعر ته یوه کتنه
۱۶۴	ز. هـ	۱۱- ګلې وډې ......
۱۷۲	شیرزی و عبدالله بختاني خدمتګار	۱۲- غزل، اجمل، ګل تکل

گڼه مضمون	لیکوال	مخ
۱۳- د اجمل خټک د ادب په تصویر کې	محمد دین ژواک	۲۱۰
۱۴- غني خان او اجمل خټک	سر محقق معتمد شینواری	۲۲۰
۱۵- اجمل خټک زما په نظر کې	جمعه خان "صوفي"	۲۳۴
۱۶- تلپاتې غني	پوهیالی خالق رشید	۲۴۳
۱۷- د کوزې پښتونخوا	بریالی باجوړی	۲۵۷
۱۸- غني او اجمل	محمد اسمعیل سهار	۲۷۱
۱۹- د لیوني فلسفي په نوم	افضل ټکور	۲۸۰
۲۰- د غني په اشعارو کې	میر احمد گوربز	۲۸۹
۲۱- غني او دهغه شاعري	محقق نور محمد سهیم	۲۹۸
۲۲- د غني د دریو چاپي کتابونو	محمد مؤمن پتوال	۳۰۷
۲۳- د چهرهٔ شناخته شده	ن، ه	۳۲۷

یادداشتی از مدون مجموعه

در دوران معاصر زنده گی فرهنگی کشور ما بعضی از موسسات رشد علم وفرهنگ وادب بخاطر ارج نهی به پیشینان فرهنگی وادبی کشور و یادی از کارنامه های ادبی وعلمی ایشان کنفرانسها و مجالس علمی ایرا تدویر کردند و آثار گرانبهایی از ایشان و یا به مناسبت مجالس بزرگداشت شان از دیگران را به نشر سپردند که این همه کارها در رشد سطح فرهنگی کشور ما درخور اهمیت بوده وخالی از اهمیت نیست .

تمام سیمینارها و مجالس علمی ایکه تاهنوز در کشور تدویر گردیده به اشخاص وفرهنگیانی تعلق میگرفت که از دوران ما صدها سال فاصله داشت و یا هم سیمینارهایی بوده است موضوعی . اما این بار در موضوع و سیستم سیمینارهای کشور ما تحول رونما شد که در تاریخ سیمینارهای کشور ما تازه گی دارد وآن تجلیل از شخصیت های

علمی و فرهنگی دو تن از ادبا، شاعران و فرهنگیان امروزی زبان ماست که هر دوی شان شکر زنده هستند و یکی ازین دو در کشور ما تشریف دارند مراد از اینها خان عبدالغنی خان و اجمل خټک است.

سلیمان لایق شاعر و نویسندهٔ پرآوازهٔ کشور ما سال پار تدویر مجلس بزرگداشت از فعالیت های هنری و ادبی این دو هنرمند و ادیب را هدایت دادند و تحت نظر کمیته یی بکارهای علمی آن پرداخته شد. به تنی چند از برگزیده گان فرهنگی ما مکتوب ارسال شد و از آنها درخواست گردید تا دربارهٔ شخصیت های فرهنگی و کارنامه های هنری و ادبی این دو دو شاعر نامدار زبان پښتو به تحقیق پردازند و نتایج تحقیقات شانرا در نبشته های بدسترس کمیتهٔ تدویر و انسجام بگذارند. اما قابل به یادآوری است که در مکاتیب شرایط مقاله به هر یک از نویسنده گان گرامی نبشته شده بود و از ایشان صمیمانه تقاضا بعمل آمده بود که مقالات باید از موضوع خارج نباشد و هر کس در تعیین موضوع اختیار دارد هرچه را میخواهد و هرچه را از آفرینش های غنی و اجمل برداشت دارند بنویسند و بما ارسال دارند.

زمانیکه مقالات به کمیسیون تدویر رسید اکثر نویسنده گان گرانقدر خواستهای ما را نپذیرفته بودند و موضوعی را که خودشان به خود برگزیده بودند آنرا نیز بطور شایسته در شرایط یک مقاله سیمینار تحقیق نفرموده بودند، بل در اکثر مقالات دوری از موضوع، تکرار بی جا، گزینش نمونه های زیاد برای استشهاد یک موضوع همچنان دیگر ضعف های تألیف، البته نمیتوان چشم پوشی کرد که شماری از مقالات مجموعه

نهایت* پرمحتوی واز بالندگی علمی برخوردار بودی وبنابر خواسته های کمیسیون نگارش یافته بود که ما به نوبهٔ خود از ایشان اظهار سپاس میداریم واز نویسنده گان گرامی دیگری که بدون درنظرداشت خواسته های کمیسیون به ارسال مضامین طویل شان ما را سرفراز فرموده اند نیز ممنونیم اما با یادآوریهای زیرین :

۱- هدف از تدویر سیمینارها باید طوری تلقی نشود که یکی دوروزی تنی چند باهم گردآیند وسخنی چندی پیرامون یک موضوع مشخص رد وبدل شود.

۲- همینگونه مؤسسات تدویرکننده سیمینارها بایست چنین نپندارند که سیمیناری دایرگردد که دراثر دایرشدن آن درحسنات موسسه اضافتی بشود وخبری به رسانه های گروهی کشور جهت نشر آماده گردد.

هدف از تدویر سیمینارها باید تحقیق علمی در موضوع مشخص باشد. تحقیقات سیمینارها باید موضوع را خوبتر روشن نماید وبرجهات گوناگون موضوع از دیدگاهای مختلف روشنی اندازد، هدف از تدویر سیمینار باید رشد فرهنگ ونشر آثار مفید وبه درخور باشد که آینده گان را مرجعی باشد علمی ودرتحقیقات خود ازان سود برند. فرهنگیان ما لابد این موضوع هرچه مهمتر مدنظر داشته باشند ودرهر سیمینار درهر موضوعی که باشد باید ازخود بپرسد چیزی راکه من درین موضوع مینویسم ارمغان نوی به مردم وفرهنگ ما دارد ویاخیر ؟

در مجموعهٔ حاضر بعضی از مقالات خصوصیت واوصاف مقالات یک سیمینار علمی را دارا نیستند وصرف به منظور سهمگیری ویا مقاصد دیگر که نمیتوان از ان در اینجا یاد کرد نبشته شده اند .

بر علاوهٔ آن در اکثر مقالات مجموعه بحث بر یک شعر واحد بیشتر دیده میشود .

به گونهٔ مثال : در مقالات مربوط به غنی خان بر شعر "که خازی شنی می ....." و در مقالات مربوط به اجمل بر اشعار چون "گوجر" "شپونکی" و دیگر اشعار مشهور بحث زیاد صورت پذیرفته و علت آنرا باید این دانست که برین اشعار در اکثر نبشته های گذشتهٔ فرهنگیان ما بحث رفته است در مقالات این مجموعه بایست نویسندگان گرامی اشعار و آفرینش های دیگر آنها را مورد داوری قرار میداد .

من به حیث مدون مجموعه تا جایی که مقدور بود در بعضی از مقالات اصلاحات را روا داشتم ، اما بعضی از مقالات که مولفین گرامی شان از چنین اصلاحات و تنقیصات معقول آزرده خاطر میگشتند در ان هیچ نوع اصلاحات به عمل نیامده و مقالات شان طبق خواسته های شان خطاطی شده که حتی در بعضی از چنین مقالات اغلاط تاریخی نیز نمودار است .

مسوولیت علمی مقالات بالفیت بدوش نگارنده گان گرامی شان گذاشت و این حقیر بنده را بی دخل باید پنداشت . با احترام .

احقر العباد (ز ، هـ)
مدون این مجموعه

زرین انځور

په معاصره پښتو شاعرۍ کې د غني د سبک «منفرد» خصوصیات

«زړه به د اسي لېوني شوم په يو خيال باندې مين شوم
خم د وبېرم سمندر کې په يو لال باندې مين شوم
زړه به د اخنګه مستي ده چې جانان مې پرې کې ورک کړ
که پرېخ د يار د ستر ګو په دلال باندې مين شوم
زه د سينه د ښنلونه وم يوه لېمه مې کړه پوره
زه د لمر د مينې نه وم په هلال باندې مين شوم» (۱)

«غني»

غني په معاصره پښتو شاعرۍ کې د يوه ځانګړي درېځ شاعر دی، د هغه د شعر سبک زموږ په معاصره شاعرۍ کې د منفردو خصوصياتو لرونکی دی.

(۱) پانوس: غني. قامي مکتبه پېښور. لاهور چاپ. ۱۹۷۸ع. (۲۷۷) م.

داچې وايو دغني سبک ځيني "منفرد" خصوصيات لري او هغه په روان شعري بهير کې د خپل شخصيت "انفراديت" او هنري "انفراديت" ساتلی دی، هدف مو دادی چې وو ايو دغني د شاعرۍ ډير ارخونه " په فرد پورې منحصر" ارخونه دي او دا د هغه د شعري شخصيت اساسي او مرکزي ټکي هم دی. سره له دې چې غني په خپلو شعرونو کې د پښتو د ادبيا تو رار رواني عنعني ته هم کله کله پاملرنه کړې ده، خو په مجموع کې يې په معاصره شاعرۍ کې څه داسې برخې زياتې متبارزې دي چې يواځې په غني پورې اړه لري او يواځې د هغه د شاعرۍ "منفردې" ځانګړنې يې ګڼلې شو:

عجيبه مې وجود لا عجب مې ځيګر ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ څه بې توکه بې توله د استرګې اوسر
يا په بام د حرم مستی ترانه ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ يا په شپه د وصال د نفلونو بهانه
يا موسی ته قصې د فرعون د جل ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ يا فرعون ته بيان د ابد دا جل
يا د غم د بې بې نه سرور غوښتل ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ بتخانه کې پرقونه د طور غوښتل (۲)

او په معاصر شعر کې د غني د شعر د غه ډول منفرد خصوصيات د غني د شاعرۍ امتيازي خصوصيت ګڼلي شي. هغه که د خپلو ادبيا تو رواني عنعني ته کله کله د شعري فورم او قالب له پلوه او يا د وخت او زمان د عمده مسايلو د مطرح کولو له پلوه غور کړی دی، نو د دې په څنګ کې يې کله کله له دغې عنعني بغاوت هم کړی دی. په خپل شعر کې د غه بغاوت د غني شعري شخصيت ته منفرد مقام ورېښلی دی.

---

(۲) د پنجرې چغار. عبد الغني خان، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور ۱۹۶۵ع. (۳۷)م

دکنستانتین فدین په نوم یو مشهور منقد او لیکوال وایي: «لیکوال (هنرمند او شاعر) باید د هنر په هره څانگه او برخه کی خپل خلاقیت، انفرادیت او ځانګړی توان وښییي.» (۳)

شاعر او لیکوال که په ټولنه کی د نورو وګړو په منځ کی ژوند کوي، الهام تري اخلي، خه تري زده کوي او بیا د هغوی په وړاندې مسؤولیت احساسوی او د هنري او ادبی او شعري ارزښتونو لرونکو آثارو رته ورکوي نو دا د موضوع یو اړخ دی، په بله خوا کی شاعر په ټولنه کی د یو «فرد» په عنوان د خه ځانګړو خصوصیاتو لرونکی هم وی او همدغه موضوع د هغه «شخصیت» جوړوی. د هغه ادبي شخصیت هم د همدې «فرد» تجلی ده، په هنری او ادبی کارونو کی د یوه فرد په توګه د هغه د ادبی آثارو څېړنه او پلټنه د هغه د ځانګړی سبک څېړنه او پلټنه ګڼله کیږي. لکه چې په «ادبی څېړنو» کی یې لولو: «سبک د لیکونکی فکر او شخصیت دی. بوفون وایي، سبک پخپله سړی دی......» (۴)

دغنی د سبک همدغو «منفردو» خصوصیاتو د هغه شاعری ته په معاصر پښتو شعري بهیر کی ځانګړې بڼه ورکړې ده. ارواښاد ماستر عبدالکریم «د پنجرې چغار» په سریزه کی د غنی په باب وایي:

«زما په فکر نن په پښتونخوا کی غنی هغه شاعر دی چې لوړ تخیل او ځانته خپل مسلک لري. په حیثیت د شاعر د غنی لویوالی هم دا دی چې خپله اوري

(۳) رسالت ادبیات. کنستانتین فدین، ترجمه اسد پیرانفر. ایران، ۱۳۵۴. (۲۳) م

(۴) ادبی څېړنې. څېړندوی محمد صدیق روهي. د ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ ش (۷۳) م

او دبل نه مني . د دغه مست زړګي واګي مدام هم په خپلو لاسو کې دي .... غني نه چا پسې تللی شي او نه به لاړ شي ، ځکه چې غني شاعر دی او تقليد د شاعر مرګ او بغاوت د هغه ژوند دی ... » (۵)

په يو بل ځای کې لولو : « چې څه رنګ د غني خان شخصيت منفرد مقام لري داسې د ده شاعري هم چې ل ځان ته يو منفرد مقام قايم کړی دی او د ژوند غونډې يې د کتضاداتو نه څه داسې شی جوړ کړی چې د ژوند غونډې يې سړی يو ځل وګوري نو بيا يې پرېښودو ته زړه نه کېږي . دا دې تضادات چې کوم د غني خان شاعري ته يو څل جدا مقام ورکړی دی ، هغه دا دي : فلسفيانه خيال ، د کوږ کلي کليواله ژبه او د يو ماشوم شوخي ، معصوميت او بې باکي . » (۶)

په يوه بله مقاله کې هم لولو : « غني خان د شعر و فن په ميدان کې د يوې جدا او آزادې لارې څښتن دی ... د هغه کلام د ژوند د ټولو لوړو ژورو ، ټولو ويړ ترهو ، خوشحالو خندا ګانو ، سوز او ساز ، خوږو ترخو ، د رڼا ګانو او تيارو ذکرونه کوي ..... دا د غني فطرت دی چې هغه قيد او پابندۍ نه مني ... » (۷)

د غني خان په باب زموږ د معاصرو ادبياتو زياترو څېړونکو هم د غه ډول نظر ورکړی دی چې هغه د يوې جلا لارې او يوې جلا شاعرۍ څښتن دی . هغه د چا تقليد نه دی کړی او هغه تل د آزاد تخيل هنرمند شاعر پاتې شوی دی .

---

(۵) د پنجرې چغار ، غني . د ماسټر عبدالکريم سرېزه . (د) م

(۶) پښتو مجله ، پښتو اکيډمي ، پېښور يونيورسټي ، اګست ، ۱۹۸۳ ع ، (زماسترګی او غني خان) د صادق الله مقاله (۱۲) م

(۷) پښتو مجله ، فروري ، مارچ ، ۱۹۸۳ ع . (د غني پلوشې) سلمیٰ شاهين (۴۷ - ۴۸) م . م

داخبره د غني په شاعرۍ کې د زیاتې پاملرنې وړ ده. د استاد الفت په وینا:

« زه د پښتو په اوسنیو شاعرانو کې څو تنه د گوتو په شمار پېژنم چې هر یو خپل ادبي سبک او د خپلو افکارو او خیالاتو په لحاظ ممتاز صفتونه لري او او په بیلا بیلو لحاظونو یو له بل نه او بل له بل نه بېل دي، یو د غزل استاذ دی، بل د ملي او وطني احساس په راویښولو کې د لویې برخې خاوند دی. د چا اجتماعي افکار او خیالات ډېر عالي دي او د چا رندانه سندرې ډېرې ښکلې او په زړه پورې دي. د غني خان په اشعارو کې چې څه شی زما ډېر خوښېږي، هغه د فکر او خیال آزادي او د تقلید له تلقیناتو څخه سرښکښې ده ....»(۸)

همدارنگه د غني د شاعرۍ د دغه اړخ په باب فضل غني غني لیکي:

« هغه (غني) ټول عمر د خپلې خوښې په لاره تللی دی ... د پښتو په ادب او شاعرۍ باندې د غني خان د ټولو نه لوی احسان دا دی چې هغه په نظم او نثر دواړو کې یوه نوې لار راوویستله. هغه د یو ځانله انداز فکر څښتن دی او د هغه د ټولو نه لویه لویي هم دا ده چې د هغه شاعرې ځانله جدا نوعیت لري .... په هغه کې چې کوم خاصیتونه دي، هغه د هیچا په قسمت کې نشته دي ....»(۹)

په دې توگه وینو چې د غني په شاعرۍ کې ځینې «منفردو خصوصیاتو» ته زموږ ډېرو څېړونکو اشاره کړې ده. لکه د هغه د شخصیت په څېر د هغه

---

(۸) د غني پلوشې، د گل پاچا الفت مقدمه، پښتو ټولنه، ۱۳۳۹ ش. (الف-ب) م، م

(۹) پښتو مجله (اعتراف نمبر) پښتو اکیډمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۷۸ع (غني خان-د پښتو ادب د شلمې صدۍ شخصیت) فضل غني غني. (۵۰-۵۱) م م

شعر هم د يرې ځانګړې خواوې لري. دلته به زموږ په معاصره پښتو شاعرۍ کې دغني د سبک په دغو منفردو بېلا بېلو خصوصياتو يو لړ خبرې وکړو او د غه ځانګړنې به په ځو برخو کې وړاندې کړو:

۱- له هېواد سره مينه او له خلکو سره يې مينه او له آزادۍ او آبادۍ سره يې مينه د پښتو د شعر په بهير کې يوه اساسي موضوع وه او ده. غني هم په دغه برخه کې د ستاينې وړ ځاى لري. سره له دې چې د غني په شعر کې د غه ځانګړنه د هغه د سبک په «منفردو» خصوصياتو کې نه راځي، خو بيا هم په دغو شعرونو کې د موضوع د مطرح کېدلو او د شعري بيان لهجې ډېر نوي ټکي ليدل کېږي. همدا رنګه په معاصر پښتو ادبياتو کې غني د غه مسأله په نوي انداز کې بيان کړله او هنري او شعري ارزښتونو ته يې په کې زيات ځلا ورښښله. په معاصر شعري نهضت کې د وطن پالنې احساسات او بيا په تېره د پرنګي ښکيلاک په وړاندې د هغه شعرونه د مخکښو شعري آثارو په نمونو کې حسابېږي. يو ليکوال وايي:

«په دغه دوره کې (کله چې د هند په لويه نيمه وچه د پرنګي ښکيلاک مسلط و) د قامي شاعرانو يوه مضبوطه ډله لګياوه، د قام حوصلې يې او چتولې، په دغه ډله کې ډېر نوميالي شاعران شامل وو لکه: فضل محمود مخفي، عبد المالک فدا، حبيب الله کاکا، فضل رحيم ساقي، عبد الاکبر خان اکبر، شاد محمد ميږى، الفت، خانکه س، ب، او سلګونو نور. خو په دغه ډله کې يو داسې شازلمى هم شامل و

چې د هغه د شاعرۍ یو ځانله لاره وه، ځانله رنګ و او که زه ووایم چې د غه شازلمی شاعر د غني د ډلې سرخیل و نو بې ځایه به نه وي .... هغه ځوان چې کله به لیونی فلسفي شو، کله به غني شو او کله به غني خان شو .... »(۱۰)

ولې څه د غني خان د غه شعر:

چې خاورې شنې مې په قبر وې ولاړې — که غلام مړ وم راځئ تو کړئ پرې لاړې (۱۱)

او همداسې د هغه له ولولو ډک نور شعرونه د پښتو شعر په معاصرو نهضتونو کې څه مخکښ آثار نه دي؟ د غه ډول شعرونه په خپل وخت کې څه داسې اغېزناک هنري آثار ګڼلی شو چې له یوې خوا د اولس پر «هوډ» اغېزمن وو او له بلې خوا پر روان شعري بهیر. د وطن د مینې د غه ډول بیان په دومره ښایست سره په خپل وخت کې یوازې د غني ایجاد و:

مالیدلي د فرنګ ښکلي جیزونه — چې د لاندې ترې غورځنګ وهي سیلونه

مالیدلي محلونه د لندن — جینکې مستې آزادې ګلېدن

مالیدلي د اټلي ښیسته ښارونه — سره یې انګور، سره یې شراب او سره ګلونه

مالیدلي د پیرس ښاپیرۍ ښکلې — په کردار، ګفتار خوږې لکه بلبلې

مالیدلي امریکه کې دې ښارونه — چې ورځو ته یې رسي مکانونه

مالیدلي تاج محل غوټۍ د ګلو — د دهلي ښکلي ښارونه د مغولو

خو چې وو ینم زه خپل د ختو کوړې — رانه هیر شي محلونه ښیسته نور

(۱۰) پښتو مجله، جون ۱۹۸۳ ع. (غني خان د ترانو خالق)، جهان زیب نیاز، (۴۰) م
(۱۱) د غني پلوشې. (۱۲) م

دا نرۍ تنګې کوڅې زما د کلي   ورته څه دي د دنيا ښارونه ښکلي
چې خوږ ځي ورور پښتون سينې له درشي   درنه هير به ټول ښايست د بحر و بر شي
خدايه شکر چې پيدا دې له دې قام کړم   د پښتون د ننګ وجود دې يو اندام کړم
څه به کړمه د لندن لوی محلونه   د پيرس جونې ښايسته نه مې ګلونه
په والله چې له جنته به شم ستون   که کنځل نه کې وا نه ورم د پښتون (۱۲)

همدا رنګه د ننګ، غيرت او ثبات په مسايلو کې د غني شعر په خپل وخت کې ډېر نوي ټکي مطرح کړل. کله چې هغه د هرې پور په جېل کې دی نو د زر او زور خاوند ته هاغه د زندان له تورتم څخه څه داسې ځواب ورکوي چې د هغه د «مستانه غرور» يوه لوړه بېلګه يې ګڼلی شو. موږ د هغه د شعرونو د دغه خصوصيت په برخه کې يوازې همدغه يوه د «سوداګر» څو بيتونه تاسو ته وړاندې کوو:

عجيبه دا سوداګر دی   په لاس تيغ په سر قرآن
شنه قبا يې د امام ده   کلکې سترګې د شيطان
په ځيګر لکه چنګيز دی   چلولي لکه ماهان
په خوله خوږ د ګلو باغ دی   په زړه سخت لکه ويران
غړمبيده لکه زمری کړه   غړيده لکه حيوان
پنجې ډوبې په سرو وينو   سرې برې په آسمان.... الخ

۲- د غني د شاعرۍ او ياد هغه د شعري سبک يو بل عمده خصوصيت

---

(۱۲) د غني پلوشې. (۲۵ - ۲۶) م،م

دادی چي که هغه هر څه وايي په صداقت او زيات صراحت سره يې وايي . د غه « صراحت » د غني شاعرۍ ته يوه جلا بڼه ورکړې ده . غني ته که د خان و يا بل هر چا په وړاندې کوم فکر او نظر پيدا شوی دی ، نو په هماغه بڼه يې په صراحت سره بيان کړی دی ، د خان په باب وايي :

هندوستان کې د ډوتونو منډې راغلي — په کې خلق خر خوی ايمان په څټو
باباوې غني سره شه جيل ته لاړه — غني وې بابا لنډه نه دی ډېر څټو (١٣)

او يا لکه چي هغه خپل پلار ته په يو ليک کې ليکي :

ستا خطونه ټول زما سره پراته دي — زه يې لولم هر شپه دوباره دوباره -
کله خاندم کله ژاړم ليونی يم — ای زما په بند کې پروت غريبه پلاره
.... خدای به رحم و په تا باندې لر کړي — بل به نه زوی به يې وکتلی ستا د پاره
چي په تا کې کوم جوهر دی ماکې نشته — ستا نيکي زما بدي دواړه بې شماره
ته سالار يې د کاروان په تيغه لاړ څې — زه کوربه غلم لکه اوښ بې مهاره
ستا د زړه فوارې ډکې دي د ميني — زما زړه وچ کوهی نه وهي يو داره ...(١٤)

« د خانانو » تر سرليک لاندې هغه په يو شعر کې په پښتنو انتقاد کوي او د بد کړو وړو غندنه يې په زيات صراحت سره کوي . هغه په داسې صريحه وينا کې د هيچا او هيڅ شي پروانه ساتي :

عجيبه دي د خاني ، عجيبه دي ځواني — ای پښتونه يوه دي نه شوم په وړاندې وداني

(١٣) د غني پلوشې . (٢٤) م
(١٤) » » . (١٩) م

دادي لا نوي نردي چې خپل ورور وژني بې هيڅه

پېرنګي ته خو ټينګ نه يي چې يې کړلې پېزواني

چې پټکي يې پر پړې وي، په ځجر کې زمري وي

ناست د مرچو وي په خټه، د ځانه وينې ټاني ...(۱۵)

۳- غني له خپلو شعرو نو سره د مسايلو په "ژورو" کې دی. د ژوند په وړاندې او د پېښو په وړاندې هغه ديوه عميق او (له خپل ځان سره د ځانګړي) درک خښتن شاعر دی. هملت غو ژورو هغه د شاعر فلسفي او يا د ليوني فلسفي په نوم هم مشهور کړی دی کله کله د هملت غنه د ول عميق بيان له کبله د هغه په شعر پوهيدنه د ځينو کسانو له پاره سخته شي. غني د "اور" په نوم يو شعر لري چې د دغه ډول ژور بيان يوه ښه بېلګه يې ګڼلې شو.

زما خته چې خوشته کړه — په ځه اور يې ابته کړه

چې يې نه وژنم وريتيږم — چې يې وژنم لالمبه کړه

نو همه يې د ځان جوړ کړم — د شيطان يې يوه ذره کړه

خومره زه چې ور نږدې وم — دومره غنه يې پرده کړه

چې جنت ورته روان شوم — دوزخ لرې دروازه کړه

چې دوزخ ته ور نږدې شوم — چاپېچې نعره کړه

خدای دي ورک کړه د زړه اوره — تا د ژوند ورکه مزه کړه (۱۶)

---

(۱۵) دغني پلوشې. (۲) م. (۱۶) پانوس. (۲۴۷) م.

هغه په خپلو شعرونو کې د انساني سرښت خصوصیاتو ته او همدارنګه د بشریت د روان ځینو بیځو او ستوازرخونو ته زیات متوجه دی. موږ د غني په شاعرۍ کې د دغو پېچلو او کړکیچنو موضوعګانو انعکاس لیدلی شو. د هغه له شاعرۍ څخه یې د یوې بلې نمونې یوه برخه هم تاسو ته وړاندې کوو. د غه شعر «ګوګل» نومیږي:

دې ګوګل کې مې د ننه — هم دوزخ دی هم جنت دی

دې کې قهر او غضب دی — دې کې رحم او رحمت

دې کې پروت یو سمندر دی — د نشې او د خمار

دې کې پروت یو تهترین دی — د لمبو او د آزار

دې کې پروت دی دومره رنګ — د سپرلي او ذخندا

چې یو پرق یې پوجهان کړي — د مستۍ او د رڼا (۱۷)

۴- کومه بله خبره چې د غني په شعر کې زیاته د پاملرنې وړ ده هغه د غني د شاعرۍ د «طنز» برخه ده. طنز د غني د شاعرۍ یو ډیر په زړه پورې خصوصیت دی او طنز د غني د شاعرۍ ډیره اساسي کړۍ ده. د ماستر عبدالکریم خبره ده چې: «غني د خپلې شاعرۍ د ږې وار دوره په یوتار ترلي دي او د غه د هغه د شاعرۍ تول دول سینګار دی. دې ته د شاعرۍ په ژبه کې طنز او مزاح ویلی شي.» (۱۸)

یو بل لیکوال لیکي: «غني خان د شاعرۍ ټوله اډانه په طنز و مزاح ولاړه ده

(۱۷) د پنجرې چغار (۲۴-۲۵) مخ.

(۱۸) هدیره او. د ماستر عبدالکریم سریزه. (هـ- مقدمه) مخ.

خو دده دا مزاح هم د مطلب نه خالي نه وي، بلکه په دې کې يې هم ډېر مطلب خبرې په خندا خندا ځای کړې دی.» (۱۹)

دغني په شاعرۍ کې طنزيه کلام ته زيات غور ځکه په کار دی چې هغه غوښتي دي د طنز په قالب کې د وخت اساسي مسايل هم ځای کړي. دا د طنز هدف هم دی. «طنز د رمزاو کنايې په بڼه اجتماعي انتقاد دی، البته د هنزي اړخونو او د ښکلا پوهنې د معيارونو په پام کې ساتلو سره. طنز ليکونکي، لوستونکي تفکر ته اړباسي او مهم او ژور مسايلو ته يې لاربنوونه کوي. طنز ليکونکي د خپل عصر مصور دی. لونا چارسکي وايي: طنز بايد له خوښۍ ډک او قهرجن وي.» (۲۰)

دغني په شاعرۍ کې هم که طنز په لومړي نظر خندوونکې ښکاره شي نو په عمق کې يې قهر او غصه پټه ده. دا ځکه چې غني په طنز کې د وخت عمده اجتماعي او حتیٰ سياسي مسايلو ته د انتقاد په ژبه اشاره کړې دي، په حقيقت کې دغني د شاعرۍ انتقادي اړخ هم دغه د طنز په شعرونو کې تر ډېره حده پورې زيات ځليدونکی دی.

«هغه په خندا، خندا د معاشرې په ناسورګوټي وهي، نخرې، پېښې ورته کوي، خندوي يې، تخنوي يې او هر کله چې پوه شو چې اوس ناسور او ده شو اپرېشن شو نو بيا د طنز و مزاح نه لاس واخلي د حقيقت او سنجيدګی نشترته

(۱۹) پښتو مجله، جون، ۱۹۸۳ ع، (دغني خان په کلام کې مقاميت) شاه جهان، (۱۷) م

(۲۰) انديشه و کليشه، فريدون تنکابني، ايران چاپ اول، ۱۳۵۷ ش. (۴۹-۵۳) م، م

لاس کړي او په ډېره هوښيارۍ يې د ناسور په سر کېږدي، په دومره وخت کې هڅه وشوه هېڅوک پوه نه شي چې څه وو او څه را وشو . . . دغني خان شاعري د طنز و مزاح يوه حسينه مجموعه ده. طنز و مزاح د ده د شاعرۍ دوه داسې توکي دي چې د ده د شاعرۍ ادانه پرې ولاړه ده. غني خان هر څه په خندا خندا وايي دی د هغه د هېچا سره دښمني نه کوي، د هرچا دوست دی. بس يوه خبره په کې ده او هغه دا چې حق وايي. د رښتيا ويلو نه هغه هېڅوک نه شي منع کولی.» (۲۱)

دغني طنز د هغه د انتقادي شاعرۍ مرکزي برخه جوړوي. د هغه په شعرونو کې د دغه ډول طنز ونو نمونې ښخي زياتې دي، موږ يې يوازې يوې نمونې او يوازې څو بيتونو ته پاملرنه کوو:

چې د ژمي سترګې شکوې ماشي داوښ وينه

خدايه! ستا دا عجيبه دنيا توره ده که سپينه

مرلسو ګيد ړه، ببر شير په بونډۍ چرګه کړ

سپوږ شغال په پړانګ دی د غر څو ونښکاره ځينه

پريوځي چو. اړي نه خان ګانه په ړتی زړو کړي

ښکلې ستا د ګوتو جوړه ځوانه نازنينه

ناسته ده د دم دلندن لوړ په سړو ورسپمو کې

لوړ دلوی شير شاه، لوړ يې په لاس دی لوله ځينه

---

(۲۱) پښتو مجله (اعتراف نمبر) د فضل غني غني ياده شوې مقاله. (۵۲-۵۳) او (۶۹) م، م.

مست مغرور سر د پښتون تيت سترګي يي ښکته دي

شرم داسي شرم چي شرمونه شرموينه (۲۲)

۵ - دغني په شاعري کي د « تضاد » ټکو ته هم متوجه کيدلی شو. دا دهغه د ژوند د پېښو له تضادونو څخه زيږيدلی موضوع ده، شوروي پوه «ګ.ف.ګيرس» دهغه په شعر کي دغه تضاد، جنون او کله کله نيهيليزم ته داسي اشاره کوي :

د پښتو په شعر کي د نوي جريان له مؤسسينو نه عبدالغني غني دی. خاص ده په پښتو ادب کي د لومړي ځل له پاره د جنون فلسفه رواج کړي او تبليغ کړي ده. دی عيناً په هم دغه يو وخت کي د شعر د عنعنوي قانون او لفظي اسلوب ديو سخت مخالف په توګه منځ ته راغی. د غني خان آثار په څپل منځ کي يو تر بله سره تضاد لري، خصوصاً بيا په لومړيو وختونو کي دده په اشعارو کي کله کله داسي څپې راپورته کيږي چي دهغو تا کلو مسايلو نه مجزا دي چي دهغو د حصول له پاره دده سکه پلار د څپل ژوند زياته برخه وقف کړي ده .....

نيهيليزم هم د غني د اشعارو خصوصيت دی، په دغه صورت کي د منفي محبوب وضعيت په خاطر شاعر د پښتونو د آزادۍ د حرکت سره څپل آثار مقابله کړيدي ..... (۲۳)

دا خبره سمه ده چي دغني په شعر کي « تضادونه » ليدل کيږي، خو دا دهغه د ژوند، دهغه د اولس د ژوند او د وخت او زمان د بيلا بيلو پېښو اغيزي دي چي

---

(۲۲) دغني پلوشي. (۷۹) م

(۲۳) د ميرني اولس ادبيات. ګ.ف.ګيرس، مترجم: سرمحقق محمد شينواری د قومونو او قبايلو د چارو وزارت، د نشراتو رياست، ۱۳۶۴ ش (۱۸۰ - ۱۸۱) م م

غني ترې متأثر شوی او حتی کله کله خپه او غمجن شوی دی. د همدې تکی په رڼا کې مونږ ته پلوسرېږي شاید کله کله دغه د «ناهیلۍ» موضوع او د دنیا او ژوند په وړاندې د بې پروايي خبره د هغه په شاعرۍ کې را منځته شوې وي. د دې تکو څرک باید سړی د غني په ټولنه کې، د غني په چاپیریال کې او د غني په فردي ژوند کې ولټوي او وې څیړي. د غه تضاد ته هم په دې ډول کتل په کار دي. خو کوم تکي چې د پښتنو له نهضت سره د هغه د شعر په ارتباط باید مطرح شي هغه دا دی چې غني تل په خپل شعر کې د خپل اولس پر خوا دی. ډیر ښه نمونه يې په همدغه مقاله کې د «سوداگر» په نوم شعر دی او همدا رنگه دغه یو شمیر نور شعرونه. د غني په شاعرۍ کې ورو ورو د ځینو ځانگړو سیاسي، اجتماعي او هغه په ژوند پورې د تړلیو فردي عواملو له مخې ځینې بدلونونه راځي. خو دا خبره په دې مانا نه ده چې د هغه شعر گوندې له خلکو او د پرگنو له ارمانونو جلا او مجزا دی، د غني شاعري بې له شکه چې د ښایست او مینې شاعري ده، خو هغه په خپل اولس کې او په ټوله بشریت کې د دغه ښایست او د دغې مینې تخم پاشل غواړي، هغه که کله دنیا بدله گڼلې او که له ژوند او د ژوند له پاره له هلو ځلو تخه يې ډډه کړې ده، دا په دې مانا دي چې د هغه په نظر په دې تکو کې طنز پروت دی او هغه د یوه لوړ او د روند او پیاوړي ښایست غوښتونکی دی، دغه غوښتنه د هغه د ژوند اصلي موخه ده او غني غواړي چې هر څه او ټول خلک دې همداسې ښکلي او پیاوړي وي. هغه له ژوند سره مینه کوي او ژوند په ښایست کې گوري او د ښایست له پاره

په څوکی . هغه ته خپل وطن ګران دی، خپل خلک ورته ګران دي، د ژوند او د آزادی له پاره د تلاش ستاینه کوي او حتی هملاپي د خپل ژوند اساسي تکي دي خو په دې لړ کی چې پي کله کله څه کمزوري او نیمګړتیاالیدلې ده، هغه که په هر چا او هر څه کی وه، غندلې يې ده او د خپل نظر ورتکي يې په کی له شاعرانه ښایست او د خپل لیدله عمق سره یو ځای کړې دي. د غني په شعر کی د تضاد موضوع په تیره بیا د هغه د ژوند د بیلا بیلو پړاونو په منځ کی د زیاتې پاملرنې وړ ده . د هغه ژوند د غه تضاد لمس کړی او حس کړې دی او په شعر کی يې انعکاس ورته ورکړی .

٦- غني په شعر کی د وعظ او نصیحت پلوی نه دی. دا په معاصر شعر کی یوه سمه او پرځای خبره ده . که معاصر شعر وعظ او نصیحت ته نو خپل ټول هنري او شعري ارزښتونه له لاسه ورکوي . د غني مستانه شعر د غه ډول خبرې په خپله ځولی کی نه شي ځای کولی . دا په خپل وخت کی په پښتو معاصره شاعرۍ کی د غني د شعر له مهمو ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي. غني خان په یوه لیک کی مرحوم استاد عبدالرؤف بینوا ته داسې لیکلي وو :

« زما خیال دی چې په ژوند کی د یو شاعر مرام او هدف د یو مبلغ او ملا څخه بیخي جلا او بل شان دی.... زما خیال دی چې یو شاعر باید د فکر او خیال، قول او عمل په ډګر کی د ښکلا او ښایست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کاندي چې هغه د خپلو خواهشاتو له ګنده ګیو څخه خپل مخ د خپل باغي عدن خواته واړوي ، دا کار په پند و نصیحت نه شي کیدای .

زما هغه خلک بد ایسي چي ما ته نصیحتونه کوي .... » (۲۴)

خو دا خبره په دې مانا نه ده چي ګوندې غني دوخت غږ او د زمان پیغام ته او یا په عامه مانا (دوخت رسالت) ته په خپل شعر کې دقت نه دی کړی د دغه شعر خوبیته یې د خومره عالی انساني او بشري عاطفې د بیان نمونه ده :

..... ای مالیاره د دې چمن ای نایکه د دې جهان
دا دنیا ګې دې سمباله کړه دا دنیا ګه دې په تلوده ځان
ګوره ! علم او زور یې خوري ګوره ! هنر او شعور یې خوري
نوی د آدم آدم خور شولو وګوره ورور ته ورور یې خوري (۲۵)

د « حسین » په نوم په مرثیه کې هغه د کربلا د خونړۍ پېښې تصویر باسي او د خپل وخت او زمان پیغام به کې بیا د شعر په پای کې په دې ډول ځایوي :

ای بادشاه د شهیدانو ! نن ځانه د ننرانو ستا ګرم هغه یاد تازه کړي چي هیر کړي هر انسان و
ستا د ژوند او د مرګ تول مانه او سبو کربلا کې خړ رنګین سرو د دې و اچولا اله الا الله کې
ځکه کله نه او س هم د شپې ژړا رمه ستا د بنیست او نوکمال بیا په دنیا غوارمه
کوم د ربه منت دعا ای حسینه راشه هر قدم شو کربلا ای حُسینه راشه (۲۶)

هغه شعرونه چي غني (کاڼغانو ـ ماڼغانو) ته ویلي دي په هغو شعرنو کې هم د ژوند لپاره خړ شته دي او حتی ډیر اساسي تکي یې په کې را نغاړلي دي . د « اوښ »

---

(۲۴) اوسني لیکوال ، دریم ټوک . عبدالروف بېنوا ، کابل ، ۱۳۴۶ ش (۱۰۰۶) م

(۲۵) دغنی پلوشې (۱۲۳) م

(۲۶) د پنجرې چغار (۹۷) م

د شعر په یوه برخه کې لیکي :

.... ای اوسنه غټه اوسنه تر یې ړوکې د مینې نه

لس چنده که نهری شي خویږي د لړګي نه

تر هغې به یږي اوڅرېږي او کرېږي

تر کوم چې دې ونه باسي طمع د زړګي نه

د طمعې ستانه ډیر او چت سرونه کړه ا ښکته

د سپیني شهزادګۍ په سر خوری د دمې کته

د طمع مړې اوبخي کاندي سترګې نرمې نرمې

د طمع خوچوي بازار کې شونډې ګرمې ګرمې

د طمع شهزاده کاندي غلام د کوڼ دوینزې

د طمع د جنت حورې له سترګې کړي بې شرمې .... (۲۷)

۷- دغني په شعر کې د تخیل او شاعرانه تصویر مساله زیاته ځلیدونکې ده .

هغه چې کله په شعر کې کوم حالت بیانوي نو په حقیقي توګه یې په کلمو او الفاظو کې

تصویر د رته ځي ته ږدي . دغه تصویر ډیر ښکلي او شاعرانه وي . له نویو او شاعرانه

مفاهیمو ډک وي او لکه چې دغه هرڅه ستا مخې ته د ړوي . " د ژمي

ماښام " د هغه یو شعر دی :

اونن د ژمي ماښام   د جرګې شپه ده

---

(۲۷) د پنجري چغار ، (۹۷) م .

پوست شبنمی باران ـــ بهرور یږي

غاړه د اور او خیام ــ شروع قصه ده
دشاعر سر او دستار ــ مهین غړیږي
تنګ او تکور د ژوند ــ ناز او مستي دجانان
شړنګ د ځوانۍ کی پټ ــ شا تاړ دغم ډې
خندا مستی دساقي ــ بت پرستي دساقي
ستنیدې دمرګ سره ــ د ګونګرو شړنګ ډې
او نن دژمي ماښام ــ د جړي شپه ده
پوست شبنمی باران ــ بهـــرور یږي
یار شروع کړې ماته ــ دغـــم قصه ده
ګلی موسکی شي ــ ګـــله ژړیږي (۲۸)

کله چې هغه په زندان کې د اشنا د یادونو تصور کوي نو ښکلې تصویر یې تصویروي :

دجهان ټول غمونه ــ لکه سیلۍ راشي
د زړګی سره به دې ــ لکه ګولۍ راشي
او چې ارمانونه به کې ــ لا دلولۍ راشي
لکه دمړي په کور ــ چې سره دولۍ راشي ...(۲۹)

دغني په شعر کې په رښتیا هم چې د تصویر موضوع ته زیات دقت شوی دی.

---

(۲۸) دغني پلوشې . (۱۰۸) م . (۲۹) د ینجرې چغار . (۱۴) م .

PROPERTY OF ACKU 7184

د غني "رماحل" د دغه ډول شعرونو يوه ډيره وتلې نمونه ده چې د اتقريباً
دغني شاعرانه "ايډيال" هم بلل شوی دی :

د سينه د سپينو شګونه مې جوړ کړلو محل
دې تول خرګي جهان ورته حيران حيرانکل ... (۳۰)

۸ - د لفظي خصوصياتو په لړ کې د غني د شعرونو ليکل د رسم الخط
له مخې هم ځانګړي
دي ، داسې چې هغه څه وايي او
څنګه خبرې کوي ، هماغسې يې ليکي هم
هغه خپله د پنجرې چغار په سريزه کې ليکي : " زه پښتو
داسې ليکم چې څنګه يې وايم .... ما ته تول عمر دغه تکليف وی .
مونږ ليکو يو شان او وايو بل شان .... زه چې څنګه خپله ژبه او رم ، دغسې يې ليکم .... " (۳۱)
سره له دې چې دا په ټوله کې د معياري ليک پر ځای د لهجوي
ليک او د ليک دود يا رسم الخط د پراګنده ګۍ موضوع
را منځته کوي ، خو په هر صورت ، د غني د شعر
د ليکلو په ځانګړتياوو کې يې يادول لازم وو
د دې په څنګ کې غني خپله هم
دې موضوع ته اشاره کړې

---

(۳۰) د غني پلوشې . (۳۱ - ۳۲) م.م . (۳۱) د پنجرې چغار مقدمه (۵ - ۷) م.م

چې موږ لامعیاري لیک دود نه لرو او باید په ګډه سره یې لارې چارې ولټولې شي.

دا د غني د شعر د ځو عمدو ځانګړنو یوه یادونه وه، کنه هسې خو د غني شعر ډېرو خصوصیاتو لرونکی دی او کیدای شي چې د شعر د مضمون او محتوی د فورم او قالب او حتیٰ د وزن، آهنګ او موسیقي په بېلا بېلو اړخونو یې زیاتې او پراخې خبرې وشي. په معاصر پښتو شعر کې د غني سبک د ځانګړي درېځ او ارزښت لرونکی دی. هغه معاصرې پښتو شاعرۍ ته ډېر څه بخښلي دي، خپل ټول ځان یې ورته بخښلی دی.

غني یوه هستي ده او د غني شعر د معاصر پښتو شعر یوه نه هېرېدونکې غنا!

سرمحقق دوست شینواري

د اجمل خټک په اشعارو کې د زیارکښ انسان درېځ

هر ادبي او هنري اثر که له یوې خوا د ټولنیزو پېښو او د هغو د درک او افادې یوه روښانه هنداره ده، نو له بلې خوا د خپله هنرمند، لیکوال او شاعر د نړۍ لید، طرز تفکر، پېښو ته د نظر او د هغو د تحلیل درک او افادې روښانه هنداره هم ده، یعني لکه څرنګه چې موږ په یوه هنري او بدیعي اثر کې، د ټولنې تاریخي، اقتصادي او اجتماعي څېره ګورو همدغه شان په همدغه اثر کې د خپله هنرمند، لیکوال او شاعر ذهني درک او احساس او پېښو ته د نظر طرز او د هغو تحلیل او په دې باب د هغه جهان بیني را ته څرګندیږي.

د بشري هنري او بدیعي آثارو د همغو لومړیو پړاوو څخه تر ننه پورې د هر ادبي او هنري اثر په باب دغه دوه لوري په متوازي ډول پر مخ تللي دي او تر ننه پورې دوام لري.

په هر پښتني ادبي اثر کې به لکه څنګه چې د ټولنې څېره منعکسه وي، همغه شان به د هنرمند، لیکوال او شاعر هم د حیاتي نړۍ او د تفکر

طرز ېکي ځليږي.

خپله د هنرمند او ایجادګر د طرز تفکر، په تولنه کې د پېښو د تحلیل او هغه د درک په باب د پېژندنې له پاره یو خورا ډېر مهم عنصر دی چې هنرمند او ایجادګر په خپل ایجاد کې څه ډول پېښې انځوروي او د هغو په مرکز کې څه ډول هیرو یا نو ته ځای ورکوي. ډېر ځله لیدل کیږي چې ایجادګر په خپل وخت، په خپلو شرایطو او په خپله تولنه کې خپل ایډیال واقعات او د خپلو غوښتنو ځواب ورکوونکې اتل نهویني، نو پېښې په هغه نړۍ کې د هغو هیرویانو په لاس اجرا کوي چې زموږ د واقعي نړۍ او واقعي پرسوناژونه په آخوا کې واقع دي او د خوب او خیال په لړو کې نغښتي وي چې دا د پیسف رومانتیک ادب هغه پوړۍ دي چې پښتو کلاسیک ادب خصوصاً او د شرق، حتی د بشریت کلاسیک ادب عموماً شاته پرېښې دي. د دغه ادب اتلان عموماً شاهان، شهزادګان او د دوی پوړۍ مربوط پهلوانان او سرلښکران دي لکه شهزاده بهرام، صنوبر فتح خان، برېخې، یوسف خان، سیف الملوک او داسې نور چې په رومانتیکو داستانونو کې یې زموږ تر وخته ځانونه رارسولي دي.

البته په لویدیځ کې د رنسانس د دورې په پیل سره پسیف رومانتیک ادب ورو په ورو خپل ځای انتقادي ریالیزم ته خوشې کړ او د بدلیعې او هنري اثر پېښې او هیرویان د خوب او خیال له لړو څخه ورو په ورو

زمونږ واقعي نړۍ ته راکښيوتل او څرنګه چې دلرغوني يونان د زيوس پروميتي او نورو ماوراې طبيعت افسانوي اتلانو خپل ځاى د روحانيت او د اقتدار لرونکو ماوراى برګنو اتلانو ته پرېښى و، د غو اتلانو بيا خپل ځاى په تدريج سره د انتقادي ريالېزم د پيدا ايښت په پوړيو کې د ټولني د پرګنو هغو عناصرو ته پرېښود چې په ټولنه کې مظلوم، استثمار شوي ربړول شوي د زور او زور د خاوندانو له خوا تکول شوي، وژل شوي او تر پښو لاندې شوي وو، د دوی په څېره کې د انتقادي ريالېزم ايجادګرانو د خپلي ټولني ستمګره طبقه غندله، شړموله او سپکوله، خو د ټولني د شرايطو او ارو لو چاره دوی ته هم نه وه څرګنده. او لکه چې خپله دوی ته د غه چاره نه وه څرګنده همدغه شان د دوی هيرو يانو هم کوم انقلابي ارووني، جوړووني او د مبارزي کرکتر نه درلود چې د غه د انتقادي ريالېزم د پيدا ايښت، ځواني او تکامل پړاوونه دي.

د نولسمې پېړۍ په پاى او د شلمې په سر کې په بشري ادب کې يوه د بېړه مهمه مرحله رامنځ ته شوه، دغه وخت په ټوله نړۍ، خصوصاً صنعتي نړۍ کې ستر انقلابي تحولات راغلل، لرېوي خوا که پانګوالی سيستم، امپرياليستي سيستم ته تکامل وکړ، نو په څنګ کې يې کارګري قوتونه هم په انقلابي قوتونو بدل شول. دغه تحول په ادب کې هم راوزېږېده او ورو په ورو يې تکامل وکړ او لاکوی يې. د ادب په دغه جريان کې بيا هم هيرو له

پرگنو ځنو سرراپورته کړ خو دیوه ډېرتل شوی، ځېل شوی او د استرحام ور عنصر پر توګه نه، بلکې د تولني د یوه زیارکښ، انقلابي د تولني د جوړوونکي خصوصاً د نوی تولني د معمار د اجتماعی ظلم او استبداد سره دیو سرسخت مبارز په بڼه کی. د ادب د دغه پړاو اتل که ظاهراً د تولني د ډیر وړوکی عنصر په بڼه په نظر راځی، خو په حقیقت کی د تولني تر ټولو حاکمو او واکمنو عناصرو ځنه هم ډیر لوی، ستر او ډیر قوی دی.

د اد سوسیالستی ریالیزم هیرو دی چې د خپلی تولني زیارکښ جوړوونکی او د اجتماعی ظلم او بیعدالتی سره سخت مبارز دی.

موږ دلته د انقلابي شاعر اجمل په انقلابي اشعاروکی د همدغسی انقلابي زیارکښ انسان دریځ ګورو، دغه ظاهراً ډیر وړوکی او په حقیقت کی ډېر لوی شخصیت د اجمل په اشعاروکی دومره لوی او د توجه وړ ځای لري چې د پښتو ادب او نورو شاعرانو او لیکوالو په آثاروکی یې ساری نه موندل کیږي او که وموندل شی هغه به ډیر کم وی.

اصلاً زموږ د دغه انقلابي شاعر د اشعارو په مرکز کی همدغه خوارکښ انسان ځای لري، د همدغو خوارو خلکو له پاره په خپله تولنه کی شاعر جنت جوړوی او لویان او غټان چې خپله له موږه جنتیان پیدا دی د دغه جنت تر لاره نه لري لکه چې وایی:

غټان غټان نیکان نیکان پیدا دی ـــ دوی خوله ځایه جنتیان پیدا دی

ځکه چې وی خوار وته جنت وګټو   څوک چې له موره دوزخیان پیدا دی

دټولنې دغه زیارکښ انسان داجمل په اشعاروکی دومره مهم ځای لری چې دهغه دبدوورځو دلید لوحوصله ورسره نشته او دهغه په سر د بر خلیک په ټاکونکی هم انتقاد کوی .

میښې منم چې دنواب صاحب دی   دي کی خبره کول توان دچا دی

انسان انسان دی ستا دشان آئینه ده   د دد او دام نه قربانیږی دلته

که ستا خدایی ورته کتي شی ربه   انسانیت خونه صبریږی دلته

دخیبر تاریخی دره چې زموږ په ټولنه کی د ربنتینی ننګ ، غیرت ، پت او عزت سمبول دی په دغی دملی ویاړونو په ځانګو او ټاټوبی کی هم زموږ د انقلابی شاعر ټوله توجه د زیارکښ شپونکی بین ته اوښتی ده او دهغه د بین اوشپیلی په نغموکی د اودو زړونو راویښول ، دخیبر لمبه لمبه کول یعنی د پښتنی ساره شوی جهان تودول او په دغه خزان وهلی سیمه باندی د شپونکی په شپیلۍ او بین کی ګوری .

فکرکوم داخه اتفاقی خبره نه وه چې اجمل خټک دخپلی ټولنی دمسیحایی اغیزو هیله په خیبر کی د شپونکی له شپیلۍ او بینه کوی . تکراراً وایم چې دا اتفاقی او تصادفی خبره نه ده . له یوې خوا دخیبر تاریخی دره د پښتنو د تاریخی ننګ غیرت ، پت او عزت یووالی او وحدت سمبول دی . که پښتانه قبایل لکه چې

دقبایلی ژوند خاصیت دی کله نا کله یوځای او بل ځای په خپلو کی سره جنګیدلی دی . نو په خیبر دره کی همیشه او همیشه دګڼ دښمن په مقابل دیوه پولادی کلک موټی په توګه ټینګ ولاړ دی او له سکندره، کوره ګانیانو، انګریزانو نیولی دهغوی دګوډاګیو یعنی پاکستانی جرنیلانو پوری یی د د ښمن په مقابل کی دوحدت ساتلو او هغه ته دماتی ورکولو لګه ویاړ یې په برخه شوی دی .

بیا دغی ویاړلی تاریخی دری خوراز یاراېستونکی سره دسیمی د تاریخی، اجتماعی او اقتصادی شرایطو له مخی شپونکی دی، نه کوم بل کارګر، مزدور بزګر . دخوارېکښو پښتنو د راوېښولو او یو موټی کولو اغیزه د شپونکی په شپیلی او بین کی لټول دا زموږ دننګونو او ویاړونو په سمبولیک جهان کی د زیارکښو انسان دستری اغیزی معنالری . شاعر د خیبر شپونکی ته وایی :

راشه پوک وهه را بین دی ــــ ددی غره دلوړه سره

ای شپونکیه دتورغره ــــ ای بین ماره دخیبره

❊

ستاد سوز او ساز پر دوکی ــــ سره لمبی دی راخوری کړه

ستا سوری سوری ګوګل کی ــــ څو نغمی دی راخوری کړه

داسره سره فضادی ــــ په نغمو لمبه لمبه کړه

دا اوده اوده دنیادی ــــ په دې بین نغمه نغمه کړه

راشه یو ته یوه تپه کړه ــــ له دی ستوی ستوی غره

ای بېن مارہ دخیبرہ ای شپونکیہ دتورغرہ

راشہ یوک وھہ دابېن دی

داخترونو تجلیل چې پہ فیوډالی ټولنہ کی طبقاتی خاصیت لری

انقلابی شاعر د زیارکښ انسان لہ نظرہ دھغو خوښی طبقاتی بولی او دھغو پہ ظاھری خوښیو ځان نہ غولوی او ھغہ د زیارکښ انسان لہ پارہ نہ لولی، نو اختر تہ ھم رخصت ورکوی:

اختره: تہ دبختورو ورځ یې	ځہ: موږ سپیرہ خوشحالی نہ شی
داستالہ خیرہ موتوبہ توبہ دہ	چې دغہ سپی رانہ شړلی نہ شی
ځہ: ھغہ خلک مبارک تا تہ	چې ډکیدو او غتیدو تہ پا یې
دلتہ خو ھغہ انسانان پراتہ دی	چې دی تیرو کی لوگیدو تہ پا یې
چې کوم تندی دلتو شوی دی نن	ورځہ! دھغو لگیدلی نہ دی زدہ
چې کوم سرونو تہ ځوک سرنہ وایی	ځہ، ځہ! دھغو ښیتیدلی نہ دی زدہ

اجمل پہ ھغہ دنیا، پہ ھغہ زمانہ او پہ ھغہ نظام ملنډی وھي چې دلوړی طبقی پہ قبضہ کی دی او ددہ د ھیرو یعنی دغریب پکی رازا ونیاز گناہ وی، دی پہ دغسی نظام باندی خاندی:

پہ زمانہ یو ځو غټان قابض دی	خدا یہ پہ تا رانہ ملیان قابض دی
غریب تہ سر ټخولی ویستل کفر دی،	پہ خدای غټ غټ انسانان قابض دی

موږ داجمل پہ اشعاروکی خواریکښ انسان پہ داسی توگہ

گوروچې زیار باسي ټولنه جوړوي دوخت له بتانو یعنی غتانو او نیکانو سره دغږی وهي او دهغوي په مقابل کې دانقلابي بغاوت ویاړ لري ، نوځکه په لنډو الفاظو نتیجه اخلو چې دا جمل په اشعارو کې خواریکښ انسان خپله دده په خیر انقلابي دی.

« پای »

لیکوال: محمد ابراهیم عطائی

غني څه وایي او چا ته وایي؟

د ملي آزادی غوښتونکی جنبش او انقلابي رومانتیزم په اړه

د غني پر ادبي ایجاد یاتو یوه لنډه څېړنه

د یو هنرمند او ایجادګر د کار او تجربې سابقه چې پنځوس کلونو ته ورسیږي نو هغه ته دا حق حاصلیږي چې د نوي نسلونو د ځوانو ایجادګرانو په روزنه کې د استاد حیثیت ولري او هنرپالونکي تو لنه هم وظیفه لري چې د دغسې استادانو د کار او ابتکار په کره کتنه کې د ټاکلي فن او هنر یوه کسان وګماري چې هغه ارزیابي کړي.

د پښتو معاصر حماسه ساز شاعر غني چې اوس د عمر د اویایمو کلونو پر لیکه روان دی د ادبي کار او ایجاد که یې پوره نیمې پیړۍ ته ونه رسیږي نو دیر ورنږدې خو خامخا دی، په دې توګه نو موږ د دغه شاعر پر ایجاد یاتو څېړه لټنه کوو.

په کلي توګه دغسې کار دیوې مفصلې څېړنې ایجاب کوي چې د شاعر چاپېریال او د هغه اغیزې د شاعر پر افکارو یعنې د عیني او ذهني جریاناتو ترمنځ اړیکې تفسیر او تحلیل شي، خوشحاله چې ما ته وظیفه راکول شویده چې د دغه مطالب دیوې مختصرې مقالې په حوصله کې ځای کړم نو دا یو څه مشکل

کاږدی، خو کوښښ به وکړم چې د موضوع پر عمده برخو لږ و ډېره رڼا واچوم.

زه په دې لیکنه کې په عمده توګه دوو لاندې پوښتنو ته جواب وایم:

غني څه وايي؟

او څا ته یې وايي؟

د لومړۍ پوښتنې په باب چې غني څه وايي؟ اساسي هدف دادی

چې معلومه کړو چې غني د ټولنې د عیني او ذهني پدیدو او جریاناتو په رابطه

د تاریخي قانونمندۍ سره د ده هنري سیګنال څومره قدر تطابق لري او آیا د ده

په کلام کې د ده د ټولنې ایډیالونه په رښتیاني توګه څومره منعکس شوېدي؟

په دوهمه پوښتنه کې چې (څا ته یې وايي؟) په مستقیمه توګه د ده

ټولنه تر څېړنې لاندې راځي او د هغو غوښتنو، ایډیالونو او ارمانونو معلومول

په کار دي چې شاعر یې مخاطب ګرزوي.

دا د غني د هنري ایجاد د محتوا برخه ده چې زه کار پر کوم راغلو دی ته

چې د غني د شعر بوره ډېره په زړه پوري بله برخه د ده د شعر د بدیعي

اختصاص سره اړه نیسي او زه د مقالې د اوږدوالي د مخنیوي په خاطر دا کار

یو بل کره کتونکي ته پرېږدم او که چیرې کوم چا کار نه ؤ پر کړی په آینده فرصتونو

کې به دا کار هم زه وکړم.

اوس راځم اصلي بحث ته:

غني دیو متعهد او رسالتمند شاعر په توګه په خپل کلام کې پیغام هم لري

او ددە هنري ايجاد ته چي هم کوم امتياز ورپه برخه کوي هغه هم دغه پيغام دی په دغه پيغام کی دپرګنو ارمانونه څپی وهی او نو څکه ددە د اثارو کره کتونکی ته داحق حاصلیږي چي غني د پرګنو ربنتياني شاعـر وبولی .

غني اساساً يوسياسي مبارز دی او د هنر په ژبه سياسي تبليغ کوي خو دا کار د موعظی او نصيحت په شيوه نه کوي بلکی داسی روش په داګه غندی او دا يي د زړه خبره ده چي وايي :" .... زما هغه خلک بداسيي ، چي ماته نصيحتونه کوي ." (١)

دی دخپل چاپيريال ربنتياني ترجمان دی ، غني چي څه وايي هغه د ده دولس او پرګنو د زړه خبری او د هغو ارمانونه دی او نو څکه پرګنو دی دخپل زړه د ترجمان په توګه منلی دی . دی چي دانګريز دسامراج (امپرياليزم) څپره انځوروي ، يا کله چي دوطن د آزادی د دښمن په ارخ کی دخپل قوم و بی ننګه خان ته پيغورونه ورکوي ، يا د بند او زندان څخه ويريدلی او ترهيدلی زلميان پرغيرت راولی ، دا خو ددە په کلام کی رټ او برښنده حقايق دی ولی اساساً دا ټوله خبری د هغو پرګنو دسترو ارمانونو مجموعه ده چي دوطن دلوی دښمن په مقابله کی د وطنپرستی ازموينی ته حاضر شويدی .

غني ترنورو وړاندی په دغه محشر خېزه دګر کی چي دوطن د آزادی مسئله وروړاندی شويده خپل تعهد په دی کلماتو سپاری :

چې خاورې شنې مې په قبرونې ولاړې — که غلام مړ وم راځئ توکړئ پرې لاړې

که په خپلو وینو نه یم لمبیدلی — په مامه پلیتوئ دجات غاړې

چې قطرې قطرې مې پوځ د دښمن نه کا — مورې! ماپسې په کوم مخ به ته ژاړې

یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم — یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې (۲)

د وطن سره مینه داسې ستایي چې د لندن، پاریس، امریکې او تاج محل ښکلاوې بیانوې خو پر دا تولو خپل وطن ته داسې ترجیح ورکوي :

خو چې وینم زه خپل د ختو کور — رانه هیر شي محلونه ښایسته نور

دانږئ تنګې کوڅې زما د کلي — وته څه دي د دنیا ښارونه ښکلي (۳)

د خپلو خلکو سره خپله مینه داسې توضیح کوي :

چې خړ مخي ورور پښتون سینې له دړشي — درنه هیر به تول ښایست د بحر و بر شي

په والله چې له جنته به شم ستون — که لعل نګینی وانه ورم د پښتون

د سامراج (امپریالیزم) انځور د سوداګر تر عنوان لاندې داسې باسي :

عجیبه سوداګر دی — په لاس تیغ په سر قرآن

شنه قبایې د امام ده — کلکې سترګې د شیطان

په څیګر لکه چنګیز دی — چلولې لکه ماهان

په خوله خوږ د ګلو باغ دی — په زړه سخا لکه ویران

غړه مبیله لکه زمری کا — غړیده لکه حیوان

پنجې دوبې په سرو وینو — سرې بره په آسمان (۴)

دا دی دغنی ویل، او دا ده د سلگونو ویلو څخه صرف یو څو ساده نمونی دمی چی د بدایی محتوا څخه مالا مال دی .

اوس دې مسئلی ته یو څه پاملرنه را اړوو چی دده ویل د ده د چاپیریال دسیاسی او اجتماعی صحنی د مبارزې له نوعیت سره څومره قدر هم آهنگی لری ؟

غنی پښتون ولس ته منسوب دی، د ده وطن او خلک د برتانیا له امپریالستی قدرت سره د مبارزې لرو د یره نیمه پیړۍ تاریخ لري. په دغه تاریخ کی وینو څپی و هلی او لکری ترخا و رو لاندی شویدی .

هغه مهال چی د هند له لوئي قارې څخه انگلیس ووت او لوی هند د هندوستان او پاکستان په نامه د وبرخو ته وویشل شو نو د غنی د وطن او خلکو د ښمنانو په نومونو کی بدلون راغی، نورنو د سپکیلاک او زبیباک پیکار کی هیڅ تغیر رانه غی . د خلکو محکومیت، په زندانونو کی د مبارزانو ساتل او په کامله بیحیایي د ولسونو سپکوالی او بی عزتی د هغه نوی دولت ارمغان وچی د پاکستان په نامه پر یو شمیر مسلمانو ملیتونو مسلط شوی و .

هغه ملی آزادی بخښونکی جنبش چی د برتانیا د امپریالیزم پر ضد روان و د پاکستان د مارشل لایی جنرالیزم پر ضد جاری وساتل شو ځکه پاکستان په خپله د انگلیس د تسلط خصوصیت درلود، خو بر عکس د هند په برخه کی چی په رښتیانی توگه د برتانوی امپریالیزم تسلط پای ته رسیدلی و ملی دولت منځ ته راغی .

په دغو دوو برخو یعنی هند او پاکستان کې د سیاسي او اجتماعي مبارزې شاخصونو تو پیر پیدا کړ او د دغو شاخصونو توپیر داد بي محتوا پرسمتونو هم اغیزې وکړې .

د مثال په توګه څرنګه چې هند د بریتانیا نفوذ ته خاتمه ورکړې وه او د بلې خوا د اسې قانوني دولت حاکمیت درلود چې هغه د نورو ملیتونو د مړیتوب پر اصل تکیه نه درلوده نو ځکه په ادبیاتو کې یې هغه مرحله پای ته ورسیدله چې د خلکو پرګنو ته د پردو له مړیتوب څخه د آزادۍ له پاره مبارزه تبلیغ کړي او د دې په عوض ادبیات په یوه بله مجرا کې په حرکت راغله چې هغه په طبقاتي جنګ کې د خوار یکښو طبقې د حقونو دفاع ده . د هند معروف مترقي لیکوال (راجیو - ساکسانا) د دغه ټکي ته اشاره کوي وايي : « هغه تو له په اصطلاح انقلابي جنبشونه په هندي شعر کې اوس ورک شوي او ځای یې یو نوي ډول شعر نیولی دی چې د زحمتکښو پرګنو او تو لنیز انقلاب له ارمانونو سره پیوند لري .» (۵)

بالمقابل په پاکستان کې تو لنیز جریان چې شکلي تغیر خوړلی و د پرګنو محکومیت نه یوازې د انګریز د حکمرانۍ څخه توپیر پیدا نکړ بلکې تر هغه بد مغلق او سالوسانه شو . د پاکستان له تاسیس څخه تر ننه پورې یوازې پنجابي سوداګرانو ته چې په اقتصادي سطح کې تر نورو او چت وو د آزادۍ په بې حده وحشتناکه توګه میسره شوه چې د پښتنو ، سندیانو او بلوڅو څخه په استثماري توګه شتمني غصب کړي .

د پنجاب سرمایه دارانو پوازې نخپله د پنجاب خوارې کښان استثمار کړل بلکې داسې کمپرادوران پکښې پیدا شول چې د برتانوي امپریالیزم د میراث خور امریکایي امپریالیزم په کامل ملاتړي دیوجابر جنرالیزم تسلط په پاکستان کی پرنورو ولسونو جارې وساتئ .

دغې وضع نو د ملی آزادی بخښونکی جنبش د فعال ساتلو ضرورت نور هم فعال وساتئ اونن په خاصه توګه د پښتنو، سندیانو او بلوڅانو په ادبیاتو کی د ملی آزادی بخښونکی جنبش مبارزه تبلیغ کیږی .

د همدغه ضرورت پر بناء د یوړندلین هاخواته پښتو ادبیات پر همدغه د ملی آزادی بخښونکی مبارزې پر پلیټ فورم خپل حرکت جارې ساتلی دی او په خاصه توګه غنی او اجمل د دغه تاوده جریان قافله سالاران دی .

غنی په خپلو ویلوکی د خپلو خلکو ارمان منعکسوی او اوس ګورو چې آیا له دی قول سره چې وایي :« یو ارمان هغه وخت په الهام بخښلو او تحول راوستلو بریالی کیږی چې د خلکو د ژوندانه له ګټو سره موافق وا وسی او خلک هغه د خپلو هیلو د تجسم او د زړه د ارزوګانو په عنوان قبول کړی .» (۶) څومره مطابقت لری ؟

د پښتنو هغه تولنه چې د انګریزانو هیلو چپاولګرانو او بورژوازۍ هغه قانون پر جارې کاوه چې مارکس اینګلس هغه په مانفیست کی داسې انځوروی : « بورژوازۍ د کورنۍ د مناسباتو احساساتی او دعوا طفودک

پوښ خیری کاوه او هغه یې په مطلق پولی مناسباتو بدلول . » (۷)

دا یو ډیر لوی او ستر ویجاړونکی طوفان وُ چې غرونه او دړې یې د بارو تو په لوګیو کی غرقول او ښارونه یې د اور او وینو په وحشیانه لوبه کی ډاګیر کړي وُ .

په دغسی پر تلاطمه طوفان کی غنی د یو زړور ماټو په توګه خپل قوم ته ناری وروهی :

واچوئ ښایسته وردی (*) سره په وینو سره وردی

ګوری مونږ ته خپل پردی نن به شی ښکاره مردی

ځان دخندا نه کړئ ای تورولاړو داوخت دی دمراد

کړم به خپل وطن د ټول جهان د ننداړو ملک به کړم آزاد (۸)

داادبیات دملی آزادی بخښونکی جنبش د ټا کلی مرحلی دارزو ګانو دتجسم په زړه پوری نمونی دی او دا هغه آواز دی چې دغنی له خولی راوزی او د استعمار خپلی ټولنی د هر سړی پر زړه ځای نیسی .

غنی چې څه وایي په هغه کی یوازی الفاظ او کلمات نه اوړی او دا کار که دیو فنکار په توګه کوی نو د هغه شانته د ټا کلی عقیدی خاوند دی او دده علمی نړی لید سړی په دی داده کوی چې د شیانو او جریاناتو ترمنځ یې د ډیالکتیکی اړیکو موزات هم علماً درک کړی دی . دی دغسی فلسفی مفاهیم په مستعاره شیوه داسی بیانوی :

(*) وردی : نظامی کالی .

زه یم، زه یم رنګ سرور او ښکلا زه یم — دجانان سترګو کی مړاوی خمار زه یم

داخوزه دځیګرسوز په هوا سورکړم — روح، مطلب، آواز د، سیتار زه یم

چی زه نه یم بی معنا جنت آسمان دی — دجهان دسوز او مینی مختار زه یم (۹)

اوس راځو ددی بحث دوهمی برخی ته چی (چا ته یی وایی؟) یعنی دشاعر خطاب چا ته دی؟ دي پوښتنی ته په ساده توګه دومره جواب هم ویل کیدای شی چی طبعاً خپله تولنه او خلک یی مخاطب دی، ولی خبره په دومره سادګی نشی جواب کیدای بلکی مسئله په مراتبو مغلقه او پیچلی ده او دعلمی تولنپوهنی په سطح کی دیوشمیر سیاسی او تولنیزو مسایلو سره اړه نیسی. دی اساسی پوښتنی ته چی دشاعر مخاطب څوک دی جواب ویل دا هم ایجابوی چی دمخاطب تولنی او شاعر ترمنځ دپیوند پرکړیو هم څو خبری وکړو څو داصل بحث پر وخت دلوستونکی په ذهن کی دا ستنیز دیو تصادف په دول جلوه ونه کړی چی شاعر خپلو خلکو او تولنی ته داحساس په انتقال کی دعلمی اسلوب د پیروی په څی پالي لري.

غنی دپښتنو د ستر مبارز عبدالغفارخان زوی دی، دهغه په سیاسی مبووځی کی روزل شوی دی، دیو عملی مبارز په توګه یی په سیاسی صحنو کی برخه اخیستی ده، په کلونو یی دانګریز او پاکستان زندانونه تیر کړی دی، دهند دمعروف فرهنګی شخصیت رابندرنات تاګور په شانتی نیکیتان کی یی دهغه معروف نړیوال شخصیت پر لاس هنری پالنه لیدلی ده، په لندن کی یی تحصیل کړی، اروپا او امریکا یی لیدلی، دهند دمعروفو سیاسی شخصیتونو مهاتما ګاندی، جواهر لال نهرو

راجند راپرشاد، پټیل او نورو سره په کلونو محشور شوی او په لوی انتخاباتی مېین کې چې مسلم لیګان، خاکسار او هندو مهاسبهایي په مقابل کې ولاړ وه کامیاب شوی او په مرکزي پارلمان کې غړی شوېدی.

دا په ځولند و تلوکی زمونږ د شاعر د ژوند لیک لنهېزو او پوهیدای شو چې په دغسې پر ماجرا صحنو کې د ده عمل طبعاً د ده شخصیت ته پولادي حیثیت ورکړی دی، خو دغنی دکمال تکی دادی چې په دا ټولو جریاناتو کې دی د خپلې ټولنې او خلکو څخه پردی شوی نه دی او خپل پیوند یې په دې برخه کې دومره کلک ساتلی دی چې کله یې د (زلمی پښتون) تحریک پیل کړ نو «اتیا زره وسله وال ځوانان پر راټول شول او په یوه ورځ یې اولس نیم زره ځوانان د پېښور په ښار کې مظاهرې ته حاضر کړل.» (۱۰۶)

د دومره سیاسي نفوذ خاوند شخصیت چې د هنری ایجاد ستر قدرت هم ورسره وی سړی پوهیدای شي چې خپلو خلکو ته د خپل فکر او احساس په انتقال کې هم په دغه اندازه بریالی کید ای شي.

دغنی خطاب هغې ټولنې ته دی چې د انګریز امپریالیزم ځپلی او بیاد پاکستانی مارشل لایي حکومتونو تر فشار لاندی راغلی ده، دی ببرسره او د یېلو پښو خواریکښانو ته دعوت ورکوی چې د مبارزی تاریخي رسالت ستاسو پر غاړه دی. غنی د پښتنو د سنتي ټولنې هغه خان چې د تام په رهبری کې به یې سر قربانا وه نن یې پر ځای داسې خان وینی چې هغه غیر له خپل ځانه بل څه نه وینی نو ځکه ورته وایي:

عجيبه دي ده خاني، عجيبه دي ده خواني — اې پښتونه! پوه دې نشوم په ورانې په وداني

دا دې لا نوي هنر دي، چې چېل وروروژني بې هېڅه — پېرنګي ته خو تېنګ نشوي چې يې کړلي پېزواني

وايي پلار مې بهادر او نيکه مې سکندر و — چې د ځان تپوس ترې وکړي بس هين هين وي اماني

په غريب همسايه زور وروي، يا په سبحه زور وروي — د جنګ وخت کې پټ کوره ناست وي خو د جنګ ورارماني (۱۱)

شاعر، شيخ، ملا، بزګر، کارګر او د ټولنې هر قشر مخاطب کوي او د هغو د ژوند حتی وړه مسايل هم مطرح کوي لکه يو ځای چې د بوري (په پښتونې لهجه کې چيني ورته وايي.) کمبود غيرتي خان هم د رسوايي د ګرته راکښل کړه يې داسې تصويروي :

ډېر نور ز ملالا او خو جيني رانه خراب کړ — ملا پيتې ته تېنګ و خو فيرنی رانه خراب کړ

دلته سړي ته د لوی لينن هغه قول ورپه ياد شي چې د هنر او ارمان په باب يې ديو هنرمند د هنري ايجاد په رابطه وايي او د غني ايجادګرانه شيوه د هغه سره صدق کوي . لينن وايي : «لوی ارمانونه ديوی پيسې ارزښت هم نه لري که په ژوند کې د کوچنيو مسايلو سره چې د ټولګي طبقې په ترکيب کې ځای لري وصل نشي .» (۱۲)

غني د ټولنې د لويو ارمانونو لکه د پردي له جنجاله د خپلو خلکو آزادي او ملي آزادي بخښونکې جنبش د بريالیتوب سرحد ته رسول په خپل تام هنري ـ نبوغ تبليغوي، خو هغه په ايجاد کې وړې وړې کوچنۍ مسايل چې د هغو لويو ارمانونو د زېربنا حيثيت لري هم له ياده نه باسي او دا کار د ده د کمال يو غښتلی قانع کوونکی دليل دی .

غني د سياست په سير و پوديه اګاه شخصيت دی او په دې پوهېږي چې په شپکلي توګه د انګريز وتل او د پاکستان منځ ته راتلل به څه عواقب په قبال کې ولري

نو په همدغه وخت کی د ۱۹۴۷ع داگست تر عنوان لاندی (دا تاریخ د پاکستان د زیږیدو نیټه ده) داسی وايي :

نن انسان شو د انسان دوینو تږی — نن مجنون شو د جانان د وینو تږی

داسی زهر چی بنامار و ته پسخیږی — داسی تاو چی کړی جانان د وینو تږی

داسی رند چی د آدم په وینو مست وی — داسی ښار چی کړی آسمان د وینو تږی

لیونیه ! د مستی باغ ته تری تښته — نن د تندر ی مر ی جهان د وینو تږی (۱۳)

په ۱۹۴۸ کال کی چی د پاکستان وینی خوړونکی بچی لا پوره دیوه کال نه و شوی چی غنی د حیدر آباد جیل ته وغورځول شو او په دغه وخت کی غنی د پاکستانی زندان تصویر باسی چی وحشت او تهدید یی دانگریز تر زندان په مراتبو زیات او په عین زمان کی د تحقیر ډک ؤ . غنی چیلو خلکو ته د قید تر عنوان لاندی د دغه زندان قصه کوی :

د سحر تیل او دال ، د ماښام دال او تیل — د کوټگۍ په گوټ کی ، قولپی عطر او فلیل

محفل د ښکلو خلکو ، تول بزرگان شریفان — یا مهیزک گنکپان ، یا اجړتی قاتلان (۱۴)

جوخت له دغه بحث سره چی غنی څه وايي او چا ته یي وايي ؟ دا مسئله هم پوره څیړنه او علمی تحلیل غواړی چی د غنی د تولنی د سیاسی مبارزی سمت او جهت څومره د سیاسی واقعبینی طرف ته واقع دی او آیا د غنی ادبی لین او لار د دغه سمت او جهت سره څومره قدر متوازنه او برابره ده ؟

د بحث دا برخه د دوو تر محنیو برخو یعنی دا چی غنی څه وايي او چا ته یي وايي دیوی تکملی حکم لری .

دغنی د تولنی د سیاسی مبارزې جهت په اصطلاح پاک پریولی د ملی آزادی بخښونکی جنبش د بریالیتوب له پاره څی دی . د دغه جنبش زیربناء ضد امپریالستی ناسیونالیزم دی .

د مارکسیزم - لینینزم په تیز سونوکی د دغسی ناسیونالیزم ضرورت او مشروعیت ته داسی اشاره کیږی :

« په اوسنی مرحله کی ضد امپریالستی ناسیونالیزم په هغو هیوادونو کی چی په مستعمره ای حالت کی واقع وی یا یی تازه نجات موندلی وی یو عمده قدرت دی چی د خپلواکی په لارکی ګامونه اخیستل کیدای شی او یوه قانونمنده مرحله شمیرل کیږی .» (۱۵)

دغه ناسیونالیزم په خپل تکاملی سیر کی په هغو هیوادونو کی چی د ملی دموکراتیک انقلاب مرحلی ته ورسیږی ، د دموکراتیک ناسیونالیزم خصلت مومی چی د امپریالیزم او فیوډالیزم پرضد د مبارزې جهتونه تاکی او د ناسیونالیزم دغه دوی نوع د تنګ نظرانه او بورژوازی ناسیونالیزم سره له بنسټه توپیر لري .

د پښتنو ملی آزادی بخښونکی جنبش که پرون د انګریز پرضد ؤ یا نن د پاکستان د مارشل لایی نظام پرضد روان دی سیاسی زیربنایی هم دغه ضد امپریالستی ناسیونالیزم دی .

اوس نو راځو د مسئلی دې اړخ ته چی له دغسی ملی آزادی بخښونکی جنبش سره متوازن او متناسب کوم ادبی روش اولین باید تعقیب شی ؟

په مترقي ادبياتو کې رياليزم د خپل انقلابي خصلت په لحاظ ارزښتمن ځای لري، رياليزم د انتقادي او سوسياليستي رياليزم په نومونو سره بيليږي چې هر يو يې د يو تاريخي پړاو نمايندګي کوي چې ځينې يې د پاسيف او اکتيف په نامه هم يادوي. د دغو دوو ادبي مکتبونو په خصوصيت کې دا خبره غټه ځای لري چې انتقادي رياليزم هغه مهال چې ټولنه د استبداد په جال کې ګيروي د مبارزې وسيله ده او سوسياليستي رياليزم هغه وخت خپله وظيفه پيل کوي چې ټولنه د بريالي انقلاب مرحلې ته ورسيږي او د دغه مترقي انقلاب لاس ته راوړني وساتي او لا يې نوره هم په مترقي مسير کې په حرکت راولي.

ولې د دې په اړخ کې رومانتيزم هم يو مکتب دی چې د ملتونو د ملي آزادي غوښتونکې جنبش د سياسي مبارزې په رابطه يې خبره. لکه ناسيوناليزم چې په انقلابي او ارتجاعي جهتونو ويشل کيږي او انقلابي ناسيوناليزم د ملي آزادي غوښتونکې جنبش په مرحله کې د ضرورت او مشروعيت تر حکم لاندې راځي نو انقلابي رومانتيزم هم د غسې خصلت لري.

انقلابي رومانتيزم د ملي آزادي غوښتونکې جنبش په مبارزانو کې د تحرک او ديناميزم پروسه چټکوي نو ځکه د دغسې جنبش په وخت کې بايد کار ورڅخه واخيستل شي. » انقلابي رومانتيزم د حق او عدالت د لارې سرتيري توصيفوي او د ارتجاع د ابليسي يارانو کرغيړني څيرې انځوروي او په خلکو کې د هغوی په نسبت نفرت راپاروي. » (۱۶)

ددغه پورته تحلیل په رڼا کې نو اوس دغنی د ټولنی د جنبش او ددّه د هنزی لیت اولاړې په باب د قضاوت حکم جاری کوُو.

لکه پورته چې وویل شول دغنی ټولنه یعنی پښتونخوا لکه پرون چې دانګریز دامپریالیزم تر چپاولاندې وه او دهغه چپاو پر ضد مبارزه کیدله نو نن هم د پاکستانی مارشل لا یي نظام شوم سیوری پر خپور دی او بیا هم دخلکو مبارزه ورسره روانه ده. دغه مبارزه په خپل مجموع کې ملی آزادی بخښونکې مبارزه ده چې د انقلابی ناسیونالیزم یعنی ضد امپریالستی ناسیونالیزم په ایدیالوژی یی مبارزه رهبری کیږی.

ددغی مبارزې په بهیر کې ددغی ټولنی روښنفکران او دژبې او قلم خاوندان هم د انقلابی رومانتیزم په شیوه چې له دغه جنبش سره کامل تطابق لری مبارزه کوی. دغه مبارزه په انقلابی قدرت مخ ته ځی او ددغه انقلابی بهیر په قافله سالارانو کې دغنی او اجمل موقف د باصلاحیته رهبرانو دی.

دغنی په شعر کې د انقلابی رومانتیزم څپې هر هره زړه ته ژوند بخښی، په خاصه توګه داچې دی د پښتنو د قبیلوی او سنتی ټولنی د ټولو کلتوری مونو او اخلاقی معیارونو او معنوی قدرتونو څخه پوه او خبر دی په خپل هر شعر کې پر داسی ټکو ګوته ایږدی چې حتی یو بې زړه او ویریدلی او ترهیدلی هم دی ته حاضروی چې دوطن دآزادۍ په لویه معرکه کې خپل سر ددغه قمار پر میدان په داو کښیږدی.

دا دغني کمال او دراکيت دی چې هم شعوراً خپله تولنه پېژندلې هم يې د جنبش حدود ځان ته معلوم کړي دي او هم يې علماً په ادبي لحاظ هغه لار په خپلوا ايجاد يا توکې ځان ته ټاکلې ده چې هغه د روان جنبش سره علماً تطابق لري .

زما ارمان به هغه وخت سرته رسيدلی وای چې ما دغني د شعر فرد فرد تردغسې تحليل لاندې نيولی وای ، خو د مقالې داوږدوالي د مخ نيوی په خاطر د تدارک د کميټي د محترمو ملګرو په امر په دغه لنډه ليکنه اکتفا کوم او د ستر انقلابي شاعر غني په دې بيت خپله ليکنه پای ته رسوم :

بعضې ځای کې لږ بعضې ځای کې ډیر یم خدای لوی کړی
خیال می د سبا دی ، پیدا شوی پرونی یم

ستاسی له توجه څخه تشکر

۹ جدی ۱۳۶۴

مأخذ

۱- عبدالروف بینوا : اوسنی لیکوال ۳ توک ۱۳۴۶ دکابل چاپ ۱۰۰۶ مخ

۲- پورتنی اثر پورتنی توک ۹۹۱ مخ

۳- ایضاً ۹۸۹ مخ

۴- غنی خان دغنی پلوشی ۱۳۳۹ دکابل چاپ ۱۲۹ مخ

۵- لودمیلا اگانینا، یوگتی چلشف، درباره هنر وادبیات مترجم مریم جاویدان چاپ مجد د کابل ۱۳۶۴- ۵۹ مخ

۶- اناتولی دریموف. ترجمه مهدی پرتوی زیباشناسی نوین ـ تهران ۲۰۱ مخ

۷- مارکس انگلس : مانفیست حزب کمونست ۱۹۸۰ چاپ مسکو ۳۰ مخ

۸- غنی پلوشی ۱۵ مخ

۹- اوسنی لیکوال ۳ توک ۹۷۷ مخ

۱۰- پورتنی اثر ۳ توک ۹۷۵ مخ

۱۱- ایضاً ۹۹۹ مخ

۱۲- زیباشناسی نوین ۲۰۱ مخ

۱۳- غنی پلوشی ۱۰۱ مخ

۱۴- پورتنی اثر ۱۲۷ مخ

۱۵- ر. اولیانفسکی : مسایل معاصر اسیا، افریقا از انتشارات حزب توده ۷۲ مخ

۱۶- احسان طبری : مسایل از فرهنگ و هنر و زبان ۱۳۵۹ از انتشارات مروارید ۲۰ مخ

«موږ به نور له سوزه ډک او نا امیده نغمې ونه وایو
دا دی اوس زموږ له سټونی بله سندره راووځي»
یو تور پوستی شاعر

اکبر ګرګر

اجمل خټک او د پښتو په شعري جریان کې نوي عناصر

کارل مارکس په خپله مقاله کې چې د هندوستان پاڅون نومیږي په هند کې د برتانوي امپراتورۍ د ظلمونو او غارت په باب لیکي :

«یو افسر له پېښور نه د چل لیک په ترڅ کې لیکي چې څرنګه لسم سواره غیر منظم غونډ پرته له کوم سبب بې وسلې کړای شو چې په پنځه پنځوسم بومي غونډ باندې یې له حملې ډډه کړې وه . نوموړی د دې پېښې په باب چې څرنګه یې نه یوازې د غونډ عسکر بې وسلې کړل . بلکې هغوی یې لوڅ او پښې ابلې کړل او له هغه وروسته یې هر نفر ته د ولس پنسه ورکړل ، او د سیند غاړې ته یې واستول ، په کوچنیو بېړیو کې کښېنول او د سند په دریاب کې یې خوش کړل په ډېر خوشالي دا خبره یادوي . د لیک لیکو نکی د دې پېښې په باب خپله خوښي نه پټوي . او تکل کوي چې هر یو به په دغه قهار او څپاند سیند کې ډوب شوی او مړه شوي وي ..... (۱)

په همدغه مقاله کې وروسته لولو : "چې څرنګه د پښتنو شخوتنو او سیدونکو چې دیوه زوم دواده په وياړ خود باروتو کوچنی مینونه (چې د هغوی یوملی دود دی) وچول او په نیمه شپه کې د تشویش سبب شول دهاغه شپې په سبا هغوی را وغوښتل شول لاس او پښې یې ورته وتړلې ، او داسې یې غوږونه ورتاو کړل چې تر دېره وخته به یې هیر نه شي ......(۲)

دیوبل انګلیسي ملکي مامور په قول لیکلي چې وایي : "موږ د ژوند او مرګ واک لرو . تاسو ته داد درکوو چې بې رحمانه عمل به وکړو ......(۳)

له دې مطالبو موږ ته جوتیږي چې په هند باندې د انګلیسي استعمار وحشیانه اعمالو تل د کارل مارکس پام ځانته را اړولی ، او ان د پښتونخوا د سیمو په باب یې مشخص کلي نتایج وړاندې کړي دي . هغه د خپلو ژور - نالستیکي فعالیتونو په ترڅ کې تل د پښتونخوا د سیمې ستراتیژیکي اهمیت له پامه نه غورځولی . او د دې سیمې د اهمیت سره موازي یې د برتانوي استعمار ظلم او وحشیانه تیري غندلی او په یوه بله برخه کې لیکي : "..... خود مرکزي امپراتورۍ د پیر کمزوري مرکزو چې هندوستان هر ځل له هغه لارې دیر غلګرو د حملې او یرغل لاندې واقع کیده . او هر واړ نخواني حکمران د نوي حکمران له خوا له هند څخه شړل کیده . د امرکز غربي سرحد وچې تر دې وخته لا د برتانوي یانو تر لاس لاندې نه و ......(۴)

د ا او داسې نور زیات مطالب د دې څرګندوی دي چې لره پښتونخوا او

د هندوستان لپاره د هغه ستراتیژیک موقعیت، د خلکو مورال، جنگی مهارت او نورو تول فکتورونه د برتانوی استعمار په لومړیو ختونو کی د نړی د کارکړانو د مشرانو له پامه لیری نه وو، بلکی د هغوی پام یی تل ځانته راړولی و.

خودشلمی پیړی په سرکی په لوړه پښتونخواکی د پښتنو د ملی آزادی بښونکی غورځنګ رامنځ ته کیدل او ورځ په ورځ پیاوړتیا لاپسی زیات د غه د اهمیت تکی څرګند کړ. په ۱۹۱۲ع کال خان عبدالغفارخان د تنګزو د حاجی صاحب سره یوځای د آزاد و ښوونځیو په جوړولو پیل وکړ دی غورځنګ چی له ماهیته یی استعماری ضد او د انګلس ضد خصلت درلود د پښتنو د توامیت او د ویشل شویو توته توته شویو ضعلو، ریاستونو، او ایجنسیو باندی ویشل شویو پښتنی سیمو د یوځای کیدو او د ملی خپلواکی د پاره له مبارزی څخه عبارت وه، ډیر ژر یی په ټولو پښتنی سیمو او ان په قبایلی سیموکی د پښتنو ملاتړ ځانته حاصل کړو د پښتنو زیارکښی برګنی، وطنپرست روحانیون، کوچنی ځمکه وال او په ضعلوکی زیارکښ بزګران د باچاخان یا د خدایی خدمتګارو د غورځنګ تر شا ودریدل.

د انګلیس استعمار د پښتنو په حساسه او ستراتیژیکه سیمه کی خپل معنویات له لاسه ورکړل او د ټولو ظلمونو، بی رحمیو او قساوتونو سره سره چی دغه موویل او له هیڅ ډول شکنجی څخه یی دده و نه کړه. بیا هم د کارل مارکس رومبنی یا دی شوی خبری ته راځو چی د «مرکزی امپراتوری له پاره د ضعف په نقطه» د سیمی

په خلکو هر ډول فشار تحمیل کړ، خود غوښتنګ کلکه مبارزه د ټول "آرام شرافت" سره بیا هم د انګلیس استعمار ویره ډهغه د قهار استبداد سبب شوه، یا په بل عبارت "د آسیایي استبداد په زمینه کې" په دې سیمه کې په "هالینډي" شیوه د انګلیسي استبداد سبب شو.

د شلمې پېړۍ په دېرشمو کلونو کې د سرحدي صوبې په سیمو کې د کانګرس سره یوځای د پښتنو آزادي غوښتنکي غورځنګ پیاوړي توګه نفوذ وکړ. "دا غورځنګ دومره پیاوړی شو چې کله په ۱۹۳۵-او- ۱۹۳۷ع کال کې انتخابات وشول. او هر بالغ سړي ملکي د رأی حق نه درلود، یوازې د انګلیسي قانون له مخې هغه کسانو رأی ورکولی شي چې تاکلې ځمکه او شتمني یې درلوده، او په طبقاتي لحاظ د ټولنیز اعتبار خاوند وو. کانګرس د خدايي خدمتګارو په سرحدي ایالت کې د مرکزي اسامبلی لپاره او خپل ایالت کې قاطع اکثریت تر لاسه کړ......(۵)

دا پېښه د انګلیسي استعمار لپاره د بل چال او نیرنګ د عملي کولو سبب شوه لکه چې یو شاعر د طنز په ژبه وایي:

دلته چرګوړي ده کوڅه جنګ یې په هګو شو
ورکړ د موټر چابي له بیا فـیرنګي تاو

او په نتیجه کې پاکستان منځ ته راغی؛ پاکستان د پښتنو له پاره دیو دېر مسخره کاریکاتور حیثیت درلود چې د هغوی د آزادي غوښتنې له تابلو جوړ شوی وو.

په دې ډول په لره پښتونخوا کې د شلمې پېړۍ د دېرشم او څلوېښتم کلونو

(۱۹۳۰-۱۹۵۰ ع) په ټولنیز-سیاسي لحاظ د نویو پېښو او حوادثو جوګه دی

یا په بل عبارت په سیاسي لحاظ دغه ټولنی د پېښو د زېږېدو سخت دردونه زغمي او ددی په خواکی د پانګوالي ټولني شړ یانونه هم خپل حرکت ګړندی کوی په دغو کلونو کی د پښتنو په سیمو کی پانګوالي وده کوی ، د پښتنو په سیمو کی نژدی له ۲۰ څخه تر ۳۰ پوری صنعتي تصدی ، منځ ته راځي چی هره یوه یي نژدی (۲۰) تنه کارګران لری په صوبه سرحد کی د دغه کارګرانو شمېر نژدی (۱۵۰۰) تنو ته رسیږی تر ټولو ستر کارخانه په همدغه وخت کی د هندوانو له خوا په مردان ضلع کی د شوګر میلز په نوم جوړه شوی وه . په شلویښتمه لسیزه کی زیات پښتانه روښنفکران را پورته شول او ان په ازادو پښتنو سیمو کی د روښنفکر قشر د پیدا کیدو جریان منځ ته راغی . ښوونځی او مکتبونه منځ ته راغلل او په دی دول روښانفکری فرهنګی جریان له سیاسي هغه سره هم غبرګ شو .

په دی دول ده چی مطرح کیږی په دغه زماني مقطع کی د پښتو ادب په شعر او نثر کی څه شیان اغیزمن ګڼلی شو .

د انګلیسي استعمار پر ضد سخته کرکه او نفرت په یادشوی ادبي جریان کی ځای نیسي .

د پښتنو د قبیلوی ، میرانی او ناریتوب فکتورونه د غیرت او ننګ د ټولني توکونه او عناصر پکی ځای نیسي .

په دغه ادبي جریان د پښتنو د ملي هویت مسئله د هغو د موجودیت او توامیت مسئله د ټولو هغو په صدره کی مطرح کیږی .

د الکتوبر د انقلاب له بری وروسته او په هند کی د راډیکال آزادی غوښتونکی غورځنګ د اغیزو په اثر او همدا رنګه شوروی اتحاد ته د یو شمیر هندی مهاجرینو تګ او بیرته د نویو مترقی افکارو سره د راستنیدو په ترڅ، او دغه راز پخپله سرحدی صوبه کی د کارګری طبقی وده او نورو عوامل هم د دی سبب کیږی چی ادبی جریان په ملی خصلت سربیره طبقاتی کرکتر او خصوصیت هم پیدا کړی .

موږ دغه ویل شوی تکی د پښتونخوا د انقلابی شاعر اجمل خټک په هنری او ادبی کارکی بی اغیزی نه شو بللی. اجمل خټک د خپل وخت او دوران د سیاسی فرهنګی پیښو غښتلی مبارز شاعر دی، د هغه د شعر، رمانتیک اړخ د هغه له سیاسی پراتیک سره ملګرتیا کوی .

د شوروی اتحاد محقق او ادیب : ګ . ف . ګیرس لیکی : " د ړانی پیړی په څلویښتمو کلونو کی اجمل په خپل کلی اکوړه کی په عنعنوی شعری مسالمو کی برخه اخیسته، داسی معلومیږی چی دلته ده د لومړی ځل له پاره د اسپوږمی او چینی شعر لوستل دی ...... (٦)

همدا محقق زیاتوی : " پښتانه لیکوالان او شاعران چی په ادب کی د نوی تمایل پلویان دی د دوی آثار دیوی ډیری غامضی پیښی په توګه زموږ مخی ته راولاړیدی کیږی د سیاسی او اجتماعی بحران په وخت کی چی پښتنی سیمه یی په خپور اوستی وه، پخپله د نوی ادبی جریان نهضت په بی نهایی تضاد سره امتیاز لری چی دا تضاد بیا په خپل ذات کی د عصر د تضاد مولود دی.

دی تضاد د پښتنو منو ښو په منځ کې چې د عقاید و او اجتماعي جوړښت له مخې یو تر بله سره مختلف الطبیعت دی بد بیني او ناامیدی ترسیم کړې ده او خپل مطلب یې په پرده کې تیر کړیدی، عشقي او فلسفي جریان نوی ایدیالوژیمي او اجمالي ارمانونه اعلان کړیدی او د خارجي حقایقو په ځای یې د روحي منزي تأثراتو انساني احساساتو او شخصي خصلت آزاد خلاقیت ته مراجعه کړیده. په دغه ادبي ارتباط کې د لیکوالو کو ښنښونو او هڅو د ادب مخې ته پراخه فضا پرانیستلې ده او پښتو ادب یکې وسعت موندلی دی ....(۷)

او اجمل خټک هم د دغه نوي دور شاعر دی. د لومړي ځل لپاره چې علمي دغیرت چیغه د اباسین د څپوله پاسه راپورته شوه نو د پښتو ادب ته یې واقعي او ښتونې حرکت ورکړ. دغیرت چیغه د ښکلا پیژندنې او ارمان له مخې د عصر ښځې نوي پدیده وه، او له هغه وروسته زیاتو پښتنو شاعرانو هڅه کوله په دغه قالب او مضمون سره شعر ووايي د غیرت چیغه اثر چې په ۱۹۵۸ کال په پیښور کې چاپ شویدی، د هغه په پیلامه کې لولو:

« د خوشحال او خوږ اولسي ژوند د هغه سپرلي چې په غر او سمه لوړه او ژوره، تور او سپین، زرود او کمزوري، شته من او نیستمن گل او خار، ښه او بد یو شان راځي. هر څوک او هر څیز تري ته د ښایست ودي او خوشحالي برخه د خپل لوښي او همت په مقدار د خه مخ مروت لحاظ، اثر رعب او امتیاز بغیر لکه د مور د پیو اخیستی شي ....(۸)

دغیرت چیغه د ۱۹۳۰ - او - ۱۹۴۰ ع کلونو محصول ده. ددغه دوران دسیاسي حالاتو او تحولونو او واقعاتو په باب دېر لږ څه موږ ده څخه وویل، او دهغه دوران دسیاسي غورځنګ دخلکو ملي او طبقاتي غوښتني پکې منعکسې شوې دي. نو ځکه دغیرت چیغې ځیني شعرونه دچاپ او خپرېدلو ونه وروسته سر له واره په شعار بدل شول. پدې مانا چې که تر دې وخته دپښتنو آزادي بښونکي غورځنګ یوازې ملي انګریزي ضد او پاکستان ضد خصلت درلود، نو په دغه مقطع کې د طبقاتي کرکټر تو کونه وړنو تل. او ددې پر ځای چې دوچو سیاسي شعارونو څخه شعر جوړ شوي وي، دې شعرونو داسې جذابیت پیدا کړ چې دخلکو په شعارونو او وځني سندرو بدل شول دمثال په ډول:

که ظالم مې ژبه غوڅه کړه تیره شوه
تورې خوړمه چې تیره شوه لاخوږه شوه

اوس که نړوي نو غوږ ونه دې خپلې پړ کړې
چې زمانه سره نه شوله سره شوه

اویا داچې:

غټان، غټان، نیکان، نیکان پیدا دي
دوي خوله ځایه جنتیان پیدا دي

ځي هغې خوار و له جنت و ګټو
څوک چې له موره دوزخیان پیدا دي

دغه راز د غیرت چیغه ټول شعرونه لکه د ویښ ځلمي سندره، د کوچي سندره داخه سپرلی دی، احتجاج، چرګ ته، بین مارته، ګوجر ته، جنت خیبر ته او نور ټول شعرونه په خپل وخت کی هم د پښتنو د ملي آزادی بښونکی غورځنګ نه اغیزمن دي او هم د نړیوال انقلابي جنبش نه او هم د طبقاتي مبارزی ژور مضمون لري. په دی شعرونو کی هم ژور پښتني خصوصیات شته او هم په ټولنه کی د مثبتو اسطورو انعکاس شوی دی او د هغو استبداد ضد او ظلم ضد کرکتر ډیر ښه راژوندی شوی دی. لنډه دا چې شعرونه د خپل دوران د غورځنګ په جنډه او پرچم بدل شوي او د اولسونو د ویني سره یې ډیره نژدې رابطه ټینګه کړېده. د غیرت چیغه په حقه سره چې د شاعر د شاعري د آسمان په اوج کی ځای لري.

د خیبر په نوم د مشهور شعر یوه برخه چې د شاعر د هیلو ترسیم پکی شوی دی لولو:

ستا په سر باندی خیبره — یوجونګړه ځما کوړی
ته زما په لیمه کی وی — زه د ستا په اوږو سوری
ستا لحظه لحظه تیریږی — د فطرت په تماشو کی
ټوله ورځ د لمر په ځیرو — شپه د ستورو پلوشو کی
ستا سکنی ماښام رنګین شی — د شفق په لاله زار کی
سپین سحر دی د بادونو — په وږموشی نوبهار کی
په لمنه کی دی ښخ بنی — د قدرت د رنګینو دی

په جوله کې دي تاجونه ریزمریز د زمانو دی
د شینکی پرده کی پټه د سرو وینو آئینه لي
په دې چپه چپیالی کی دژوند ونو نښانه لي
که مې ژوند یوه لحظه وی خو په پښتو کی دی تسکوري

ستا په ترو کی خیبره
یو جونگره زما کوروی

دغیرت چیغه په همدی ډول زموږ د دوران د آزادی پرست انسان چیغه ده چې دهنر په ژبه تو کی تاوده. دغیرت چیغه ارمان او امید دی چې دخیبر له پاسه ځلیږی او په دی ډول کله چې ددغه اثر نور شعرونه هم وینو نو د پښتو د ماضی ادب په تهدابونو کی یکی نوی مورچلونه برېښی، دغه مورچلونه یوازی د ملی آزادی غوښتنی مبارزی نه بلکی د طبقاتی غوښتی او سرې مبارزی مورچلونه هم دی لکه وایی د مثال په ډول:

چې نشه د استبداد لری په سر کی مانه یو دي که مغل دی که افغان
چې زما د کوره غری تیر کا به گوری ومیه اورشوی د هغه په گلستان

دغه راز دغیرت چیغی شعرونو طبقاتی اړخ، په نوی خوند او رنگ سره په نوروز یا تو شعرونو لکه د وینی ځلمی سندره، دکوچی سندره د اخه سپرلی دی، یوتپوس، گوجر او نوروز یا تو شعرونو کی دا اړخ ټینگ او څرگند دی.

دغیرت چیغی شعرونه د گرمی آزادی بښونکی مبارزی سره

موازی منځ ته راغلی دی، ځکه نو خپله ښکلا او ابدیت ساتی.

کچکول د شاعر د نثرونو او لنډو کیسو مجموعه ده چې په هغه کې هم د زمانی ترخې او نا خوالې ثبتې شوې دی. او د دازه پاګل وم؟ خو په زندانونو او جیلونو کې د آزادي غوښتونکو د مقاومت او ټینګار حکایت دی چې په ښکلی نثر کښل شویدی، او په مجموع کې دغه آثار د زمانی د پیښو سره موازی پښتو ادب ته نوی توکونه او عناصر ورزیات کړیدي.

ګل پرهر چې پدی او سنیو ختونو کې چاپ شوی او د راورو سته وختونو شعرونه دی د اهم د مبارزی او مقاومت شعرونه لری. دیوه څیړونکی په قول چې په نو موړی اثر باندی د خپلی سریزی په ترڅ کې لیکی:

« د دې مجموعې ټول نظمونه په یوه معینه تاریخي مقطع کې ویل شوی ښکاری یعنې د غیرت چغی تر لښکر وروسته ان تر ۱۹۷۱ ع پورې زمانه را چاپیروی د مجموعې زیاتره نظمونه د پیښور، مچ، پیرو او جهلم د جیلونو په تورو کوټګیو او ینځرو کې ویل شوی دی. دا نظمونه دوخت د جابرانو په دی تورو جیلونو کې د پښتونخوا دغه خوشنوا قیدی بلبل د زړه د دردونو او خوږلګیو او د عالی سترا قتمندانه ملی احساس څخه را ټوکیدلی ګل غوټۍ دی، چې د پښتنو ماضی ته له حاله سره ارتباط ورکوی او د راتلونکی مستقبل د راتلو زیری یې په پاڼو کی نغښتی دی. د ګل پرهر په مجموعه کې راغلی « تاریخي نظم » زما د دې خبری ښکاره ثبوت دی...»(۹)

یا د مثال په توګه : « راشه د یار خیاله » شعر د شاعر د ارمان چیغه ده
د وخت د زورګیرو او پاکستاني ارتجاع او استبداد په وړاندې د هغه نه
تسلیمیدونکې آواز دی شعر د شاعر په وړاندې د زمان د زورګیرو د مړ دول
امتیاز او تطمیع په وړاندې د انقلابي او حماسي غرور څرګندوی دی .

د هغه زندان چې آزادي پرست او وطنپرست انسان یې د خپل وطن
او خلکو د روښانه مستقبل په خاطر د تړوند سره او خوار ه د ژنګونه تیروي تاملات
او فکرونه کوي او زمان د هغه د آزادۍ غوښتونکې ، پولادینې او نه ماتیدونکې ارادې
په وړاندې سقوط کوي ، او یوازې همغه څه د هغه د ذهن او فکر او تصوراتو
فضا جوړوي دکوم په خاطر چې عذاب او رنځ زغمي .

گلونه او تکلونه :

دا ترا خه وختونه تیریږي بې له رنګه
راشه ګله راوره خو پیالې سره له چنګه

یو روښانه جام دې بل دستر ګو دیوې بلې دي
څه کوي چې ګوري ځانه زړه پتنګه

زه چې د شیخانو خوشې چیغې پکې نه اورم
ځار شم د رباب ددې ښایسته ګوتو له ټنګه

ګلوبي رنګ واخستو د شونډو له غوټۍ نه
هلته چې له بامه په مسکا شوله ګلرنګه

لاړه دګودر خوموپه سرو وينو ونيځلی ده
کله به همزولو سره راشي ړنګه بنګه

داد زلفو ول په ول کوڅه تړ داره هم ړسي
زړه چي منصور شي کله رسي تر دي څنګه

دلته په باګرام کی د ساقی دوهی دی ګرهه شوه
چرته يي، راز غله د کچکول خواره ملنګه

« وايي چي يوه ښار ته يو کليوال سړی ورغی او د ښار په څای کی يي د شاعر يادونه د شاعر شهرت او د شاعر په باب خبري واوريدی او اخير يي د ماښام په مهال له ښاره بهر شاعر وليد. کليوال شاعر ته وويل تاڅه کړي چي دومره مشهور شوي. شاعر ورته هلال وښوده او ورته وي ويل: « هغه ويني » کليوال وويل هو وينم يي.

شاعر وويل اوس دی ستر ګی پټی کړه او ورته وګوره چي ويني يي او کنه، هغه وويل نه يي وينم. شاعر وويل خو زه چي ستر ګی هم پټی کړم هلال لکه څنګه چي دی له هغه يي هم ښکلی وينم » خبره دلته په خلاق شاعرانه تخيل او شاعرانه بداعت کی ده چي مسأله خاص شاعرانه ليد مطرح کوي.

دغه ليد بايد په شاعر کی موجود وي او شاعرانه تخيلي بيان د خاص او له عاطفی ډک نړۍ ليد د خاصي شاعرانه روانشناسي جوګه دی، خو موږ پدی برخه کی په ګلونو او تکلونو هم خبري کوو. د ګلونو او تکلونو اثر چي هم شاعرانه

ښکلي سره او رنګين ګلان لري او هم دوطن د مستوځلمو د ارادو او تکلونو يو رنګين او شاعرانه بيان دی. د هيلو او اميدونو په افق د لوستونکی ستر ګی ګنډې ي. د هرډول ياس، خپګان او ويرې د طلسم پر ضد غورځنګ وهي. او هغه موږ د اجمل خټک په شاعرانه کلماتو، په ګلونو او تکلونو کی وينو.

نو اجمل خټک شاعر دی او هغه داسی شاعر چي د ماښام په تربږمي کي د آسمان په لمنه کی هلال ډير روڼ ښکلي او ښا ايسته وينی او چي لږ وړته نور هم ځير شي نو بيا د هلال نه په چاپير شپول او د هغه په خواو شا کی نور هم ښکلا وي هم وينی او د هغه ځای ګلونه د خپلو تکلونو په وس په خپله خولی کی راټولولای شي.

د کتاب په سر کی د پښتو ژبی د پياوړی شاعر سليمان لايق لنډه او له محتوی ډکه سريزه راغلی چي په هغه کی ليکي:

« د اجمل شعر د افغانستان د سرکش طبيعت د عظمت د آمو او اباسين مستی زموږ د انقلابي تولني له ګړ هی او د باګرام د تر کوله افسانوی ښکلا او ځلاسره اخښلی او د نوی دوران د تغزل داسی ماڼۍ يي تری جوړه کړی ده چي په پښتو شعر کی ساری نه لري او د بل هيڅ شاعر لاس ندی وررسيدلی.

هغه وخت چي موږ نه يواو اجمل نه وی د پښتو راتلونکی نسلونه به د هغی ستري مجسمی ننداره ته د تعظيم سر ښکته کړی چي اجمل د خپلو تو دو شعرونو او انقلابي سرو د و نوله ښتو او ډبرو څخه درولی ده ...... (۱۰)

موږ بايد لنډه يادونه کی د خټک په نورو شعری مجموعو ويل

نه غواړو خو یوازې د همدې اثر یعنې ګلونو او تکلونو د اثر د شعرونو په ترڅ کې په لنډه توګه په دغه شعرونو کې د نویو شاعرانو امیدونو، هیلو، په نویو مفاهیمو شعر او شعار او نورو مطالبو په باب لږ شانته خبرې ویل غواړو.

شعر زیات انساني وظایف را مخ ته کوي. دا چې وایي شعر باید شعار وای په واقعیت کې په ټولنیز تعهد باندې د باور کسانو د خبرې بیهوده کول دي. هیڅوک حق نه لري د شعر د وظایفو په تعلد باندې ستړګې پټې کړي او هیڅوک حق نه لري و وایي چې شعر باید یوازې سیاسي مسایل مطرح کړي. آیا شعر، د طبیعت، عشق، رنځ، مرګ، غم، طنز او خپګان په باب ضرور نه دي. په هر حال هغه شعر چې انسان روزي، تسل ورکوي اوج ورکوي، نو هغه مسأله چې مطرح ده، هغه د شاعر د (ټولنیز تعهد) مسأله ده چې په تکاملي بهیر، جنبش، مبارزه، انقلاب او د جنګ په شرایطو کې مطرح کیږي، او نه دا چې شعر باید شعار وي، د دې لپاره چې شعر د شعار تر حده پورته لاړ شي باید (ذاتي جوهر) ولري او د خپل دغه (ذاتي جوهر) له مخې باید د خلکو او پرګنو پر ژبو وګرځي.

نو که د اجمل خټک شعرونو کله د خلکو او اولسونو د متل او شعار حیثیت غوره کړی واقعاً چې له ژوند سره یې نږدې اړیکې در لودلې دي.

په سر بېره کې راغلي «د دغه شعرونو سرچینه چیرې ده، د هغوی اصلي سرچینه د ساده پښتون په ژوند کې په کېږدیو، څمڅو، بیابانونو او نه ایلیدونکو

سرکشو غرونو کی د زیار ایستونکی او داسی راوینبیدونکی انسان د هلو ځلو په محیط کی چی لا اوس هم د خپل تاریخ روحانی بت ته لاس ترلی ولاړ دی.»

خو کله چی د اجمل خټک په نوی شعرونو یعنی په ګلونو او تکلونو ګریز و، په دی کی ویلی شو چی څه بل شان اعجاز پکی پروت دی، او هغه دا چی دی له نوی ماحول سره په آشنا کیدونکی او دنویو بدلونونو او پیښو په دوزان کی او داسی تولنی چی د هغی د سکون حالت یی هم لید لی او کله کله یی ورته د وینبیدو بین غږ. ولی د هغی د غورځنګ شیبی وینی او له د غه غورځنګ نه د راتلونکی ښایسته ژوندانه تصویر د غزل په ژبه وایی. دی هیڅکله دویری، ترهی او دخپګان له طلسم سره جوړ ندی بلکی بخپلو د غو شعرونو کی د حافظ په څیر وایی:

بیا تا ګل برافشانیم و می در ساغر اندازیم
فلک را سقف بشکافیم و طرح نو در اندازیم

اګر غم لشکر انګیزد که خون عاشقان ریزد
من و ساقی بهم سازیم و بنیادش بر اندازیم

او اجمل خټک هم په ډیر او چت شاعرانه تخیل کی د غه مطالب ځای کړی دی:

وړځی د مخمورو مستیدونکو اننګو دی
شپی د ګلابی نشو د مینی د ویښو دی

داسی مستانه موسم او داسی جانانه فضا
اوس نو د پرهیز خبری خولو کی د سپیرو دی

ای دپرونی عقل ناصحه مخ دی ورکړه
ګوری نه چی دلته کی هر څه د نشو دی

لمن یې دساقی او صراحی ترغاړی پریږدئ
دا لاسونه سوی نخچیرونو دی پنجرو دی

ای نشوکی ډوبه ساقی جانه، ذی خوا وګوره
دالیونی هم د ملنګانو د دوهو د ی

شونډی چی د جام دی په خندلاسونه کی اګړی
څاردی شم داستا ګوتی خو هم د مسیدو دی

مینه یې څلاده مستقبل په کی سرخی ده
دا اوښکی سپینی کی د (ختک) د سرولیمودی

او ختک د خپلو ګلونو او تکلونو په اثرکی د ښکلو مطالبو د ارایې او اظهار
لپاره له خپل پښتني ماحول څخه اوله خپل پښتني زاړه او لرغوني ادب څخه خسنتل
شوی دی. واقعاً په زړه پوری او ښایسته دی. ډیر قابل لمس دی. هره
تشبیه او هره لفظ په خپل ډهنګی چاپیریال کی لیدای شی، د مثال په توګه:

لاره د ګودر خو موپه سرو وینو وینځلی ده
کله به هم زولو سره راشی رنګه بنګه

یاداچی: دا د زلفو ول په ول کو څه تر داره هم سی
زړه چی منصور نه شی کله رسی تر دی څنګه

یاداچی: پس له لیږه زمونږ دخوارو ډاګوته هم راشه
ښایسته مخونه سوی راته ټول عمر سیلی دی
ختک خوب کی د (چشمئ) پلوشی وینی
دامنه چی کابل کی یو پغمان شته

یاداچی: ته دتهتری لښکرکی یی که نه
دا دغرو بهیر په چاکمیږی نه
ډیر عزیزخانان دی او رنګان هم شی
خیردی د رحمان دوهمه سریږی نه
زلفی دی غنچی غنچی وی دام یی کی دکومه شو
لاره دسپین مخ ده دا ماښام یی کی دکومه شو
ستازړه کی دحوروپټ زما نظرکی دا جنت
وایه چی دا کفر او اسلام یی کی دکومه شو

یاداچی: راخوردی نن زمونږ په دی کلی چپل اوربل کړه
دا ټول سوی ماحول راته په عطرو کی بدل کړه
ډاګونه راته واړه کړه دګلو غنچکونه
په دی لوری راسم دی دمښکو زلفو ول کړه

اوکه په دی ډول دګلونو او ټکلونو داثر ټولی پاڼی وارونو ډیرخه یی کی لیدلای او موندلای شو. خو په دی برخه کی مونږ په همدی څو مثالونو

بسنه کوو، او دومره ویل غواړو چې اجمل خټک مطلب د ګودر له لارې څخه
هغه لاره کیدای شي چې هلته پکې د ژوندانه او به موجودې دي او هغه
نن موږ نسل په سرو وینو وینځي او د هغه د زلفوول په ول کوڅه، هم هغه کوڅه
او مالت او لاره ده چې د یوه انقلابي انساني ارمان له مخې د عیني واقعیتونو له
مخې ترسیم شوې او په دغه ول پرول کوڅه باندې تګ د هر چا کار نه دی
بلکې منصورې زړه او تکل غواړي، او د منصور په څیر چې کله کوم زړه له هغه
سره ځای و منلوی نو بیا تر هغه څنګه رسیدای شي، او همدا رنګه د اجمل
خټک په شعرونو کې د پسرلي سمبول هم د هغه زمان او وخت سمبول دی
چې زموږ د انقلابي نسل لپاره په نژدې راتلونکي زمان کې صدق کوي او
د دغه تیرو او یا اوسنیو سیلیو د له منځه وړلو سبب کیږي .

حتماً چې اجمل خټک مطلب د تهتري له لښکر څخه مطلب د نوي
غورځنګ لښکر دی او په ډیره زړورتیا سره هغه چاته وایي چې که د تاتري
په لښکر که نه وي نو دا د غزونو بهیر پرې هم نه کیږي او په پښتني پت کې
خو دا معموله وه چې د تاتري په لښکر کې ګډون هر چاته ویاړ بریښیده .

او که په همدې زمانې لړۍ کې ډیر عزیز خانان د وختونو له اورنګانو
سره مل شوي دي نو «د رحمان د دوهئ»، یعني د عشق او ولولو د دوهئ
یا د زمان له ناخوالو سره د مبارزو او د غزو د میدان د دوهئ خونه سړیږي
او نه یې هم سپرغۍ ورکیږي .

دګلونو او ټکلونو شاعر د عشق په لاره کې دام هم نه پېژني او د سپين مخ په لاره کې ماښام هم نه پېژني. عشق يې بولي، او د ده په نظر انساني ستر هدف ته د رسيدو په لاره کې چې د چا په زړه کې بت دی او د چا په فکر جنت او پدی کې د کفر او اسلام پوښتنه هم عبث بولي.

همدا رنګه د شاعر کلی ډېر پراخ وطن دی. دی ولې د کلي خوږه کلمه د وطن د پراخ او تر لپاره د سمبول په توګه کاروي. دا خو ځکه چې شاعر که په هر ځای کې وي نو د چشمې پلوشې نه هېروي او د کابل د لغمان يا د ننګرهار او بله دا چې همدا کلي دی چې د هغو په وسلونو کې موږ را لوی شوو، په خاورو او دوړو کې پکې ګګر شوو او د مستۍ او بد مستۍ ځوانۍ او ځلميتوب وخت مو پکې تېر کړه او تېروو يې. خو که او س پرې زمانه د خپل ناز او نزاکت او رڼا را چپور کړي نو خه به شي، او که د وطن دا سپېره په ګونه د ګلوله غوټو ځنه ډک شي او د وطن له کلو کلو څو ر يدلی انسان يې بوی کړي، نو څو مره به ښه وي. شاعر له خپل زمان ځنه همدا هيله لري او همدا هيله په لوستونکي کې روزي، له کومه ځايه چې په اوسني پښتو ادب کې د ځينو عوامو تر اغېز لاندې [illegible] سنتونه له منځه ځي د وزن او قافيې په برخه کې همداسې بېرحمانه چلند کېږي په ځينو موارد و کې سمه ده چې د دغه سنتونو له منځه وړل د پديدو له تکاملي قانون لاندې تر سره کېږي او له منځه ځي. خو د اجمل خټک په شعرونو کې د دغه سنت ديوې ښې او ښکلې سليقې په توګه ساتل شوي، دوی نه يوازې د دغه سنت

مات کړي بلکې په هغوی کې يې نوي مضمون داخل کړي او ياد اچې د نوي مضمون او نوي هدف له پاره يې له زړه او کلاسيک شعر او ادب څخه کار اخيستی دی.

په زغرده ويلای شو چې په ګلونو او تکلونو کې د پښتو ژبې شعري تغزل خپل معراج ته رسېدلی، او د زياترو اشعارو سره د مقايسې او پرتلې وړ نه دی، ځکه اول خود هر شاعر تخليق ځانګړی او خپل ځای لري او د حمل خټک اشعار د نوي زمان او نوي ارمان ډېر سمبوليک شکلي او په زړه پورې بيان دی، دلته څو مثالونه راوړو:

زلفې دې غنچې غنچې وی دام پکې دکومه شو
لاړه د سپين مخ ده داماښام پکې دکومه شو

ستا زړه کې د حوروبت زمانظرکې داجنت
وايه چې دا کفر او اسلام پکې دکومه شو

هر دور کې نمرود شته، سرې لمبې شته ورته انګل شته دی
وايه منطقې چې ستا کلام پکې دکومه شو

جام کې چې ځليږي سپين مخونه د سپوږمۍ هسې دی نا ته ګوت وايه حرام پکې دکومه شو

ماته خپل جانان نن په مينوسترګو وکتل
تول نشه نشه شوم لا جام پکې دکومه شو

مست دليونتوب په همت عمر د خټک تير شو
خولی ته خودی ګوره داالزام پکې دکومه شو

پدې شعرکې هم گورو چې له کوموخولو او ژبو څخه په شاعر د ليونتوب تهمت لګول شوی، او زمان له هغوخومره پيکه خولې جوړې کړې.

او يا داچې:

نن زمادګوګل زخم دليدو دی
پکې ښکلې سباوُن په مسيدو دی
په مقتل کړه رقيبانو سختې زياته
دزړه غل يې لکه بيا په ويريدو دی
علم وايي ګناه ستادليونتوب ده
په ماتول برکت ستاد اشارو دی
دسکنی دحسن مالګه چې سيوا ده
په ليمويې تري پښم دخولودی
که ګل نه وی نوپه پانزخومی اوله
که وفانه شوه نو ملک خود پښتو دی
چې ديارنوم يې څوک اخلي ورسپی وی
په ختک کې دامرض دليونو دی

په دی پورتنی شعرکې هم دشاعرله اميدونو ډک زړه راغورول شوی او چپل زخمی تهترکی دسباوون رڼاوينی، او کله چې دارڼا راخپره شي. شاعرپوهيږي چې درقيبانو دزړه غل ويريږي اودی رڼاته دتم کيدنی وس نه لري.

چرته چې وریځې د اوربل وورې
هلته کې ګلونه په هرپل وورې

راشئ چې میرې وریسي وکړو
داځلې پسرلی به په اتکل وورې

تنده د دیدن یې راته زیاته کړه
ستا د احیا ګانې چل په چل وورې

***

مور به د غمونو شنکلې څه کړو
مور ته به زمور په بوراجل وورې

هلته که رباب وطن وطن کوي
چرته چې شعرونه داجمل وورې

او ترڅو چې دا یې موږ په ګلونو باندې د خبرونیمګړې شان تکل کړې و او همدومره پرې وګړیدو، سمه ده. پداسې اثر په هغه کې د ژوند انده د هیر او د ماضي او مستقبل تصویرونه پکې وي. څه ویل سخت وي.

«پای»

مأخذونه :

۱- مارکس، انگلس، پیرامون استعمار (مجموعهٔ مقالات ومکاتیب
اداره نشراتی پروگرس - مسکو. ۱۰۴ مخ .
۲- هماغه اثر ۱۰۴ مخ .
۳- هماغه اثر ۱۰۴ مخ .
۴- هماغه اثر ۱۰۴ مخ .
۵- نظری کوتاه برقبایل پښتون آنسوی مرز، حمعه خان "صوفی" گستنر چاپ ۷ مخ .
۶- دمیرني اولس ادبیات لیکوال گ . ف . گیرس - دولتي مطبعه
کابل - ۱۸۰ مخ .
۷- هماغه اثر ۱۸۰ مخ .
۸- دغیرت چیغه (۱۹۵۸ ع کال) یونیورستی بک ایجنسی پیښور (الف)
۹- گل پرهر - دکابل چاپ - سریزه .
۱۰- گلونه او تکلونه - دکابل چاپ - سریزه .

پوهنیار آصف بهاند

دغني خان فلسفي افکار

دغني خان دشعر، شاعرۍ، آثارو او افکارو په بېلا بېلو اړخونو باندې تر اوسه پورې ډېره لږه څېړنه شوې ده. دهمدې لږ و څېړنو په ترڅ کې تولو لیکوالو او څېړونکو ده ته فلسفي یا لیوني فلسفي ویلي دی. هر لیکوال که دغني په باب هر څو مره څه لیکلي وي که یوه کرښه او یوه جمله هم وي هغه به داوي چې: غني فلسفي دی، غني لیوني فلسفي دی غني فلسفي شاعر دی او.... خو یوه هم نه دي ویلي چې دده فلسفه څه ده او کوم دول فلسفي افکار دده په آثارو او اشعارو کې دخیل دي. نو زما غوندې عادي څېړونکی ته به داگران کار وي چې دده دفلسفي افکارو په باب څه ووایم، خو سره له دې هم دغه کار ته ما ملا وتړله. په پیل کې مسأله لږ څه ساده راته ښکارېده، کله چې مې کار پیل کړ، نو ښه راته ولگېده چې دغه جگو لوته مې ملا تړلې ده. په دې مقاله کې به زه په لنډه دول دغني په فلسفي افکارو و غږېږم. لومړی به هغو لیکوالانو هغه نظریات یو وار وگورو چې په هغو کې غني خان لیوني، لیوني فلسفي او فلسفي شاعر بلل شوی دی.

غني خان دیوه تاکلي زماني واټن او د طبقاتي ترکیب له پلوه دیوې معجون مرکب

تولنې د بيلا بيلو اقتصادي، اجتماعي، سياسي او فلسفي افکارو څخه ډک دي چې څوک يې ليوني ګڼي، يوه سياست پوه بللی، څينو د سرلښکر لقب ورکړی او په پای کې ډيرو خلکو فلسفي يا ليوني فلسفي ورته ويلي دي.

کله چې خوا استاد ګل پاچا الفت د غني د پلوشو په ډيره لنډه مقدمه ګوتی کې د ده د فلسفي توب او ليونتوب په باب ليکلي و: " د ده په مستانه ليونتوب کې شاعرانه هوښياري او بيداري پټه ده او په ملنډو کې يې ډير د مقصد تکي نغښتي دي ځکه ورته ليوني فلسفي هم وايي." (١)

پياوړي محقق ښاغلي هميش خليل د غني خان د فلسفي توب او ليونتوب په باب د الفت صاحب همدغه کلمات په خپل اثر پښتانه ليکوال کې تکرار اوري او د غني له پاره همدغه "د ليوني فلسفي" لقب داسې تکراروي: " د دغه نوم نه وړاندې ادبي دنيا کې غني خان په ليوني فلسفي پيژندلی شو او د خپلو مزاحيه شعرونو له کبله چې اکثر به په اوو ورځني مجله "پښتون" کې شايع کيده هم د دغه مجلې په ذريعه ليوني فلسفي نه صرف په خپل ماحول کې بلکې ترلرې لرې مشهور شو." (٢)

په دوی پسې استاد بېنوا د اوسني ليکوال په دريم ټوک کې د غني خان د معرفي په لړکې ده ته ليوني فلسفي او د فلسفي شاعر القاب کارولي دي، استاد بېنوا د ده فلسفي توب او ليونتوب ته داسې اشاره کړې ده: "..... د ده دا لومړنی شعر ليکل ګواکې د پښتو په ادبي دنيا کې د يونوي مبتکر او فلسفي شاعر لومړی ګام اېښودل و.....

(١) د پلوشې، د مقدمې (ب مخ)
(٢) پښتانه ليکوال ، (ص ١٧)

دښاغلي غني په افکارو کی تربند وروسته څه ناڅه تحول پیدا شو تر بند پخوا که يوازې شاعر و، اوس فیلسوف هم شو او هغه وخت که یې یوازې د پښتون غم خوړ، اوس د انسانیت غم خوړ هم شو، دده د شاو خوا خلکو ژوند ورته تو کی مسخری ښکاره شوې او د ده دخیالاتو غوږونې دده د شاو خوا محیط په تنګنای کی نه ځاییدل، نو ځکه له خپل محیط او خپلې اجتماع څخه بې پروا شو او د خپل شاوخوا په تصنعي او ساختګي ژوند پورې یې تو کی او مسخرې شروع کړې او د حقیقي انسانیت په لټون پسې یې هڅه وکړه او دلیوني مین په څیر یې ورګه لټوله، ځکه نو په "لیوني فلسفي" مشهور شو... " (۳)

د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډیمی په میاشتنی خپرونه (پښتو مجله) کی چې د اعتراف نمبر په نامه نومول شوې ده، د غني خان په باب جالبه خپرونه شوې ده. ښاغلي فضل غني د غني خان په باب د " غني خان د پښتو ادب د شلمې صدۍ شخصیت " تر سرلیک لاندې بلکه د نورو لیکوالانو او پوهانو په شان غني خان ته دلیوني فلسفي خطاب کړی دی. ده ویلي دي: "...... د شعر او ادب په آسمان کی اوس هم ډیر داسې روښانه ستوري شته دي چې خپله بې مثلې ده او دبل یې هډو او ربدلې نه ده، او په دغو ستورو کی چې کوم ستوری د تولونه زیاته رڼا کوي نو هغه زموږه لیوني فلسفي دی او هم دغه سبب دی چې لیوني فلسفي ته زه د خپل دور د ادب دګرد ې نرې عموماً او د پښتو ادب خصوصاً د تولو لوی انسان وایم، خو دغه لیوني فلسفي هم چا معاف کړی نه دی...." (۴).

دغه راز د همدې مقالې په یوه بله برخه کی داسې لولو: "غني خان یو عظیم فلسفي دی

(۳) او سني لیکوال، دریم توک، ص ۹۷۷

(۴) پښتو مجله، اعتراف نمبر، ۱۹۷۸ع کال، ص، ص ۴۹-۵۰-۶۲-۷۴

خو دا فلسفي لکه د نورو په شان په کنډو کپرو سره شوی نه دی .....

په همدې مجله کې صادق الله نومې لیکوال هم د غني خان په باب همدغې ورته نظریات لري دي وايي : « غني خان ځان ته لیوني وايي » او همدا رنگه د غني خان په باب د غسې نور جملات لکه : « ...... او (غني) زمونږ د دوران متفکر او فلسفي دی ...... » (۵)

په خپله غني خان هم د خپلو اشعارو په ډیرو برخو کې ، خصوصاً د خپلو اشعارو په مقطع کې د خپل تخلص او یا نوم پر ځای د ځان له پاره د لیوني کلمه کارو ي ښايي په همدې وجه او یا هم د ده د فلسفي افکارو ، بغاوت ، سرکشۍ او عصیان په خاطر نورو شاعرانو او لیکوالانو ده ته د فلسفي شاعر او لیوني فلسفي خطاب کړی وي . دا څو بیتونه د نمونې په ډول وگورئ :

یا زه جوړیم دا کل خلک لیوني دي   یا دوی جوړ دي ، بس یوزه یم لیونی

(پلوشې ، ص ۲۴)

زه هسې ښېمه او ایمان په تپیر نه خرڅوم   ځکه لیونی یم خلکه ځکه لیونی یم

(پلوشې ، ص ۴۸)

مست رنگین شیرین جهان د لیوني دی   ورته خاندي زړک د میني لیوني

(پلوشې ، ص ۲۵)

دا دعا د لیوني د پاک رب که قبلوله   کړه ښکلې په واړو ماشو تیز سره دهسیلې

(پلوشې ، ص ۱۷۳)

(۵) کابل مجله ، (خیام په پنځمه پیړۍ کې او غني خان له مونږ سره) ۱۳۶۴ ش کال ، ۶ گڼه ، ۵۵ مخ .

که د لویدیځ او ختیځ د فلسفي نظریاتو او افکارو له مخې د غني خان د فلسفي افکارو څېړنه وشي، نو دده د اشعارو په استناد و بلای شم چې دده په اشعارو کې د دېرو شرقي او غربي فلسفو څرک لګیږي.

ستر فرانسوي فیلسوف اوګوست کونت وایي چې بشري تاریخ له دریو فلسفي مرحلو نه تېر شوی دی، په بل عبارت انسان د خپل تکامل له نقطې نظره څخه له دریو اساسي مرحلو نه تېر شوی دی، هغه مرحلې دا دي:

۱- ربّاني یا دیني مرحله: د خدای او نورو ماورای طبیعي قواوو په باب یکې تفکر موجود دی، چې انسان هیڅ ډول شک او تردید نه پکې لري.

۲- فلسفي یا میتافزیکي مرحله: په دې مرحله کې له انسان سره د بېلابېلو شیانو په باره کې شک او تردید پیدا کیږي او په دې ډول د هر څه په باب سوال کول پیل کیږي.

۳- پوزیتیولیزم یا تحقیقي او تجربي مرحله: هغه مرحله ده چې په هغې کې یوازې هغه شیان واقعي او حقیقي دي چې انسان کولای شي د تجربې له لارې په هغو باندې قاطع یقین ته ورسیږي. دې مرحلې ته د تجربه ګرایي مرحله هم ویل کیږي. (۶)

که د غني خان اشعار له سره تر پایه په څېر سره وکتل شي نو لیدل کیږي چې له دغو دریو ګونو مرحلو نه د هرې مرحلې افکار پکې لیدل کیږي. د ساري په توګه

(۶) تاریخ فلسفه، ویل دورانت، ۳۲۹

دلومړنۍ مرحلې مثال : په دغه نمونه کی لیدل کیږی چې غني خان دخدای په باب هیڅ ډول تردید نه لري، بلکې تائید وی پي، وګوړئ :

چانه غږ کړې اودي چانه پوله کړې غږ　　هر ړنه تانه معلوم هر رازتانه ظاهر
دکافر ته آقا، دمومن ته مولا　　نه جیزس برهما، نه یزدان نه الله
لاړې ستا دمحل، څوک اوږدې دڅوک وړې　　مسافر ستا دوړ، هر امت هر سړی
هر یو وایي لاړ زما نیغه ، ستاده خطا　　څوک دې لږ څوک دې پیر خو همه دې ښتیا

که انسان دی پیدا، بیا باد شاه ددنیا

مرحبا مرحبا ، مرحبا مرحبا　　(پلوشې، ص ۵)

زما په نظر دغني خان د داسې فلسفي افکارو (رباني یا دیني افکار) درامنځ ته کېدو لوی دلیل دا دی چې له یوې خوا دی په یوه معجون مرکبه طبقاتي ټولنه کی زیږ ید لی اولوی شوی دی، اوله بلې خوادی په یوه مذهبي مسلمانه کورنۍ کی سترګې پرانستې دي چې مذهب یا مذهبي طرز تفکر لېدلی و او له پېړ یو راپه دې خوا په کی پاتې دی. داډول مثالونه دغني خان په اشعارو او افکارو کی په ندرت میندل کیږی .

داګوست کونت ددرې ګونو فلسفي مرحلو دطرحې له مخې که دغني خان اشعار او فلسفي افکار و څېړل شي، لیدل کیږي چې ددویمې مرحلې یعنی دفلسفي یا میتا فیزیکي مرحلې مثالونه زښت ډیر تر ستر ګو کیږي . په دغې مرحله کی چې له انسان سره د طبیعت دبېلا بېلو پدیدو په باب پوښتنه پیدا کیږي او هر شي ته دشک او تردید په نظر ګوري، غني خان هم له ټولو پدیدو سره انتقادی

برخورد کوي او ډېرې پوښتنې طرح کوي، د امثال وګورئ :

خدایه ولې ؟

خدایه! عقل چې و زړه دې ولې راکړ ؟ — په یو ملک کې دوه خودسره بادشاهان
بادشاهي او فقیري دې ولې یو کړه! — د ژوندون په هره ساکې مرګ پنهان
ولې غم لکه آسمان په جهان خور دی! — خدایه ولې خوشحالي دې کړه نایابه؟!
ولې جوړ دې کړه ننګې د ګل د پانو ؟ — خدایه ولې نشه بیایي له شرابه ؟
ولې ښېیست او رنګ دې دواړه خوار او وړور کړه — ولې ولې دې جهان کړ ډک په رنګ !؟
ولې کوڼ دې زه پیدا په جهان نه کړم — خدایه! ولې دې آواز پوست لکه چنګ ؟!
ولې ماته دې عطا کړ فکر و خیال؟ — ولې ولې په رڼا ورځې خوبونه ؟
خدایه! ولې دې ځواني هر چاله ورکړه؟ — خدایه! ولې دې پیدا کړل امیدونه؟!
ولې جوړ دې د یار سترګو کې جنت کړ؟ — ولې تریخ دې کړ بېلتون او خوږ وصال ؟
خدایه ولې دې سیوزمې له رڼا ورکړه!؟ — چې رنګې مې د مستۍ په مهین تال ؟
ولې جوړ دې کړ ازغی د ګل په خوا کې؟ — ولې زړه مې پاک خو جسم مې ناولی ؟

ولې ماله دې د ولې طاقت راکړ؟

خدایه ولې ، خدایه ولې ، خدایه ولې!؟ (پلوشې، ص ۱۲)

دلته لیدل کیږي چې غني خان د مرګ، ژوند، خندا، ژړا، د ځان په باب د طبیعت او نورو پدیدو او شیانو په باب پوښتنې طرح کوي چې په نېغه توګه د کونت د طرحې له مخې په دویمه یعنې فلسفي یا میتافیزیکي مرحلې کې راځي .

دي ته ورته نور فلسفي نظريات دغني خان په اشعارو کی زښت ډير دي، په لاندې شعر کی ليدل کيږي چي غني خان داسي پوښتني رامنځ ته کوي ! ژوند او مرګ څه دی؟ پيدا ايښت يعني څه؟ سترم او ننګ ولې رامنځ ته کيږي؟ دمرګ او ددی په باب چی ولې انسان تش لاس راځي او تش لاس بيرته ځي؛ ولې خان ته دين او ايمان جوړوي ؟ ولې خان ته ډار پيدا کوي؛ ګور څه وي؟ عزت، دولت او سنه بد څه ته وايي؟ او په پای کی وايي چي په يوه واره سړی ولې دومره کيسي او فکرونه پيدا کيږي . وګورئ :

څه پاره

چا ځانه جوړ جهان کړ دعالمو — ډک دلوړو د ژورو ورانو سمو
زرغون شوی په اميد ژوندی په طمعو — شو پيدا له کومې موره له کوم پلاره

څه د پاره ،څه د پاره ،څه د پاره

موږ بربنډ له کومې راشو په تش لاس؛ — ولې واغوندو د ننګ شرم لباس؛
ولې جوړ کړو دين ايمان ويره وسواس؛ — په تش لاس کوم خوا ځو چې تر ژوندون نشي خلاص

په کوم ملک په کوم وطن به کوم لاره

داويرونه داغوغا دا شور څه دی؟ — دا چې زه ورته ويم کور دا کور د څه دی؟
اوه، دا سوځي چې عالم دا اور څه دی؟ — ژوندګي څه دی مرګ څه دی ګور څه دی

چا پسې څه پسې ځله بيقرار؟

عزت څه دی، طاقت څومره، دولت څه وی؟ — ولې ما ته چې وي سبه بل ته سبه نه وي؟
څه وي څوک چې جهان نه وي عالم نه وي؟ — کوم خوا تښتي مړه رڼا ګلونه سوي؟

یو وړو کی ساو داقصې بې شماره

خه د پاره، خه د پاره ، خه د پاره (پلوشې، ص ۱۳)

د دغه فلسفي طرز تفکر مثالونه د غني خان په اشعارو کی زښت ډیر دي. دغه راز د کوټ د ویش د دریمې مرحلې مثالونه هم د غني خان په اشعارو کی لیدل کیږي خو مثالونه یې کم دي.

د غني خان د فلسفې افکارو په لړ کی بل فلسفي ګرایش چې زما تر سترګو شو هغه ایراسیونالیزم (ضد عقل) غیر عقلیت دی یعنی داسې طرز تفکر چې عقل نه مني په دغه فلسفي طرز تفکر (ایراسیونالیزم) کی ویل کیږي چې عقل هغې ډیوې ته ورته دي چې په یوه لویه دښته کی ایښې وي او رڼایې تولې دښتې ته نه رسیږي او ډیره په دښته کی بې ګټې سوځي. په دغه فلسفي طرز تفکر یا فلسفي مکتب کی ویل کیږي په تولنه کی چې هر څوموره د تولنې یو غړی پوه وي، هغوموره په عذاب وي مولانا هم همدا فلسفه داسې بیان کړې ده :

هر که او بیدارتر پر دردتر هر که او آگاه تر رخ زردتر (۷)

او غني خان هم د همدې فلسفې پر بنا له خپلې پوهې نه شکایت کوي او په دې ډول د ایراسیونالیستي افکارو په رڼا کی وایي چې انسان د خپلو علمي خبرو او پوهې په سبب بربادیږي. د ده د ایراسیونالیستي افکارو ښه نمونه د ده په دې شعر کی لیدلای شو:

---

(۷) مثنوی معنوی، چاپ نیکلسن، ص ۳۱، بیت ۶۲۹

قسمت

گوره طاؤس مړ کړ ښایسته وزرو   ابلیس برباد کړ علمي خبرو
سپي ویده وه د سینه په تل کي   زړګي یې چاودسو ملغلرو
ګلاب خپل رنګ او خپل بوی تالا کړ   منصور په دار شوچي باخبرو
پتنګ خپل نرم زړګی ستي کړ   میږی برباد کړ خپلو وزرو

غني پوهیږي، ځکه ژړیږي
څه ښه به ژوند وو که ژوند د خرو   (پلوشې، ص ۴۳)

د غني خان د ایډیالیستی افکارو تر ټولو غوره نمونه د ده په پلوشې کې د بس دی افلاطونه" تر سرلیک لاندې راغلې ده، چې یو څو بیتونه یې دا دي:

بس دی افلاطونه، فلسفه دې سنبال کیږده
غونډه دې کړه دا مونږ خپل او ته دې جال کیږده

عقل عقل عقل څه دی کفر کفر دی
عقل چې یې ګیر کړی دی غلام غلام زما
زه یې چې راونیسم نو وړوکی دی زمانه
لاندې کړم له پښو ځنګه د سر مقام زما

بس دی افلاطونه! خپله دوړ د بلې پوره کړه
دا مله حسن دی ته مخ د عقل کوږ نه کړه

ته نیولی نه شې لیونتوب ته جلال پریږده   کینه افلاطونه! فلسفه دې سنبال کیږده

اې دریا څو به دلته لږې او څوبونه دي

ستا تله قطرې تلې او دلته دریابونه دي !

سل کاله منطق کې یو ساعت د وصال کېږده

ځوی شه د منصور په تور دیران کې هلاله کېږده (پلوشې ص ۲۰۷ - ۲۰۸)

دلته لیدل کېږي چې دا ير اسيوناليستي فلسفي افکارو پر بنا د عقل او منطق تولي خبرې د احساس او مینې تابع دي یعنې تر عقل، احساس او مینه ښه کمل شوي دي.

کله کله د غني په فلسفي افکارو کې دیالکتیکي تمایلات هم لیدل کېږي د ساري په توګه په دې لاندې شعر کې ګورو چې ژوند او مرګ، خوشحالي او غم او داسې نور شیان یو له بل سره تړلي بولي او وايي چې که یو نه وي بل به یې هېڅ ډول مفهوم هم و نه لري.

فلسفه

واوره فلسفه د لیونتوب د لیونې نه
دا آیت خو نه دی خو قرآن کې ما ویلي دي

مرګ او زندګي یوه د غم او یو خوشحالي یوده
ژوند چې چرته نه وي مرګي چا هلته لیدلي دي

زړه لکه د چا دی خوشحالي غم یې شراب دي
تږی به رخصت شي یا خو غم ته نسکور کړی دی

خوند که یې جدا وي د نشه یوه د دواړو
د واړو کې خمار لږ د ساقي د سترګو تلي دی

مرګ کې پټ دی راز د مرګ ژوندي پرې نه پوهیږي

دا آیت خو نه دی، خو قرآن کې ما ویلي دي (پلوشې ص ۶۸)

د غني خان په فلسفي افکارو کې کله کله اته ایستي فلسفي افکار هم لیدل کېږي(۱). د دغه ډول فلسفي افکار د داستایوفسکي له اته ایستي افکارو سره ښه اړخ لګوي.

(۱) غني اته ایست نه دی.

داستایوفسکي دخپلو اته ایستي افکارو په لړکي له هغې دنیا، دوزخ، جنت او نورو ماوراطبیعي قواوو څخه سرکشي، بغاوت او حتی انکار کوي. دغه تول خبري داستایوفسکي د مشهور اثر "دکارامازوف ورونه" دقهرمانانوله خولې اوریدل کیږي. (۸)

غني خان سره له دې چې په یوه مذهبي تولنه او کورنۍ کې زیږیدلی، لوی شوی او زده کړه یې کړې ده، نو بیا هم کله کله اته ایستي فلسفي افکار دده په شعر کې لیدل کیږي. دده په پانوس نومي شعري مجموعه کې د" وایي ملاجان، ترسر لیک لاندې یو شعر دی چې دده داته ایستي فلسفي افکارو غوره نمونه بلل کیږي. (۹) دغني خان په اشعارو کې دغه فلسفي افکار لږ څه ضعیف دي او مثالونه یې ډیر لږ تر سترګو کیږي.

دغني خان د فلسفي افکارو ډیره برخه نیهیلستي فلسفي افکار جوړوي.

په بله وینا دغني خان په فلسفي افکارو کې نیهیلستي ګرایش قوي دي، د غه نهیلیزم انقلابي نهیلیزم دی، چې دا رتجاعي نظام پر ضد یې موخه ګیري کړې ده، دلته به دغني په باغي توب، سرکشي، خودي، نه تسلیم او عصیان باندې لنډې خبرې وکړم.

له عیني دلایلو او شواهدو داسې ښکاري چې غني خان له ابتدا نه ډیر آزاد طبیعت او ازاد فکر خاوند و چې په لومړي ګام کې یې دغه بغاوت، سرکشي او عصیان نه خپل کهول یعنې خپل پلار او ورونو پیل کړی دی. که څه هم کله کله دده پلار له ده نه راضي دی. مثلاً دخان عبد الغفار خان دقید په وخت کې د پلار له سیاسي کړنلارې سره خپلې فعالیتونه باندې لاس پورې کوي. خو سره له دې هم ډیر ځله دده له

(۸) برادران کارامازوف، ص،ص ۲۹ - ۲۱۱
(۹) دزیات معلومات له پاره وګورئ پانوس ص ۹

نه منلو او سرکشي نه سرټکوي. د غني خان د آزاد طبیعت، باغي توب او نه منلو به باب دده پلار داسې ویلي دي: "..... زما اراده خو تا ته د خط لیکلو وه، دا نه چې ګڼې زما تا سره محبت نشته دی، بلکې د دې له پاره چې ته دیو عجیبه خیال او عجیبه اصولو سړی یې همیشه هغه کوې چې څه ستا زړه یې غواړي، خواه که په هغه ستا نقصان هم وي. د هیچا د مشورې پابند او محتاج نه یې په دې وجه تاته لیکل نه لیکل برابر دي ..... ". ستا یو خط ما ته په احمد آباد جیلخانه کې رسیدلی و. د هغه په لوستو مې زړه ډیر خوشحاله شوی و. لیکن وروستو زه ډیر خفه شوم چې څه وخت ما ته معلومه شوه چې ته لیکې یو څه او کوې بل څه ..... "

خوږه غني جانه! چې یو سړی یو طرف ته خو غلطي کوي او بل طرف ته هغه غلطي ته غلطي نه وایي نو د هغه اصلاح مشکله ده.

د ولي متعلق چې ستا کوم خیال دی دا بالکل غلط دی. د ولي به شان نه ورور به د کمو خلقو وي. د هغه چې ستا سره کومه مینه او محبت دی هغه ما ته معلوم دی تا هم یو کال د مال انتظام کړی وا و هغه هم یو کال وکړو چې څه آمد و شو تا په کومه طریقه خرڅ کړه او هغه په کومه طریقه؟

حقیقت دا دی چې هغه ستا په شان آزاد نه دی....

خوږه غني جانه! زه حیران یم چې تا ته زما فیصله ولې داسې بده ښکاره شوه ..... زه همیشه ستا په معامله کې د صبر نه کار اخلم، او اکثر په صبر ما ستا محبت مجبوره کوي. ما هیچرې تا سره د یو پښتون پلار په شان سلوک کړی نه دی.

بلکې د دوستانو په شان سلوک مې درسره کړی دی. لیکن تا زما دې سلوک ته همیشه ناجایزه (گټه) اغستې ده او بالکل خودسره شوې، که چېرې زه دپلار نظرته پېژنم نو دا نور خلق ولې ستا نه شکایت کوي؟» (۱۰)

دغني خان د پلار له دغو شکایت آمیزه خبرونه ښکاره ده چې غني خان له وړوکوالي نه همداسې آزاد طبیعته، نه منونکی او باغي و او وړو وړو داعنصر دده په وجود کې دوخت په تیریدو سره قوي شوی تر څو چې دده په اشعارو او آثارو کې دیوه فلسفي جریان یا فلسفي طرز تفکر په ډول را منځ ته شو چې همدا بغاوت او سرکشي یې اوس اوس دفلسفي افکارو زیاته برخه جوړوي چې د نیهیلیزم په بڼه پکې څرگند شوی دي، اولکه د بېنوا صاحب خبره «په همداسې تولنه او همداسې شرایطو کې همداسې بغاوت «مقدس بغاوت» ته ضرورت دی څو چې لومړی هغه مغروره، غضبناکه او پرخان مین «ایگو خان» او یا «ایگو خان» د وله کسان پرخپل ځای کېنوي، سړي وکوټي او د «یوازې زه» لعنتي فکر یې له مغزو څخه وباسي او بیا هغه پر سجده ورته پروت پر یو ني او واهمې اخیستی دا رن مړیې د حقیقي انسانیت لوري ته رهنمايي کړي (۱۱) او دغني خان دبغاوت مقصد هم همداسې دی چې دارن مړيي او مړيي د وله خلک له خوبه پاڅوي او د حقیقي انسانیت لوري ته یې رهنمايي کړي.

احسان طبري دخیام دهمدې سرکشۍ او پرخاش په باب ویلي دي:

(۱۰) د باچاخان لیکونه، ص،ص، ۷۸-۷۹، ۹۲، ۹۴

(۱۱) ځانځاني ښامار، د بېنوا صاحب دمقدمې دویم، دریم مخونه.

« دخیام په فلسفه کې باید دوه دوله پرخاش سره بېل کړو ، د موجوده تولنیز نظام او خرافي معتقداتو پرضد پرخاش او د انسان د طبیعي سرنوشت او د طبیعت پرضد پرخاش ......» (۱۲) ، د طبري هم دا خبري د غني خان په باب هم ډېرې په ځای دی ځکه چي د غني خان عصیان ، سرکشي او پرخاش هم د انساني ژوند د جوړېدو په لاره کي د موجوده تولنیز نظام ، خرافي معتقداتو او د طبیعي سرنوشت او د طبیعت پرضد پرخاش او عصیان دی .

د غني خان د یاغي توب او سنت شکنۍ په باب سنا علي فضل غني داسي لیکلي دي : « هسې هم شلمه صدی ، د بغاوت صدی ده ، ولې د شعر او ادب په میدان کې په دې تر او سه پورې لا د تقلید راج دی . او س هم لا په زړو لارو کودرو تلل سنه کاره ګڼلی شي ، او که چیرته څوک صابر غریب د آزاد نظم نوي تجربه کول وغواړي نو بعضی کسانو په تندو دولس بجاوشي ، او د ادب د قطار نه یي د ویستلو کوښښونه کیږي . د زړو لارو نه بغاوت او س هم بد ګڼلی شي او دا جرأت کول هم ډېر ګران کار دی قدامت پسند به د ترقي پسندۍ پیغور ورکوي او ترقي پسند ورته څانګه خه وایي .

خو بیا دا ځنګل د زمرو نه خالي نه دی او س هم په دې ځنګل کې داسي زمري شته دی چي زړو لارو نه د تللو نه یي نه یوازې دا چي په خپله بغاوت کړیدی . بلکي نورو خلکو ته یي هم د تاکید کړی دی چي ا ځ په ماپسي شئ ، زه د نوي منزل

(۱۲) برخي بررسیها در باره جهان بینیها و جنبشهای اجتماعی در ایران . ص ۲۱۷

دکاروان میریم . دشعر وادب په آسمان کی اوس هم ډیر داسې روښانه ستوري شته دي چې خپله يې منلې ده او دبل يې هله واوریدلې نه ده او دغو ستورو کی چې کوم ستوری دټولو نه زياته رڼاکوي نو هغه زموږ لیونی فلسفي (غني خان) دی ....." (۱۳)

له دې نظریاتو چې راتیرشو دده په خپلو شعري مجموعو د پلوشې دپنجري چغار، پانوس، کی دده دسرکشی او یاغي توب زښته ډيرې نمونې لیدلای شو چې ده له خپلې کورنۍ نه تولنې خلکو طبعي او وضعي قوانینو بزرگانو، سیاسي رهبرانو، ملکانو، ملایانو، حاکمانو او هر څه هر څه باندی انتقاد کړی دی اونه یې دي منلي چې ښه مثالونه يې دپلوشې په دولسم او دیارلسم مخونو کی " خدایه ولې" او " څه دپاره " ترسرلیکونو لاندې راغلي دي چې مخکی یې مثالونه راوړل شول .

په پای کی بايد وویل شي چې په یوه خاص فلسفي طرز دید پورې دغني خان تړل، لږ څه گران کار دی، په ده کی بیلا بیل فلسفي افکار څرگند شوي دي چې په خاص .... اني وختونو یې دخاصو رواني حالاتو تر تاثیر لاندې لیکلي دي چې دلته دڅو برجسته فلسفي تمایلاتو یادونه وشوه .

---

(۱۳) پښتو مجله، اعتراف نمبر، ص،ص، ۴۹-۵۰

اجمل خټک او غزل

***

چې یو ځای حُسن، نغمه، نور او نشه شي
ترې نه جوړه زمونږ ښکلې پلوشه شي

شنه وابنه روان لښتي دګلو سیوري
د بنګړو په شرنګ به کله راښکاره شي.

ستا جنت خیرات کې واخله ملائکه!
خو یو پرک دې زما سترګو ته هغه شي

دلیمو په هر مې خوله تنګه سیپۍ کړه
څه اوښکه به نادره دردانه شي

لیونو سره به مه ماتوی راشئ
تریخ ژوندون ښایسته په مستۍ یارانه شي

دزاره خټک د مینې خوند به واخلي
چې غمو زلمي په نوی زمانه شي

داو د خټک صاحب د پراخې شاعرۍ یو رنګین اړخ چې ستاسو په هانو

او دانشمند انو د ذهن توجه ورته را اوګرځوله شوه . او اوس راځم دغی دی ني غونډی او دغه ستر تقریب ته . د ډیری خوښۍ ځای دی چې دغه ادبي محفل زمونږ د عصر د دوه نومیالیو او تلو شاعرانو د ژوند د تا کلو کلونو نمانځنه کوي . د هغوی په په ژوند او د هغوی په فن رڼا اچوي او د هغوی ادبي کارنامو ته د قدر په سترګه ګوري او بیا هم ځومره د مزی او په زړه پوري خبره ده چې له دغو منلو شوو ملي او انقلابي شاعرانو څخه یو د روند شخصیت زمونږ او ستاسو په ډله کې ناست دی او دغې غونډی ته یې لا ستاتوب ورپه برخه کړی دی .

ختک صاحب یا دوم دغه لوی انقلابي شاعر چې خپله ټوله معنوي او مادي شته مني یې د خپل اولس ، خپلو خلکو او خپل وطن د ښادۍ او آزادۍ له سره لوګی کړي دي . د جد وجهد په دغه لاره کې چې ختک صاحب کومې کارنامې په اینبی دي . هغه به د راتلونکې نسل د پاره لکه دکاني کرښې داسې وي او د هغو تفصیل ته به د لته ضرورت نه وي .

ځکه له هغې چې زه د محترم ختک صاحب د شاعرۍ په یو خاص صنف غزل څه وو ایم په خپل وار له هغه چا نه منه کوم چې د دغه محفل د جوړیدو مفکوره یې راپید اکړې ده او بیا یې عملي هم کړه .

د ختک صاحب د شعر او شاعرۍ د ژور سمندر تل ته ورکوزیدل او بیا ورنه د ځونا درو د رد انو را ایستل د هر غواص او غوته وهونکی کار نه دی ځکه چې په ظاهره د دغه ارام سمندر په ژورو کی توفانونه هم شته ، موجونه هم شته

او غور زنګونه هم. نوما غوندې یو بې لاس او پښو به چې هسې د سمندر له څنډې هم ویرېږي. ځکه به د دغه دریاب څپو ته ځان حواله کړي او بیا به څه ورته په لاس ورشي، خو دلته بیا هم هغه د شاعر خبره را یاده شي چې ویلي یې دي:

که غوټې پسې وهې په لاس به درشي چاویل چې په دریاب کې ګوهر نشته

نوره هم له خپل دغه یوزره سل زړونو جوړوم او دغه لوی کار ته ملا تړم خو دومره دا ده یم چې د فیض له دغه سمندره ته نشي منګولې نه راځم او یو څه به ارو مرو ستاسو دوستانو او د ختک صاحب د غزل د مینانو د ذوق په ځکلې بردم.

زه د ختک صاحب د انقلابي ژوند، د هغه د لوړ ادبي شخصیت او د هغه د ځکلېنې شاعرۍ سره له پخوانه آشنا یم. آشنا خو چې تر دېره ځایه زما شاعري په ځینو برخو کې د ختک صاحب د اشعارو نه رنګ اخستې دی چې د دې غنه وجه به داوي چې زه د ختک صاحب او د هغه د شعر سره د زړه له تله مینه لرم. یوازې دا نه چې زه ګنې په شعر کې د دغه ستر شاعر له اشعارو نه متاثره شوی یم. بلکې دا زما خوشبختي ده چې د یر ځله مخامخ ما د دغه عالي مقامه شاعر د لارښونو نه هم ګټه اخستې ده د استاد ختک سره زما ادبي پېژند ګلوي د هغو رسالو په وسیله شوي ده چې پخوا به یې پېښور کې په پښتو ژبه چاپیدلې او په بېلا بېلو وسیلو به مونږ ته را رسیدلې. په دغو رسالو کې به اکثره د ختک صاحب انقلابي نظمونه خپرېدل او دلته به په ډېره مینه لوستل کېدل زمونږ سره له بل هر شي نه زیاته دا تلوسه وه چې کاشکې د ختک صاحب د غو نظمونو مجموعه چاپ شي او بیا مونږ ته را ورسیږي... چې مونږ

دغه دارمان ګل وغوړېدل او دغيرت چغه . هو ! هغه دغيرت چغه چي د شاعر دبېدارو وينو او پښتون ضمير آوازدی مونږ ته راورسېدله .

دغيرت چغه زمونږ دپاره ديوې مثاله سوغات حيثيت درلود او دملګرو شاعرانو په منځ کی به لاس په لاس ګرځېدله . دغيرت چغې دخپل ځان سره دخيبر نه دی پلو ادبي سيمې ته په زړه پورې پيغام راوړاو زمونږ په شاعري کی چي پو نوی باب پرانيست . هسي خو دختک صاحب دشعر هره برخه ځانله ځانله ارزښت او ښکلا لري ، خو زما په برخه دهغه په غزل خبري کول رسېدلي دی ، چي دادی دشاعر دژوبل احساس يو ځوځړيکې دغزل په جامه کی وراندی کوم ، او دشعر ديو ډير په زړه پورې صنف دباغ او بڼ ورپر انسيزم او په کی ګلونه او تکلونه وينم دهغو په ننداره دخپلو سترګو رناز ياتوم . ګلونه تکلونه او يا په بله ژبه دشاعر دزړه ناسور زخمونه ستاسو په مخکی غواړم .

مونږ په دغه غزليزه مجموعه کی خپل شاعر ويني چي دتوري ، شل او غشي په ځای يې دګلونو دغونچو ، دبلبلو دنغمو ، دزلفو دشپو ، دخنو دبا ګوڅو دسترګو دکاسو ، دپايز يبوله شرنګ ، درباب له ترنګ ، دشونډو له رنګ دګودره له لاري دزړه له ډيوی ، له ځګرسوي پتنګ . دآدم درباب له تهنګ د دروخود پاولوله شرنګ ، دبهارونو له قافلو ، دغاړوله اميلونو نه دغزل بزم جوړکړی دی ، خود غزل درنګيني مانۍ ختښتي او ګټي يې يوه دبلی سره دهنراو فن په مساله داسی لګولی دي چي دسړي سترګي يې په ليدلو او غوږونه يې په اورېدلو نه مړيږي

چې زه په خپل نظر دا کار یوازې د خټک صاحب د فن معجزه بولم او بس.
او دې سره جوخت د خټک صاحب دیوی سبکي غزلي دا بیتونه راته په زړه
وګرځي چې وایي :

ګلو یې رنګ واخستو د شونډو له غوټئ نه ... هلته چې له با مه په موسکا شو له ګلرنګه
لاړه د ګودر خوموږ په سرو وینو نغلی ده ... کله به هم زلو سره راشي رنګه بنګه
دلته به باګرام کې د ساقي دو هره د ګړه شوه ... چرته یې را زغلې د چکول خوا ته ملنګه

که له یوې خوا د خټک صاحب په غزل کې پښتني رنګ او ورسره جذب
سبکلا او ر اکسیون شته دی نو له بلې خوا یې د شاعر تول هغه ارمانونه زړې
او نوې هیلې مخ را څرګند وي .

کوم بې مثاله زور قوت او جدّت چې د خټک صاحب د غیرت د چغې
د وخت د چغې په نظمونو کې پروت وي . نو هم هغه زور او قوت یې د غزل په
سمندر کې هم موجونه وهي او غورزنګونه وهي . خود ومره ده چې د نظم ژبه بیله
او د غزل ژبه ځانته ده . که دوی نه را تیر شو نو ګلونه او تکلونه هم یوه د غیرت
که یکه ده او د غیرت کوکه ، د دې لپاره چې د دغې درنې غونډې اصول هم په
نظر کې نیول شوي دي . او له مطلبه دیر نه یو لرې شوي دیو شپې د یاره ګلونه
تکلونه د دغو رنګینو پښتو غزلو مجموعه هیر نه کوم د هغې ګلپاڼې یوه په بلې پسې
را اړوم . ګلونه یکې ګورم او تکلونه یکې سهي کوم . هیله ده چې د ګلونو په ننداره
به موسترګې خوږې شي او د ذوق د بلبل خوا به مو پرې سره شي ، او په تکلونو به یې

په زړونو کې د معنوي قوت احساس راپیدا شي .

خټک صاحب خپل ګلونه او تکلونه د پردیسۍ په حال کې بشپړ کړي دي او دهغه غزل لاندې یې دهغه ځای نوم او نیټه ثبت کړې ده چې ده یې غزل لیکلی دی . څوکه په هر ځای کې یې د هغه احساس او جذبې لاندې د غزل دناوې ښې ورډېل ور جوړ کړې دي . بیا یې هم دخپل وطن مجنون او لیلا نه ده هېره کړې او نه خوږ ، خپل آدم خان او درخانۍ هېرشوي دي ، دغزل دابیت واورئ چې وايي :

ای مجنونه ! خاورې مښه دستا دلیونتوب ښنه   دا صحرا په دې لاره کې ښکلې لیلا هم غواړي

هسې خو د خټک صاحب غزل زما له نظره له یوې مخې انتخاب دی او هغه د رحمن بابا خبره چې وايي :

په غزل کې خو ده بیته انتخاب وي   د رحمن تمام غزل دي انتخاب

نوله دې کبله څوک دا نشي کولای چې دخټک صاحب دغزل په باغ او بڼ کې دې ګلچیني وکړي . دا ټول ګلونه ښکلي دي . دا ټول ګلونه په زړه پورې دي او په دغو ټولو ګلونو کې د رنګ سره خوند پروت او ورسره زړه وړونکې خوشبويي په بله ګډه کې روانه ده . زه زړور توب کوم چې سره له دغو ټولو خوشبو بیا هم یو یو ګل ته لاس وروړم هغه له خپل غندل نه راپري کوم او بیا ورته دچاد خوښې ګل غوټۍ جوړوم ، او بیا دغه ګل ګیډۍ د چا د څښود ښکلا وو غاړوا میلونو او د زلمیو د پګړیو ولونوته دیوې بې مثاله ډالۍ په توګه وړاندې کوم . زه په غزل خبرې کوم او بیا هم دخټک صاحب په غزل او دهغه دغزل دګلونو په ښکلا غږیږم .

واوری کله چې زمونږ شاعر د خپل وطن نه په زړه کوږه میله لري د پراګ په یو کلنیک ناست دی او د خپل زړه درنځ د ده ته سترګی په لاره ، په دی کی څه ګوري؟ حُسن ګوري، ښایست ګوري او بیا په دغه ښایست غزل لیکی . او ورو ستی شعر یی داسی ورلوړه کوي :

دستا د ښو په ګلاب کی چی وینه خاندی　　　هغه خنک څړی په هیره یا دوی اوکنه؟

چی مطلع یی داسی ده :

فضا دَمحمن شوه تهراځی اوکنه؟　　　ای ښایست دپسرلی باده څړی یی اوکنه؟

دو ښو ګلونه دا بیخی یو نوی شان جوړ ښت دی چی دلو مړی ځل د پاره د دغه نو میالی شاعر په کلام کی تر سترګو کیږی ، او ښتیا هم چی څومره شاعرانه ښکلا یکی غږونی کوی . واوری د غزل دوستانو او مینه والو :

ګلونه به دوښو غورزوو مخکی به څو　　　په سر به غرکی لاړی جوړوو مخکی به څو

بس تو ره شپه او س نه ده ظلم تو ره ګی دی　　　ډیوی به مو دزړونو بلوو مخکی به څو

کله چی ډیوه بله شی نو بیا به څوک څنګه دهغی رڼا د پتنګ له سترګو نه الوتیا کړی دلته ماته د ښپتو هغه لنډی را په یاد شوه چی وایی :

پتنګه خاوری دی په سر شوی　　　شمعوله جوړ شول په ښیښو کی مکانونه

خو بیا هم پتنګ پتنګ دی او ډیوی مین . که دهغه شمعی د ښیښو په زندان کی هم بندی شوی دی . هغه په رڼا مین دی او د تیلو دښمن هغه به ارو مرو خپل ځان خپلی شمعی ته رارسوی او خپله سینه به داور په شان تودی

ښیینبې ته ورجوخته وی او د خپلې مینې داد به ورکوي . شاعر هم مین دی او
په مینه کې د پتنګ نه کم نه دی . چرته چې د حسن او ښایست ډیوه بله شي
نو بیا د شاعر د خیال نظر هغې خواته وزرې وکړي وروالوزي . د پتنګانو کاڼي
پیل کړي او په ژبه یې د حُسن د څوانۍ تل پاتې کیدونکې ترانه داسې په سر شي :

ای د ګلو څانګې ! ستا ځواني دې تل رنګینه وی
ماغوندې زره ستړي به دې سیوري ته دمې کوی
حسن د هرچا خوښ دی په دې کې استثنا نشته
دامنافقان دي چې په دې کې هم نخرې کوی

او دا هم داوریدلو خوخوند ورکي چې د وطن د د رخو سنکلا
یکې ستاینې مثوې ده :

ناوې د رخو ناسته ده ګودرکې د سینګار سره
ولې خو زلمو د آدم خان خبرې هیرې کړې

ای حسن خیاله ! ته خو راشه او س یوازې یم
خلکو خو د پټ او د ګودران خبرې هیرې کړې
ما خو د بارې د ملنګۍ کچکول تړلی دی
تاکه د دوهې او د رحمن خبرې هیرې کړې

زمونږ د د دیدلی او نخور شاعر زره د وطن او د وطن د زلمو په مینه
مټو پونه وهي او مستې کوي ، ترد دې چې په خپله ختکواله او د ختکو په ښنګره

ویاړی اوچې کله د خپل کړېدلی زړه د رباب په تارونو گوتی کیږدی نو په خوله یی ورسره سم دا غزل جاري کیږي:

روښانه کړه د زړونو مشالونه راشه ته

رامست کړه دغه مړاوي مجلسونه راشه ته

مودی وشوی دی لوږې ته سپرلی نه گوري سم

را وسپړه په هر قدم گلونه راشه ته

خټک به مریض وی خوستا نشه تری تلی نه ده

دخان سره به گډ کړی د ته غږونه راشه ته

پښتونولی شاعران د تل دپاره د رڼا قاصدان او د تیارو دښمنان پاتی شوي دي. داځکه چې شعر د خدایی نور یوه جاودانه پلوشه ده او د زماني حوادث، تیارکونه او توفانونه یې مړشي وژلی نو داوری چې خټک صاحب په خپل یو غزل کی د سپین سحر د سپرلي یاد ته څه وایي:

راځئ او کته ای د سپین سحر د سپرلي باده

چمن اخستی اوردی د لاله سوو لمبو کی

چې مونږ هم د ښایست رڼا کی د کی پیالي واخلو

ښکاره شه ای د ژنکلي مخ سحره تورو شپو کی

ټول عمر دي د ځان وسو د څراغ هسی خټکه!

مولا خودی ورک مکړه د هجران تورو تیارو کی

او دا یې یو بل ښکلی شاعرانه تصویر د غزل په هنداره کې:

چې حُسن شته چمن شته مې ولې نشته سبه یاران شته

ساقي! سپېره تېر چرته يې په داسې ماښامو کې

د وصل جام دې خولې پورې نسکور کړو بد نصیبه

د مینې وخت دې تېر کړو په سرو سرو گیلو کې

خټک هم پن ماښام د میخانې خوله کې لید لو

جامونه به اوس خاندې د وطن لارو کوڅو کې

بنگړي د ښېښتني د دل وسينگار یو اهم جز دی او یو لرغونی پښتو خو کله کله په یاراو کې د بنگړیو د ماتیدلو امکان شته او داسې ډیر شوي دي. شاعر چې د خپلې معاشرې او خپلې ټولنې یو ښېښتيني انځور گر دی په خومره خوږه ژبه د غې خبرې ته په یې مثله شاعرانه پیرایه کې اشاره کوي او وايي:

نن واخله څو جامونه کړ یوان لوند کړه ستر گې سرې کړه

د خپلې لیونۍ مینې نشه دې میلمنه ده

لږ وگوره د ځان سره يې ټوله خونه گل کړه

په دوار و سترگو روندې شې هم هغه ده هم هغه ده

بنگړي به نن ماتيږي او جامونه به کړنگیږي

د حسن په نازونو خونه کې میلمه ده

سپړلی شو که دا ټول ښکلې سیلمي لیونی شو نن راشه د خټک په قبر گوره چې میله ده

شاعر د خپل تاتوبي ښخه هوله هغه ځایه چې ده یکی د لومړي ځل د پاره سترګی غړولی ځاپوره یی یکي کړي دي او هغه پاکی خاوره یی د ساګوا وسو کړه سره یو ځای ښتلی دي، ډیر لړی دی خو بیا هم هغه کوڅی هغه کنډړی او هغه ماحول نه هیروي. زمونږ شاعر او په خپل وطن مین شاعر که په مریانسکی لیږکی ناست دي، او چې څومره یي سترګی ښکاړکوي ګلونه ګوري، شینکی ګوري، ښکلا ګوري او ښایست ګوري. خو بیا هم د خپل هیواد د چشمی یلوڅي په خوب کی وینی او په خنګ کی ورسره د ښکلی کابل، د ښایسته لغمان یاد و نه هم کوي او وایی:

لیونو خلکو! چې مینه د جانان شته | د زړه زخم کی د ګلو څراغان شته
د بلبل مینه تر رنګ محدوده نه ده | د ګل شانه د ښایست پوره جهان شته
چېرته ګوره می د ګلو وخت کی راشه | د زړه زړه کی می یو پټ غونډی ارمان شته
که په خوله څه وایي سترګو موسیږي | دي اداکی دی یو زیري داحسان شته
خټک خوب کی د چشمی پلوڅي وینی | دا مینه چې کابل کی یو لغمان شته

مینه او عشق د شاعر د روح د صفایي او پاکي ډیر ستر عنصر دي او چې هر څومره د شاعر روح پاک وي، صفادي او خلوص ورسره ملګري وي، نو هومره به د شاعر د کلام اثر او اغیزه په زړونو زیاته کیږي. شاعر له مینی او محبت ښخه په یو ډک ماحول کی ناست دي او چې هره لوری ته ګوري مینه ورته تاتا کوي او ګلونه ورته خپل سره ونه را وړاندي کوي، د شاعر د پاره دا یو ډیر غنیمت فرصت دي. همدغه وخت دي چې د روح رباب په ټنګیدو راځي او زړه وړنکي

نغمې ورځخه پورته کیږي:

ما حوله مینی دیکی د جانان خاندي گل موسیږي
د زړه په باغ مې شعر لکه پرخه راوریږي

په دی ښکلي فضا کې چې هم حسن شته هم مینه
رباب که دلته کیږدی نو په خپله به ترنګیږي

د گل هسی لا سونه د سپوږمۍ هسی کاسی دي
یو گوټ به موتری ځکلی خولاړه پاتی کیږي

خود شاعر روح او د هغه د شعر پرښته چرته په دغو ښو ښکلو ځگر خون قناعت کوي، روح را پا ریدلی دی، د شعر پرښته یې په سر ولاړه ده، او د ښکلو ښکلو شعرونو د ر دانې ورته لکه د آسمان د ستورو غوندې په سر را وروي. شاعر بیا هم شاعر دی او مشکل پسند شاعر د مینې شاعر او د حُسن شاعر هغه په دغو آسماني ملغلرو کی هم چان کوي، غوره کول کوي، خوښول کوي، او چې کومه یې خوښه شي هغه ته گوتی وروړي را اخلی یې او د خپل شعر په هار کی ورته ځای ورکوي. خود هغه د خیال د محبوبا یاد د غاړې جوگه شي او بیا یو داسی غزل ورته جوړیږي چی دوه بیته یې داسی دي:

خلکه! دې ښایسته ښاپیستو کلو نوسره څه وکړه — وایې چې د خپلو خپلو زړونو سره څه وکړه
حُسن لکه گل د مینې سره پیاله په لاس راغی — مونږ د ناخوالو په هیڅ ونو سره څه وکړه

د پښتون شاعر په نظر هر حُسن هم پښتون دی او هره مینه پښتنه ده هغه

نو لې دنیا په سبکلو کې خپله پښتنه دره خونه هیروي. هغه پښتون دی، په پښتو ژبه شعر وایي نو د هغه شعر هم پښتون دی او د هغه د شعر جذبه پښتنه او احساس یې هم پښتون دی.

وا وري چې په دغه بې مثاله غزل کې د خپلې دغې جذبې اظهار په څه ډول کوي:

ستوري د سحر قصې د نور سپر لو لیکي — خط د لیونو د برخې سم په پلوشو لیکي
ماته د سبا وږمو په غوږ کې داسي ویل — گل نمونږ د وینو تذکره په موسیدو لیکي

مات شه د باگرام د بهرامانو او رنگې قلم
کوم چې په پښتو ژبه خبرې د پردو لیکي

او بیا د همدغې غزلې په مقطع کې د نمر د شاهزادگیو شاعر. هو هغه ستر شاعر چې دغه لوبه او درنه غونډي یې په یادو باندې ویاړي غني خان یادوم د خپل خان سره داسي یادوي:

ښه خو غني خان دې چې خم تش کړي نظم و لیکي
خوار ختک ته گوره چې شعرونه په اوبو لیکي

غني خان وایي:

چې تا وړ او رنه وي زرگري گرانه ده
په تشو اوبو شاعري گرانه ده

«پای»

سرمحقق دکتور د، م، لودین

اجمل خټک د پرګنو د لار ښود شخصیت په حیث

اجمل خټک د پرګنو یو نامتو لار ښود شخصیت دی، همدا سبب دی چې د لیکوالۍ او شاعرۍ تګ لوری یې د پرګنو د ویښولو او پوهولو سره نه شلیدونکې اړیکه لري. اجمل خټک د خپل ادبي فعالیت په پیل ځخه خپل لیکلي ادبي آثار د پرګنو د فاع ته وقف کړي، پرګنې یې یووالی، هیواد پالنې، ورورۍ، کار، عمل او مبارزې ته بللي دي.

اجمل خټک په خپلو خوږو فنکارو وینا او پرګنې د خپلې ټولنې بنسټیزې ځیرنې ته متوجه کړي او د اقتصادي بنسټ له مخې یې د ټولنې په علمي علمي مترقي ځیرنه پوه کړي او د دغې دندې په ترسره کولو کې یې هیڅ ډول هلې ځلې، هاند او زیار ایستنه نه دي دریغ کړي.

اجمل خټک خپله مترقي ټولنیزه دنده په ښه ډول پر مخ بیولې ده، د هیڅ

د ول ستونزو او ربړونو گاللو څخه یې دا ر نه دی کړی، ترپا یه پورې په هماغه لار روان پاتې شوی چې ځان ته یې په شعوری توگه غوره کړې ده، تل یې په زړه کی د خپلو خلکو او خپل هیواد سره مینه ساتلې او دا هڅه یې جاري ساتلې چې په خپل وار نور هم هم لاغې لاری ته ور وبولي .

اجمل ختک چې خپل خوږ ژوند د پرگنو د اذهانو روښانولو ته وقف کړې دی نو ځکه پرگنو هم دی هیر کړی نه دی ، پرگنې یې پیژني ، درناوی یې کوي ، آثار یې په مینه لولي ، زده کړه ځنې کوي او به ریښتیا یې د خپلې تولنې خېږنې ته متوجه کیږي ، د اجمل ختک سره د پرگنو مینه درلودنه له دې څخه هم ښه اټکل کیږي ، چې د « اجمل » د نوم سره په ولسونو ، کلیو ، باندو او کورنیو کی خلک ډیر ښه اشنا دي ، ځکه او س د گران انقلابي افغانستان په زیاتو ځایونو کی « اجمل » نومی ځوانان ، وار ه ، تر دې چې ډیخې ځوانه درلودونکی اشخاص شته او په خپل دغه نوم ویاړ کوي ، دا نو ځکه چې دغو پلرونو او کورنیو د « اجمل » سره مینه درلوده او لري یې ، د « اجمل » نوم سره یې مینه درلوده او اولري یې ، نو ځکه یې د خپلو زړونو په ټوټو او سترگو تور یعنې خپلو اولادونو باندې هم ښکلی « اجمل » نوم ایښی دی . هو ، دا ربښتیا ده خو ک چې د خلکو سره مینه لري ، د پرگنو د هوساینې لپاره تل په ځان باندې ستونزې او ربړ و نه گالي پرگنې هم هغه نه هیروي ، په زړونو کی ځا ئ ورکوي چې په دې لړکی د پښتو ژبې نامتو شاعر د خوشحال خان ختک د کهاله ځلانده ستوری

اجمل ختک هم راغلی دی، دی د پرګنو سره مینه لري او پرګنې د ده سره دی خپلې پرګنې پېژني او پرګنې دی.

پرګنې خپل لوړ ازمایښت شوی ټولنیز شعور لري، چې همدغه ټولنیز شعور یې د خپلو دوستانو او دښمنانو د توپیر ولو لپاره یو ښه تیرونکی محک دی، چې هر وګړی ور باندې ازمایښتوي؛ څوک یې چې پلوی وي ځان ته یې بولي او که نه نو لرې کوي یې او شړي یې.

پرګنې خپل رښتیاني پلویان بې پاداشه نه پرېږدي، خپلو خدمتګارانو او رښتینو پلویانو ته په درنه سترګه ګوري، همدا سبب دی چې نن د افغاني پښتنو پرګنو د غوښتنو سره سم د پرګنو د پلوي نامتو شاعر « اجمل ختک » د ژوند شپیتمه طلایي کالیزه په یوې علمي غونډه کې په داسې حال کې نمانځله کیږي چې پخپله « اجمل ختک » هم ورته ناست دی او د خپل ژوندانه په اوږدو کې د پرګنو لپاره د خپلو زیار ایستنو او په ځان د ربړونو ګاللو نتیجه په خپلو سترګو وینې او په خپلو حساسو غوږونو یې اوري. دا ځکه چې پرګنې هوښیارې دي، خپل دوستان سره پېژني نو ځکه یې په ژوندینه هم کالیزې نمانځي او سیمینارونه ور باندې دایروي.

اوس د نامتو شاعر « اجمل ختک » ګټوره او هنرمندانه وینا وو ته راګرځو، چې پوه شو د خپل ژوندانه په اوږدو کې یې د پرګنو سره په څه ډول خواله کړې او په څه هنر یې ورته د خپل زړه ور پرانستی دی.

لومړۍ برخه : اجمل خټک د افغانانو دیووالی غوښتونکی :

اجمل خټک د لوی اوله ویاړه ډک افغانستان دیوپوه اولاد په حیث د خپل ګران هیواد په باره کی د ځپښاک ګرو او سنکیلاک ګرو پرېکړی په کلکه ردوی او د افغانانو یووالی اوورورې تایید وي ، لکه چې په خپل « مسافرته خطاب » اثرکی په دې باره کې خپل نظر داسې څرګند وی : « ... ستا دا خیال دی، چې د پښتنو هغه یووالی چې غوره نو، د ښتونو او سیندونو بېل نه کړو د (ډیورنډ) کافر فرضی خط به یې ځنګه تس نس کړي ، ستا دا عقیده ده ، چې کومه ورور ولی زرګونو کلونو ورانه نه کړه نو دیوې پېړۍ نیمې معمولي واقعه به څه وکړي ؟ » (۱)

اجمل خټک دیو والی لوړې او کلکې مفکورې له مخې دخپل او دخپل ورور دکور پته داسې ښیي او هغه څوک چې دا نه مني دهغو تورګني ، وایی :

پښنبور دی او که کوټه زما کور دی   که کابل که کند هار دی زما وور دی (وچ ۳۶۷ م) (۲)
هر غاصب چې دې کې خندا چول غواړي   که دلړ دی که دبر دی غم یې تور دی ، ، ،

اجمل خټک په قومونو او خیلونو باندی دا فغانانو ترمنځه بیلتون راوستو ته ښه نه وایي دمینې اویووالي پتمن ژوند غوښتونکی دی ، لکه چې وایي :

مونږ نوم نه غواړو یت غواړو مینی په میدان کی
زما او ستا پرې څه شوه که غلجی که ابدالی دی (ګت ، ۶۰۰ م) (۳)

---

(۱) اوسنی لیکوال ، لومړی ټوک . کابل - ۱۳۴۱ کال ، ۲۷ مخ
(۲) مخففات : وچ : دوخت چیغه ، م : مخ
(۳) ګت : ګلونه تکلونه

اجمل ختک د ژوندانه د چار و سمون لپاره ګرم فعالیت، یو مټ او یو بازو ګڼل او غیز من بولي، په پوستي او خاملهٔ ژوند کولو کی کومه ګټه نه ویني، نو ځکه یو والی ته په شاعرانه وینا داسي ملنه ورکوي:

تر څو چي موږ متو یو قوت جوړ نه یو — خبره مو ملګرو په قسمت جوړیږي نه (ګت ۶۰م)

اجمل ختک په بل ځای کی دیووالي لپاره وایي، راځي چي د خپلو ستونزو د غوټو پرانستلو لپاره سره جرګه وکړو لکه:

راځی چي خپل مراد سپي شي یکه جرګه وکړو — ختک خه باباته د چي سوالونه قبلیږي (ګت ۴۸م)

اجمل ختک په خپله شاعرانه خوږه وینا دیووالي غوښتنه په دې ډول کوي:

چي خوږ سرحد د پښتنو ورور ولي ګرم شي — په غرو سمه یو نوبت د قامولي ګرم شي

دروهستانه د نیا ته آوخوند جنت جوړ شي — تش نه پښتونه دا ایشیا د نړۍ طاقت شي (وچ ۱۸۱م)

اجمل ختک یووالی ته هغه پرګنې رابولي چي د استبداد ښکار یې په سرګی نه وي او که نه نو خپل نظر په دې باره کی په داسي شاعرانه فن اداکوي، لکه چي وایي:

چي ښېشه د استبداد لږي په سرګی — ما ته یو دی که مغل دی که افغان

چي زما د کورانغي ته کابره ګوري — و یمه او رشوی هغه په ګلستان (وچ ۲۱۹م)

د دې لپاره چي د نیا د خوشحالی یوه زانګو شي نو اجمل ختک ټول انسانیت یووالی او ورورولی غواړي لکه چي وایي:

زه و یم ټول انسانیت دي و رورولی شي — دا د نیا دې یوه زانګو د خوشحالي شي (وچ ۳۰۸م)

دیووالي په باره کی د اجمل ختک د افکارو له ښکلو څخه جوته یږي، چي د نړۍ والي

مترقي فلسفي په اساس ديووالى غوښتونكى دى، ځكه په ګډه د چاړو ترسره كول غواړي

د استبداد نښه ګڼي هر څوك لري د هغه سره خپل مخالفت څرګندوي او تول انسانيت ته

د ورورولۍ بلنه وركوي، نوله د غو پرمختلليوافكار و څخه څرګنديږي چي اجمل ختك

د پرګنو په پلوى ولاړ، يوملي او بين المللي مترقي شخصيت دى.

دوهمه برخه : د خلكو او هيواد سره د اجمل ختك مينه :

اجمل ختك چي د هيواد او خلكو سره د ميني د رلودني په تورد چ په جبل كي بندي

شوى و، نو هلته يي د خپل هيواد په مينه او د خپل هيواد په ياد داسي اشعار ويلي دي :

چي خوږي ورځي دي راوړي له هيواده   د واړه كسي مي لوګى شه د ته باده

شنا د ميني د اعجاز له بركته   په تورتم كي هم زما په زړه رڼا ده (وچ ۳۷۰م)

اجمل ختك د هيواد د آبادۍ لپاره د ځوانانو زياړ ګالنه ديره اغيزمنه

بولي لكه چي وايي :

د ختك هيواد دي ولي ګلزار نه وي   پښتنو كي ډير ښايسته ښايسته ځوانان دي (ګت ۱۰۲م)

ختك هغه پسرلي سنه بولي چي د خپل هيواد زړه يي وړاندي تازه شي او كه نه نو څه

يي كوي، لكه چي وايي :

چي زما د وطن زړه پري تازه نه شي   داسي غير پسرلي كه راشي نو پري څه شي (ګت ۱۲۵م)

هر چا چي د خپل هيواد په مينه سر ايښى ختك د هغوى د غه قربانۍ نه هيريدونكي

بولي لكه چي وايي :

د هر زړه په سر د يادو ګلدستي دي   چا چي ايښى په هيواد سنګلي سرونه (ګت ۵۵م)

اجمل خټک د شهید په درناوی خلکو ته د شهید د هیواد ښائیسته کولو په باره کی داسې توصیه کوي :

د شهید هیواد په داسې دول ښایسته کړئ   چې جنت کی وته وښخیږي زړونه (گت ۵۶ م)

د هیواد گلالي کیدو لپاره اجمل خټک د زلمو توریالیتوب یو مهم شرط گڼی لکه چې وایي :

زلمی چې توریالی شی وطن چیله گلالی دی   دا خوک وایي چې هغه دا او د د پښو د غوړی لی ی (گت ۶۰ م)

اجمل خټک چې په یوار وپایي هیواد کی چکروهي، په هر قدم کی د گل سره مخامخ کیږی او هره پیغله چې گوري نو محبوبا ورته معلومیږی ، په دې ترڅ کی یې پام د خپل هیواد آبادولو ته وراوړي ، او وایي چې د دغو هیوادو سره د خپل هیواد د آبادولو او سمسورتیا په چاروکی سیالي په کار ده لکه چې وایي :

دا هر قدم چې گل دی، هره پیغله محبوبا ده   خټک یې پسخودی په مینه سیالته (گت ۶۵ م)

هغه وخت چې خټک په یوښکلي اروپايي هیواد کی د گل سیوری لاندې ناست دی نو خپل زوزان وربه یادشوي ، د خپل هیواد په غم کی ډوب شوی دی، نو ځکه د هغه هیواد د گلانو ورږ موته هم په غوسه شوی دی چې تاسی پردئ ورږ مې یئ زما خواته مه راځئ لکه چې وایي :

د گل د سوري لاندې راته خپل زوزان را یادشول

نن ځنگ ته زما مه راځئ پردو پرد وروږ مو اگت ۶۶ م)

خټک خپلو خلکو ته په شعري خوږه وینا وایي : د دې لپاره چې هیواد مو د گلو نو ځنه

ډک وي نو بايد په ځانو زمتونه او زيارونه وګالو لکه چي وايي :

په يو خوا زمتونو ته په ډاګه غاړه وځو   په بل لوري ګلونو ته په ډاګه غاړه وځو (ګت ۷۲ م)

اجمل خټک د هيواد د ښارو او ميرو سمسورولو او اباد ولو لپاره لومړي دا ضرور ګڼي چي انسان بدل شي ، لکه چي وايي :

چاوي چي د ځنګل په ګلستان دي بدل شي   ماوي چي په دي خاوره انسان دي بدل شي (ګت ۷۲م)

د هيواد د نوي کيدو او بدلېدو لپاره د ښې رهبرۍ اغزې په باب خټک داسي وايي :

ګلونو ته چي ګوري لږ څخونو ته هم ګوره   باغ ځکه نوي شو چي باغوان دي نوي شي (ګت ۷۳م)

اجمل خټک يوازي په خپل هيواد مين نه دی بلکه په نړۍ هم مين دی ، نو ځکه د نړۍ د سازولو ، جوړولو او پاکولو لپاره خپل همتوالی په دې ډول څرګندوي :

زه په دې نړۍ مين يم جوړوم يې   ښکلوم يې ، سازوم يې ، پاکوم يې
که يې کاڼي دي که بوټي که انسان دي   زما ستوري او سپوږمۍ دي ځلوم يې (وچ ۳۱۳م)

دا چي اجمل خټک د خپل هيواد سره مينه لري ، د خپلو خلکو سره مينه لري د نړۍ سره مينه لري ، په نړۍ مين دی ، د نړۍ جوړولو ، ښکلي کولو ، سازولو او پاکولو ته يې خپل همتوالی څرګند کړی نو ځکه په نړۍ کي د جنګ مخالف دی او سولې پلوی دی ، نو د همدې کبله د سولې په پلوي او د جنګ په مخالفت خپل نظر په شاعرانه وينا کی په دې ډول څرګندوي :

درپاځم جنګه تاسره جنګېږم   له دنيا دي ورکوم هله صبرېږم (وچ ۳۱۵م)
جنګ ی جنګ دی ، جنګه تاسره مي جنګ دی   دا مي فرض ، دا مي ارام او دا مي ننګ دی (« «)

چې هرګوټ کې د دنیا تړې انسان تنګ دی　　جنګ د جنګ د هغو سره مې جنګ دی (وچ ۳۱۶م)

ای ملګرو! زه شاعریم دا مې جنګ دی　　هم مې فرض هم مې مرام او هم مې ننګ دی (، ،)

اجمل خټک په نړۍ کې د غلبلو وړکېدو، د مینې پیدا کېدو او د لوړ انسانیت موجودیت د خپلې خاورې په ګټه ګڼي نو ځکه وایي :

چې په امن دا دنیا له غلبلو شي　　دا نړۍ زمونږ د مینې یو زانګو شي

دور د لوړ انسانیت د ورورولو شي　　دا زما خاوره جنت د خوشحالو شي (وچ ۳۱۶م)

هغه مینه چې اجمل خټک یې د خپلو خلکو د سوکاله ژوند سره لري، نو په بې ځایه ډېرو نو اخته کېدو کې پاتې کېدل یې نه غواړي، له دې کبله هڅه کوي چې د وی وینس کړي د نورو تیر یو تړي پام ورواړوي او په دې یې هم پوه کړي چې د خپل ژوند له سمون او بدلون ته سنه متوجه شي ځکه نو په شاعرانه هنرمندانه وینا ورته د غه مفهوم په دې ډول څرګندوي :

زما سر توري پیغلې　　د غوا غوجل نه ستړې
ته مې دېل د دې　　مستې ګډا ته پېغې
زه دا بې دلاسو　　پولوته نه شم کتې
ته مې پیالې په لاسو　　د چا ادا ته پېنې
زه د شګې په ځلا　　سیرابېدی نه شمه
تش د روتو په تپا　　زه مړېدی نه شمه
ساقي! زما په خواکې　　مه کړه نګوه جامونه

لوګړه دا چنګ و رباب مه سوروه تا روښه (وچ ۲۲م)

په بل ځای کی د زیار کښانو سره خپل پیوستون په دې ډول څرګندوی:

وینې چې دایو خوملي غاصبان زما اوستا په وینو پړسیدل
ګوړې چې دایو خوړي ستر کسانګي دلوخ لعز په غوښو وڅربیدل

ته ورته ګوره زه کتی نه شمه
څم وید ه بخت بیدار ومه ځمه
څم خپل قسمت راپاروومه ځمه (وچ ۳۷م)

نتیجه:

اجمل خټک چې دخپل ژوند په اوږ دو کی په خپلو لیکنو او شاعرانه وینااو دیرګنو لار ښوونه کړې، په دې برخه کی یې دیو ښوونکی په څیر خپله دنده په ډیر ښه میتود پر مخ بیولی ده. په دې معنی چې لومړی یې د تل لپاره خپل ولس سره کلکه مینه ښودلې، دوی یې وروری اویووالی ته رابللی، سوکالې یې ورته غوښتې، بیا یې نو په ټوله نړۍ کی د سولې راتګ لپاره خپل شاعرانه غږ پورته کړی دی. اجمل خټک په دې لاره کی د خپل ولس پیوستون د نړیوالو دستونزو سره پیبیلی دی. جنګ ته یې بد ویلی او کلک مخالفت یې ورسره څرګند کړی دی. په شاعرانه خوږ وینا وو یې خلک کار او زیار ګالنې ته بللي دي.

اجمل خټک خلکو ته په هنرمندانه توګه خپل نظریات څرګند کړي چې خپل حقوق هم وپېژني او د نورو هم.

اجمل خټک په وروستۍ څېرنه کې خلکو ته د ژوند د ښه کېدو، د ظالمانو له ستمه د ژغورنې، د عدالت، مساوات، ورورۍ او خوږۍ ملګرتیا راتلونې لپاره اغېزمنه ازمایښت شوې او وروستۍ لار ښیي. هو، وروستۍ لار، ګرانه لار، د ستونزو ډکه لار، خو ډېرې نتیجې درلودونکې، د مفت خورو څخه د واک اخیستلو او زیارکښانو ته د واک ترلاسه کولو لار نو ځکه ورته وایي:

دا دنیا د انقلاب ده   انقلاب باندې ودانه

هر څه ستا د پاره کیږي   خو چې ته نه شې پښیمانه

یعنې انقلاب ته یې بولي.

مأخذونه:

۱- اوسني لیکوال: لومړی ټوک، کابل - ۱۳۴۰ کال، ۲۷ مخ

۲- اجمل خټک: دوخت چیغه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا امریت، دولتي مطبعه، ۱۳۵۶ کال

۳- اجمل خټک: ژوند او فن، پېښور، ۱۹۶۷ کال

۴- اجمل خټک: ګلونه ټکلونه، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۶۲ کال

دغني دشګو په محل کي

اکبر کرکر

دا ثر په باب څو نور یادداشتونه

څه وخت دمخه زما د «غني دشګو په محل کي» نومي کتاب چاپ شو دغه اثر سره له دي چي دغني خان د ژوند او مبارزي او تفکر په بیلوبیلو خواو رڼا اچولي او څه ناڅه دغني خان په پېژندګلوي کي نیمګړي شان مرسته کوي خو بیا به هم له نیمګړتیاوو خالي نه وي. د دي اثر د خپریدو وروسته یو لړ پوه او فاضل دوست او استاد دغني خان د ژوند او مبارزي په باب ارزښتناکو ټکو ته متوجه کړم زه تر هر څه لومړي د دغه استاد شکریه اداکوم او له هغه وروسته به هڅه وکړم چي د هغه له خوا راڅرګندي شوي ځیني نیمګړتیاوي لږ تر لږه بشپړي کړم.

له هر څه دمخه په «غني دشګو په محل کي» موږ تر یوه حده د غني خان د روکړي د کورني د ماحول او شخصي ژوندانه په باب لږ څه ویلي وو خو دلته ضرور ده وواېو

چې غني خان په کوم وسایطو کې په خپله تولنه کې سترګې وغړولې؟ دلته د دې پرنسیپ جوړول هم په کار دي چې هنرمند، لیکوال او شاعر د تولنې هستي ده او تولنه د خپلو خاصو اړتیاوله مخې هغه هستوي او هغه د خپل رسالت سره مخامخ کوي.

لکه څنګه چې پوهیږو هغه تولنې اړیکې چې د هنرمند ارګانیزم پکې هست کیږي هغه ته یا کلي شخصیت ورکوي. د اسمه ده چې شخصیت په اساسي توګه د تولنیز چاپیریال معلول دی. خو د هر چا شخصیت چې رامنځ ته شي دیوه واقعیت په نوم د شخص په عملونو کې او په دې ډول په تولنیز چاپیریال باندې اغیزه کوي. د هنرمند شخصیت د واقعیت او هنري اثر منځګړی دی واقعیت جذبوي او د هنر په توګه يې هستوي.

دیو بوه په قول: «د هنرمند په شخصیت کې ډیر عوامل اغیزمن دي چې له هغه جملې، د هغه ارګانیزم، عمر، د هغه شخص بریالیتوبونه او ناکامې تولنیز حالت او د هنرمند تولنیزه خبرتیا، او له دغه عواملو څخه دوه عامله یعنې تولنیز دریځ او د هنرمند تولنیز لید توګه د هغه په شخصیت کې ژوره او زیاته اغیزه لري.» (۱)

خو موږ چې کله د غني خان د «پلوشو» اثر، د «پانوس» اثر، او د «پنجرې چغار» او نور آثار لولو نو طبعاً له هغه سره زموږ چلند له یوه هنري او ادبي شخصیت سره زموږ چلند دی.

---

(۱) جامعه‌شناسی هنر. دکتر ا. ح. آریان‌پور - ۱۷۵ مخ. گوندی مطبعه - ۱۳۶۴ ش.

خوکله چې دغني خان دشعرونو او په مجموع کې په هنر او هنري لید

توګه او دهغه په آزادخیالۍ، وطنپرستۍ، هیومانیزم، عدالت خوښونې

امید او ځپګان او ټولو ابعادو څه وایو، نو مختلف عوامل چې دهغه د ژوند او

زوکړې په پیل کې او وروسته دهغه په ټولنه او په مجموع کې په ټول هند کې

منځ ته راغلي وو له پامه نه شو غورځولی .

ټولنیز۔ اقتصادي چاپیریال :

غني خان موږ په مجرده توګه یوازې دشعر له لارې نه شو مطالعه

کولی بلکې کله چې دهغه دهنر او خلاقیت په باب او دهغه د سیاسي مبارزې

او له مبارزې څخه دهغه د حماسي او وطنپرستانه روح په باب څه وایو. نو

د سوسیالوژیک تاریخي پس منظر له څیړنې پرته بې ځایه وي، په دې دول

ضروره چې ددغه پس منظر او په هغه کې د تاریخي سیاسي حوادثو په باب

لږ څه ووایو، او دغه راز دهند دیمې وچې د فرهنګي فضا په باب څه ویل هم

په دې برخه کې ضروري برېښي .

بریتانوي استعمار له هره پلوه دهند په نیمه وچه او په تیره د پښتنو

په سیمه ډیره زوره او ناوړه اغیزه وکړه . په ۱۸۵۰ کال کې د پېښور، کوهاټ

هزاره، دیره جات او بنو سیمې له اداري پلوه د پنجاب برخې وګڼل شوې.

د دیره جاتو او بنو اسیمې چې د یتې کمشنرانو په وسیله اداره کېدلې

د پنجاب د ډویژن یې وټاکل شوې .

په ۱۸۹۳ ع کال کې د ډیورنډ کرغیږن تش په نامه تړون لاسلیک شو. د دې تش په نامه تړون له مخې د لومړي ځل له پاره پښتنانه په شکلي لحاظ یوله بله سره جلا شوي. دغه تړون د پښتنو د اکثریت ارادې برخلاف عمل و. د دغه تړون نه وروسته د انګلیس پر ضد د پښتنو قبایلو کرکه په دومره زوره توګه راوپاریده چې په ۱۹۰۲ ع کال کې په پښتنو کې د برتانوي هند والیسرا مجبور شو اعلان وکړي چې حکومت به قبایلي سیمو کې هیڅ ډول مداخله نه کوي. په ۱۹۰۱ ع کې انګلیسانو د شمال غربي سرحدي ایالت په نوم ځانګړی ایالت منځ ته راوړ، پر ته له دې چې د پښتنو د ملي هویت او توامیت مفهوم یې ځرګند شي. د پښتنو د ملي هویت پر خلاف عمل یې تر سره کړ.

د شلمې پېړۍ په سرکې په لره پښتونخوا کې د پښتنو د ملي آزادۍ غوښتنې غورځنګ را منځ ته کېدل او ورځ په ورځ پیاوړتیا تر ځنګه زیات دغه د اهمیت وړ تکې ځرګند کړ. په ۱۹۱۲ ع کال خان عبدالغفار خان د ترنګزو د حاجي صاحب سره یوځای د آزادو ښوونځیو په جوړولو پیل وکړ. دی غورځنګ چې د ماهیت له مخې یې استعماري ضد او انګلیسي ضد خصلت درلود د پښتنو د توامیت او وویشل شویو او توته توته شویو ضلعو، ریاستونو او ایجنسیو باندې وویشل شویو پښتني سیمو د یوځای کېدو او د ملي خپلواکۍ د پاره له مبارزې څخه عبارت و، ډېر ژر یې په ټولو پښتني سیمو او ان په قبایلي سیمو کې د پښتنو ملاتړ ځانته حاصل کړ. د پښتنو زیاتکښي پرګنې طرفدارست

روحانیون، کوچنی ځمکه وال او په ضلعو کی زیارکښ بزګران د باچا خان یا د خدایی خدمتګارو د غورځنګ ترشا ودریدل .

د انګلیس استعمار د پښتنو په حساسه او ستراتیژیکه سیمه کی خپل معنوبات له لاسه ورکړل، او د ټولو ظلمونو، بی رحمیو، او قساوتونو سره سره یی له هیڅ ډول روحی شکنجی او عذاب څخه هم ډډه ونه کړه .

د شلمی پیړی په شلمو او دیرشمو کلونو کی د سرحدی صوبی په سیمو کی د کانګرس سره یوځای د پښتنو آزادی بښونکی غورځنګ پیاوړی شو. دا غورځنګ دومره پراخ شو چی کله په ۱۹۳۵ - او - ۱۹۳۷ ع کال کی انتخابات وشول او بالغ سړی یکی د رأی حق نه درلود، یوازی د انګلیسی قانون له مخی هغه کسانو رأی ورکولی شوی چی ټاکلی ځمکه او شتمنی یی درلوده او په طبقاتی لحاظ د ټولنیز اعتبار خاوندان وو. د دی په څنګ کی د پانګوالی ټولنی سرمایانو هم خپل حرکت ګړندی کړ، په دغه کلونو کی د پښتنو په سیمو کی پانګوالی مناسبات را وټوکیدل . د پښتنو په سیمو کی نژدی له ۲۰ څخه تر ۳۰ پوری صنعتی تصدی منځ ته راغلی چی هر یوی یی نژدی (۲۰۰) تنه کارګران لرل . په صوبه سرحد کی د دغه کارګرانو شمیر نژدی (۱۵۰۰) تنو ته رسیده . تر ټولو ستره کارخانه په هم دغه وخت کی د هندوانو له خوا په مردان ضلع کی د «شوګر میلز» په نوم جوړه شوی ده .

په خلویښتمه لسیزه کی زیات پښتانه روښانفکران منځ ته راغلل.

او اّن په آزادو پښتنو سیموکی د روښانفکرۍ قشر د پیدا کید و جریان منځ ته راغی، د دغه قشر د پیدا کیدو سره سم سنوونځی او مدرسی منځ ته راغلی، او په دی ډول د روښانفکری فرهنګی جریان له سیاسی جریان سره هم غبرګ شو.

«غنی خان د لومړی نړیوالی جګړی په پیل کی یعنی په ۱۹۱۶ع کال کی د لړی پښتونخوا د اتمانزو د خوازخیلو په قبیله کی زیږیدلی دی هغه په داسی کورنۍ کی زیږیدلی چی سرنوشت یی د برتانوی استعمار د ماتی او د هند د نیمی وچی له آزادی سره نه شلید ونکی پیوند لری.

په دی ډول ویلی شو چی غنی خان د خپل وخت او زمان د نړی د سترسرمایه داری بحرانی په شرایطو کی راپورته شو د هغه تولنه چی له یوی خوا د سیاسی بحرانو سره مخامخ وه او له بلی خوا په اقتصادی لحاظ د پښتنی ټولنی زاړه قبیلوی فیودالی مناسبات هم د دننیو عواملو او هم له بیرونی فشارونو له مخی د له منځه تللو او په جبری توګه د شړیدو په حال کی دو مره د ترلی پانګوالی د بیرحمانه عمل سره مخامخ وو.

غنی خان او د هندی فرهنګی چاپیریال:

د دوالیزم اغیزه

مور په ترمخه هم وړته اشاره وکړه چی غنی خان د یو مبارز او هنرمند په توګه له هندی فرهنګ څخه زیات متأثر دی او د غه اغیزه د هغه د شعر و نو په متضادو اړخونو یعنی د ژوند د نفی او اثبات په برخه کی وینو. نو

ځکه ضرور ده چې لږ تر لږه د دغه دوالیزم په باب خبرې وکړو :

دعلمي ټولنپوهنې بنسټ ایښودونکي کارل مارکس د خپلو ژورنالیستیکي فعالیتونو په ترځ کې په خپل وخت کې د استعمار په باب زیاتي مقالې لیکلې دي او له هغه جملې يې د هند په باب زیات څه لیکلي دي .

د علمي ټولنپوهنې بنسټ ایښودونکي په آسیا کې د استعمار ویجاړوونکو اعمالو په تېره د هند په لرغوني سنتي ټولنه کې ډېرو ناوړو چلندونو ته ګوته نیسي او هغه په ډاګه کوي . نوموړی هغه بدبختۍ چې په هند باندې د برتانوي استعمار له خوا نازله شوې د هند د ټول تېر تاریخ د بدمرغیو په پرتله لویه او ستره بولي لیکي :" خو هیڅوک د دغه حقیقت په حقانیت کې، شک او شبهه نه کوي چې هغه بدمرغي چې د برتانوي استعمار په دوران کې په هندوستان باندې تحمیل شوه په حقیقت کې بل ډول بدمرغي ده ، د ا بدبختي د هغه بدبختیو په پرتله چې هندوستان په ټولو تېرو دورانونو کې تحمل کړې وه دومره ډېره او ستره ده چې نه شو کولی د هغه د ژور تیا جاج ولګوو ."

نوموړی د خپل تحلیل په تعقیب زیاتوي، او د آسیایي استبداد و هغې ټولنې په شرایطو کې د غه ډول استبدادي ناخوالو ته اشاره کوي زیاتوي : " زه د لته د اروپایي ظالمانه استبداد

په باب خبری نه کوم، هغه استبداد چې تخم یې د برتانیا د شرقي هند کمپنی د آسیایي استبداد په شرایطو کې وکاره. (۱)

برتانوي استعمار په هندي ټولنه باندې د سختو مادي او معنوي ګذارونو سبب شو، تر هرڅه د مخه د غه استعمار استبداد د هند د لرغوني ټولنې مادي بنسټ ونړاوه، او هغه یې متزلزله کړه، او دا کار د دې سبب هم شو چې په هغه فکري نظم کې چې له کلونو او پیړیو او دورانونو راهیسې د هند په لرغوني ټولنه کې موجود وو، هغه هم متزلزله او نسبتاً بې بنیاده او بې بنسټه کړي. د نړۍ د زیارکښانو مشر په نوموړې مقاله کې زیاتوي: "......له بلې خوا انګلستان د هندوستاني ټولنې اساسي بنسټ وېجاړ کړ. او تراوسه یې د اصلاحاتو او نویو تحولاتو د منځ ته راوړلو لپاره هیڅ ډول هڅه نه ده کړې. د لرغوني دنیا له لاسه ورکول د نوې نړۍ له لاس ته راوړلو پرته د هندوستان د اوسنیو او سید ونکو بد مرغیو ته ډېر له غم نه ډک خصلت وربښلی دی......" (۲)

داسمه خبره ده، برتانوي استعمار د هند یا نوله امید او هیلو ډکه نړۍ وېجاړه کړه، د نوې د جوړېدو تکل یې هڅه و نه کړ، د هندي ټولنې له پاره په معنوي لحاظ د غه نړۍ له غم، خپګان او تراژیدیو ډکه وه.

---

(۱) پیرامون استعمار. (۲۰) مخ.

(۲) مارکس انګلس. پیرامون استعمار. (۲۸) مخ.

هندی هنر او فرهنګ، په خپله بومي ټولنه کې ژورې ريښې لري ددغه فرهنګ څپې ډيرې له پخوا د دغه ټولنې په فکري سمندر کې رواني وې، کله يې هم څپې پورته کيدلې او کله يې هم ارام شکل درلوده، کله يې هم داسې ځانګړنې پيدا کړې چې ګواکې له خپل اصلي سير څخه يې تغيير کړی خو په هر حال هر وخت يې خپل کرکتر ساتلی دی او د ژوندي پاتې کيدو متره پکې هر وخت موجوده وه .

په دې ډول ټولنه کې: « چې د بهرنيو يرغلګرو د لاس لاندې وه هر وخت په کې دا هڅه هم محسوسه او موجوده وه چې دا وسنې ناوړه حالت د هيرولو په خاطر د تير دوران خوبونه او خيالونه ژوندي وساتي او د تير عظمت د ياد تازه ولو په خاطر ځانته تسل وکړي، خو دا ډيره د ساده توب لوبه وه، چې متاسفانه په هند کې پرې مونږ مشغول يو ....» (١)

خو د دې قضيې يو بل مخ هم موجود دی، په دې مانا لکه څنګه چې مارکس ددغه ډول رغې تأثر يادونه کوي، او جواهر لعل نهرو هم د هغه په خير د هغې يادونه کوي چې د استعمار ځپلي ټولنې انسان د دې د پاره چې خپل اوسنی رنځ او بد مرغي هيره کړي نو د تير دوران خوب او خيال را ژوندي کوي، خو د دې خبرې بل مخ يا د دې ديالکتيکي قضيې بله کليه دا هم ده چې وايي: « يو بل شی چې مونږ هند يا نوته د بحث وړ دی

---

(١) کشف هند ج ١ - (١٣٤) مخ .

دادی چې فکر کوو چې هر څومره چې موږ له ډیرو خواو سقوط کړی او وروسته پاتی یو خو بیا هم له روحی پلوه ستر یو، او په نورو تقدم لرو. روحی عظمت او یا بل هر ډول عظمت نشی کولی، په نه خپلواکی او په نه امکاناتو یا لوږه او په مرغمی کی موجود وی.» (۱)

څرګنده ده چې برتانوی استعمار په خپلو ټولو وسایلو سره د هند د لرغونی ټولنی بنسټ ونړاوه او د نوی د جوړیدو هیڅ ډول هڅه ونه شوه. برتانوی استعمار د آسیا په دغه لرغونی ټولنه کی د هغه دری اداری سیستمونو یعنی: «مالیاتی، اداری، حربی اداری څخه د هند د اولسونو د لوټلو له پاره بشپړه ګټه واخیسته خو د «فوایدعامی» اداری ته یې هیڅ پام ونه کړ. دی پیښو څه منځ ته راوړل، یوازی داوږ دی مودی له پاره یې د هند د اولسونو د ژوندانه په اتموسفیر کی داسی د غم وریځ ایجاد کړه چې هره وریځ که دغم باران هم واوری هغه یې په سنت او رسم بدل کړیدی. کارل مارکس دغه حالت په ډاګه کوی او په بل ځای کی لیکی:

«موږ باید له یاده ونه باسو چې دغه له دنیا څخه محروم ژوند، بی حرکته او دګیاه په ډول ژوند د هستی دغه بی فعالیته او پاسیف شکل له بلی خوا په خپل مخالف قطب کی د وحشی ورانوونکو، په پټو سترګو

---

(۱) کشف هند. (۱۳۵) مخ.

او بې پېژوانه قوتونو دراپورته کېدو سبب شو. په هندوستان کې بې
اَن له وژنې او قتل څخه مذهبي دود جوړ کړ. موږ باید له یاده ونه باسو
چې دغه کوچنې کلیوالي جمعیتونو په خپل پیکر باندې د اختلافاتو سره چې
د مختلفو کاستونو سره یې د مرېي توب تاپه درلوده چې دوی دوی
پرځای چې انسان د پېښو او واقعاتو د فرمانبردار مقام ته لوړ کړي.
برعکس یې د هم دغه پېښو او واقعاتو مرېي کړ چې دوی د تولنې دا
خپلسرې یا (خود په خودی) تکامل په ازلي نه بدلېدونکي طبیعي قسمت
بدل کړ. په همدې ډول د طبیعت قهرجن کیت ترې جوړ کړ. د دغه کیت
کوچنې والي او ذلت په خاص ډول په دې حقیقت کې د اخرگندېږي
چې انسان دغه د طبیعت باداراو حکمران په ډېرا طاعت او احترام سره
د خانومانې په "شیادی" او د "ساباله" په نوم غواته گونده وهي." (۱)

خوله دې تولو ناذودو او ناکردیو سره، او د برتانوي استعمار د تولو
بې رحمیو سره بیا هم د هند تولنه مړه نه شوه. سره له دې چې هلته د ژوند
دیو ډول نفي او یأس او غمجن روح لاسبري وي، له بلې خوا هر ډول
زورگیرته یې په یو ډول "آرام شرافت" او "زړه ورتیا" سره خواب ویلې دي
د هندي فرهنگ اصلي جوهر مړ نه شو، بلکې پرځای پاتې شو او د منفي او
خشره گیاوو په خوا کې یې مثبت او ارزښتناک نیالگي هم زرغون کړل، او د

---

(۱) مارکس انگلس پیرامون استعمار: (۲۸) مخ.

تاریخي منطق له مخې یې باید زړغون کړی وای. خو دا خبره هم موږ ته په دې برخه کې اصولي کړې له دې ته راوړي چې وایي: دا خپله اسې برخه کې هر څو مره هم چې وي د زړه نږدې ده له منځه تلو منظره زموږ دشخصي احساس د پاره له غمه ډکه دي، موږ له تاریخي پلوه حق لرو چې له ګویټه سره یو آواز شو چې وایي:

«اگر اندوه کلید خوشیست
چه کسی حاضر میشد از ان عذاب کشد

پښتو ترجمه یې:

آیا زندگی لک اندر لک را
تیمور لنگ لگد مال نکرد ؟»

له بله پلوه په دیالکتیکي لحاظ د هند په لرغوني فرهنګ کې د انګلیسانو د ټولو استعمارې ورانیو سره بیا هم د روحي تأثر په خوا کې د مقاومت روح هم لیدل کېږي. او دا روح د ټول تاریخ په اوږدو کې ژوندی وو او دی. نهرو لیکي: «ځیني خلکو تصور کړی چې هندي تفکر او فرهنګ اساساً د ژوند په نفي کولو متکي دی، نه په منلو او د هغه په تائید کې، فکر کوم چې دا دواړه په بېلا بېلو درجو سره په ټولو مذهبونو او لرغونو فرهنګونو کې موجود دي. خو زما په نظر هندي فرهنګ په هر حال هیڅ کله د ژوند په نفي کولو ټینګار نه کاوه، البته ځینې هندي فلسفې داسې نظریات وړاندې کوي خو داسې جوتېږي چې دغه تائید د مسیحیت په نسبت

په هندي فلسفه کې لري دي ....» (۱)

او س راځو په دې برخه کې د دغه دوه فرهنگي چاپیریال او اثبات د متضادو خواو د اغیزو کلي نتیجو ته :

د مخه مو وویل چې د غني خان د کورنۍ سرنوشت د هند د نیمي وچې د آزادۍ له سرنوشت سره کلکې اړیکې لري ، او له کومه ځایه چې د هند د ټولنې فرهنگ او په مخه باندې د برتانوي استعماري رچمانېز غلونو په نتیجه کې څه نوي فکري پدیدې منځ ته راغلې ، د هند په فرهنگ او هنر باندې او د هند په سترو هنرمندانو یې هم اغیزه کړې او له بله پلوه غني خان د خپل ژلمیتوب ، زده کړې او زیاتو وختونو کې د هند د نیمي وچې د ستر آزادي خواه او مفکر انسان جواهر لعل نهرو ډیر نژدې اړیکې درلودې د دې ټولو تأثیرات د غني خان په هنر او هنري خلاقیت کې هم لیدلی شو .

د برتانوي استعمار ټول ناوړه او انساني ضد عملونو د هند اولسونو ته له مادي ویجاړتیاوو سربېره فکري او رواني ویجاړتیاوې هم سوغات راوړې .

داسې نه چې په هند کې د انگلیس د استعماري امپراتورۍ دوران د مادي او فکري خرابۍ دوران دی او د نړۍ د ستر سبوونکي په قول چې «په هند کې د برتانوي استعمار د حکمرانۍ د تاریخ پاڼې د ورانیو پرته د بل هیڅ شي په باب خبرې نه کوي .»

---

(۱) کشف هند ، (۱۲۶) مخ

په هند کې دانګلیسي بورژوازۍ دخلکو په هر ډول مذهبي مقدساتو
یرغل وکړ هغو داو دیسا او بنګال په معبدونو کې د زیارت کوونکو څخه دعوایلو
دلاس تېرا او ډلو په خاطر، وژنه، قتل، او همدا رنګه فحشا د ځلېږنا وت
په معبد کې په مسلک بدله نه کړه ؟ ..... "

له دې څخه پوهیدای شو .

غني خان دیو مبارز هنرمند او شاعر په توګه د غه اتموسفیر
او فرهنګي فضا څخه متأثر دی، خو په دې منطق سره چې په هغه باندې د دغو
حوادثو یأس، خپګان او روحي عذاب اثر نه دی کړی، بلکې د آزادۍ
بښونکې غورځنګ دیو مخکښ په توګه د دغه فضا د بدلولو په خاطر مقاومت
او مبارزه کوي .

که موږ د هغه په شعر او هنر کې نسبتاً تأثر او روحي نا امیدۍ
وینو نو له هغه زیات په کې امید، هیله، آرزو، خوشبیني او په راتلونکې
باندې ایمان او باور هم وینو، او دا باور د هغه په حماسي شعرونو کې ډېر ځرګند دی .

یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم یا به کړم دپښتنو کوڅې ویجاړې

یا به : یا خو به دې سیال کړمه وطنه د جهان
یا به ستا په پښو کې توري خاورې کړم دا ځان

نز میه پښتون یم تا نه یاد دی افساني زما
اې زما وطنه ! دلالونو خـــزاني زما

او یا خو هغه له دغو موضوعگانو څخه ژور و فلسفي خواوته داخلیږي

او د نمونې له پاره د پیدایش په نوم شعر لیکي :

پیدایش :

او ماڅان له ساز که پخپله جوړ دخپل خوب نه دخپل خیال نه
دخپل غم نه د مستۍ نه دخپل تال نه دخپل قال نه
او ماڅان له یار که پخپله جوړ دخپل سوز نه د ارمان نه
دخوبونو نه د رنگونو نه دگلونو نه دخزان نه
او ماڅان له غم که پخپله جوړ دخندا نه خوشالۍ نه
دوصال نه دخمار نه دبهار نه دلولۍ نه
او ماڅان له ژوند که پخپله جوړ د امید نه د رڼا نه
دتیرو نه دلیدو نه دغمونو نه دسودا نه
او ماڅان له مرگ که پخپله جوړ دژوند نه دمستۍ نه
دسپرلي د ذیرو گلونو نه دلالونو نه دځوانۍ نه

غني خان او د هغه طبقاتي دریځ :

غني خان دخپل وخت ، زمان ، تولنې او شرایطو شاعر دی او په یوه

دول جانبدار شاعر هم دی ، غني خان په خپل شعر کې هم ددې پلوي

ندی چې « که چاپر یو مخ په خیره وو هلی نو بل هم ورته ونیسه » بلکې د

سیاسي عمل په څیر په شعر کې هم د ده پلوي دریځ سنه څرگند دی .

په دی مانا چی غني خان دخپلی طبقی نماینده شاعر دی ، سره له دی
چی نوموړی د خپل طبقاتی او اجتماعی بنسټ له مخی د پښتنو دستری خانی
کورنۍ پوری مربوط دی . خو دهغه د وخت شرایط په هند کې د ترلی
بورژوازی پر ضد ، دانګریزی استعمار په وړاندی او په پښتنو سیموکی
هم دغه شان او په دغه سیموکی د آزادی غوښتونکی جنبش را پورته کیدل
او د فیودالیته مناسباتو او قبایلی روابطو په وړاندی د رادیکال بورژوازی
وده ، او آزادی غوښتونکی تمایلات د وخت لیکوال او شاعر ته
څرګند لوری ورکولی .

غني خان هم دخپل ټول قوت او شعری خلاقیت سره د فیودالیته
مناسباتو په وړاندی کرکه ښئ ، او د دغه مناسباتو د ډیرو عمده نماینده
موسسو څخه د مثال په توګه هم خان او د خانی مناسبات غندی او
هم ملا او شیخ چی د فیودالی مناسباتو نماینده قشر دی .

د مثال په توګه :

خان راځیستی دی ملا پسی څو باړی
خپل کور یی کړه خه پردی غمونه ژاړی

بل ته وئی د حرص وباسه غاښونه او بخپله سوان په لاس تیری داړی

ټول وطن بخپله وران کړی بل بدنام کړی
ملایان دی که لې قارغان خواری خاری

چې پخپله په پیسه قام خر شوی نه
بیا په کوم مخ په ملا کوی پیښاړ ی

چې پخپله دی مخ کال کی نشی ونیځلی
بل ته مه وایه زړگیه چې پوهاړی

ته اول د صاحب پریږ ده سلا مونه
بیا په ده سر سایه پریږده په ولاړی

دغنی نصیحت واوره اوس خان سم کړه
خولی له نه راځی بیابیا توکلی لاړی

او یا دخان په نوم بل شعر چې وایی :

عجیبه دی ده خانی، عجیبه دی ده ځوانی
ای پښتونه! پوه دی نه شوم په ورانی په ودانی

دادی لانوی هندی چې خپل ورور وژنی بې هیڅه
پیرنگی ته ختیلنگ نه یی چې کړلی پیزوانی

چې تکی یی پرېږی وی، په حجره کی دی زمری وی
ناست دمر چووی په ختّه دخان نه وینې ثانی

وایی پلار می بهادر او نیکه می سکندر و
چې دخان تپوس تری وکړی، بس هین هین وی امانی

په غریب همسایه نردی، یا په سنځه زور ور وی

د جنګ وخت کی پټ کوناست وی، خود جنګ وی اړمانی

غنی نه د دوی دواشته نه طبیب ورله ورتلی شی

د خدائ قهر پری لګیاوی چی زر زر یی کړی فانی

او د غه د ول شیخ ته خطاب کوی :

زړه دی ډک دی د خپل ځانه | په کی ځای نشته د یار
داسی ډک یی د نیکونه | لکه ډک د مرو خار

دواړه سترګی دی ړندی دی | د بل بد د ځان سنه وینی
تل آئینه کی ځان نه ګوری | د یار نه وینی سنګار ..... الخ"

د غه راز د غنی خان په شعر ونو کی داسی زیاتی نمونی شته چی

هغه په کی د جاګیر داری مناسبا تو ته ولی ناوړی موسسی غندلی دی

د غنی خان وطنپرستانه احساس دومره پیاوړی دی چی هیڅکله

د خان او استثمار ګر خان پروانه ساتی. غنی د هغه اقتدار او قدرت

چی د خلکو په ځت سوروی ورسره سخت مخالفت کوی او په هغه ملبنه وهی.

چرته غټ خر ته په شاکی | داد سرو لالونو کټه
سفارش ورته دا وکړه | صیب زمونږ ه له با بته
وی، بام کوه د دله خره | غنی ونه وی په لته

خود غني خان په شعرونو کې د هغه د طبقاتي دریځ د څرګندوالي ډیرې نمونې شته. هغه د خپلې طبقې شاعر دی، او په مجموع کې د خپل آزادي غوښتونکي اولس شاعر دی. د ترلي بورژوازۍ استعمار ي قوتونو سره سخته دښمني لري. او د دغه طبقې نماینده هم داسې سوداګر بولي چې په لاس یې تیغ وي او پرسر یې قرآن نیولی وي د غنې طبقه د پښتنو د ملي تواٴمیت او استقلال، آزادۍ او خپلواکۍ غوښتونکې ده، او د همدې له پاره مبارزه کوي، او جنګیږي. د هغه طبقه د هند د هغه وخت داګاه او بیداره آزادي غوښتونکي طبقې سره ګډې ګټې او خواوې لري.

غني او پاټریوټیزم:

کله چې خو څو واره مو د اخبره کړې، غني هم په طبقاتي لحاظ (د خپل وخت کې) او هم په فکري او معنوي لحاظ استعمار ي ضد او پاکستاني ضد آزادي پرست شاعر دی. هغه یوازې د خپل وطن په غرونو، سیندونو، دیرو او ځمکو مین نه بلکې پخپل ملي هویت او پخپلو خلکو مین دی. هغه د خپل وطن د غریب بیوزلي او خان او هرچا د پاره آزادي غواړي.

غني خان د خپلو وطنپرستانه احساساتو په ملتیا په خپل شعر کې هڅه کوي چې خپل اولس ته د هغه قوت او عظمت وروښيي. او په ډېر ډول

په هغه کې خپل پښتني غرور راژوندی کوي، هغه د وطن آزادۍ ته راوهڅوي، او په دغه ډول ده چې له وطنپرستانه احساساتو سره د هغه انقلابي او حماسي روح یو ځای کیږي او د حماسي په هستولو کې نوموړی ډیر ښه ځلیږي.

دا سمه خبره ده چې د هغه حماسي اړخ د هغه په بل ډول فکري اړخ نو برتري پیدا کوي، سمه ده چې کله کله د خیام نوم یادوي، او د هغه ستاینه کوي او یا خیام ته ورته شعرونه لري، خو دغني زمان، مبارزه آزادۍ غوښتنه او وطنپرستي ددې سبب کیږي چې د هغه پاتریوتیستیک او حماسي اړخ ډیر او چت وي. په دې برخه کې ددې خبرې یادول هم ضروري دي چې غني خان د خپل وخت داسې شاعر دی چې د هغه شعرونه پاڅوونکي او ویښوونکي ځانګړنه لري. د هغه حماسي او وطنپرستانه شعرونو ټول د ظلمو جوش را پسې کړي او د آزادۍ غوښتلو د مبارزې میدان ته یې لوی او واړه رابللي دي.

د څو ځلې په نوم ترانه د مثال په توګه راوړو:

سر مې لوګي شه له تاستر ګي مې   شونډې مې خاورې شا د یارشه

قربان ځلمي له تانه قطار قطار شه

ته دې خزان کې یو ګل د بهار یې   دې تورې شپې کې ته یو زېرې د سبا یې

ته د بهار خوب د کلي وران یې   ته یو تصویر د پښتون ارمان یې

ته د پښتون د ناموس او د ننګ ښنه
ته د پښتون د سپين ږيري ملنګ ښنه

ته يې زمونږ د دې صبر د جنګ ښنه
ته يو ګوره د پښتون د مړاني

ته يو تصوير د پښتون دارمان يې

ته يې د مينې او د زور او د طاقت قصه
ته د شهيد د مستۍ او شوکت قصه

ته د پښتون ديو خيال او دنيت قصه
ته يو آواز د مظلوم په آسمان يې

ته د بهار خوب د ګلي وران يې

ته د مردې ننګ ډوب رنګين داستان يې
ته يو تصوير د پښتون دارمان يې

پاس به دې وير قوم زړه په چاړ ښنې
يا به ته يې په خيبر باړه په دار ښنې

سرې لوګي شه له تا سترګې خاړ ښنې
ته د بهار خوب د ګلي وران يې

ته يو تصوير د پښتون دارمان يې

او دا هم د غني خان يو ډير رنګين او ښکلي شعر چې د هغه د زړه وطنپالنه ترې څرګندېږي :

ماليدلي د فرنګ ښکلې جيزونه
چې دلاندې ترې غوټۍ ننګ وهي سينه ونه

ماليدلي محلونه د لندن دي
چينکې مستي آزادي ګلبدن دي

ماليدلي داټلي ښيسته ښارونه
سره يې انګور سره يې شراب او سره ګلونه

ماليدلي د پيرس ښايسته ښکلي
په کردار ګفتار خوږې لکه بلبلې

ماليدلي امريکه کې دې ښارونه
چې وريځو ته يې رسي مکانونه

ماليدلي تاج محل غوټۍ د ګلو
د ډهلي ښکلي ښارونه د مغلو

خو چي وويېم زه خپل د خټو کور　　　　راته هیرشي محلونه ښیېسته نور

دا نري تنګي کوڅې زما د کلي

ورته څه وي د دنیا ښارونه ښکلي؟

غني او هیومانیزم:

د غني په اشعارو کي څو مره چي د انسان او انسانیت له د ښمنانو سره مخامخ کیږو، دو مره د انسان او انسانیت په باب او د انسان سره د مینې په باب هم مخامخ کیږو.

د غني په اشعارو کي ځای پرځای د انسان یادونه کیږي، انسان د غني په شعرونو کي ځان بیاموي، او انسان د غني په شعرونو کي بیرته ځانته مراجعه کوي، او کله کله هم د غني په شعرونو کي انسان او انسانیت مرکزي نقطه ګرځي، لکه په دې شعر کي:

زه یم زه یم رنګ سرور او شرنګار زه یم

د جانان سترګو کي مراوي خمار زه یم

دا تعبیر زما د مست زړه د تلاش دی

یار زما د زړه ارمان دی　دلدار زه یم

دا زما زړه چي خیښت او رنګ شي وژلي

سپرلی سره ګلونه راشي بهار زه یم

دا چي زه شم د مسکو شونډو لیوالـه

لیلی جوړه کړم د حسن معمار زه یم

داخوزه د ځیگر سوز په هوا سور کړم
روح مطلب، معنیٰ آواز دستار زه یم
چې زه نه یم بې معنیٰ جنت آسمان دی
د جهان د سوز او مینې مختار زه یم
دومره پوی شوم په دې روکې غوندې ژوندکې
یار زما کمال، کمال د دلدار زه یم

او یا د دې شعر یوه برخه چې وایي:

ای زما بچیه! یار ژړ لوله صحرا سنه ده
تخت د رقیب نه دی سنه تلوری دلیلیٰ سنه دی
دوست دیزید سنه نه دی شهید دکربلا سنه دی
واک چې یې دبل وی ددې نرنه زنانه سنه ده
ای زما بچیه وزیری نه جیلخانه سنه ده

موږ د غني خان په شعرې خصوصیاتو کې هیومانیزم او انساندوستی د هغه د مبارز او انقلابي کرکټر جزء بولو، په دې مانا چې د هغه په وړاندې د هغه د تولنې د انسان سپکاوی او کوچنی کیدل، د انسان وژنه او شکنجه او په انسان باندې ظلم او استبداد او استحصال د هغه په حساس او فلسفي ذهن باندې ژوره اغیزه کوی، او هغه دې ته رابولی چې خپل "زه" د تولنې د "زما" سره یو ځای کړي، او د انسان له پاره د ذلت او پستې ژوندو غندې

وېي رټي او دهغه په وړاندې عکس العمل وښيي . غني خان هېومانسټ
او عدالت پسند شاعر دی .

د ننګ او غيرت د ټولني شاعر :

دغني خان شعر ، د ننګ او غيرت د ټولنې ، د مردۍ او عيارۍ
د ټولنې شعر هم دی . هغه سره له دې چې د نويو پانګوالي مناسباتو سره آشنا
او له هغه اغيزمن دی ، خو د خپلې ټولنې له متبو کړ کترونو د پښتنو د ننګ او
غيرت ، ميړانې او وېاړ ، مبارزې او نه تسليمېدو سره هم آشنا دی او له هغه
په ژوره توګه اغيزمن دی . په دې اساس ده چې د هغه په شعر کې
د نورو ځانګړنو په څواکې د اخصوصيت هم ښه جوت دی ، خو بايد ووايو چې
د شاعر ننګ او غيرت او پښتنو اله يو عمده جهت لري او د غه جهت يې په
دې خاطر ژوندی او څرګند ساتلی چې د آزادۍ غوښتنې
مبارزې ته پرې خپل ويده قوم را پاڅوي . بايد دا خبره هم ياده کړو چې
غني د خپلې ټولنې د يو بل ټولنيز عنصر ځخه هم کار اخلي او هغه د پيغور مفهوم
دی ، هغه دا مفهوم هم د خپل هدف له پاره ديوې وسيلې په توګه کارولی لکه :

مچ د زمرې سترګې شکولې ماشی داوښ وينه
خدايه ! ستا داعجيبه دنيا نوره ده که سپينه
مړ لسوګيدړو ببر شير په بونډې چرګه کړ
سپور شغال په پړانګ دی د غرڅو وښکار له ځينه

پر یوځی چوارې ته ځان گاڼه په رنتیا زړو کړې
ښکلې ستا دګوتو جوړه ځوانه نازنینه

ناسته ده ددې دلندن لوړ په سرو وریښمو کې
لوړ دلوی شیره شاه لوړیږي په لاس دې لوله ځینه

مست مغروره سر د پښتون تیټ ستړی شکسته دی
شرم داسی شرم چې شرمونه شرموینه

په دې دول خپل پوهنې بحث راټولوو :

دغني خان د مبارز شخصیت او هنرمند شخصیت دټولنې په داسې شرایطو کې مطالعه کولی شو چې له یوې خوا استعماري نظام مسلط دی. داستعماري نظام ټولې ناشونې او بې رحمي خپل اوج ته رسیدلې او له بله پلوه دفیودالیته ټولنی بنسټ دترلې پانګوالې مناسباتو په اثر پرته له دې چې نوې مناسبات ایجاد شی دسخت بحران سره مخامخ کیږي.

- نوې رادیکال، آزادي غوښتونکې او توأمیت غوښتونکې پښتنې پانګوالې مناسبات په لومړني شکل راپورته کیږي او دهند د مترقي طبقاتو سره خپلې اړیکې ایجادوي.

- دهند دنیمې وچې روښنفکر تشر د برتانوی استعمار د پرله پسې استبداد څخه له یوې خوا او دهند دلرغونې ټولنې دعنعنوي ټولنې

د روحي نهیلۍ شخړه دملي خوا متأثر دی.

- غني خان که دیوي خوا د پښتون ملت د تشکل نماینده شاعر دی یعنې د داسې دوران چې په هغه کې سپېڅلې، بورژوازي قوتونه د پښتنو د آزادۍ او ملي هویت جنډه پورته کوي.

- دغني خان په شعرونو کې رواني تيښته او فرار هم ليدل کيږي خو څرنګه چې نوموړی په عملي ډول د آزادۍ غوښتونکي غورځنګ شاعر دی، نو حماسي او انقلابي اړخ يې تر ټولو پياوړی دی.

- دغني خان په شعرونو کې انسان او انسانيت سره مينه او عشق هم مرکزي نقطه ده او د ليبنتني ټولنې د مثبتو کرکترونو اغيزه هم پکې شته دی.

دغني خان او عمر خيام دفکري جريانونو دپرتلې په باب

د «غني د شګو په محل کې» اثر کې په وروستي برخه کې په ضمني توګه دخيام دافکارو يادونه هم شوېده، ددغې برخې په باب ځينو دوستانو له ما څخه ددغې پرتلې په هکله دزياتو خبرو او بحث غوښتنه وکړه ځکه خو ددغې ليکنې کښلو ته هم اړ شوم. زما په هغه کتاب کې هيڅکله دغه دوه متفکرين سره يو ډول او ورته مقايسه شوي نه دي. د اثر

په یوه برخه کې راغلي دي :

" په دې بحث کې موږ د دې قصد او تکل نه لرو چې خوک د چا سره پرتله کړو او د دې تکل هم نه لرو چې په دې او هغه فکري طرز باندې نقد او کرتیک وکړو ....."

په بل ځای کې زیاته شوې ده : " له بله پلوه د خیام له شخصي ژوند څخه زیات او څرګند آثار نه دي راپاتې . د هغه فلسفي عقایدو په نجوم ریاضیاتو د هغه په نورو علمي تحقیقاتو انعکاس نه دی کړی بلکي یوازې او یوازې په رباعیاتو کې هغه خپل عقاید په څرګنده او یا نا څرګنده توګه د وخت د سخت مذهبي سانسور سره څرګند کړي او متعصبو کسانو د هغه په وړاندې عکس العمل هم ښودلی دی ....." (۲)

له پورته ټکو څخه جوتیږي چې موږ د پرتلې مسأله نه ده مطرح کړې او که مطرح شوې هم وي نو ضمني شکل لري او د دې د پاره هم چې مسأله د یو مکتب او مسلک په رڼا کې ښه روښانه شي . په دې د ول کله چې موږ غني خان یا دوو ، زموږ مطلب ترې تر هر څه د مخه د یوه مبارز او آزادیخوا شاعر یادونه ده ، او له دې هم انکار نه شو کولای چې عمر خیام هم د خپل وخت یو مبارز و ، په دې مانا چې د عمر خیام له پاره د مبارزې دایره ډیره تنګه وه ، هغه یوازې د علم او تجربې له لارې مبارزه کړې

(۱-۲) غني د شګو په محل کې (۷۷ - او - ۷۸) مخونه .

او دوخت دلا سبری ایدیولوژی پرضد یې کړکه سنودلی ده. خیام پنجوم پوه، ریاضي پوه اوشاعر ؤ اوهغه دګالیله په څیر، دعلم اومعرفت په خاطر مبارزه کړې ده.

احسان طبری لیکی: " په دی دول دخیام دوران داسی زمانه وه چې په هغه کی یوازې داشرافو نمایندګان او دزور دخاوندانو له هیبت نه دک هیأتونه په چارو کی دبری وسیله وه. په داسی له قهره دک اوبی رحمه دوران کی دیو ظریف حکیم سرنوشت روښانه او څرګند ؤ. " (۱)

نوموړی دخیام په باب زیاتوی:

" ریاضی پوه او خفه (تریو) منجم چې په ظاهر کی دضرورت له مخی، دحنفیت پیرو و په دغه (خپلو) زړه وړونکو اوله سوز وګدازه دکو شعرونو کی رڅیدلی او په ژوند اوښکلا باندې مین انسان

اوعاشق مسلکی اوښکلا پرسته انسان او

شکاک اوژور متفکر و. دهغه مسایلو عظمت

اوکلیت چې دانسان او دهغه

دعقل او معرفت اوسرنوشت

اودژوند دتکالیفو

---

(۱) برخی بررسیها وجنبشهای اجتماعی در ایران (۲۱۱) مخ.

په باب مطرح کیږی. دغه رباعیات یې د نسلو او پیړیو
له پاره نوی او تازه ساتلی دی.
په دی باب سره له دی چې خیام مبتکر او مبدع متفکر
نه دی خو د اسی جامع، شیوا او بلیغ بیان
لرونکی دی. دغه فلسفه چې په تمامه
مانا سره په تقدیر او د انسان په
مجبوریت (فاتالیزم) شکاکیت
او بدبینی او د لذت د
کیت تبلیغ کوی
په ټوله مانا د عصر
دلاسبری مذهب ضد و
چې دعوی ئې لوده ټول حقایق یې
کشف کړی دی او شرعی عدالت او الهی
قوانین یې وړاندی کړی او د انسان تکلیف یې
څرګند کړی دی، او نور څه کار نشته، پرته له دی چې
ګناهکاران او خرابکار معلوم شی، یو په اورکی وسوزی او بل له نعمتونو
څخه ګټه واخلی. د حنفی او حنبلی فقها وو له سادګی ډک خوابونه چې
د انسان د ژوند غوره سوالونه ته یې ورکول خیام یې نه خوشالاوه، بلکی هغه

دبشرله دره ډکه زره نغمه دخپل جادويي طنبور سره غږوله . دخيام فلسفه په مشخص دوران کي، مترقي فلسفه، او د مقاومت مظهر او د پوهانو دغوره روحي اپوزيسيون مظهر وو، په هغه دوران کي په هان او دعباسي او سلجوقي اشرافيت پر ضد ."(۲)

د پورتنيو خو ټکو په رڼا کي بايد دا هم وو وايو چي د عمر خيام له پاره د خپل وخت د فعاليت دايره ډيره تنګه او کوچني وه . د هغه په شرايطو کي يوازي د علم او پوهي په خاطر مبارزه ، مبارزه ګڼلي شو، خو د غني خان دژوند په شرايطو کي د مبارزي ضد استعماري او ضد انګليسي خصوصيت ډير پياوړي او څرګند يږي .

موږ د عمر خيام د مبارز کرکتر څخه انکار نه شو کولای او نه هم په ټا کلي موار دو کي مطلق حکم کولای شو بلکي پيدي برخه کي اړه ده ټول شيان نسبي وپلټو او په نسبي ډول يي مطالعه کړو.

---

(۲) (۲۱۲ - ۲۱۳) مخونه .

پوهنیار لطیف بهاند

د اجمل شعر ته یوه کتنه

زموږ د زماني یوه ښتیني شاعر د اجمل د شعر په باب لیکلي دي:

"د اجمل شعر د افغانستان د سرکش طبیعت عظمت، د آمو او اباسین مستي، زموږ انقلابي ټولنې لړګړی او د باګرام د ترکوله افسانوي ښکلا او ځلا سره اخښلي او د نوي دوران د تغزل داسې ماڼۍ یې ترې جوړه کړې ده، چې په پښتو شعر کې ساری نه لري، او د بل هیڅ شاعر لاس نه دی ور رسېدلی.

هغه وخت چې موږ نه یو او اجمل نه وي د پښتنو راتلونکي نسلونه به د هغې ستري مجسمې لمانځنې ته د تعظیم سر ښکته کړي، چې اجمل د خپلو تودو شعرو نواو انقلابي سرودونو له خښتو او د برو څخه دړولې ده.

د پښتو د شعر او هنري ادبیاتو مینان وظیفه لري د اجمل خټک شعرونه ولولي او د ده د ستر هنري استعداد او بې سارې شعري قریحې د ښکلا او قدرت ګټه واخلي."

دغه د شعر هانی چې د (غیرت چغې) او (وخت چغې) ځنې جوړ شوې او د (ژوندفن) یې ملګرتیا کوي، د ځکول په غاړه (باګل) د معصوم ارمان د تکلونو سندرې او فریادونه په ژبه لري، څو د رارسید ونکې باغچې د ګلونو په اننګي پر هر ونه وینې. دلته خبرې په هغه شاعر دي، چې دوه مره زموږ په تولنه کې پیژندل شوي دي چې شهرت یې موږ د پیژندلیک د لیکلو په برخه کې له لیکنې نه بې نیازه کوي.

داجمل نوم زموږ په نسل کې د مبارزې، تینګار، میړانې او پښتونولې سره مترادف شوی دی، دومره چې زموږ په تولنه کې روښنفکر قشر څه کم یو نسل پر خپلو ماشومانو داجمل د نوم اینښودل یو ابتکار ګاڼه.

زموږ په تولنه کې ډیر داسې کسان شته، چې له هغه چې داجمل په شعرونو او لیکنو پوه شي او هغه په زوره او دقیق د ول سره ولولي، په هغو مین دي، که څه هم د هغو په پرتم به نه پوهیږي. دا باید په داګه وواېو چې دی د پښتو انقلابي شعر د مخکښانو په دله کې مبتکر شاعر دی او د هغه د دغه نوښت اغیزه لکه هغه شان چې په خپله شاعر غواړي ده هیرولو نه ده.

اجمل هغه شاعر دی چې په خپلو شعرونو سره یې د رارسید ونکو منزلونو لارې پرې کولې او د نادودو هغه غږونه یې په خپلو فریادونو او ننوتل چې نور یالو او شپې ساتونکو ده د تولنې د انسان په ورانده د رهي لي وو، هیڅ یو شاعر تر یوه وخته داجمل هغه توان نه و پیدا کړی چې هومره په رښتینولۍ او ځواک سره د خپل زمان د بدلید ونکې روح پیدا کړي او هغه شان انځور کړي چې ده به کولو:

داماحول چي حسرتناک دی | يوخوندناک منظر به راوړي
داتوږتم چي راخور شوی | يوتک سپين سحر به راوړي
داازغي ازغي صحرا به | ټول نازک نازک گلان شي
داسپيره سپيره ماحول به | همگي ودان ودان شي
داتياره چي راخوره شوی | دسحر دعلامو دی
دسيلي غوندي چپيړي | سبکلي زيري دوږمودی

(دغيرت چغه، ۱۷۶ مخ)

بالزاک چي دنړۍ دريالستي داستان ليکني پلار بلل شوی دی، ويلي دي:

«هغه کار چي ناپليون ونه شو کړای په توره سرته ورسوي، زه به يي په قلم سرته ورسوم.»

او هغه څه چي په زمونږ کي مردکو او اربلوونکو بمونو ونشو کړای داجمل شعرونو په خپله خوښه سنګرغاړي کړل او د استبدادمخي ته يي وردرول او داکار داجمل نظمونو کاوه.

داجمل په شعرکي چي مضمون هرڅومره هراړخيز تعبيريږي او پېنګار پېري کيږي، يا په بله وينا داجمل شعر چي هرڅومره هراړخيز دی، خود هغه په هر اړخ دی دهغه د ټولو آثارو په هر اړخ کي ديوه نه کړيدونکي ابدي فرياد انګازې په پرله پسې اونه ستړيدونکي اونه چپيدونکي توګه خپري دی او هغه دخلاصون او (آزادۍ) فرياد دی:

دآزادۍ شهيده، دآبادۍ شهيده | ديراحترام واخله، نوی پيغام واخله

دخپل ناموس دپاره تا مال او سر ورکړ
داستعمار گولی ته دی خپل تټتر ورکړ

دشهیدانو خانه ! ای دنړانو خانه
سلام دقام واخله نوی پیغام واخله

(گل پرهر ۳۳ مخ)

اوله همدی کبله دی تل یو هستور بیت شاعر دی. یعنی دخپل وطن خلکو او جنبش تاریخ لیکونکی. دهغه په شعر کی دده دملت په گته دتاریخی ځانگړو پیښو رنگین تصویرونه چی دلماغځی ورډی له ورایه څرگند دی، چی دو پښن زلمی سنډره، دکوچی سنډره، سپرلی، براس، گوجر، ځواب او ځینی نور هغه پرتو ددغه راز پیښو ښتینی انځورونه دی.

دشعر په ډگر کی زیاتره شاعران خپل هنری از مایښت له سانتیمانتالیزم دمینی او احساساتو او دښکلا له حیرت نه راپیل کوی، خو ریالیزم ته رسیږی، خو اجمل په شعر کی دشعر په بی پایه ډگر کی دخپل فطرت او تولنیز ماحول دغوښتنو ژوری پیژندنی او دوخت دتقاضو له مخی دعمر دلوړ ژورو او دزندان دتورو تمبو تجربو او ترخونه، له هماغه پیل نه خپل شعر په یو دول تغزلی حماسی بیان سره وړاندی کوی او دسوچ ریالیزم تر پولو پی داسی رارسوی چی خپل تصور او شعری بیان دهغو دوراء په توگه ورسره ملگری کوی:

په ماچی تل بلیږی دلمبو نه می خبر کړی   په ماچی دلته کیږی دی قیصو نو می خبر کړی

خبري به دردونو د دې خپل سوي ګوګل کړم
زما په غم شریک دی چې یو او ورور باندې بل کړم

چې جوړې یې ګنبد کې د تا ودونو غلغلې کړم
چې بیا یې په ګونو کې برسیره زلزلې کړم
چې وشلوي لحد او کفن خیرې کړي ګویا شي
پښت سترګې زمانې ته په غصه شي په ویناشي

زما د روح د پاکو تقاضونه یې خبر کړي
د دې پردې لاندې زلزلونه یې خبر کړي

(غیرت چغه - ۱۹۸ مخ)

" د استاد ختک د اولنی دور نظمونه له وطن او قوم سره، دیوې لیونی مینې راویان دی، او دده خیره ترې دیوه سپیڅلی وطندوست او اولس دوست په توګه راڅلیږي. په دې نظمونو کې وطن او اولس د ختک دوې داسې معشوقې دی چې دهغو د تر لاسه کولو، سینګار ولو او جوړ ولو له پاره په هیڅ نه دی بند، هر څه او هر څه له دغه سپیڅلی هدف نه قربانوي." دی په داسې مهارت په نوی دول، بې له هغه چې کوم ځانګړی قالب په پام کې ولري، خپل دغه ارمانونه را سپړی، لکه:

په لاس کې زنځیرونه او په پښو کې زولنی دی
په سر مې ټوخ زخمونه، په سینه مې سرې لمبې دي

روان یم جیلخانې ته

خیبره دلوی سر په سترګو وګوره نن ماته
نازه بین بچی وکوری خوار وزار پاتی دی شاته

روان یم جیلخانی ته

ولاړ دا ستا په ننګ یمه په خپلو وینو رنګ یم
هر څه تر پښتونخوا شه زړې مینه کی ملنګ یم

روان یم جیلخانی ته

یاران می په لیدو راته خپه شی او ترسیږی
له ویری غلی غلی راته ګوری خپه کیږی

روان یم جیلخانی ته

زه مست یم د تورو زولنو په شرنګا شرنګ کی
څه زیری اوریدی شی د زنځیر په هر یو ګړنګ کی

روان یم جیلخانی ته

په وچو شونډو می خوږه خوږه مسکا ده
لیلی د ارمانونو می په خیال کی په ګډا ده

روان یم جیلخانی ته

تیره وکی بلوم د خپلو وینو مشالونه
هله وکی سولومه ، ماتومه زنځیرونه

روان یم جیلخانی ته (۳)

اجمل تل یو حماسه بول شاعر پاتی شوی دی، هغه په ختهه او عمل کی او د شعر په نوبت له مخی سره خپل تول تخیل نه لیریک شاعر پاتی شوی نه دی، بلکی د هغه په شعر کی حماسی زړی تیغی وهی، لوبږی، غوږی کوی او ثمر ته رسیږی په دی توګه د هغه شعر اکثراً په تغزل کی هم ایپیک پاتی شوی دی، که څه هم د هغه زیاتره شعرونو کی په لیریک شعر کی عاشقانه احساسات څپی وهی، خو په هماغه حالت کی د سمبولونو په مرسته پاخیدنه، خوځیدا مندړه، تکل، او سرکښتی په خپل سر سراپا سی:

چی ناڅاپه هغه زلفی یاد ته راشی | دماحول توری تیاری په ما رڼاشی
چی د ګل د عشق په سترګو ورته ګورم | دا تیره تیره ازغی راته موسکاشی
درد په مینه کی د وصل یو لمحه ده | خو چی شکلی غوندی یادیکی پیداشی
د زړه ګله په ازغو کی مړاوی مه شی | داتیاری وایی چی زر به سپین سباشی (۴)

که څه هم په نورو ژبو کی اکثراً خوږ اتغزلی او رومانتیک شاعران تل خوږ رومانتیک شاعران پاتی شوی دی، خو اجمل په هغو شاعرانو کی راځی چی له خوږ رومانتیکو الی او تغزل والی سره سره په تغزل او رومان کی تولنیز او هستوریک .... شاعر پاتی شوی دی، ژوند او تصور سره سره هیڅکله بیل نه دی، بلکه څنګ په څنګ او ګام په ګام سره روان دی:

راخوری نن زموږ په دی کلی خپل او ربل کړه | داتول سومال ی خورا آته په عطرو کی بدل کړه
څوک زغلی میخانوته څوک ګلونو پسی ګرځی
ته سترګی دی راواړوه قسمت زموږ بدل کړه

دګل شایسته کوکی سره لمبی کله جوړیږی

ته سترګی رانیژدی کړه ورته دا مسأله حل کړه

ازغو پرزوروړلی دی غوټیو زیرولی

پسرلیه ! چی راځی نو دا ختلک د سره مل کړه (۵)

په نورو اکثرو ژبو کی شاعران د تغزل او رومان له عاطفی سیند نه په تیریدو سره تولنیز درشل ته رسیدلی دی، خو اجمل د تولنیز او یا غیتوب له سختو او مرګنیولو ځورونو تغزلی ژوری او سوځیدونکی مینی ته رسیدلی دی:

د پرخی په ژړاکی د ګلونو سره خنداده

دنیا په غم لړلی وی، خو دیره یی ښکلاده

غوټی ښنه لوښته کی په سرو شونډو راته خاندی

دښی په دې تیاره کی مو په زړه ځکه رڼا ده

غتاڼ وایی چی برخی د قسمت دهرچا خپلی

هم دوی یی راته وایی چی د لمر رڼا د چا ده (٦)

اجمل روڼ فکری شاعر دی، خپله هستی یی هرار خیزه پیژندلی نو ځکه کله کله داسی کیږی، د هغه له شعرونو داسی ښکاری چی ګواکی د پیرونو دردونه او غمونه په یوه بیت کی رانغاړی او په هر توری یی بیا بیا راڅرګندی کیږی او د پوهانو د خبری له مخی تاریخ هغه چی د ملتونو ده په ملتونو او هغه چی تراژیدی ده، په تراژیدی توګه تکراره وی. خو په دی توپیر چی

د پیړیو تراڅېرېدې خپلو نه ورسته ، ځواب ورته پیدا کوي :

پیښور دی او که کوټه زما کوردی

که کابل که کندهار دی زما ورور دی

هر غاصب چې دی کې خندا اچول غواړي

که دلوردی که دبر دې مخ یې تور دی (۷)

په همدې باب چې اجمل خټک د تیر مهال اړیکي په قانون منځ ته کړه

اوس مهال او ننني ژوند سره په غوره توګه نښلوي ، زموږ یو پیاوړی محقق لیکي :

« اجمل د پښتنو د زړو ارمانونو ممثل ، د دوی د مړاوو او ځپلو غوږ نګونو

ژوندی کوونکی او د پښتني تولنی د تولنیز روح او احساس پېژندوی ګڼل

دی په نوی ژبه او نوی دول د قوم مړ احساس راخوځوي . د خوشحال خان د کهاله

د ادبی روایاتو حامل دی ، د خوشحال خان جاویدانه نغمه اوس اوس د پښتو نخوا

په فضاکې د اجمل په رباب انګازې اچوي . (۸)

زما قلم د خوشال خان میراث دی ننګ به لیکي

د ایمل خان د تاترو د وینو رنګ به لیکي

زما قلم می د بابا قلم دی پت به لیکي

د میرویس خان د پښتني میراث غیر به لیکي

زما قلم د خپل وطن د ناموسونو امین

دی به د ملک د غاصبانو په سر جرګ غوړځوي

زما قلم د خیبر څوکه د پښتو امانت

دی به د ملک د توتمونو په څنګ پر غوځوی (۹)

دا هغه هنرمند دی چې په شعر او نثر کې پوره لاس لري، خو د هغه شهرت زیات، د هغه د شعر منت دار دی او نازیږي هم شعر په سر اخلي، د هغه د شعر شهرت نه یوازې د معنی او قدرت په ځور والی کې دی، بلکې په هغو فورمونو کې هم دی چې دی یې نوي جوړوي. دی هغه شان شاعر دی چې وی یې کولای شول فورمونو او زړو کالبونو ملا او کړي او په داسې حال کې چې زیات شاعران او د زړو پلویانو په هماغو زړو کالبونو باندې دیوانونې منلي دول د زړه تسل کاوه وهات کړي، او په دې توګه ولیښو، دا هغه شاعر دی چې په پښتو شعر کې یې د معنی شکل او دول نوي والي یو ځای سره راوړل، هغه وچې د زمانې کوکې او سوې نارې یې واوریدې او د وخت غوږ ونه یې تاو کړل او د شعر محتوا یې د تولنیز بدلون سره ګام په ګام یوه کړه او پوه شو چې نوی محتوا نوی قالب غواړي، نوې ژبه غواړي او نوی زړورتیا او دلته د هغه شاعر خبره، چې د بنسټ ایښودونکو شاعرانو په باب وایي رښتیا کیږي: «د هغه دله شاعران تل ژوندي شاعران دي، دوی د هغو دودونو ماتونکي دي چې د زمان ارتیا ورپوره کولای نه شي».

اجمل په لومړي سر کې دا کار د تولنیز سمبولیزم له لارې، د سمبولي مانیدو له لارې او له احتیاطي تجربې سره یو ځای کوي. د ده بریالیتوب په دې کې دی چې د ځینو نورو بر خلاف د زیاتو تجربو په راولو سره تصنع نه کوي، بلکې په مهارت او هنر سره د طبیعت او تولنې نه د خپل هنر او د ضرورت وړ مواد را اخلي، نو ځکه یو

محقق دده په باب لیکی:

"په پښتو کی د نویو اشعارو خصوصیات دادی چی زوړ طرز تفکر لکه دروغجنی مبالغی، په خیال کی تردووغوږونو دوسبیل، غوږه مالی او مداحی، غیر منطقی استعاری او داسی نور پوچ مطالب شړی او نه یی منی، بلکی ددی په ځای دژوند روان واقعیتونه ترسیموی، تبصره دربانډی کوی او تعبیروی."

داجمل دغیرت چغه چی دپښتو دنوی شعر یو دیر ښه مصداق دی د پښتنی معاصر ژوند رښتنی ممثل او بشپړ مصداق بللی شو، هلته چی اجمل د نواب صاحب غزیږی او په هماغه ځای کی دیوه پښتانه شاعر هیلی ښکاروی او بیا هلته چی دخیبر دشپونکی ځخه دشپیلی په لغو خبری کوی، غواړی چی محیط منعکس کړی." (۱۰)

تول باغ داستا په حسن او زما په مینه رنګ شو
رقیب یی سره لمبو کی غوزوی دومره تری تنګ شو

زه وایم دادنیا دی یو وفا شی مله مینه
دده په زړه کی غلا ده ځکه ماسره په جنګ شو

که تورږدو اوکه سپین ویښته یی تول یو نغمه کړل
چی سور زموږ دمینی دتارونو نوی چنګ شو (۱۱)

زموږ د زمانی ستر ادب دوست او پښتو مین همیش خلیل دده د نویو نوښتونو په باب لیکی:

"د اجمل ختک ژوبل احساس، تازه پرهارونه او ګرمه وینه چې راولړیږي نو د انسانیت د ذلت او غفلت در دیدونکي وېده جذبات راوخوټیږي، وخوځیږي او ودیږي، د غه تخلیقي او شاعرانه دماغ پښتو ادب ته یو نوی خیال او نوی جهان ور وبخښلو ....." (۱۲) د دغو حضور ښتیا والی د غیرت چغه د هر بیت په هرې کلمې، ترکیب او بیت کې بې تبلیغه څرګند دی.

د هغه د شعر قوت په دې کې دی چې هر زور ور انوی او د هغو ظلو په ورانډې چې جبر او استبداد جوړ کړي دریږي، نه یوازې هغه ته د ظالم په شان د پښتو سترګو د رناوی نه کوي بلکې لاړې هم ور تو کوي او د پر مختګ سندرې غږوي.

کلونه کلونه بخوا زموږ یوه نامتو کره کتونکي د اجمل د شعر د دغې ځانګړتیا په باب ولیکل:

"اجمل ختک له بلې پلوه د دوارو فلسفي او سیاسي تجدد طرفدار دی او اکثر د خرافاتو سره د مبارزې په حال کې لیدل کیږي. فلسفي استدلال د شعر یت مرحلې ته رسولی او هغه یې د سیاسي در د سره ګډ کړی چې یو د ټیوس یې مثال دی." (۱۳)

یو ټیوس

څه وکړم ځان ارانه انسان ښکاري   د انسانانو نه پوښتنه کوم

اول د خولې ما تیده امن غوارم

بیا د غټانو نه پوښتنه کوم

زما جونګړی کی چی دیوه ملبه شی
ستاسو په زړونو داتیاړی ولی شی؟

چی زه دبار دلاندې سا اخلمه
دستاسو وچولی تراوه ولی شی؟

که زه دبدی وړ چی هم خاندمه
تاسو په خپله کی غمژن ولی شئ؟

چی زه دلوږی نه اپلتی ولم
تاسو په ما باندی شکمن ولی شئ؟

چی موږ ه وږی سره ناست وو ینئ
مرو په تاسو زلزلی ولی شئ؟

چی زموږ خولوکی ژبی وګرځیږی
ستاسو انګړکی غلبله ولی شی؟ (۱۴)

" دده د غیرت چپی په ټولو اشعارو کی یو انقلابی شور او د موجودو ټولنیزو موسسوسره یوه نه آشنا کیدونکی جګړه روانه ده . د اجمل واقعیت دغنی تر هغه ښکلی اولړزوونکی دی، خود غنی واقعیت د اجمل تر هغی ډیر واقعی دی . اجمل د مبارزی په حال کی دی ، خو غنی داسی ښکاری لکه چی جنګ یی ګټلی وی او پایی بایللی وی او اوس د خیر په غونډۍ ناست وی او په ډیره بی پروا لهجه مسخری ور باندی کوی . دغنی خان ښناری که ولولی نو به متوجه شی چی دا به یو داسی شاعر کښلی وی

چې د اردو ویونکو او دوکاندارانو لخوا ته سخت متوجه او شعر ته یې ډیر وخت لاره ، حال دا چې اجمل په اشعارو کې موږ ته د داسې مبارزخیره ښکاریږي چې یومهم پیغام په بیړه موږ ته اوروي او ډیر یې زړه کیږي چې موږ وپاره وي. په لنډه ډول ویلې شو چې اجمل د فکري تمرکز ...... طرفدار دی." (۱۵)

اولسه

اولسه ! د جنت هسې وطن په لمن خوره
په غرونو په سیندونو دړوندلن تنګ وتکوره

آسمان کې دې ګلونه اوري دستا همت دی
که څکه دې سره زر دا ستوکوی ستا برکت دی

که حسن دې شودی که ښکلایي د دې خوده
غاړه یې د استاوینه ده خلا ستاد خولوده

سندرې دې آبشار دی که نغمې یې دولودی
خواره د زیروبم یې ستاد پاکو ولولو دی

اولسه ! د جنت هسې وطن په لمن خوره
په غرونو په سیندونو دړوندلو تنګ تکوره

دا مرقوت او هره ښکلا ، هره رښا ستا ده
خو بیاهم ستا په برخه کې نول دی اوسزا ده

اجمل په شعر کې ، د شعر لوستونکی له داسې تصویرونو ، داسې خیالونو ، داسې

ترکیبونو او داسی صنعتی سره مخامخ کیږی چی یوازی او یوازی د اجمل په شعر کی پیدا کیدای شی او بس. دا ځکه چی اجمل په شعر کی سوداگر نه دی، دوکانداری نه کوی، لکه هغه شان چی ځینی نور تش په نوم شاعران یی کوی، او علت یی هم دا دی چی هغه په خپل شعر کی د شعر دوران یووالی ساتی، تناسب او انډول په پام کی لری او کله کله خو د خپل شعر جادویی او کودگر روح هغه سرحد ته رسوی چی گواکی غواړی د یو ملت روح چاڼ کړی، هغه هم د پښتون ملیت، نو په ځای دی چی زموږ یو تم مهالی پېژنی لیکوال په لیوالی مینی سره دده په باب لیکی:

"هغه هدف چی د اجمل په مخکی پروت دی، نه شو کولای د کوچنیو ترسیدلو نکو آرزوگانو په کتار کی یی راولو، د هغه آرزوگانی د ځینو متکلمو شاعرانو د غوښتنو سره نه شو مقایسه کولای چی د نامعلوم عشق په اور کی سوځی او یا د نیار له فراقه چیغی او ناری وهی او ژوند ته په سرسری نظر گوری. د اجمل آرزو ډیره ستره او د ټولو پښتنو آرزو ده." (۱۶)

نو ځکه د اوسنی لیکوالی د کتاب مولف ستر شاعر او لیکوال عبدالرؤف بینوا لیکی:

"ملا علی اجمل ختک د پښتو د اوسنی ادب هغه ځلانده ستوری دی چی دده ځلا نه یوازی د پښتو د شعر او شاعری په رڼا ورزیاته کړی ده، بلکی د پښتنو والی هغه فطری برېښ یی هم صیقل کړی دی. په کوم پوری چی د پښتنو موجودیت تړلی دی." (۱۷)

ای زما خوږ وطنه، زما ځانه، زما تنه!

ستا د خاوړې په ګلونو ښایسته جونو مې سوګند

ستا د غېږې په خېلونو زمېړونو مې سوګند

یا به ستا پاکې سینې نه لرد جبر دا دیوان کړم

د پښتنو پاکه وطنه ستا ولس به په تا خان کړم

یا به نوم د پښتنو خاورکړم دغیرت دنر د ګرکی

چې دا پاک نوم پاتې نه شي د بې ننګو په دفتر کی

ای دلوی پښتون عظمته زما ننګه زما غیرته

اجمل په شعرکی ، په ترانه کی او په خپلو سوو فریادونو، اوکوډ ګړو زمروکی هیڅکله له نیهیلستی افکارو سره مخامخ شوی نه دی، هغه هیڅکله بې ارمانه او نا امیده نه ده، هغه په ډېرو نا امیدو شیبوکی امیدواره دی، د هغه خیالونه او افکاره کیډونکی نه دی، نه یوازې داسې نه ی بلکې هغه داسې چاپیریال د نا امیدی او بې ارمانی ښوونکی دی چې له لارې کوڅونه یې د تباهی او راپرزیدو غږ اوریدل کیږی هغه په ورانوکنډوالو باندې ناست بلبل دی د وحشت او بربریت په وړاندې د خپل قام او ملت نا امیدی دا شعارونه او کنایو په جامه کی د تاندوالی او ثمر او رڼوکو هیلو په ښه بیانوی.

چې ناڅاپه هغه زلفی خیال ته راشي

د ماحول تورې تیارې په ماریاشی

چې د ګل د عشق په سترګو ورته ګورم

دا تیره تیره ازغی راته موسکاشی

درد په مينه کې د وصل يو لمحه ده
خو چې شکلې غونډې ياد پکې پيدا شي
دزړه گله په تيارو کې مراوې مه شه
دا تيارې وايي چې ژر به سپين سبا شي (۱۸)

«هر هغه شعر د زياد پاينبت درلودنکی دی چې موضوع، بنسټ او غوښتنه يې دخلکو دغوښتنو پر بنسټ او يا دهغوی د معنوی نړئ پر بنسټ ولاړه وی او له دوکه ماره خيالونو نه لری وی.» هوکی داجمل خټک له شعر دوکه لری ده، هيله ده چې همداسې لری پاتی شي او هغه څه چې زموږ بيا وره او نامتو ادب پال گران زلمی هيوادمل دهغه دشعر او ژوند په باب ليکلی، همداسې پاتی شي، هغه ليکي:

« استاد خټک دخپلی مبارزې په دوران کې دخپل ژوند هر څه دی لاره نه وقف کړی دی. د ده د ژوند قصه ننگ دی او غور ځنگ، ژبه يې دننگ او غورځنگ ترانې وايي، قلم يې په همدې نيت چليږی چې څه کوی او يا څه ليکی، يا څه وايي، هغه دننگ په محور چورلی او دايي هم دژوندانه او مبارزې عمده هدف او دشعر او احساس اساسی مضمون دی.» (۱۹)

او د شاعر خبره، دا « د رنل شوی او جوړ ل شوی پښتو شاعر» چې په ټيټو تيارو کې يې د زړه له وينو مشالونه لگولی دی، هر شعر يې، هره ترانه او هر غزل ديری ژلی غږ اد ی او خبری خو موږ خبری دهغه په دی صدقه ر النده و :

که ږیږگی می لاله زار و د داغونو

په خندا دی گلدسته کړو د گلونو

پري خوارهٔ خوار ، غمونو غلطیږی

صدقه شم له تر خوتر خو یا دونو

تصور د چا د زلفو راته پروت دی

جگی جگی تنها شپو اوږدو وختونو

مأخذونه

۱- ختک، اجمل- گلونه تکلونه دولتی مطبعه- ۱۳۶۲ کال د مخ

۲- ختک، اجمل- گلپرهر دولتی مطبعه ۱۳۶۴ کال د سریزی ۶ مخ

۳- هماغه اثر ۴ مخ

۴- هماغه اثر ۱۱۸ مخ

۵- ختک، اجمل، گلونه تکلونه دولتی مطبعه ۱۳۶۳ کال ۲۱ مخ

۶- هماغه اثر ۳۹ مخ

۷- گلپرهر ۱۱۷ مخ

۸- حبیبی پوهاند عبدالحی، په پښتو او سنی شعر کی د نوی ژوند نخچی، ۱۳۶۰ کال ۹۶ مخ

۹- گلپرهر ۸۵ مخ

۱۰- زیری جریده، د افغانستان د علومو اکاډیمی تنظیمی ارگان، ۱۳۶۲ کال ۴۴-۴۵ گڼه

۱۱- ختک، اجمل   غیرت چغه   ۱۰۳مخ

۱۲- کابل مجله   پښتو تولنه   ۱۳۴۱ کال   ۶ گڼه   ۲۷ مخ

۱۳- دګلونو ټکلونو   ۸۸ مخ

۱۴- همیش خلیل   پښتانه لیکوال   ۱۹۵۸ کال   ۳۱۷ مخ

۱۵- کابل مجله   پښتو ټولنه   ۱۳۴۱ کال   ۱۰ گڼه   ۱۹ مخ

۱۶- دغیرت چغې   ۷۹ مخ

۱۷- کابل مجله   پښتو ټولنه   ۱۳۴۱ کال   ۱۰ گڼه   ۱۹ مخ

۱۸- دګلپرهر   ۷۹ مخ

۱۹- کابل مجله   پښتو ټولنه   ۱۳۵۴ کال   ۸ گڼه   ۷۹ مخ

۲۰- کابل مجله   پښتو ټولنه   ۱۳۵۴ کال   لومړی گڼه   ۵۱ مخ

۲۱- بینوا عبدالرؤف   اوسني لیکوال   لومړی ټوک   ۱ مخ

۲۲- دګلپرهر   ۱۱۸ مخ

۲۳- حبیبي، پوهاند عبدالحی   په اوسني پښتو شعر کې دنوي ژوند څپې ۱۳۶۰ کال ۲۱ مخ

۲۴- دغیرت چغې   ۱۵۱ مخ

۲۵- میترا، دکتر، ریالیزم و ضد ریالیزم در ادبیات، تهران   ۱۱۷ مخ

۲۶- دګلپرهر   سریزه .

ګډې ورې
د
خان عبدالغني خان پوه لیکچاپی اثر

خان عبدالغني خان د پښتو او سنیو ادبیاتو یوه وتلې څېره ده، ده په نظم و نثر کې پښتو او سنې ادب ته څه داسې څه ورنخښلي دي چې بنیادي ډېر لږ او سنیو پښتنو ادیبانو خپلې ژبې او ادب ته وړ دالی کړي وي.

د خان ادبي منظوم او منثور تخلیقات زموږ د معاصر ادب د بنیارزه بې بنکلي ګل غوټۍ ده دی او هم زموږ په ادبي آثارو کې د منفرد و خصایصو لرونکي!

د عبدالغني خان ادبي ایجادیات له څه کم شپیتو کلو راهیسې د شمال مغربي سرحدي صوبې او د هند د ېنمي وچې په نورو نشریاتو کې په متفرق ډول چاپ شوي دي. د خان کوم کتابونه او شعري مجموعې چې تر اوسه مستقل چاپ شوي دي هغه د ده ټولې ادبي نمونې نه رانغاړي، بلکه د هماغه زمان د ډېرو موقوتو خپرونو په پاڼو کې یې منظومې او منثورې ګران بها ادبي مرغلرې موندلې شو. د غه مرغلرې ټولول او سره پېیل غواړي

او د پښتو د نوي ادب د بنګلي ناوې غاړې ته ور اچول.

دا دی په دې لړکې د شمال مغربي سرحدي صوبې له پښتنو ځځه یو ځوان پښتون راولاړ شوی او د پښتون له رسالې ځخه یې ډګړ يې وړی. ترسرلیک لاندې د عبدالغني خان ځپاره شوی منظوم او منثور ادبي ایجادیات راټول کړي دي او همامخه د «ګهې ورې» ترسرلیک لاندې یې د پښتور یونیورسټي د پاکستان سټډی سنټر د «پاکستان» نومي مجلې د ۱۹۸۲ کال د پسرلي په ګڼه کې چاپ کړي دي. د رسالې مرتب، محشي او مقدمه لیکونکی افتخار حسین دی.

رساله د مجلې په معموله قطع او صحافت په ښه قطع او صحافت چاپ شوې ده. د رسالې ټول مخونه ۱۵۲ دي، د پیل په ۱۱ مخونو کې د ټولونکي او محشي مقدمه راغلې بیا په دریو مخونو کې د پښتون مجلې هغه ګڼې ښوول شوي دي چې د دې اثر مطالب ځینې اخیستل شوي دي او د رسالې په ۱۳۸ مخونو کې اصلي مطالب پیل شوي دي.

د کتاب په مقدمه کې مدون کښلي دي: «ما په پښتون رسالې دایم فل M. Phil تیسز THESIS لیکل. چونکه دې باندې وخت په وخت پابندۍ لګیدلې وې او کړې یې شلیدلې راشلیدلې وې نو دې موندل ماته ګران وو. دغه سلسله کې مشوره دې د پاره پروفیسور محمد نواز طایر صیب له تلی وم چې هغوی ماته وویل چې زه هسې هم په دې رساله کار کوم نو چې د لیونی فلسفی

ګډې وډې ترې راټولې کړم چې پښتو اکېډمۍ يې چاپ کړي دغه ګډې وډې مارا ټولې کړې او طاير صيب ته مې حواله کړې، خو د فنډ د کمۍ په وجه د دې په چاپ کولو کې تاخير کيدلو نو ځکه ما د خپل د اير کټر ښاغلي ډاکټر محمد انور خان صيب سره مشوره وکړه او هغوی د دې د چاپ کولو ذمه په سر واخيسته، که زه دوايم چې دا ګډې وډې راغونډول ډير ګران کار وو نو بې ځايه به نه وي ځکه چې يو خو رسالې نه پيدا کيدلې او بيا پکې دا ګډې وډې لټول : خوادبې ميني دا کار سرته ورسولو .

پښتون رساله دمې ۱۹۲۸ نه تر اول اګست ۱۹۴۷ ع پورې شايع شوې ده . دې کې به عبدالغني خان غني دليونې فلسفي په نوم ډير ښه طنزيه، مزاحيه او تنقيدي مضامين او اشعار د ګډې وډې عنوان لاندې ليکل . "

په دې توګه مدون ځينې خبرې د کتاب د تدوين او د دې کتاب د مطالبو د ټولولو په باب کښلې دي، چې ماې خه برخه لوړه وليکله .

د رسالې مطالب ټول د پښتون مجلې له پانو را اخيستل شويدي د رسالې يوه کافي برخه نثر ده ، د خان منظومات هم پکې خوندي دي ، ځينې داسې ټوټې هم پکې شته چې نظم او نثر دواړه پکې راغلي دي .

د رسالې راغلي نثرونه د محتوی په لحاظ انتقادي روحيه لري او د اجتماعي انتقاد ډيره غوره مفاهيم يې په مزاحيه الفاظو او د ادبي طنز و نو

په بڼه وړاندې کړې دي .

په نثرونو کې يې ځينې کوچنۍ قصې هم شته چې موږ يې په ادبي خپرونو کې د ټوکو په نامه يادوو او ځينې طنزونه او انتقادونه يې داسې دي چې مطالب يې په حکايوي بڼه وړاندې کړي دي، په دې حکايو کې د جامعې ځينې مسلط اجتماعي او سياسي جريانات انتقاد شوي دي .

د دغو نثرونو ځينې نمونې دا دي :

لومړۍ د ول لنډۍ قصې د ټوکو په بڼه : يوسړي زوی ته په نصيحت ستړی شه نو په غصه يې ورته وويل :

پلار : ته زما نصيحت په يو غوږ اورې او د بل نه يې اوباسې .

زوی : دې د پاره خو خدای دوه غوږونه راکړي دي .

دوهمه نمونه :

نو بر خوردار ه ! که شاعري سره دې شوق وي نو اول خو ځان له يو زور او ر نوم خوښ کړه که خپل د ماغ دې نه رسي نو د هندوستان د چا شاعر نه قرض واخله . دا نن سبا عام فيشن دی او شرع کې څه شرم ؟ بيا پر دې بيتونه ليکه او کسه يکې خپل راوله . لږ شان سترګې کلکې کړه نو ګټه به او کړې .

چې لږ ه شان تجربه دې زياته شي نو بيا پر دې بيتونه راخله په بنې لا سونه ورله ما توه ، غوږونه پوزه ترې پرې کوه او په آخره کې د خپل ځان

صفت کوه او لوستونکي ته نادان یا بې وقوف وایه دا د پوخ شاعر نخښه ده که
سبق دې ویلي وي او په اردو پوهیږي نو بیا خو معامله بالکل آسانه ده
بس د خلقو بیتونه سره د وژنونو ترجمه کوه او وهه راکاږه !

د رهمیه نمونه :

وایي چې پخوا زمانه کې یو لوی زبرګ سړی وو، او د هغه یوه مېږه وه
دا مېږه به دده سره په ځنګل کې اوسیده او ده ډېره په مینه ساتلې وه. د وخت
یوه ورځ یو پښا پیش چرته راښکاره شو، او مېږې ته یې د خپل ایدار په ستر
وکتل، مېږه په یوه کړاړه د زبرګ خلکي ته ننوته او که ګې یې کړي.

زبرګ وې، چې یره داغ ییه دد ځنګل د پیشو ګانو نه ډېره تنګه ده. نو
خدای ته یې سوال او کړو او د مېږې نه یې پیشو جوړه کړه، وې څه. یره او س
به دا خواره نه ویریږي، خو چې یو څو ورځې تیرې شوې نو چرته د ګیدړانو
سره یو زور اور سپي راغی پیشو په یوه چغه د زبرګ غیږ ته او رسیده
وې الایي د بو نیر غوته سپي مانه کړم. زبرګ وې سنه ده. یره څه ته سپی شي
خو یو څو ورځې پس یو کوږ راښکاره شو، نو سپي لکۍ د ځانګو منځ کې کړه
او ځان یې د زبرګ د ځانګو منځ کښې که وې نیکه بابا - وخوړم، نو زبرګ
د سپي نه کوږ جوړ که. کیده کیده چې د مږې نه یې زمري جوړ که وې چې
هلته وویریږي نه. خو ټول خلق خبر وو چې د زبرګ زمری په حقیقت کښې مږه
وه او هر چا به داوې چې دا خو زمری نه دی هسې رنګ یې د زمرو دی. زمري

ډیر په قار شو وے ودرېږه چې هلهو دا زبرګ وخورم ، نو هله به داخلق ومنی چې زه دده مزه نه یم ، بلکه بهادر نوجوان زمرے یم ، نو زبرګ پسے ور روان شو ، زبرګ چې دده سترګے ولیدے نو مسکے شو وے ورته مزه وے او مزه سنه یے ته د زمری توب لائق نه یے ، پس زمرے ګنجے شو او خوار ګیلړے مزه ترے جوړه شوه .

لالا ته خو باباته په شونډو ژبه وهے ، خو پام کوه چه چرته درنه بیا مزه جوړه نه کړی .

تاسی دالوړه توته په دقت وګوری نو درسنکاره به شی چې په یوه کوچنی حکایت طنزکی عبدالغنی خان څومره مهم اجتماعی او سیاسی مسایل ور داخل کړی دی ، او کومه نتیجه چې لوستونکی ته د دے طنز په توګه له لوستنه وروسته په لاس ورځی هغه ډیره لوړه او زموږ په هغه وخت جامعه کی د مسلطو ښرالطو یوه پیچه راتلوی .

د غسی د دې کتاب هره توته نثر او هره پارچه نظم د هنری ښکلا او ظرافت ترڅنګه مقصدیت هم لری ، ډیر پیچلی مسایل یې د توکو او ټوکو په جامه کی په خاص ادبی مهارت ورځاے کړی دي .

د دې مجموعی نثرونه ټول نوی دی او دا په دې معنی چې له پښتون مجلے

پرته د خان په نورو چاپي آثارو کې نه دي راغلي، مګر نظمونه يې ټول نوي نه دي، ځينې نظمونه يې د خان په آثارو لکه پلوشې او نورو کې هم راغلي دي، ځينې نوي منظومات هم پکې شته.

د رسالې په مضامينو ښاغلي ټولوونکي افتخار حسين ګيلاني حاشيې هم ليکلي دي، ځينې مسايل يې شرح کړي دي، ځينې نا آشنا ويينه يې حل کړي دي له دې سربېره د رسالې کوم نظمونه چې په پلوشې کې راغلي دي ټولوونکي دا نظمونه هم ورسره کتلي دي، اختلافي صورتونه يې په حاشيو کې ښوولي دي او ورسره يې د بيتونو د کمبوتيو او زياتوبونو نښاندهي هم کړې ده.

د ښاغلي محشي زيار د دې حاشيو په کښلو کې د قدر وړ دی، خو د دې ترڅنګه بايد دا خبره هم هېره نه کړو چې ځينې حاشيې يې سمې نه دي او اضافي هم دي لکه د پنځ کتاب حاشيه، له دې علاوه ښاغلي افتخار چې د پلوشې کوم نسخه بدلونه په حاشيو کې ښوولي دي په زياترو برخو کې يې ضرور دا ورسره ليکلي دي چې دا برخه په پلوشې کې داسې ده چې غلط ده. د پلوشې متن تر کومه ځايه چې ښکاره ده د خان له خپلې نسخې څخه ليکل شوی او چاپ شوی دی، د دا ډول لفظي اختلافاتو منشأ په معاصرو متونو کې خپله شاعر وي، نه د کاتب تحريف او تصحيف. البته طباعتي غلطۍ بېل څيز دی چې هر سړی پرې پوهېدلای شي. شاعر چې ژوندی وي هغه ضرور د کلونو په دوران کې خپلو منظوماتو کې لفظي تغييرونه راوړي، د مثال په ډول خان چې کوم ځنت خپل

نظمونه په پښتون کې چاپول یو ډول وو بیا یې چې په پلوشې کې نشر کړل نو ځینې تغییرات یې پکې وارد کړل چې دغه ډول تغییرونه په خپله د شاعر باید وګڼل شي . ما چې د خان کلیات چاپ ته آماده کاوه له دغه ډول تو پیرونو سره ډیر مخامخ شوم، لکه په پلوشې کې یو نظم یو ډول او په پانوس کې بل ډول راغلی دی حتی بیتونه یې کم کړي او زیات کړي دي .

په پای کې باید وویل شي چې دخان د دې رسالې نشر او دده د دغو آثارو تولول یو درونډ او ګټور کار دی، او د سباغلي افتخار هڅه د دې رسالې په تولونه او نشر کې د منني وړ ده . ځکه دا رساله په خپله نوع کې حتی په ټول پښتو ادب کې یو ښه اضافه او ابتکاري کار دی ، د خان نثرونه تر اوسه په نظم ډول نه و چاپ شوي او دا دی دا رساله د خان یوه زیاته اندازه نثرونه تر موږه پورې رسوي .

(ز، هـ)

خیر ندوی عبدالله بختانی خدمتګار

غزل اجمل

مخکښې تر دې چې د اجمل په غزل، د هغه په ګل ټکل، مزل او منزل و غږېږو، ښه به دا وي چې د غزل په مزل یو څو ګړندي نظر و اچوو:

غزل د شرقي شاعرۍ یو ډېر لرغونی نوع ده. که د معنا له مخه ورته وګورو بیا نو هغه شعر چې یو ډول تغزل او د مینې د راز و نیاز، سوز و ساز او درد و ګداز خبرې پکښې وي، هغه باید غزل وبولو. کیدای شي چې د غزل د نوم اینښودلو په وخت هم د غه معنوي اړخ تر نظر لاندې و او بیا وروسته دیو خاص فورم او شکل په قالب او چوکاټ کښې محدود شوی وي چې سر (مطلع) کسر (مقطع) او خوږ بندونه (بیتونه) لري. غزل د خپلو انکشافي مرحلو په تیریدو او د هغه مشخص چوکاټ په ټینګیدو، یوازې د عشق او حسن په برنګینو پیرایو کښې محدود پاتې نه شو او د ژوند د مختلفو اړخونو تصویرونه او تمثیلونه هم پکښې داخل شوو. یعنې د غزل فورم خو مشخص شوو مګر په خپله اصلي لغوي معنا محدود پاتې نه شوو.

ګل ټکل

ستاسې توجه دې عجیبې نکتې ته اړوم چې زمونږ په شعري فورمونو کښې، لنډکۍ، لنډۍ

مثنوی، رباعی، څلوریزه، دفارسي دوه بیتي (چارپاره)، مخمس مسدس مثمن، معشر، ترجیع بند، ترکیب بند په فورمونو کښې یوازې د مصرعو شمېر ته توجه شوې ده. د پښتو سروکی، داستان، چاربیته، لوبه او بکتی خوسندرې دي چه د موسیقی د آهنګونو سره ونه کوی. قصیده او غزل د خپلي شعري نوعې د معنا او مفهوم بښودنه او څرګندونه کوی. سره ددې چه د غه معنا او مفهوم او د هغه رنګینی او ښکلا بیا د شعر په نورو ذکر شوو انواعو کښې هم افاده شوې او افاده کیږي.

په هر صورت د پیړیو په پوړیو کښې د غزل د پرمختګ او انکشاف په مراحلو کښې، د غزل قالب او شکل خواص مشخص دي. مګر په قالب او شکل کښې د محتوا د اچولو او ځایولو په وخت هغه مونږ په دریو عمده ډولونو کښې کتلي شوو:

- هغه شعر چه هم د غزل په متعارف شکل، فورم او آهنګ کښې وي او هم د عشق او حسن ښکلي انځور ولري. په دې برخه کښې له رودکی نه نیولي تر لایق شیرعلي پورې، له دولت لواڼي نه نیولي تر کاوون توفاني پورې، له حافظ شیرازی نه نیولي تر اقبال لاهوري پورې او له خوشحال خان خټک نه نیولي تر حمزه شنواري پورې ډیرو شاعرانو ډیر غزل لیکلي دي او د شعرونو مجموعې او دیوانونه ترې ډک دي.

- بل هغه شعري ډول دی چه فورم او قالب یې د غزل وي، مګر محتوا

پکښې تغزلي نه وي. که د غزل معنا ته وګورو نو د غه ډول شعر یوازې غزل نه وي نو هر څه وي چه د غزل په فورم کښې افاده شوي وي. په دې فورم کښې تصوفي، اجتماعي، اخلاقي او سیاسي تېز سونه، مفاهیم او موضوعات داخل شوي وي. خپلو دې ډول شعرونو ته هم شاعرانو غزل ویلي دي او د کلیاتو د غزلیاتو په برخه کښې چاپ شوي دي. تکړه شاعرانو ټل هڅه کړې ده چه د دې ډول غزلو د ښایست لپاره له ادبي بدیعو صنعتونو څخه کار واخلي او په کلام کښې خوږ والي، ښکلا او ابتکار پیدا کړي. دا ډول غزل له پخوا زمانو څخه تر اوسه پورې زمونږ په شاعرۍ کښې رواج لري. مثلاً د سنایي، مولوي، دولت لواڼي، میرزا خان انصاري او واصل روښاني په شعرونو کښې د تصوف په محتوا زیات غزل شته او د محمود طرزي، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت او صوفي عبد الحق بیتاب په غزلونو کښې سیاسي، اجتماعي مطالب ارائه شوي دي.

زمونږ د نن ورځې په او سنیو د غسې شعرونو کښې، د یرځله د وینا خوږ والي، ادبي تشبیهګانو او بدیعي صنعتونو د خبرې خوندیو پته دوه کړې وي، خو کله کله مطلب دومره بې پیرایې وي چه حتی په یو ځل لوستلو او اوریدو هم نه ارزي.

- د غزل بل ډول چه د مضمون او محتوا له مخې یې زیات انکشاف موندلی او لوړ هنري ارزښت لري هغه دی چه شکل او فورم خوبي

دغزل وی، الفاظ یې ښکلی او رنګین وی او دغزل یعنی دحسن اوعشق تغزلی تصور او تصویر ارائه کوی، مګر ورسره شاعرله ظاهري هنری رنګینی سره یا دهغی په پرده کښی، یوبل مطلب، دخپل دزړه آواز او دخپل عصر پیغام هم اوروی. دخپلې سیمې ښیرازی او سپیره توب، ښکلا او ناښکلیتوب دخپلو خلکو غم او خوشحالی، سوبه او ناسوبی، زوال او کمال او دخپلې زمانې دبهیر ښه او بد اړخونه څرګند وی. د دې ډول غزلو شاعران هڅه کوی چه دهنر رنګ او آهنګ له قافلې سره دژوند دبهیر قافله هم ملګرې کړي. دوی غواړي چه دشعر او غزل له نغمو او آهنګونو سره دژوندانه دکاروان بانګ دراهم یوځای کړي، داسی یوځای چه تربې غبرګه سنده نه، بلکه واحده سمفونی جوړه شی. دلته دی چه هرسهار د ادبی او هنری سمبولونو ګلان غوړیږي او خاندی. دمینی بلبلان ورته ژاړي او او ښکلی یې دسهار دپرخې په شان پرګلانو څاڅی او دګل په خندا نخیزه کښی دژړا یو تصویر انځوروی او هرماښام دمینی په محفل کښی دحسن ډیوه بلیږي، پتنګان ترې چورلی، پرې ښتی کیږي او ایره یې دبې پروایی بادونه وړی..... شمعه سوزي، پتنګ ترې ځاریږي دمینی دساقیانو دمخمورو سترګو په اړولو را اړولو مینان بې تابه کیږي او زړونه بایلی. په داسی بزمونو کښی دسترګو دجنګ عاشقانه رزم هم جوړیږي او په دې ډول یارانه وکښی ډیرځله ښکري هم ماتیږي.

دشرقي شاعرۍ د تحول او تکامل په بهیر کښې ، د سمبولیکې شاعرۍ زیات ضرورت هغه محسوسیږي چه شاعران د خوشحال ختک غوندې په ښکاره ناړې نه شي وهلای چه خوله يې راکړه ، بلکه د حاکمو طبقو د ظلم ، استبداد اختناق او ریاکارۍ له لاسه :

ژبه بنده وي له ډره نه يي اختیاره

ځي تر خولې له ناکړو نه فریادونه (د ډره راز)

د شرقي اولسونو د افکارو د تکاملي سیر د تاریخ په لړ کښې ، ډېر ځله ګورو چه له مقدس قرآن او شریعت نه ، د وخت استبدادي قوتونو د ځان لپاره بدې استفادې او له غرض نه ډک تعبیرات کړي دي . په ډېر تعصب يې په نه ځه خبره باندې دیو او بل څخونه تور کړي او هغه يې په ځره سواره کړي او کوڅه په کوڅه ګرځولي دي . د چاپې خوله ګنډلې ، د چاپې ژبه پرې کړې ، د چاپې سترګې ایستلي او د چاپې سترګې تیتې کړي دي . هره سمه خبره ، یا لږ تر لږه لږه ناسمه خبره لويه ګناه او کفر ګڼل شوې ده . د انساني ضمیر ، شعور او احساس خاوندانو په يو رنګ ، او بل رنګ په دغسې حالاتو کښې هم خپله مبارزه د وخت له ناخوالو او ستمونو سره جاري ساتلې ده . د باشعورو شاعرانو له خوا دا مبارزه چیرته د رندې شاعرۍ په رنګینو هنري الفاظو او تغزلي ژبې سره شوې او کله لیا صوفي شاعرانو یا شاعرو صوفیانو ، شعر د تصوف په لار روان کړی یا تصوف يې د شعر په قالب کښې اچولی او له تعصب او ریاکارۍ سره يې کلکه مبارزه کړې ده .

دي خلکو شاعري ته ځانله ژبه بخښلې ده چه په دې ژبه کښې کله حقيقت د مجاز لباس اغوستی او کله مجاز د حقيقت له ګريوانه سر ايستلی دی. دا د سمبوليکې شاعرۍ ژبه ده چه زمونږ د سيمو په ملي ژبو، په عربي، فارسي پښتو، ترکي، اردو او نورو کښې زمونږ تر زمانې پورې دوام موندلی دی.

په لشرو لوکښې د پرمختګ او ارتقاء د يوې مرحلې پسې بله مرحله راځي او د ژوندانه شرايط تغير کوي. خو د فرهنګي مظاهرو د تغير بهير لږ څه سست غوندې وي. نوي خواني سمبولونه، په نوي دور کښې د زړه آواز د را ايستلو او د زړه راز د څرګندولو لپاره هم په کار ولې شي او کله نا کله لا يو تقليدي عمل وګرځي چه شاعري ترسره کوي مګر اوريدونکي او لوستونکي ته څه خوند نه ورکوي او د شعر پېژندونکي د اعتراض چيغه آسمان ته خيژي چه شعر مبتذل شو....

د حساسو زړونو او دراکو مغزو خاوندان باشعوره شاعران د هر وخت شمال، باد، باران، زلزله، سيلۍ، جکړ او طوفان پېژني له هغو څخه الهام او موضوع اخلي او د خپل استعداد په کرونده کښې د شعر متناسب ګلان کري روزي او غوړوي يې. دوی څه چه ويني او څه چه اوري هماغه په شعر کښې وايي او ليکي. پخوانو سمبولونو نه کار اخلي مګر د کارولو ځای، طرز او مقصد يې بيل وي. نوي سمبولونه هم ايجادوي او شعر ته يېخي نوی بڼه ورکوي. شاعر په غزل کښې له پخوانو او نورو سمبولونو نه کار اخلي خو د مطلب تکي او د نظر نکتې او نقطې يې د نوي زمانې، نوي بهير، يا د خپل دوران څپل پرابلمونه وي.

په دې ډول مونږ وينو چه دنوی زمانې يو شاعر، په پخوانو سمبولونو اعتراض هم کوی اووايي :

تا بکی پيچيده ای در حلقهٔ زنجير زلف
درس نوآموز بهر امتحان زندگی (ابر بهاری)

خوهغه شاعر، په بل شعر کښې، خپل زړه د زلفو په حلقه کښې بند ښيي، مگر په بل طرز، بله ژبه، بله افاده او بله معنا :

غيرتي او پښتون زړه مې په حلقو د زلفو بند شو
دا خو هغه زوړ مار نه دی دا يو نوی استعمار دی (د گلوکر)

او بيا د دوهمې بيلگې د جواز ليا ضرورت لپاره وايي :

چاوې : راشه لنډ کړه د زلفو دا زړه کيسه
نه نه ! داسې نه ده، خولې تنگ د تره بدل کړه (شفق)

په دې ډول، له پخوا زمانو څخه تر اوسه پورې، د هر وخت ارزښتونه او مسايل، زمونږ د ډيرو پخوانيو او اوسنيو شاعرانو په شعرونو کښې، هم د سمبولونو او هم د شعری بديعي صنعتونو، تشبيه گانو، استعارو او کنايو په واسطه په ښکلی ډول تصوير شوی او تمثيل شوی دی. دا تصويرونه اکثراً د غزل په دې نوعه کښې گورو يا د دغو تصويرونو په برکت دا ډول غزل منځ ته راغلی، پر مخ تگ يې کړی او پراختيا او ژوروالی يې موندلی دی .

مثلاً، د خوشحال خان ختک په دې بيت کښې :

تورې چې تېرېږي خوګذار لره کنه

زلفې چې ولول شي خوځېل یار لره کنه (دخوشحال خټک کلیات)

دتورې اوقلم دخاوند دتوریالیتوب دتېره تورې روحیه دیار له ولول زلفوسره په تشبیه کښې څرګنده شوې ده .

یا په دې بیت کښې :

زه عاشق یم سروکار مې دی له دړده

نه خلیل، نه داؤدزی یم ، نه مومند (درحمان بابا دیوان)

رحمان باباځېل عاشقانه عالي انساني مقام ښودلی دی چې تر خیل، زی اوقومي رشتوپورته دی ، دامقام دسړیتوب له حقیقت سره دعشق ددرد مقام دی. داچې عبدالحمید مومند وایي :

ځان به مړ دعشق په ځېل کړم ناصحه!

وابه نه وړم زه حمید هغه پښتون یم (دعبدالحمید مومند دیوان)

شاعر ځېل کوي ، نه اوړي او ځان وژني ، دلیل داوایي چې پښتون دی. شاعر دلته عشق ، ځېل ، ثبات اوپښتنوالې یوبولي او په یومضمون لي افاده کوي . په غزل کښې دپښتو اوپښتنولۍ مضمون ، دغزل دبابا میرحمزه شینواري ځېل اوج ته رسولی دی :

ماکوز وته لیمه کړه زما سر نه ټیټیده

شاید چې په الفت کښې هم افغان یا ته کیدم

یا : حسنه ته خودبین یې زه پښتون یمه

مانه ده ښودلې گدا استرگو ته (غزوني)

دا مضمون زمونږ د دې وخت د نورو شاعرانو په غزلو کښې هم په رنگارنگ افادو تادرتاو شوی دی . د بیلگې په ډول :

په عذر او عاجزۍ او په ژړا کړم ننواتې

منظورې کړه، پښتون یم، سنگه ښه نه ده به دل کښې (راز)

دل بتو دادم کفایت میکند دیگر مخواه

ناله وعجز وتضرع راز افغان اینقدر (ابر بهاری)

زمونږ وویل چه په غزل کښې د راز راز مفاهیمو نه ایستل، یا د غزل په ژبه د زړه د مطلب خبره کول، له پخوانه په شرقي شاعرۍ کښې رواج لري، او زمونږ تر وخته پورې یې د ځیل انکشاف پورې وهلی دی . دا د ایمائیت، کنایو او اشارو شاعري ده . خو دې هنر دومره پرمخ تگ کړی او زمونږ دادبیاتو د علاقه مندانو باریک بینۍ او نکته سنجۍ ته یې وده ورکړې ده چه عربي ادب پیژندونکي په رښتیا ویلي دي : الکنایة ابلغ من الصریح .

یعنې کنایه له صریح نه زیات بلاغت لري .

زمونږ د زمانې اکثرو شاعرانو د شرقي شاعرۍ د الرغوني عنعنه چاپېره زاړه رنگ او زاړه سمبولونو ساتلي او چاو ته نوی رنگ هم ورکړی دی او نوې محتوا او نوی مضمون یې پکښې نغښتی دی .

مثلاً زمونږ دهیواد دیوا وسنی شاعر دغزلو په لاندې بیتونو کښې هم دتور تر انقلاب دمخه، ټولنیز حالت څرګندیږی او هم په هغه کښې دسرو ګلونو دشاعرۍ په رنګ کښې دشاعر تګل او دهغه د زمانې دخوار یکښنو وچې اوسپیره شونډې:

خوښي راته په څنګ ځي ماته غنچه غوندې ښکارې
خندا مې په سپیرو شونډو غمجنه غوندې ښکارې

په ګل چه پرخه ستا یې بختانه په خندا
حیران دې شم لیمه ته چه غمجنه غوندې ښکارې (راز)

یوازې عام ټولنیز تصویر نه، بلکه په ځینو برخو کښې طبقاتي رنګونه هم ځان ښکاره کوی، لکه دا چه:

دیار له غمه مې دا ملامانه شوه
لکه دخوار چه شی دکار لاندې (دګلوکر)

چه دباغوان په سپیره مخ رنځې خوله لې ووینم
تکل دګل او دشبنم دتصویر ونو کوم (دګلوکر)

تاسې وګورئ چه دپیښور یو معاصر شاعر، دګل او غوټۍ په تصویر کښې دخپلې ټولنې داوسنی زمانې څنګه ښه او رښتیاني انځور ایستلی دی.

ګل باندې څه تیر شو په غوټۍ باندې تیریږی څه؟
حال نه وایې خلکه! ګنې ټول چمن ته پته ده (شمس)

د شرقي شاعرۍ د غزل د دې تاريخي عنعنې د دوام او انکشاف په لړ کښې د ښاغلي محترم اجمل خټک غزل يو ستر روښان مثال او د دې لیارې ځلانده مثال دی . په خاص ډول « ګلونه تکلونه » زه د خپلې د دې دعوې د ثبوت د ستر شاهد په ډول وړاندې کوم .

اجمل خټک پښتون شاعر دی . د پښتو ادب عنعنه يې خپله ده . د خوشحال خټک حسبي او نسبي ، د مبارزو او ليکنو بالا ستحقاق وارث دی . په اردو ادب کښې د پراخې مطالعې خاوند او د خوږو شعرونو شاعر دی . په فارسي ادبياتو کښې يې ام . اې کړې ده او پکښې تحصيلي سند لري . د عربي ادبياتو نه و ډير واقف دی .

خپل ذاتي استعدادي د ژوند او ادب په داسې چاپيريال کښې وده او انکشاف موندلی دی چه خوږ ژبي غزل ويونکي او اوږ ژبي نظم ليکونکي ترې جوړ شوی دی . دوی ، خټک صاحب او نور پښتنوري اديبان ، غزل غزل بولي او نور شعرونه نظم ګڼي . په هغه ويش ، د خټک صاحب نظمونه هم د غزل رنګيني ، ښکلا ، هنرمندي او ښيګړې لري . تاسې به (د غيرت چيغه) او « ګل پرهر » لوستي وي . خو دده غزل بيابل کور غزل دی . « ګلونه تکلونه » وګورئ . دا مجموعه ، د ښو مثالي او معياري غزلو په توګه ، زما ډيره خوښه شوې ده . کله چه چاپيدله ، له مطبعې نه د هغې څو پاڼې زما ګوتو ته راغلې ، ما هغه ولوستلې ، د کارونو د ګڼ والي او د وخت او فرصت

له کمالي سره ، پرته د شاعر او ناشر له غوښتنې او يا اجازې نه ، ماپرې څه لنډه ليکنه وکړه چه ورسره چاپ شوه .

هلته ما ليکلي دي :

"...... آخر نوی دنيا ته ولاړ . هلته يې په خپلو سترګو وليدل چه دنوې زيارکښ انسان په تکلونو څومره ګلونه غوړيدلي او خاندي ؟ داسې ښکاري چه هلته دده دټول ژوند د ګلونو شاعرانه تخيلات دتکلونو له تصوراتو سره ترڅواز يا ته غاړه غړې شوو . يوله بل نه يې رنګ واخست . نوی رنګ يې راوړ " ګلونه تکلونه " ترې جوړ شو .

د رنګ او بوی له هغه ښکلي جهان او دکار او زيار له هغې ودانې نړۍ نه ، بې شکه دا د ګلونو تکلونو دخاوند شاعر ښکلي ، رنګين او ارزښتمن سوغات دی چه خپلو عـزيزانو ته يې وړاندې کوی . دا سوغات ضرور د ذوق او شعور دخاوندانو په زړونو کښې دمينې او ښکلا ګلونه غوړوي او دهغو په مغـزو کښې د ژوند او حـرکت تکلونه راخوځوی ."

هو ! ګلونه تکلونه د شاعر دهغو غـزلو مجـموعه ده چه ده په نوی دنيا ، شرقي اروپا ، چکوسلواکيه ، هنګری ، دموکراتيک المان ، پولينډ او شوروي اتحاد کښې ويلي دي ، چه په کابل او ډيلي کښې ويل شوی څو شعرونه هم پکښې شامل دي . پخپله شاعر " دا ګلونه تکلونه " داسې معـرفي کوی :

"..... د دې ښکلي ماحول د ګلالي ښايست او کيف نه د که تنهايي کښې

دخپل داغلی زړه اوزخمي ذهن سره یوازې شوم ، تصوراتو او تخیلاتو په خپلو غیږ وکښې واخستم . نو چه پوهیدم ، نو خپل کور ، کلی ، هیواد او اولسونو دهغوی ژوند ، ژواک ، فکر وعمل ، ارادو اوجد وجهد ، ارمانونو او تکلونو او په دې لړکښې دهغوی دمحرومیتونو اوقربانیو په هجوم کښې دخپل شعردنیا ته رسیدلی وم او اشعار دا باندې راوریدل شروع شول .»

« دحسن په ژبه دسیاسی فکر اوژوند ارمانونه ، دګلونو د ښکلا په جامه کښې دسیاسی ژوند د ولولو ، لوږو ژورو ، دردونو ، داغونو او یادونو خد وخال .»

په همدی حساب ددغو غزلو دمجموعې دڅو پاڼو په لوستو ما په خپله لیکنه کښې داسې رایه څرګنده کړې وه :

« .... دا یولوی سند دی . ادبی اوتحقیقاتی سند . دهغو په مقابل کښې چه ادب له ژونده اوژوند له سیاسته بیل ګڼی .

رادې ښی ، ودې ګوري چه " ګلونه تکلونه " کښې ژوند اوادب ، هنر اوسیاست ، مینه او ښکلا ، خومره اوڅنګه یو په بل کښې سره نغښتی او تاو راتاو شوی دي ؟ »

زه اوس هم په خپل هغه نظر ټینګ ولاړیم اودهغه دتشریح لپاره وایم :

ګلونه تکلونه دغزلو یوه مجموعه ده چه هرغزل یې دپښتو قوی ، خوندور او ښکلی غزل دی . دوزن اوبحر خبره خو عادی خبره ده ، اوله

ختک صاحب غوندې شاعرانو نه، نه خطاکيږي، ادبي بدليعي صنعتونه لري او تشبيه گانې او استعارې يې ډيرې ښکلې دي. د هنري ښکلا په باره کښې يې زه زيات څه نه وايم. هغه ستاسې ذوق او قضاوت ته سپارم. زما دعوه داده چه په دې معيارې غزلو کښې ختک صاحب د ډېل زړه، د ډېل ذهن، د ډېل نظر او د ډېل ارمان خبرې هم کړې دي او د ډېل تاتوبې ډېل هيواد او ډېل جهان تصويرې يې پکښې ايستلې دي.

تاسې ته به اول يو غزل، د دې غزلو د هنري ښکلا د ښودلو د مثال په توگه وړاندې کړم، بيا به د همدې معيار هنري کلام، معنو، نکتو او ارزښتونو ته پام واړوو او له تاسې هريو نه به هيله وکړم:

ښکله په خوږه پښتو کښې مينه د جهان ښکاره؟

غور په گلونو تکلونو د اجمل کړه (شفق)

زما له خوا، د گلونو تکلونو، د هنري مثال انتخابي غزل دادی:

مونږ منزل غواړو د سروشونډو د گلفام په شفق

دوی مو تير باسې د يو تور غوندې ماښام په شفق

از غو کښې هم هوس د مينې د خندا پيدا شو

چه مستې دوه سترگې ښکاره کړې د ډېل بام په شفق

دانگوړې ميو نيشه يې عنبرينه کړله

چه ستا د څنو سيورې و شولو د جام په شفق

ماچه ستا سره لوبه ولیده په برګو درکښې
داختر میاشت وه چه ښکاره شوه درام په شفق
ختکه تا چه په پښتو کښې شاعري شروع کړه
یو سره لمبه دې راپیدا کړه د کلام په شفق
(ګلونه ټکلونه - ۹۵م مخ)

- دختک صاحب لوی کمال دا دی چه، د پښتو د نورو پخوانو او اوسنو شاعرانو په شان خپله وینا د پښتو په فولکلور، دا د خلکو د حکمت په مرغلرو ښکلې کوی او شعر ته غنا، قوت او جاذبیت بخښي. تاسی وګورئ:

د پښتو یو متل دی چه: "په یارانه کښې بنګړي ماتیږي." دختک صاحب دغزل په یارانه کښې هم بنګړي مات شوي دي. بنګړي نه، بلکه سر مات او سینه ژوبله شوې ده. خو ختک صاحب په همدې متل د مزل یارانو ته تسل ورکوی:

غم مه خوره که سر مات شو سینه ژوبل لیونیه
بنګړي خو تل ماتیږي د مینو یارانو کښې (ګلونه ټکلونه - ۱۶م مخ)

شاعر د همدې متل د مضمون په تل کښې د حسن رڼاوینې، په هغه خوشحالي کوی او یوه میله یې ګڼي:

بنګړي به نن ماتیږي او جامونه به کړنګیږي
د حسن په رڼا زمونږ به خونه کښې میله ده (۱۸م مخ)

بویه، چه دده یارانه، جامونه او د حسن رڼا به څه وي؟

زه یې نه وایم تاسې یې ووایئ .

د پښتو بل متل دی چه « غر په دوو گوتو نه پټیږي »

خټک صاحب دا متل هم د ارسال المثل د صنعت په توگه کارولی دی خو په « گلونه تکلونه » کښې ، د « غر » پرځای « غر » چاپ شوی دی . ښایي چه د دې متل بل وریانت د غسې وي . یا خټک صاحب پکښې تصرف کړی وي اولا دا چه طباعتي تحریف وي .

مونږ دا خیره نه فولکلوري ټولونکو ته پرېږدو او شعر لولو :

ما خټکه وې چه ته څه مه وایه

غر د چا په دوو گوتو پټیږي نه (۲۷ م مخ)

دلته د هغه چا په مقابل کښې چه دی غلی کوي چوپوي یې او په خوله یې ورته د سکوت مهر ږدي . دا متل راوړی او ځان یې د غره په شان یاد لمر په شان ښودلی دی چه په دوو گوتو نه پټیږي .

د عربي ژبې یوه مقوله ده چه « الخیر فیما وقع » پښتانه هم وایي « څه چه کیږي ښه کیږي » . خټک صاحب د یو مېن شاعر په شان خپله مینه او وفا کوي . خود خپل طبیعي ضرورت او د ضمیر د آرامي لپاره یې کوي . په چا یې نه زباتوي . په پیمانه یې نه تلي ځکه چه په دکان کښې یې نه خرڅوي او قیمت ته یې د تمې لمن نه نیسي . د مینې او وفا په نتیجه کښې څه چه کیږي هغه ښه گڼي او « خیر » په « ماوقع » کښې وینې :

موټ مينه او وفا په پيمانه تللی نه شو
مخمور يکښې روان يو څه چه ګيرې سپينې ګيرې (۱۴۸ م مخ)

لنډۍ د پښتو شفاهي ادب يوه غوره مشهوره نوعه ده ، داسې ښکاري چه په خپلو شعرونوکښې ، خپلې مشهورې لنډۍ د خټک صاحب تر نظر لاندې وې ، د سارې په توګه ، د پښتو يوه لنډۍ ده :

په ګل ګلاب دې ورېشمه
تر لاس دې چا راشم رقيبانو وليدمه

د معشوق له خوا ، د عاشق ويشتل که څه هم د ګل په پاڼه وي نو خو لوړ داګټه همره چه د رقيبانو زړه پرې چوي :

خټک صاحب دې مضمون ته نوره هم انکشاف ورکړې دی ، د پښتو ملک د دوو دوولو محه ، چا بې وفا يا بې پروا يار ، آشنا او ملګرې ته د ګيلې په لهجه وايي چه که په ګل مې نه ولې نو په پاڼو خو مې وله ، ځکه چه دا خو پښتو ملک دی که رابطه چېرې قطع شي نو بيا د پښتو ملک او سپيډګی به يا تا او يا ما پسې خبرې وکړي ، زه يا ته او يا دواړه به وړته بې کسه ښکاره شو ......

چه ګل نه وې نو په پاڼو خو مې وله
که وفا نه شوه نو ملک خو د پښتو دی (۸۲ م مخ)

د خټک صاحب په شعرونوکښې د پښتني فولکلور له انګيرنو نه هم ځای په ځای کار اخستل شوی دی : د ښې سترګې رپېدل د ښه خبر د اورېدو يا

دښې پېښې او دګېښې سترګې رپېدل د بدخبر يا بدې پېښې زيرى ګڼل کېږي

خټک صاحب د خلکو دې انګيرنې ته داسې انعکاس ورکړى دى :

پوه شو مه نن دې نيت زموږ خونړې هم کړى دى

ستا د قدم زيرى مې د لته ګښې ليمه رپوى (۶۴ م مخ)

همدا رنګه ، د لاړې د څيڅو ملګرو د بې لارى کېدو په سبب يو ګټې يو هم

د دوى له نظره ګېدل ښې چه دا هم د خلکو د انګيرنو يوه جلوه ده :

مات شول ، غرضيان شول ، که بد ، که د نظر شول

پير و شهسوارو د ميدان خبرې هېرې کړې (۱۱ م مخ)

خټک صاحب په خپلو غزلو کښې د پښتو د مشهورې کيسې قهرمانان

آدم خان او درخانۍ ډېر ډېر ياد وى او د خپلې ټولنې او د وطن د مينې

د قهرمانانو لپاره يې د مثال په توګه وړاندې کړي ،

ناوې د رخو ناستره ده ګوډه ګښې د سيګار سره

ولې خوزلمو د آدم خان خبرې هېرې کړې (۱۳ م مخ)

د مينې د قهرمان آدم خان د رباب تنګ د خپل عصر د آسمان له وړانګو

اوري :

يا د لته غږ وى آدم رباب په کومو ګوتو ؟

چه وړانګو د اسمان ګښې راپيدا ورسره تنګ شو (۸۸ م مخ)

خټک صاحب د نورو اولسونو هغه نولکلورى قهرمانان چه په پښتو کيسو

او د استانونو کښې زيات مشهور دی، هم په خپلو شعرونو اروی رااړوی مثلاً په يو ځای کښې د مجنون او ليلا خبرې زړې بولي او د نوی عصر مينان نوو رجحاناتو او خبرو ته رابولي، دې زړو بيديا وو او لړغونو غرونو سره نوې مينه، يعنې په نوی شان مينه تړل غواړي .

ختک ده دې بيديا او غرته ورکړه نوی مينه

خبرې زړې شوې د مجنون او د ليلا دی (۴۱ م مخ)

له نوو زلمونه د سر په بيه دوخت د کلکو غرونو سوری کول غواړي خوچه د غو د دوران فرهادانو ته د ژوند شيريني په پښو کښې راولويږي :

که ته لکه فرهاد شې غر په سر باندې سوری کړې

د ژوند شيريني د غه ده په پښو کښې دې راولويږي (۴۶ م مخ)

د استعمار او استثمار له تور ديوه د وطن د ګل اندامی د خلاصولو لپاره آزادی غوښتونکی بهرامان تينګو تکلونو ته رابولي :

بهرام شه ملا دې وتړه تکل ورپسې وکړه

له ديوه ګل اندامه په زارو کله خلاصيږي (۴۶ م مخ)

-ختک صاحب د شرقي فرهنګ او رواياتو د نورو خيرو نمونه هم په خپلو شعرونو کښې د مثال يا تمثيل په دول راوړی او خپل شعرته يې احساس، خوند او قوت بخښلی دی . وايي :

په زړه د ختک لګی د منصور خبرې سمې * د ده ملک د سره د قانون خبرې نه زده (۴۹ م مخ)

د سامري، فرعون، اوقارون په مقابل کښې خو موسیٰ (پیغمبر) والا د مذهبي تاریخ اوروایاتو له مخه د سامري د سرو زرو خوسکی موسیٰ مات کړې دی او د هغه د مبارزې غلي کړې دی، بخیل سرمایه دار قارون له خپلې سرمایې سره د موسی په دعا په ځمکه ننه ایستل شوی دی او د وخت مستبد خان منونکی فرعون په زیره موسیٰ د ماشوم توب په وخت لوبي کړې دی او بیا د رشد او کمال په سن کښې یې هماغه فرعون د زمانې او تاریخ په رود نیل کښې غرق کړی دی. په ادب کښې تل د موسی د مبارزې سمبول په مقابل کښې، د سامري د زرو د جادوګر، د قارون د پیسو د مینې او د فرعون د خپل چارې مستبد خیرې، نومونه او سمبولونه اعلي دي. مګر خټک صاحب بل ابتکار کړې دی. د قارون په مقابل کښې یې منصور راوستی دی. هو! خټک صاحب ضرور داګڼې چه قارون پیسې تولولي او منصور کیسې. هغه په پیسو مین و او دی په حق. هغه په واپیسې ځما پیسې چیغې وهلې نوځکه په نتیجه کښې د خپلو سرو سپینو زرو په ډیرې ناست ژوندی په ځمکه ننوت او دی د حق حق او اناالحق نارې وهلې. د دار سرته وخوت او په سرلوړې او سرفرازی یې سا ور کړه. نومونه د دواړو پاته شو، دیو هغسې او د بل دغسې. نوځکه خټک صاحب هم ددې وخت د منصورانو او قارونانو د محاکمې په باب په بل ځای کښې وایي:

د وخت قاضي ته وړاندې بيا د حق مقدمه ده

منصوره کوم تال ځانګې؟ قاروناله په کوم تال ځانګې؟ (۱۵۱ م مخ)

خټک صاحب په خپلو شعرونو کښې پوازې د خټيځ د روايتي شخصيتونو په ذکر بسيا نه کوي، بلکه د خپلې تولنې تاريخي شخصيتونه او قهرمانان هم ښيي. دا په مکرر ډول د پښتو د ستر شاعر رحمان بابا نوم راوړی دی. ديرځله يې د رحمان بابا له نامه سره عزيزخان هم يادکړی دی ګويا غوښتي يې دي چه له خان عزيزخان نه د خانۍ او نخوت او له ملنګ رحمان نه د سپېڅلتوب او شرافت سمبولونه جوړ کړي.

ډير عزيزخانان دې اورګان هم شي

خير دی رحمان دوهم سړی نه (۲۷ م مخ)

هو! دا د نورو ځوانو پښتنو شاعرانو په شان، له اورنګ نه د ظلم او استبداد د سمبول کار اخستی دی. په دې بل بيت کښې بيا د خوشحال خان د زوی بهرام ناخلف توب ته اشاره ده او دغه له نامه سره د دې وخت د باګرام د بهرامانو اورنګي قلم تړی او ماتېدل يې غواړي. دغه چه په پښتو ژبه د پښتنو نه، بلکه د پردو خبرې ليکي.

مات شه د باګرام د بهرامانو اورنګي قلم

کوم چه په پښتو ژبه خبرې د پردو ليکي (۳۱ م مخ)

فکر کوم چه اوس د باګرام د اورنګ او دغه د بهرامانو اورنګي قلم

زیات وضاحت ته ضرورت نه لري او هر څوک یې پیژني :

په تاریخي پیغلو او میرمنو کښې، خټک صاحب ملالۍ ته، هغه د آزادۍ د میدان قهرماني ته زیاته توجه لري. هغه د پاکۍ، عفت، پښتنولۍ او وطنپالنې سمبول، سرمشق او نمونه ګڼي. د وخت له پیغلو نه ملالۍ جوړېدل غواړي، لکه چې وایي :

یې پته یې همته زلمی تېښتې سترګې کړې
ګوم ځای چې د پښتو په نشه مستې جینکۍ وي

په مستو ملغلرو کښې ملالۍ پیدا کیږي
زلمي یې ګوري هر وخت لکه توري ابدالۍ وي

د بیت نه وګه پېغله د حیا بله دیوه وي
ځوانی د ګلولستۍ وي څیره یې ګلالۍ وي (۵۷م مخ)

په هرځای خپل ښایست کړي، خپل کالي وي، خپل خپل ګڼي وي
ښایست پښتني په روایت د ملالۍ دی (۵۸م مخ)

د ملالۍ له فطرت سره د خټک شاعر د مینې او علاقې له مخه :

هر شعر یې هیوادکښې د ملالۍ لو پته شو
خټک د غره د سره خپل نظمونو ته ګوري (۴۵م مخ)

- خټک صاحب یوازې د پخوانو په یادکښې پاته شوی نه دی، بلکه او سنی یاران، دوستان او ملګري یې هم له یاده نه دي ایستلي. ګوري په نوي دنیا

دچکوسلواکیې په مترقي اوپرمختللي هیواد د پراګ په ښایسته ښارکښې چاخیالي یاعیني، مجازي یاحقیقي ښکلي ته چه څه غږ د سرو شونډو خندا ته ښکلي سرې غوټۍ هم حیرانیږي وایي :

غوټۍ چه ستا خندا ته فکرونې غونډې ښکاري
په خیال کښې مې ولاړ د ستا په خواکښې تورلالی دی

هو ! تورلالی ، دختک صاحب د ډیر وخت ملګری ..... چه هر وخت به یې په خواکښې ولاړ و . په دې شاعرانه سفرکښې ختک صاحب یوازې تورلالی نه ، بلکه دهیواد ځینې توریالي اوننګیالي هم یادکړي دي . د مرحوم فیض محمدخان مسعود دشهادت د ویرجن خبر به اوریدو د پراګ په سروګلونو دخپل ځیګرجن اوزخمي زړه سرې وینې د سترګو په لار تویې کړې دي اویوا غیزناک اوسوزناک غزل یې پرې لیکلی دی ، خو په دې وخت کښې یې دانساني خیراوښیګڼې داغزنې لارې دیوهدف مند شاعر په توګه خپله حوصله نه ده بایللې ، بلکه ملګري یې مړ نه دي بللي اوهغه یې دلارې یوشال ګڼلی دی اوویلي یې دي چه د دې لیارې په هرقدم کښې به ځلي جوړ وو او مخکښې به ځو ...... زه د دې غزل یو بیت نه ، بلکه ستاسو په اجازه ، ټول غـزل دلته وړاندې کوم :

ګلونه به دوینو غوړ وو مخکښې به ځو
په سر به غرکښې لارې جوړ وو مخکښې به ځو

بس توره شپه اوس نشته دادظلم توږلوګی دی
دیوی بیهوده زړونو بلوو مخکښی به ځو

ملګری نه مرمه وائی د لاړې یومشعل شو
په هر قدم به ځلی جړوو مخکښی به ځو

داګوری منزل لکه لیلا په بام ولاړ دی
دښتونه به په وینو لمبوو مخکښی به ځو

لوی غر، توره تیاره د ه او هجوم د رقیبانو
اول قدم به ښه مضبوطوو مخکښی به ځو

ختک د خوږ زړګی سوی ګوګل سره روان دی
په لاره به یی زړه تکوروو مخکښی به ځو (۹۰م مخ)

دشرقی اروپا د ښاپیست په ګلورینه فضاکښی وخت په وخت د هر
بل وطنپال شاعر په شان د ختک صاحب په زړه باندی دوطن یاران او ملګری
دی او ډیرځله یی داسی هم ویلی دی چه ددی یادونو لامله د هغو ښکلو
ملکونو په ښاپیست سم پوره ستوی نه دی:

ختک ته رایادشوی ښه یاران داګوره دی
والله که دلبرین په ښاپیست یوذره پوهیږی (۹۳م مخ)

کله یی د ډلی یاران، کله یی دیارانو ډلی او کله یی یو یو یار، آشنا
او ملګری یاد شوی دی. وګوره چه په (فرانسسکولینزی سناتوریم چیکوسلواکیه)

کښې یې د خپل عصر وطندار، په سر و تور وو کښې شریک یا ته شوی آشنا
د شعر او ادب د رنګینې دنیا نږدې همزولي او ملګری، د پښتو تکړه
شاعر، غني خان د شعر او شعر ویلو په حساسو شیبو کښې داسې یادګړې دی؛

سړه غني خان دې چه څه تش کړې نظم ولیکي
خوار خټک ته ګوره چه شعر ئې په اوبو لیکي (۳۱ م مخ)

کله خټک صاحب پیژنم او له ادبي رحیې نه یې لږ ډیر خبر یم
نو خان ته حق ورکوم چه د دې شعر په باره کښې ووایم؛

شاعر، هلته له وطنه لیرې، د ملګرو او دوستانو په ښکلي وطن او
اربه دنیا کښې په ډیره آزاده، خوشګواره فضا او صافه یا که معتدل هوا کوم
ښکلي پارک کښې، چیرته د سیند په غاړه ناست دی. شعر وایي؛ د سحر
ستورې ته ګوري چه د نوو سرلوکیسې او د سره پیژوب د لپاره د لیونو
د برخې برات د لمر په پلوشو لیکي.

د سباوون مې شاعرته په غوږ کښې وایي چه ګل ستاسو د وینو تذکرې
لیکي او موسیږي. شاعرته خپله مینه وریادیږي چه د هغه د وفا زیږ
هیڅوک تري بندوی نه شي، کله هم له ناره یاله مجبورېته خط په اشاره لیکي؛

شاعر د سحر رنګینو خوبونو کښې ډوبیږي، خپله مینه ورپه یاد شي
د ماضي غمونه او د حال جنجالونه یې زړه وبوګنوي. ګوري چه قوم او اولس یې
د مجبورۍ شیبې ورځې تیروي. هلته د خوشحال بابا په لغړیکښې د ژوند

بهرامان، په خپلو اورنګي قلمونو په پښتو ژبه د پردو لپاره کارکوي، شعر
وايي او قصه ليکي. شاعر نه هرڅه پاته شي او زړه يې دوب دوب شي،
ناڅاپه د سپين د نرموغږو او نرې شمال په اوږو سپور د ده زړه ته پام
راپيدا شي، مخې ته يې ودريږي. ورته وايي ياره! څه چرت دې؟
چرت مه خرابوه، زه خو درسره يم.

شاعر په خود شي، تسل شي، موسکی شي او خوشالي وکړي چه:

سږ نه خو غني خان دی چه ختم تش کړي نظم وليکي
خوار ختک ته ګوره چه شعرونه په اوبو ليکي

ختک صاحبه! همداسي نه ده؟.....

د دې شعر نه په نتيجه کښې د دې وخت د پښتنو شاعرانو د وه
مخالف او متضاد کرکترونه، يو د باګرام د بهرامانو د اورنګي قلمونو خاوندان
او بل د غني خان د شاعرۍ د رمز او راز ملګري راڅرګنديږي.

په دوهمه دله کښې، بيا يو غني خان او بل اجمل ختک او ورسره
نور وطنپرست، ذمه وار اولسي شاعران راځي.

نن دلته، چه د غني او اجمل، په ياد مباحثه ده، ما غوښتل
يو سړی دوه دومره اضافه کولی شي چه:

غني خان، زموږ د عصر او زماني، زموږ د ملي ژبې يو زبردست
زورور، زړه ور شاعر دی چه هسې نه، بلکه په شعر کښې هم غني دی او هم خان.

غني په دې دی چه ډير شعرونه، سبه شعرونه او په ډير څه يي شعرونه ويلي دی. شعرونه يي يوازی زيات کميت نه، بلکه لوړ کيفيت هم لري او يوازی لوړ کيفيت نه، بلکه تنوع او رنګيني هم لري. دې ته زه وايم د شاعر غني توب چه د عمر هنري کار او زيار، فکر او خيال يي پښتو شعر ته غناء بخښلې ده.

خان خو په دې دی چه نورو ټولو خانانو غوندې زورور دی. د خوشحال خان بابا غوندې په سنګاره نارې وهي چه خوله يي راکړه او د فخر افغان بابا په شان له هر څه او هر چا سره يي کار دی. په هيچا يي جرأت ورانه دی هر چا ته ان خپل پلار ته هم خپله خبره کوی. د ادب، هنر، صنعت او ژبې قيدونه او پښتونې يي مات کړي دی. ژبه يي خپله ده. وزن يي خپل دی. الفاظ يي خپل دی، شعر يي خپل دی، د چا پرې څه؟

دی خو د شعر په کميت، کيفيت او تنوع کښې غني او د هغه په تخنيک کښې خان دی. مګر زمونږ نيکمرغي په دې کښې ده چه دی د شعر په محتوا او مفهوم کښې، نه غني دی او نه خان، بلکه د انسانيت د لياره يو رسا آوازی چه د زړګی، غوايي او خوسکی د هر بل خان له تصوره پورته د خوړله سپينو شګو نه محل جوړوی، له انسان سره د ميني اور پکښې بلوی، او ما او تا او هر غني او فقير بنيادم ته د سرهتوب بلنه ورکوی.

هو! اجمل، اجمل لکه څنګه چه يي ويلي دی، خوار ختک دی چه شعرونه

په اوبو ليکي . په شعر کښې خوار نه دی ، دی هم غني دی ، مګر نظر يې په دخوارو خوار بکينبانو ده . د دې نظر يې په لاره يې، په ځان باندی هم د دنيا خواری منلې دی . نو ځکه له شرابو نه محروم يا پرهيز شوی دی او مجبور دی چه شعرونه په اوبو وليکي ، دا مقايسه خوده ځپله کړې ده ، زه بيرته ورګرځم داجمل خټک صاحب ګلونو تکلونو ته : خټک صاحب په دې مجموعه کښې د تاريخي او يا افسانوي شخصيتونو او د ځپلو يارانو ، دوستانو ، آشنايانو او ملګرو په خوا کښې ځپل ځيني داسې ملګری ، چه مونږ يې تر اوسه په نامه نه پيژنو او ده غرضيان بللي دی ، هم ياد کړي دی . ګويا چه لاندې دا غزل يې د هغو ځينو ملګرو په باره کښې ليکلي دی چه ده په وينا د مبارزې له لارې نه يوا رخ ته شول :

نورو د منزل او د کاروان خبرې هيرې کړې
مونږه د کاسو او د جانان خبرې هيرې کړې

ځان يې د يوسف نه خلاصو هغه يې خلاص کړو نه
رونو د کوهي او د کنعان خبرې هيرې کړې

مات شول غرضيان شول ، که بدل ، که د نظره شول
ديرو شهسوارو د ميدان خبرې هيرې کړې

ناوې د رخونا سته ده ګود کښې د سينګار سره
ولې خوزلمو د آدم خان خبرې هيرې کړې

اې د حسن خيالاته خوراشه اوس ليوانی يم
خلقو خود يت او د ګلزار خبرې هيرې کړې

ما خو د يارې د ملنګي کچکول ترلی دی

تا ګه د دهلي او د رحمان خبرې ميرې کړې (د ۱۱ م مخ)

ـ خټک صاحب زمونږ د لرغونی تاريخي هيواد عزونه رغونه، سيند ونه او دريابونه، کلی او ښارونه هم په خپلو دې شعرونو کښې ياد کړی دی او لکه د هر بل پرديسي شاعر غوندې يې ديار او ديار ياد د شعرونو رنګ ښکلا او خوندې ورزيات کړی دی. وګورئ مثالونه.

تاترا : ته د تاترې لښکر کښې يې که نه
دا د غرو پير په چا ګيرېږي نه (۲۷ م مخ)

اکوړه : شته زړونه لوګي د سپېلنو شو وته لاړې ته
کله به خټک د اکوړې په سيمه ورشي (۳۷ م مخ)

اباسين : په ذهن مې تګر اباسين په څېر راشي
خزانې مې پټو پوښي د خلقو خوشالۍ ته (۶۵ م مخ)

کونړ، لغمان، اباسين : د کونړ سره چې راغې اباسين شو پېښور ولی
را ياد وړته خټک شو په ګلونو د لغمان کښې (۴۴ م مخ)

يا داسي نور :

= خټک صاحب په دې شعرونو کښې، د پښتو ژبې ادبي تولو سيمو ته لو او سيد ونګو د ژوند اله دو دود دستور او د پښتنو لر او بر ستونه او ملي او لسي غوره دودونه او غنچې د غزل په ښکلو ګنايو اشارو کښې ځايوي، وګورئ :

جرګه:

یوه خوږه مې آخر راځي په څه پښتو ده

د پېرو ارمانونو د اجرګې ورته پېښې شمار م (۱۳ مخ)

راځئ چې څپل مرادېږي شريکه جرګه وکړو

خټک څه بابا ته د څه سوالونه يې قبلېږي (۱۸ مخ)

پښتو:

غوټي غوړېږي په سوګفت کښې بيا هم تا ته خاندي

خټک په ليوري خو پښتو بانډې پوهېږي (۱۹ مخ)

اوسني شملې ځواني:

خټک په پښتو کښې يو څېکوله يو ملنګ دی

شملې يې اوسني د خرېګې يې خوشحالې دي (۲۰ مخ)

= په پښتو پېينګ د اوسني شملې او ځوانۍ يې خاوند، اجمل خټک د جرګې ورته يې عقيده ته په درنه نظر کتلي دي. ځکه چه جرګه د پښتو خلکو د يووالي او اتفاق مرکز دی؛ په همدې پوړ د خلکو يې اتفاق، خاخاني او قبيلوي نسلي پښتون نه مني. يعنې له هر يو پښتون نه پت غواړي او نوم يې کړي:

مونږ نوم نه غواړو پت غواړو د مينې په ميدان کښې

زما او ستا پرې په څه شو که غلجي که ابدالي دي (۹۰ مخ)

= خټک صاحب پښتنو او هر زيار کښ انسان ليار، د شرافت ژوند د ژوند شکلا او سرښوب د کار او زيار په برکت غواړي. دګانو نو پيا پيست د محنت د خوره لو محصول ګڼي:

آسمانه دا ګلونه په تو کړو نه راوږې * غوټي خوږه کيا راکښي خوږه لو نه راتوکيږي
(۲۴۹ مخ)

منمه چه دګل په رنګ کښې حسن دفطرت دی ۔

ښکلا د باغیچو کښې چه موسیبزی نو محنت دی (۵۰ م مخ)

خوارې کښې انسان ځېلې خوا پورې نیسي او ورته وايي :

خنک دستا دمتو د خوارې سندرې وایي

لږ خواته خوځې کښینه چه دچا خبرې کیږي (۴۷ م مخ)

نو ځکه دزیارکښو انسانانو په ښکلو هیواد و نو کښې د جنت له باغیچو نه راوتلې دنیا ګورې چیرته چه ګلونه او انسانان یو د بل تماشاګوي انسان پکښې آزاد دی . ځومره چه الوزي هغومره یې ځپله دنیا ده . دځپل هیواد زیارکښ انسان دې ښکلې فضا ته ځوي او بلنه ورکوي :

نه راشه ورته وګوره چه څه ښکلې فضا ده

راوتلې دجنت د باغیچو نه دا دنیا ده

ګلونه دانسان ، انسان دګل په تماشه دی

محنت نه جوړه کړې بنیادم یوه ښکلا ده

پرواز دانسان بند نه دی د زړه په پنجره کښې

چه ځومره ځوک الوزي ځپل اسمان ځپله هوا ده (۹۴ م مخ)

— همدغسې حالاتو ، تخیلاتو او تصوراتو سره ، چه هلته د نوې دنیا جنتي ماحول ګورې او بیا یې دځپل هیواد دبې ګناه خلکو دوزخې ژوند ته پام شي ، نو په ځپل غزل کښې دانساني ژوند دتصویر دواړه اړخونه ځرګند وي .

تاسې وګورئ چه په نوي دنيا کښې خټک صاحب د خپل لرغوني هيواد د خلکو په بد قسمت ژاړي، د وطن په وچو ميرو او ښکي توپوي، د خپل زړه د زخم په هينداره کښې، د ګل د سيوري لاندې خپل څوځان را يادوي. سړه دې کله چه د ابا سين د غاړې د ګودرونو منګي ور په ياد شي نو د نيوب د سيند د غاړې بې لکچه ښايست ور ته توکي ښکاره شي.

د احساساتو په دغه متضاد توفان کښې د وخت د حرلفيانو د معاملو ياد يې ديونشتر په شان د نازک او خوريدلى احساس په زړه او ځيګر ولګيږي او مينه، مينه، مينه ناري ووهي.

وګورئ :

شرنګ اوري د پايلو او کرنګ اوري د پيالو
په داسې وخت کښې ورکړي لا په کومو مسئلو
ستا زلفو او ستا شونډو ته زيريږم دلته نه
دا زړه مې ژوري قسمت د خپلو جينکو
داولې د غوټيو شونډې مراوي ښکاري
را والوت ور ته باد چير ته زمونږه د ميرو
لږ وګورئ زما د زړه د زخم آئينه کښې
د حسن د نغمو د کوګلر نګو جزيرو
د ګل د سيوري لاندې را ته خپل څوځان را يا د شول
نن ځنګ ته زما مراځي پر دو پر دو وږمو

دا نوري هسې توکي دي ښايست خو يو ښايست دی

د مست اباسين غاړې گودر ونه د منگو

خټک مينه منې، مينه کوي، مينه يې مينه

حيران کړلو دوخت د حريفانو معاملو (۲۶۶ م مخ)

په دې دول مقايسو کښې لاکله کله پښتون شاعر گوري چه دنوي دنيا د خلکو اولسونو د کار وزيار په خولو گلونه غوړيږي او زمونږ په دې هندونو د بې وسې بلي وريږي، نو ځکه په يو شاعرانه تکل ځان له دې دول وسوسو وباسي او خپل خلک د نوي په لوی ميدان کښې د سيالۍ لپاره رابولي:

د خلقو د محنت خوږه لې د سرو گلونو پرخې

زمونږ د بې وسۍ په دې من هغه شان بلي دي

خټک داوري دوسو خبرې پريږده

وختونه د دنيا په لوی ميدان کښې د سيالۍ دي (۴۰ م مخ)

- دهغې له امله دمينې د رهبر لمن نيسي، د انسان ارادو ته پام اړوي د انساني مينې په زور د زړه کې تنابونه لنډوي او د انساني شاعرانه خيال د حسن د معيار لپاره مشرق او مغرب يو کوي:

د حورو او علمانو د جنت کښې يې خه وکړل * تکل چه د انسانان په اراده کښې په غور خټک شو

د حسن په معيار کښې يې مشرق او مغرب نشته

دا ځکه خو خټک کچکول راواخستو ملنگ شو (۸۸ م مخ)

- دانساني مينې او ښکلا دکمال داحساس له داسې تکلونو سره شاعر دځان او دخپل هيواد دمحنت کښو خلکو دژوندانه تګ لوري ته کلي دي. چيرته چه وايي :

پـه لاره کښې مو بل دي دسرو وينو مشالونه
دژوند ښکلي کاروان ته موتا کلي لښانونه

ددې او چت منزل تراسماني څوکو به رسو
سو بره هم ماتيږي، هم غوره يږي به سرونه

داچاو يل دميني لار دګلو به رنګ ده
په هر يو قدم دلته کښې پيښيږي ګرونګونه

داموږ نه ليوني لکه جرس ځغلي روان يو
زموږ نه په وهلو به سر کيږي منزلونه

دغم کچکول په غاړه دوفا په لاره ځغلي
راځئ چه دختک سره يوځاى کړو قدمونه

(۳۴ م مخ)

- هو! ختک صاحب وايي چه : په لاره کښې مو بل دي دسرو وينو مشالونه. داد انقلابي ژوند او آزادي غوښتونکي نهضت لاره ده چه تل پکښې دسرو وينو مشالونه بل دي او دهغو په رڼا کښې دلاره لارو يو کاروان دغلوغندو يو له خطرو ځنه بچ کيږي. ختک صاحب په خپل سفر کښې، دکرهلين دماټي په خواکښې، دانقلاب دشهيدانو په ياد داسې بلبيدونکي سرې شغلي پچپلو

ستر گو ولیدلې. دا د انقلاب د لیارې د سرو وینو د واقعي مثالونو د دلیل و نه پس يې دا شعر لیکلی دی چه "گلونه ټکلونه" پرې زیات ښایسته او په سره غنچه څه چه په سره لمبه بدله شویده:

دا سره شعله چه يې رڼا په ټول جهان خوره شوه
وینه سره مینه شوه په فکر د انسان خوره شوه

په انساني مینه قربان د وینې هره قطره
د سحر ځیره شوه په ځمکه په آسمان خوره شوه

دا ئې چه توره ځیر ماتېږي سره بنګړي شنېږي
د دې شفق د ګل وږمه په ګلستان خوره شوه

د مشرق ناوې چه سور خال د یار د وینې کښېښو
د ښکلا کوکې يې د حسن په میدان خوره شوه

د نړۍ باغ کښې يې د هر یو رنګ جلوه ښکاره کړه   دا انقلاب د لمر رڼا وه په یوشان خوره شوه

خوار و کوډ لوټه يې راوړه د محل نه دولې
په خوار یکښو کښې موسکا د اطمینان خوره شوه

باغ د نړۍ نه د انسان ښکلی جنت جوړېږي
لاره د مکر توره جاله د شیطان خوره شوه

د استعمار تغر ټولېږي په ګوټ ګوټ د دنیا
د دې شعلې د غورځنګ چیغه په جهان خوره شوه

ختکه ته دې خپلې پولې پټې ژر سموه

تر تا لمنه د رحمت ددې باران خوره شوه (۸-۱۰۹م مخ)

په دې صورت «گلونه تکلونه» کمال ته رسي.

هغه گلونه تکلونه چه په هر غزل او هر بیت کښې یې زمونږ د وچو د ښتو دیوللې گل خوشبویي؛ زمونږ د دنگو واو دینو غرونو په کلکو تیږو کښې دیو غوړېدلي گل ښکلا یا زمونږ د ښاریو په کیارو کښې د روزل شویو گلونو مسکا او پکښې د دغو دښتو، غونډیو، غرونو او ښاریو د خوځېدلو بیوزلو او اوسېدونکو د راتلونکي نیکمرغه ژوند لپاره د نوی مترقي نړۍ د ورورۍ او برابرۍ په اساس د آبادۍ او پرمخ تگ د هوسا او ساهو ژوندیو تکل گوري چه له تحرک او دینامیزم سره، په مثبت او ژوندي ډول د شاعر د فکر، اندیښنې، هیلو او آرزوگانو د تکلونو عکاسي د هغه د هنري صلاحیت، استعداد او تجربې په برکت د غزل په نازکو، تاندو، سرو او ښکلو گلپاڼو کښې شوې ده.

داشعرونه زمونږ د هیواد د گلانو په شان رنگین، ښکلي او نازک، زمونږ د لویو لوړو غرونو د تورو تیږو په شان کلک زمونږ د آمو او اباسین د څپو په شان په غورزنگونو دي. نو ځکه د هغو د چاپ نه وروسته زمونږ په خلکو، شاعرانو ادیبانو یې زیات اثر وشو. ټولو د هغه استقبال وکړ. شاعرانو چه د ثور انقلاب په گرمو هنگامو کښې د انقلابي سندرو او ترانو د ولولو په جوش وخروش کښې له غزل نه لږ څه بې پروا شوي غوندې وو، بیرته یې ورته پام واړاوه.

دې کښې شک نشته چه دغزل په فورم کښې اجتماعي یا سیاسي مطلب یا انقلابي هدف تعقیبول دهغو زمانو لوم ړنی تخلیق دی چه هلته شاعران مجبور وو چه په سوړ نی کښې آذانونه وکړي. مګر زمونږ دشرقي شاعرۍ دې فورم داسې دومره ارتقاء کړې ده چه دهغې په کمولي یا نشتوالي زمونږ دشاعرۍ په ګلبڼ کښې ستره خلا محسوسیږي.

د پیړیو په پوړیو کښې دشعر دې اشاره کنایو، هغه مقام مونږ لې دی چه له صراحت نه یې زیات بلاغت ور په برخه شوی دی او هر وخت ورته ضرورت محسوسیږي. له غزل نه زمونږ دشاعرانو دیوی نسبي خاموشۍ په وخت ګلونه تکلونه چاپ شوو. داسبه په موقع کاره.

مونږ باید دزیاړکښ انسان خیره دهنر دټولو ګلونو په پاڼو کښې ښکاره کړو. مونږ باید دانقلاب آواز له هرې شپیلۍ نه وغږوو.

مونږ باید دورورۍ او برابرۍ پیغام له هر دریځ نه هرچاته ورسوو. په دې لړ کښې دغزلو ضرورت محسوس دی.

داجمل خټک دمجموعې په خپرېدو دې ضرورت ته دپښتنو شاعرانو توجه زیاته شوه. ډیرو شاعرانو تقریباً له سره په غزلو راغلل. دټول دانقلاب ایډیې او ارمانونه بیا په غزلو کښې ښیلي پلوشې خپرې کړې. غزل لا ځه ډیر شو. لږ څه چه بښایسته ډیر شو.

- او س ځینې شاعران دغزلو په ګلونو دانقلاب تکلونه نغاړي. دغزل

دلرغونې هنري غنچې په قالب کښې نوی روح پو کوي . شاباس .

- ځینې شاعران یوازې د غزل لپاره غزل وایي، رنګ یې ښکلی او آهنګ یې خوږ وي خو باید دا ښکلی غزل انساني پیغام هم ولري او له زمانې نه بېرته پاتې نه شي. بلکه شاعر باید هڅه وکړي چې زمانه پرمخ بوزي او هغې له مثبتو تحولاتو سره ملګرتیا ولري .

- ځینې شاعران د غزل په فورم زمونږ د انقلابي ژوند نوي مسایل په ډاګه طرح کوي . دوی باید د غزل د ښایست خواته هم پام واړوي. تخیل او تصویر ته توجه وکړي او له رنګینو الفاظو کار واخلي . او افسوس د هغه چا په هنري حال او مآل چې دا ښکلی هنري فورم په انقلابي ضد طرحو ککړ کړي .

- ماوې غزل لږ څه نه بلکه بېخي ډېر شو. دومره ډېر چې زه ډاریږم چې مونږ ټول غزل غزل نه شو او تکل او مزل را نه پاتې نه شي. مونږ خو هڅه کوو چې شعر له بې وزنۍ ځنې وساتو نو باید هر وخت هم له بې موازنګۍ ځنې وژغورو. دا یوه مشوره ده، مونږ باید هڅه وکړو چې په هره وسیله، د شعر او ادب د هر فورم په ذریعه د عقل، خیر اندیشۍ، ښېګڼې، مینې، دوستۍ، ورورۍ، برابرۍ او پېرزوینې تخم د خلکو او ولسونو په زړونو کښې وکرو. د ادب یو تعریف د هر څه حد ساتل دی. مونږ باید هم د غزل حد وساتو هم د هغه حق ادا کړو له دې لپاره د وطن، ټولنې او انقلاب حق هم ادا کړو. له دې پیشنهاد سره زه خپلې خبرې پای ته رسوم او محترم اجمل خټک ملګري او ورور ته وایم:

په ګلونو تکلونو دې برکت شه !!

محمد دین ژواک

داجمل ختک ادبي شخصیت

نثرته هم کتنه!

څو ورځې دمخه ښاغلی میوادمل دکابل او وزیار مجله دماښځوغونډتل چې داجمل وروز دنثرپه برخه کی څه ولیکم خوداچې زه دده دادب دنثری سیند داناپایه درموندلوته ددې غوټې توان لرم که یه! او دانا پایه درموند لای شم چې دی درانه محفل ته وړاندی شي. داکارزه پرخپلواوږو څه دروند شانی بولم خو په دې وخت زما تسلا داشوه چې دده هنري یاران ونګیوم او دهغو د ژبې داعجاز یوه کرشمه وښیم څکه داجمل د ادبستان یوتوتی وایي: «اجمل او داجمل فنکاری دده دکیفیت دوه نومه یا دده د خوازه خوب دوه تعبیره دی او داهم زیاتوی، اجمل او دده تخلیق یو دبل هنداره او مظهر بلل کیدای شي.» په همدې اساس دادی دده په ادبي بزم ګډیږم او دده دی ادبي بزم ته دبلنې د راز او بیان غاړی ته ستاسی لاس اچوم

اودې د مينې او محبت خواله ته تاسي رابولم څکه دی گرم بزم ته چي سهيل
يي نشته ستاسي تونده تلوسی ته د اشاره اجازت هم غواړی. هغه
دا چي اجمل وايي :

لکه تپه ديو ماشوم شپونکی له خولی نه وزی
په کانو بوټو کی خوريږی ځی ورکيږی چيرته
لکه يوه پاکه پلوشه د سحري ستوری نه
په توربخن سحر راالويږی ځی تيريږی چيرته
يا لکه اوښکه په ليمو کی د نيمځالی گوندی
چي بی اسرې غوندی ښکاريږی ځی پټيږی چيرته

داچي ماوويل زه تاسي دی نازکی دنيا ته رابولم خو داچي کوم تصوير ته
هغه چي شپونکی، د ماشوم شپونکی د خولی نه آواز ته چي په کانو يا د کانو
په ګوټوکی د ياقوته وينی سرخی ته د پټپوتاني چل ورښيي، دا آواز
تاسي ته د اجمل د ژبی د هنر په ښووالی شی ؟

يا د سحري ستوري د هغی پلوشی د توربخن سحر دولونو غيږی ته
چي ځان جوړ وي دغه تصوير چي دليدلو، تيريدلو
سينده ته لاهو کړی غوندی ده نو تاسي هم وا ياست چي دی پلوشی ته
زه د هغه ماشوم په شان چي په هنداره کی د لمر د لويدلی رڼا پسی منډې
وهي وګرزم يا خو يي تاسي ته درونيسم ؟

دالاځکه چې داڅه لیونی نه یم چې د نیمځالی کونډی په لیموکی د بی بهای اوښکی د پټید لوارډ وښیم او اغیزه یې د تورو او الفاظو په نیارهنو ګوتو نیولی تاسی ته درو ښیم!

دی جنت ته مانا بللی نه بولۍ؟

بیا هم داچې «نیاز» لالی وایي: داجمل دانثر تصویر؟ هغه لکه د ژوبل احساس څرګیه یا خو دزخمي غیرت یوخوغورځنګ چې د اولس د جونګړی په څوشنو او سیلیو کی ګڼلای شو، دا باید ومنل شی ځکه تاسی د اجمل «کچکول» یا «دازه یاګل وم» نثروګوری هلته په رښتیا د اجمل» دغربت یو څو ترخی تجربې یا خو دسرهایي یوڅو ناکردی او دغاور اقتدار یوخولتي» د اجمل په سوی لوی وجدان کی قالب شوي دي چې نمونه یې تاسی ده د نثر په غیږ کی یعنی د «د مسافر ته خطاب» لمن سره څرګنده وی هلته چې دی وایي: «یه مسافر کاکا! «د پښتون په نوم زمادی ببرسر، شلید لی ګریوان، لمدولیمو .... وچوشونډه تو وګوره .....

د دی محاخ خیبر داو چتی څوکی په خاطر - زمادی ذلت، رسوایي او خواری ته وګوره!

ته ولی خاندی ما درواغجن بولی؟

زماسرببر نه دی، زما لیمه په اوښکو نه دی لا نده، زما شونډی نه دی وچی؟

مسافره ! راننژدی شه، په خیر خیر راته وګوره ......

هو ! زما سرغوړ دی خودتورسرو، ببرسرو دتن په تبلو، او زماتانې...... داخو دوروڼو اوخویندو دشلید لوګریوانونوتاړ دی.

زما شونډی مسکی دی، دا خو دهغو شهیدانو دغیرتنا کو تندو حل ما پوری خاندی څکه ما دوی هبرکړی دی .

زما شونډی په پانونه دی سری، دا زما دوروڼو، خوندو، چینلی او سنی دی، چی یوګوټ په زور زما خولی ته راکړه شویدی اودا ظاهری اعزاز زما دغیرتمنو، دغیرت پتهولو په غرض راکړه شویدی.

نو مسافره ! نه غواړی چی زما سره حال بدل کړی. توره شلید لی خیمه په تک سپین محل بدله کړی.

مسافره ! ډیرنه دیوی هفتی دپاره، خو بد به یی داوی چی څوک ستا غیرت پوری خاندی نو ته به ورسره سرهبنوروی ! که څوک ستا ورځ ته شپه وایی نو ته ورسره یکینبی ستوری شماری . که څوک درنه سنګاری شپی جوړوی او بل دپاره یی په تاسونیسی نو ته به ورته وایی هلو دا زما دپلار نیکه کسب و ....

که څوک ستا ژوند برمنډوی نو ته به دهغو دخوشالولو دپاره دخپلو مړو کفنونه هم پټوی .....

وی مسافره ! ته خو ژړاته جوړشوی ستا زړه خو زمانه هم نری دی

خوهسې مسخرې مې کولې، په رښتيا خو تا نه ستا آزاد ژوند مانه دی اخستی. وګوره په سړی د پښتنو بګړۍ ده په تندی د غیرت پلوشه...... په مټو کې د تورزنی ولوله.... په ږیره کې دی دنیک بختی ګنوالی او.......

یه مسافره! که ژاړم نو زه به ژاړم چې هرڅه زما خوواک یې دې بل داځکه سبه پوهیږ وچې وینې مو خپله چیښتی او هلوکی د یورپ اوامریکې پر سود اګرو خرڅوی، مګر موږ کش او کړپ نه شوکولای نو که ژاړم زه به ژاړم ځکه ستا خوواک خپل.... حیا دې کالی او ننګ او غیرت دې دعاوسله.

یه مسافره ستونی دی ولی دې ک شو دا ځکه چې زه ستا وروډیم او ته ماوروړ ګهی. دا وږ دی پرمانه ده پیزو؟ وایي چې پښتون خو هغه یو والی لری چې عزونه، لوبي د بسمتی او سیندونه یي نه شي بیلولای نو دا نن یي د «ډیورند» کافر فرضي خط بیولوی شي؟ دا خیال د سره دی. خیر واوره یه مسافره چې ماهم د غیرو په بانس پوړی ترلی بیرغ نه شي غولولای ځکه ما ته د خیبر پر څګ آسمان دلوی هغه ربا ښکاری کومه چې د پیریه پیریو د پښتنو زلمیانو د غیرت په وینه ځګه ساتل شوي.....»

سبه داوه د مسافر ته خطاب تر عنوان لاندی د نثر ده غوره شوی برخې یوه نمونه چې ما یي لږه برخه چاڼ غوندی ستاسی دړانه محفل ته وړاندی کړه اوس خو به د ا یاز موږ دا خبره منۍ چې ویلی یي دی: دا جمل ادبی اثر دفن او جذبي امتزاج، د شعر او نغمی ګډون، دا انګار او ګلزار تحلیل او د کمال

اوجمال پټ پټوني دي، بلې دلته د مسافر ته خطاب په نثر کې داجوته نه لوئ
چې د داؤدزي په قول: په دې نثر کې " د زلمو ښځینو د خوبونو یوزلمي تعبیر
شوي دي " او دي ته " د حقایقو ښتوني تصویرونه ویل کیدای شي " یا خو په یوه هنري
تصویري فضا کې خوره وره غوغا او دیوه ناقلاره روح د تل نه وتلي، سوي وریته
شوي، لړزیدلي او کړیدلي کریږه " خیر ما خو وویل زه خوار خو د اجمل د هنري
ژبې د سیند غوټې د نایابه د رُلا ر ه نه شم وهلای نو که یوار بیا د "ایاز" په
ښورنده شونډو یو اثري دم غوندې ووایو چې د خپلې خولې د لفظي طلسم
قلف مات کړي او موږ ته د دې انګار او ګلزار ته د تحلیل د کتلو اجازه راکړي منم
چې "ایاز" یار دا کار کوي چې ووایي: " د اجمل ژبنی هنر هغه خو د مثالي
ژوند، د مثالي معاشرې، د مثالي انسان او مثالي دنیا د ارمانونو د ځواني ښایسته
خوبونه دي." واقعاً کله چې " مسافر ته خطاب!" نثر څوک وینی هلته د مسافر
د ژوند مثال او د خپلې خرڅې شوې هستې مثال ډیر ښه ښــوول شوی دی.
هلته د مسافر اصلي ښېښتني ویارلی ژوند، د ویارلي ژوند ټولي هستي روڼه
برخه او دیوه خرڅ شوي ښښتون دک زړه او دلته د مثالي معاشرې، د مثالي
انسان او دنیا د ارمانونو د ځواني ښایسته خوبونو د تصویر ښه مثال لیدل کیدای
شي چې د ښه هنر اثر نثر وي که شعر؟ افسانه وي که ناول په عین کې باید د امثالي
مقصد او د امثالي هدف هم او د مسافر ته خطاب نثر حتی "کچکول" یا خو
" دازه پاګل یم" نثرونه د کمال لوړي او د اهدف ورسره مل دي داچې " ایانه "

ورودوایې : داجمل د اثرسره » په زلزله غیبز کې نیولی احساس، یو پښتنی پټ رالړزیدلی شعور یا د ژوند دا قرار وله تیاری نه تیرنظر او یو د اولس د مینې ډک اودمینې په میومست زړګی» شته کله چې د مسافرته خطاب ! نثر ځوک لولي هلته په رښتیا یو پښتنی پټ رالړزیدلی شعور غوریدلی ښکاری او دیوه ښه نثرمزیت هم د محتوا په لحاظ دغه دی څرنګه چې داجمل په لفظی جمال او کمال کې یې تاسی لیدلای شئ چې په یوه شعر کې یې دا دول ښودلی دی :

په سمندر کې چې ډیرې راشي خو دساحل په اسره ځان تباه کړي

او چې ځان وپیژنی ځان وښیي د نوح طوفان شي یوجهان تباه کړي

وګورئ په شعر کې هغه اسرار چې د «مسافرته خطاب !» په غیبز کې په مثالی شکل ادا دی او ځان هم ښیي مګر مسافرته خطاب کونکی هم، ځان د نوح طوفان ته سپارلی بولی او د ساحل په اسره ځان تباه ګڼي .

اجمل په رښتیا د « ایاز » په نظر : یو د شعر او فن په ګلستان کې اوسیدونکی خیال یا خود یو ورک شوی جنت په لټون پسې یو ناقراره روح دی .

بلی ! که زه وایم چې زه هم د « نیاز » نیازمندی چې ده د خپلو ژوړو پلټنو په تله کې اچولی او دا نتیجه چې ترې اخلی چې ووایي داجمل دیناتول دیوه درد یدلی، غمیدلی، نیستمن، درد من ولی خوږمن ژوند په ارته سینه سرکیږی، سترګی یې ورمی او خه خوب شانی ووینی نو تعبیر یې هم د پښتنی فن تعبیر خوږ خوږ اجمل شي یعنې اجمل او د ده فن د یوه کیفیت دوه نومه دی .

نو دلته دا ویل روا بولم چې د وایم سندرې ویل یا څه لیکل خو د بنیادم په خټه اخښل شوي دي یو شپون چې د ګلې رمه روانه کړي ، هسک خیبر ته وخیژي ، زړه یې هوا شانې وکړي ، په غوږ وګوتې کښیږدي او یوه ټپه د خیبر په ارتو لمنو کې وګرنګیږي .

یوز میندار چې ودان پسرلي کې د غمو په شنو پټو راشي نو په غیر شعوري ډول یې دا احساس د ژور تل نه سندره هسکه شي ، یوه بوډۍ چې د شپې څرخې ته کښیني او د سپوږمۍ په رڼا مخ کې د پیغلتوب د یادو نو غښې ووینې نو یې بې اختیاره یوه هیره سندره د شعور په فضا کې خپلې انګازې خورې کړي . یوه نازولې پیغله چې د خپل اباد مینې محل په هسکه مناره ودریږي نو له ورایه خپل نتلې ژوبل مین ووینې نو د دغه ساعت نه دا تصور د تسلا یار و بولي چې ووایي :

زما خو ته یادیږې یاره

که د جنت په مناره ولاړه یمه

هو ! که دا ټول خیالات او تصویرونه ټول شي نو فنکار اجمل ته ځي جوړیدلای شي اوس په تاسي ته د فنکار اجمل د نثر یا خو نظم غایه په هنري کمال او د فن د معجزې اعیزه معلومه شوي وي

سبه ما ته خود اجمل ورور پر نثر د څه ویلو ویل شوي و .

منم چې ما د اجمل صاحب « مسافر ته خطاب ! » او د هغه مثالي

تصویري نثري برخه لږه اوږده وخیږله یعني په دې مضمون کې ماده د نثر لمن نیولې وه هلته چې د ده د نثر پر بهتره برخه ګلونه بوټي شوي دي او یا د ده د نثر د فنکارۍ پېغلې په اوربل کې تومبلي ګل تاسي ته ښوول غوارم مګر د دې لالي د اوربل د تومبلي ګل سره دا ونه وایم چې دلته که د اجمل د ژوبل احساس یوه څرکه یا د اولسي جونګړو یو خوشنه اوسېلی د تورو او الفاظو غیره د ځان کړې ده او د پښتنولي د احساس قالب هم بلل کېدای شي. نو د اجمل نوي شعري فنکارۍ هم د هېرېدلو نه دي.

هو! دا هم راته روا چې " د مسافر ته خطاب!" د نثر د ګیني خوسه او شنه غمي وګورو یا دا چې تر کومه حده چې زه د اجمل ورور د هنري ژبې د ښکلي جامې سره بلدیم نو د "پښتانه لیکوال" همیش خلیل دا خبره هم نه شي هېرېدلای چې ویلي یې دي: " د اجمل خټک ژوبل احساس، تازه پرهر جنوبنه چې راولړزېږي نو د انسانیت د ذلت او غفلت در دېدونکي ویده جذبات را وجوشېږي او ورديدېږي د هغه تخلیقي او شاعرانه دماغ پښتو ادب ته یو نوی خیالي او نوی جهان وربخښي."

هو! همیش خلیل لکه " ایاز" ورور د اجمل د ادب د تصویر ښه تفسیر کولای شي چې وایي: " د اجمل خټک شاعري د روند اقدار

ناکردو ، دهغه دمظلومۍ او دهغه دتریخ ژوند دواردا تو هغه بازگشت دی چې دژوند قافلې یې راوښبې کړې دی ، دمنزل احساس یې ورپه برخه کړې دی او دهغو په رفتار کې یې لکه روانه وینه ګرمۍ او تیزي پیدا کړېده یاخو دهغه شاعرۍ دسوونو کلونو دارمان او انسانیت دخوشالۍ زیری او پیغام راوړی . خیر اوس نو موږ د اجمل دژبې سره اشنا شو او باید ووایو چې کله چې اجمل ختک دادب په تصویر کې دده نثرته هم پام شو داهم باید ووایو داجمل نثرهم داجمل دژوبا احساس بل تصویردی ، (ددې مقالې اخستنه داوسنی لیکوال دلومړي جلد داجمل دسوانح ثحه شوی ده .)

مرحقق معمد شینواری

غني خان او اجمل خټک د نورو په نظر کې

دا نن ډېره لویه ورځ ده ځکه چې د پښتونخوا د دوه سترو شخصیتونو او لارښودو ادیبانو یادونه او نمانځنه پکې کیږي.

مونږ تل خپل مړي او تېر خلک یاد کړي او نمانځلي دي او موجوده او ژوندیو ذواتو ته مو اعتنا نه ده کړې. خو دنیکه مرغه دا دی د قومونو او قبایلو د وزارت په ابتکار نن ورځ د دوه ژوندیو رجالو او محبوبو شاعرانو یادونه او نمانځنه کوو او د عمر اوږد والی ورته غواړو. دا دوه د شعر او ادب هنرمندان چې خپل ټول ژوندیې د پښتني ټولنې نیکمرغۍ ته وقف کړی دی یوازې دا شنغر د اتمانزیو او اکوړې د کلیو او سیدونکي نه دي بلکې د هر پښتون زړه ولوکه په هرات او بدخشان کې وي د دوی کوردی. ګرانو ملګرو زما خبرې په مبالغه حمل نه کړئ بلکې دا یو حقیقت دی.

طبیعت دا دی چې سیلاو (سیلاب) مخ په ځور تو پونه وهي مګر

ددوی دشعر سیلاوُ دبری پښتونخوا په لوړو غرونو او رغونو هم غورځنګ وهی او دیخ شمال نه یې حتی دبلوا ګرمۍ وهلی استفاده کوی .

غنی خان ادیب او سیاس ؤ مګر وروسته وروسته یې سیاست پریښود او یوازی دادب او فکر په ډګر کی لیدل کیږی ، دده تعقل ، تدبر او تصور نژیه ډیره پراخه ده او د شعر موضوع یې غیر محدوده ده .

اجمل خټک هم ادیب او سیاس ؤ او دی او په دې وروستیو وختونو کی اجتماعی چارو هم دده فکر ځان ته اړولی دی . دی خولوړ او فصیح مبلغ دی او دوینا ډګر یې جذاب دی .

دا دواړه شخصیتونه د پښتنو راتلونکی ته اندیښمن دی او هم هیله من . ددې دواړو ادیبانو شهرت یوازی په پښتونخوا کی بند پاتی شوی نه دی بلکی د پښتونخوانه ډیر لری په یورپ کی د دوی په باره کی خبری کیږی د دوی په آثارو بحثونه کیږی ، مقالی او مضامین ورباندی لیکل کیږی او د دوی د تفکر طرز د دوی د آثارونه معلوموي ، مثلاً د مسکو د علومو د اکاډیمی په یوځوان غړی ګریګوری فیودوروویچ ګیرس غنی خان نه دی لیدلی او نه یې ورسره کوم صحبت کړی دی ، مګر غنی خان سنه پیژنی او دده طبیعت ، دده د تفکر طرز او اندیښنه ورته معلومه ده . ډګیرس په فکر غنی خان د پښتنو سره مفرطه مینه لري او پښتانه ورباندی ډیر ګران دی او دا د غنی خان ددې بیتونه فهموی :

په والله چې له جنته به شم ستون — که نغل یکې وانه ورم د پښتون

او یا لکه دا بیت:

چې خرمخې وروړ پښتون یې نیلې درشي — درنه هېر به تول ښایسته د بحر و بر شي

اوس زه د لته خپلې خبرې بس کوم او هغه تحقیق او لیکنه را ترجمه کوم چې د شوروي اتحاد د علوماکاډېمۍ د ختیځ پېژندنې د موسسې له خوا زمونږ د د غو دوه ادیبانو په باره کې شوې ده لومړی د غني خان په باره کې:

«غني خان رومانتیک . ریالیست شاعر دی، دی په ۱۹۱۲ع کال کې پیدا شوی دی او د پښتو په شعر کې د نوي جریان له موسسینو نه دی، دی د مشهور سیاسي او اجتماعي شخصیت خان عبدالغفار خان زوی دی. خاص د په پښتو ادب او شعر کې د لومړي ځل د پاره د جنون فلسفه رواج کړې او تبلیغ کړې ده . دی په عین حال کې د شعر د عنعنوي قانون او لفظي اسلوب دیو سخت مخالف په توګه منځ ته راغی . د غني خان آثار په خپل منځ کې یو تر بله سره تضاد لري خصوصاً بیا په لومړیو وختونو کې . د ده په اشعارو کې کله کله داسې ځیې را پورته کیږي چې د هغو تا کلو مسایلو نه مجزا دي د کومو د حصول د پاره چې د ده سکه پلار د خپل ژوند زیاته برخه وقف کړې ده . په همدې ترتیب په هغه شعر کې چې اختلافات نو میږي غني خان داسې لیکي:

پلار مې ورک په خپل وطن — زه د خپل وطن نه ورک

د هغه خوښ دی تعلیم — زما خوښ ساګو پالک

د هغه خوبن دی ځوانان   لی تو د قوم په جنګ روان
زما خوښ هر ګلستان   هر چمن د لولوړک
د هغه وطن جهان   ځای بی نوره بیابان
زما ملک ښکلی آسمان   د ښیسته ستورونه ډک

په دې شعر کې د نیچیلیزم عناصر هم ځای شوی دی چې په عمومي ډول سره د غني د اشعارو خصوصیت دی. په دغه صورت کې د منفي محبوب وضعیت په خاطر شاعر د پښتنو د آزادۍ د حرکت سره خپل آثار مقابله کړي دی.

د خپل پلار په پریکړه دیارلس کلن غني د تحصیل له پاره انګلستان ته ولیږل شو، د یورپ په ظاهري جلبل او رونق کې ځوان غني داسي ژوند و نه لید چې د ده د خپلې لرې سیمې د ژوند نه په سختۍ او تکلیف کې کم وي.

غني به په انګلستان کې ټل ادبي کلوبونو او ټولنو ته تللو، د ده د رسامۍ د هنر سره علاقه لرله او ډیر مطالعه او لوستل یې کول. په دغه وخت کې د ده خپل هنري استعداد او ادبي قریحه هم د شعر په میدان کې وازمایله، د ده د ځوانۍ د کلونو اشعار لکه چې ماستر عبدالکریم په باریک ډول سره توصیف کړي دي سړي ته خود سره او یاغي آس وربه یادوي چې لوړې او ژورې تیټ او هسک، سمه او غر بلکې هیڅ نه ویني او همداسي مخ په وړاندې توپونه وهي او د لارې او بې لارې امتیاز نه کوي.

عبدالغني خان په داسې حال کې خپل هيواد ته را ستون شو چې په شعر و يلو يې پيل کړی و. ده د هندي اشعارو ډير محبوب ايجا دات را وا خستل، د ده توجه ټاګور او غالب ځان ته جلب کړې ده او خصوصاً بيا عمر خيام ده ته ډير نژدې دی، ده د خيام نه رندي، بزله ګويي، عياشي او مي پرستي اقتباس کړې ده مګر د غني وظيفه او ادبي نړې د استادانو په ساده تقليد کې انحصار نه ده، دی ديو پاخه ايجاد، مستقل سبک او ابتکار څښتن هم دی.

غني د ځان په باره کې وايي:

ښيي زور خيال نوي جامه کې د غني دی دا صفت
خيال مې د سبا دی پيدا شوی پرون يمه

په دغه بيت کې د (نن) کلمه په اتفاقي ډول نه ده حذف شوې، ورځني عادي ژوند شاعر ته داسې ښه خوند نه ورکوي. کله چې شاعر په فلسفي افکارو کې غرق شي نو بيا له وزرو ډير لوړ الوتل کوي او ډير لرې د ده هنري تخيل د ځمکې خوا ته را ښکته کيږي.

د ژوندانه د ښه والي ترسيم د پاره غني خپل مخصوص سبک او اسلوب لري، طنز او ټوکې ټکالې کوي او هر څوک چې د شعر په ډګر کې د ده مخې ته ورغلي دي هم داسې ورته نه دي پاتې شوي او ګوزارونه يې ور باندې کړي دي. حتی انګريزان، ملايان، وطن دوستان، اولسي بېسوادان او عتيقه پرستان

د ده د ظرافت لاندې راغلي دي. هو! تيز او مهم موضوعات په دا رنګ تعبير سره بيانول په طبيعي ډول د اشعارو انتقادي روحيه او ځينې کمونې د غني خان د اشعارو نه معلومېږي چې د اولس په وروسته پاتې کېدلو کې په لوړه درجه پخپله اولس ملامت دی .

د غني انتقاد چې لا تر اوسه د ثبات حالت ته نه دی رسيدلی که څه هم تو ند دی د ماحول او چاپېريال د واقعيت سره د ده د عمومي نيهيليستي مناسبات څرګند وي دي ، دا په حقيقت کې د نوي نسل وضعيت دی چې په خپلو اساسي پرنسيپونو سره د انتقادي ټوند د ترسيم طرفداران دي .

غني خان چې د پښتني نړۍ اهل دی د خپل اولس ، د خپل اولس د عادتونو ، عنعنو او ددوی د ژوند د ځرنګوالي سره وفادار دی او د پښتنو د خاورو کورونه او تنګي کوڅې د نوري نړۍ د بنګلو او پراخو جادو سره نه برابروي. د ده د اشعارو لولئ :

ماليدلي د فرنګ ښکلي جېزونه (۱) | چې د لاندې تري غوړه زنګ وهي سيندونه
ماليدلي محلونه د لندن | جينکۍ مستي آزادي ګلبدن
ماليدلي د اتلي (۲) ښيسته ښارونه | سره يي انګور ، سره يي شراب او سره ګلونه
ماليدلي د پيرس ښا پيرۍ ښکلي | په کردار ، ګفتار ، خوږي لکه بلبلي
ماليدلي امريکه کې دي ښارونه | چې ورځو ته يې رسي مکانونه

---

(۱) جهازونه . (۲) ايټاليا .

ماليدلي تاج محل غوټي د ګلو | د ډهلي ښکلي ښارونو د مغلو
خو چي وګورم زه خپل دختو کور | دانه هير شي محلونه ښيسته نور
دا نړۍ تنګي کوڅي زما د کلي | ورته څه دي د دنيا ښارونه ښکلي
چي خرڅي وروره پښتون سيلئ له دره شي | درنه هير به تول ښايسته د بحروبر شي
خدايه شکر چي پيدا د له د ګ قام کړم | د پښتون د نروجود د ي يواند ام کړم
څه به کړمه د لندن لوي محلونه | د پيرس جوړي ښيسته رومي ګلونه
په والله چي له جنته به شم ستون | که کنځل بلکي وانه ورم د پښتون

هو ! پخپله ژوند او عصر نوي موضوعات د غه وتلي شاعرته په غوږ کي ويلي دي نو داپوره قانوني ده چي د ده په نظرياتو کي تضاد را پيدا کيږي . د غني د آثارو په پرنسيپونو کي راتلونکي ژورا ختلاف سره د ده اجتماعي او سياسي فعاليت هم مرسته کړي ده ، په داسي حال کي چي غني د استعمار ضد غورځنګ د پيل کوونکي عبد الغفار خان سکه زوي دي داسي ښکاري چي دي کو ښښس کوي چي په خپل ځان باندي د خپل پلار قوي باور او اعتماد راولي او دا چي غني لومړي د سرچپو شانو په ډله کي داخليږي او بيا د ځلو ښتمو ګلونو په نيما يي کي د ځوانانو د سازمان (زلمي پښتون) رئيس کيږي ، د اکار يي د پلار د اغيزي نه خالي نه ؤ . د (زلمي پښتون) په نامه د ځوانانو د سازمان وظيفه او مسؤليت دا ؤ چي د ټول پښتون اولس د آزادۍ د حرکت سره خپل حرکت متحد کړي او ګټور تاثير ور باندي واچوي .

په ۱۹۴۵ - ۱۹۴۷ کلونو کی غنی خان د کانګرسیانو له خوا په مرکزی اسامبله کی د وکیل په حیث انتخاب شو (د عبدالقیوم خان ځای یی ونیو) په همدغه وخت کی غنی خان ادبی فعالیت ته هم ادامه ورکوله مګر د ده د آثارو موضوع په دغه وخت کی بله بڼه اختیار کړه او ځوانی شکل یی وګرځید.

د غنی خان دغه شعر ولولئ چی څومره د وطن دوستی عالی احساس پکی پروت دی او د څومره قربانی نه حکایت کوی :

چی خازی شنی می په قبرو ولاړی کهٔ غلام مړوم راځی تو کړه پری لاړی
که په خپلو وینو نه وم لمبید لی په ما مه پلیتوی د جومات غاړی
چی قطری قطری می پوځ د ښمن نه کا موری ! ما سپی په کوم مخ به ته ژاړی

یا به دا بی ننګه ملک باغ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوڅی ویجاړی

د دغه شعر انګازی چی لا تراوسه پوری د پښتنو په منځ کی اوریدل کیږی او د دوی په خوله زمزمه کیږی. په ۱۹۴۱ کال کی د (پښتون) مجلی په پښتنۍ باندی چاپ شوی ؤ مګر په راتلونکو کلونو کی د غنی خان په اشعارو کی داسی متضاد تمایلات منځ ته راغلل چی د لومړنیو نه مخالف وو.

د ادبی نړی ستر هنرمند، د ځلاندو سبک خښتن او د نوو ښېګڼو تصویری وسایلو استاد غنی خان وروسته بیا د ریالیستیکو پرنسیپونو د اقتباس لوی شو. یو افغانی لیکوال چی د غنی خان د اشعارو په مجموعی (پلوشی) باندی

یې تقریظ لیکلی دی دا سې عقیده ښکاره کوي:

دغني خان رومانتیزم موثر، فعال، جدی او مترقي دی او په یو قسم د اقسامونه د ریالیزم سره ټینګ ارتباط لري. »

***

ګرانو ملګرو تر دې ځایه پورې د غني خان په باره کې د شوروي عالم خبرې وې او اوس دهغې لیکنې او تحقیق لنډیز را اخلم چې د اجمل خټک په باره کې د شوروي اتحاد د علومو د اکاډیمۍ له خوا شوې دی:

« د پښتنو په سیمه کې دادبي ټولنو جوړښت په راتلونکې کې ادبیاتو ته وده ورکړه او پوره پر مختګ یې وشو. په ۱۹۳۳ کال کې په نوښار کې ادبي ټولنه (د نوښار ادبي جرګه) جوړه شوه، په دغه ټولنه کې دهغه ځای محلي لیکوالو او دشاو خوا کلیو او ښارونو ادیبانو او شاعرانو ګډون کاوه او ټینګه همکاري یې ورسره اعلان کړې وه، د دغې ټولنې رئیس عبدالخالق خلیق و. په ۱۹۳۷ کال کې پخپله په پېښور کې د لیکوالو او شاعرانو ټولنه (بزم ادب) منځ ته راغله، د دغې ټولنې مشر او رئیس سید راحت زاخیلی و، دغو ټولنو د چاپ وسایل او امکانات نه لرل چې خپل آثار او اشعار خلکو ته ورسوي، د دوی یوازنۍ او اساسي چاره دا وه چې په مختلفو ځایونو کې به یې مشاعرې کولې او د دې لارې نه به یې خپله ایډیالوجي خپروله، د خپلو اشعارو نه به یې خلک خبرول او خپل فعالیت یې ښکاره کاوه.

دغو مشاعرو په عمومي توګه د پښتنو د رشد او تنویر سره مرسته وکړه

او هغه يي د اسې عيار کړل چې مستقيماً د ژوند په ترسيم کې شول او ژوند سره مخامخ شول .

د پېښور په ادبي ژوند کې د ادبي ټولنو رول ډېر زيات و . خو موده وروسته د (بزم ادب) ټولني په مشرۍ او رياست کې تغيير او تبديل راغی د زاخيلي ځای او رياست د خيبر شاعر او د غزل پلار امير حمزه شينواري ونيو. همدا رنګ د پېښور په بر تا کال کې د نصرالله خان نصر په ابتکار او مشرۍ ادبي ټولنه جوړه شوه . په دغه وخت کې د شعر او شاعرۍ هنګامه سته تو دوه او ادب سته بازار پيدا کړی ؤ او د خلکو ورته په عمومي توګه توجه او ښتې وه .

د دغو ادبي ټولنو نه غير نور ځای ځای ادبي ټولنې او انجمنونه جوړ شول او په دغه ساحه کې ښکاره فعاليت منځ ته راغی . مثلاً په اکوړې کې د خوشحال الخان په سيمه کې ادبي کلوب او د بزم ادب ټولنه جوړه شوه چې رئيس يي سيد عظيم شاه او سکرټري يي اجمل خټک ؤ . د دغې ادبي ټولنې واک چې چيرې او په کوم وخت کې دې غونډې وشي د رئيس سيد عظيم شاه او سکرټر اجمل خټک په لاس کې ؤ . دغه د اکوړې ادبي ټولنه په حقيقت کې د پېښور د ادبي ټولنې او ادبي کلوب يوه څانګه وه او ارتباطي ورسره لاره . د دغې مخصوصې څانګې کارونه زياتره د مشاعرو کول وو او د اچارې يي تنظيمولې، په دغه وخت کې په پښتو ادب کې شعري مسابقو اهميت ډېر زيات شوی وا و اديبانو کوښښ کاوه چې يو د بل نه سبقت وکړي .

یو افغانی لیکوال او مطبوعاتی شخصیت د دغو مشاعرو په باره کی داسی لیکلی دی: «مشاعری د پښتو ادبیاتو د فوق العاده رشد او پوخوالی نښی دی مشاعری هغو عواملو او اسبابو پوری اړه لري چې د پښتونستان د راتلونکو ادبیاتو له پرمختګ سره مرسته کوی. دغه پرمختګ په خپل ذات کی لکه چی زمونږ د دوستانو د تعجب سبب ګرځیدلی دی همداسی یی د دښمنان هم په تعجب کی اچولی دی.»

د شاعرانو مسابقی هره اونۍ د پنجشنبې په ورځ د پښتنو په مختلفو سیمو کی بی شماره جوړیدلی او دا رنګ شعری کانګورونه د ملی انکشاف د مبارزی په لاره کې د قوی وسلی حیثیت لري، د اولس په ګرمو او تودو احساساتو باندی د دغو مشاعرو تاثیر داسی دی لکه د اور لمبو ته لمن وهل.

د روانی پیړۍ په څلویښتمو کلونو کی اجمل خټک په خپل کلی اکوړه کی په عنعنوی شعری مسابقوکی خپله فعاله برخه اخیستله، داسی معلومیږی چې دلته ده د لومړی ځل د پاره هغه شعر په مشاعره کی ولوست چې (سپوږمی او چینه) نومیږی، دا شعر داسی پیلیږی:

دلویو لویو غرونو	په خوږه وره جولۍ کی
د دنګو دنګو څوکو	په تروږه خوږخوږی کی
د نورو تورو ترږو	په ویجاړه غونډۍ خوا کی
دغلي غلي بادسره	پسته پسته ګیاکی

دګوړو ګوړو ونو دېخ سوړې دلاندې
په شنو نرو نرو صافو سوترو شګو باندې
اوچت اوچت سرونو کوږه کوږه پښنوکې
په ګڼو ګڼو جارو په دلو دلو وښو کې

پیدایم داسې پایم په ژړایم په خندایم
خاونده دفطرت! ګیلې په سر په خوله ثنایم

(الخ ..)

دغه شعر په ۱۹۴۴ کال کې ویل شوی دی، په دغو بیتونو کې بې شکه دغه خوږ آهنګي اثر ځیني مخصوص رزن محسوسیږي. د اجمل خټک (۱۹۲۶ زوکړی) دغه لوړ استعداد په راتلونکي لسو کلونو کې پوره تبارز وکړ او وتلی لیکوال شو. هو! په ادبي ډګر کې د ده لومړني قدمونه ۱۹۳۷ کال ته منسوب دي، په دغه کال کې دی موفق شو چې په هغه مشاعره کې ګډون وکړي چې دخوشحال خان د نمانځنې دپاره وقف شوې وه.

اجمل خټک په دغه پورته شعر (چینه او سپوږمۍ) کې ژور او ضمیمي لیریزم او د سخت او عظیم طبیعت ادراک ترسیم کړی دی هغه طبیعت چې شاعر حاضر دی چې احترام او درناوی یې وکړي.

د اجمل خټک دغه اثر (سپوږمۍ او چینه) سرې ته د منظرو هغه شعري او بلیغ توصیف ور په یاد وي چې پخوا په پښتو ادبیاتو کې

موجود ؤ. مگر دومره خبره چې اُیادغه اشعار دعنعنې د بیا تجدید دلیل کیدای شي او ولې په دغو کلونو کې دځینو لیکوالو او شاعرانو په آثارو کې زیات عمومیت لیریک او عشقي څپو پیدا کړ. د داسې موضوعاتو سره دلیکوالو کله کله علاقه په دې نه شي تعبیر یدای چې دا کار یوازې دکلاسیک ادب دحق د ادا او دکلاسیک دتقلید دپاره شوی دی او یا یوازې په دې خاطر شوی دی چې گوندې ځوانان لیکوال د رومانتیکي تأثراتو او خامو خیالاتو سره مینه لري او دوني دوې ته يې دده وهلې مجرد فکر کوي لکه چې دیوې مقالې مؤلف چې دپښتو په الفلاح مجله کې په ۱۹۵۴ کال کې خپره شوې ده په همدې مفکوره دی، دی لیکي:

« دلیریک او فلسفي جریان پلویان ژوند ته دعشقي
تأثراتو د محدودې نرۍ له هنداره
څخه گوري چې دا د ژوند
د نورو اړخونو
او پېښو څخه بیخي جدا دی
کوم شی چې دوی مضطرب کوي هغه
د رقیبانو دسیسې او چلونه دي، دوی هیڅ
آرزو نه لري چې دخپلو آثارو قهرمانانو ته دژوند رنگ
ورکړي او یا دخپلې ټولنې دخدمت خواته خپل فکروگرځوي. »

نه داسی نه ده لکه چی د الفلاح مجله لیکی او ځوان پښتانه لیکوالان د انتقاد لاندی نیسی بلکی پښتانه لیکوالان او شاعران چی په ادب کی د نوی تمایل پلویان دی د دوی آثار ډیوی ډیری غامضی پیښی په توګه زموږ مخی ته راوړاندی کیږی چی ریالیزم او واقعیت پکی له ورایه برښیږی د سیاسی بحران په وخت کی چی پښتنی سیمه یی په څپو او لړزان راوستی وه که د ځوانانو په آثارو کی عشقی او فلسفی موضوعات لیدل کیږی دا به په دی غرض وی چی خپله ایډیالوجی او خپل نیت د عشق او فلسفی په برده کی تیر کړی.

د پښتو په ادبی جریان کی د ټاګور، غالب، عمر خیام او د خپل فولکلور اغیز شته خو د دی معنی دا نه ده چی پښتانه لیکوالان ګوندی مقلدین دی بلکی د دوی د آثارو موضوعات د پښتنی ماحول او پښتنی ژوندانه راوتلی دی، دوی په خپل پښتنی سبک روان دی او ایجادی ادیبان دی.»

داوه د اجمل خټک او پښتو ادب په باره کی د شوروی اتحاد د علومو د اکاډیمی د یو عالم نظر.

لیکونکی: جمعه خان صوفی

اجمل خټک زما په نظر کښې

ژوندیو شخصیتونو په هکله یو سم، تللی او واقعي تحلیل ساده کار نه دی ځکه چې د ټولنې هغه ټول معروضي او موضوعي شرایط چې دی پکې زېږېدلی، روزل شوی او فعالیت کوي، د ده په کړو وړو، تجربو او په تېره بیا شخصیت په جوړولو کې برخه لري او متقابلتاً دی په دغه اوضاعو او حالاتو باندې اغېزه اچوي، د هغه ټولو په عیني توګه دقیقه څېړنه، احاطه او تحلیل خصوصاً دیو داسې سړي لپاره چې دغه نوموړی شخصیت یا فرد سره نږدې اړیکې ولري، پېچلی او ګران کار دی.

زه ګران مشر او ملګري اجمل خټک سره د شلو کلونو نه زیات ته پېژندګلوي، دوستي او نږدې د ملګرتیا اړیکې لرم او ورسره په اصطلاح په یوه کشتۍ کې سپاره یم نو زما لپاره د ده په هکله څه وئیل یا لیکل آسانه خبره نه ده او بیا هغه ټول واقعات او حادثات، هغه ټولې پېښې او مرحلې چې د ده ټول ژوند خوړېن ده، فقط د دغه کلونو پورې اړه لري، د هغو

احاطه کول او مرتبول لوی زیار او کار غواړي. له بله پلوه د نوموړي شخصیت دومره زیات او متنوع اړخونه لري چې هغو ټولو ته پاملرنه بانډي په یو وخت یو شان رڼا اچول په دې لنډ او تنګ وخت او ځای کې امکان نه لري. د دې نه علاوه اجمل خټک دیو انقلابي شاعر په حیث خپلې نوری خواوې د شعاع لاندې راوستې دي او یا د ځینې خلکو د نظر نه پټې دي او بیا پردې برسیره زه چونکه شاعر، لیکوال یا کره کتونکی نه یم چې د ده فن او هنر و څیړم او پرې خپله رأی څرګند کړم نو ځکه زه به دلته د نوموړي شخصیت هغه څو اړخونه او یا په دغه استقامتونو د ده نقش او کردار ته اشاره وکړم چې ظاهراً ډیر جوت او ښکاره معلومیږي لیکن د تاریخي حقایقو په حیث څیړلو ته اړتیا لري. البته زه ځینې حقایقو ته په کرونولوژیکي ډول نه بلکه په عمومي ډول او د خپلې تجربې او پیژندګلوي په اساس ګوته نیسم.

پاکستان باندې د مارشال ایوب خان تر مشرۍ لاندې د نظامي بیوروکراتیک ډلې تپلې حکومت وچې د ټول ملک او په خاصه توګه د پنجاب او کراچۍ د لوی او ستري بورژوازي نمایندګي یې کوله او په واقعیت کې د پاکستان په تاریخ کې د لومړي ځل د پاره د دغه بورژوازي په ګټه جدي ګامونه و چتیدل. د ایوب خان د حکومت رعب او دبدبه دومره زیاته وه چې چا چوڼ نشو کولی. ملک کې نیشنل عوامي پارټي یوازینی سیاسي ګوند وچې د دموکراسۍ او ملي حقوقو د پاره د دیکتاتورۍ پر ضد جدي

چیلنج وُ. مگر اختناق دومره زیات وُ چې د نیشنل عوامي پارټۍ رهبرانو

مترقي کارکنانو او فعالینو چې د جیل څخه نوي نوي خلاص شوي وو او زیاتره

یې پښتانه وطنپالونکي وو او اجمل خټک هم د هغو د جملې څخه وُ، لا ځانونه

راغونډ کړي نه وو او د نوو یرغلونو د پاره تیار شوي نه وو، چې اجمل خټک

د نیشنل عوامي پارټۍ په صوبایي دفتر کې چې په عین حال کې دافضل بنګش

بالاخانه او دوکالت ځای هم وُ، ډیره شو او ډیره په خوارۍ او غریبۍ کې

یې خپل انقلابي فعالیت ته ملا وتړله.

مونږ یو څو تنه محصلین به د کالج د وخت نه وروسته تقریباً

هر ماښیګر او یا د رخصتیو په ورځو کې هر سهار د غه دفتر ته تللو او

د غه رنګ د غه ځای زمونږ د پاره د سیاسي الهام، روزنې او انقلابي

فعالیت مرکز او مکتب وګرځید. د پښتنو د صوبې ټول سیاسي، نظریاتي

او سازماني فعالیت، د کارګرانو او بزګرانو جنبش، د محصلینو غورځنګ او

په تیره بیا د نیپ تنظیمي او سازماني چارې د د غه دفتر څخه عملاً رهبري

کیدل. اګرچې د غه دفتر او خصوصاً اجمل خټک په پښتنو کې د عصر ټولو

پرمختللې ایډیالوژۍ خپرولو او د د غه جنبش نیالګي کښینولو کې ارزښتناک

رول لوباوه مګر عمومي توګه په ټولنه باندې د جمود فضا خپره وه. خلک

سیاسي غونډو ته نه راتلل، قدغونه زیات وو او یوه عمومي بې تفاوتي

موجوده وه. د د غه جمود ماتولو د پاره او خلکو کې انقلابي جوش او جذبه

پیدا کولو د پاره اجمل خټک ملا وتړله، تیت پرک شاعران یې راغونډ کړل او د شعر دوسلې ځنځیر یې په ډیر مهارت کار اخیستل شروع کړل. ځای په ځای، د خوشحال بابا، رحمان بابا، بهرام شهید، حمید بابا او نورو شهیدانو په مزارونو او د غه شان په نورو ډیرو بهانو یې مشاعرو جوړولو ته گوتې واچولې. د غه ابتکار نه صرف د خلکو شعور ته تکان ورکړ هغوی یې سیاسی او انقلابی فعالیت ته و هڅول بلکې د نوی انقلابی شعر او ادب غورځنگ یې مینځته راوست او داسې نوی او ځوان انقلابی شاعران یې پیدا کړل چې تر اوسه پورې پرې د پښتو د ژبې او ادب بڼ سمسور او ښیرازه دی او که مبالغه ونه کړم نو د ځوانانو په دغه ډله کې یو ځینې زه د دغه نیکمرغی ځنځیر محروم پاتې شوم گڼې نو دے جنبش د محمد خان کاکا غوندې (اگرچې نو موړی ځوان نه ؤ) شاعران هم پیدا کړل چې هغوی ټول عمر کې فقط یو نظم، هغه هم د نورو شاعرانو په کمک، ولیکلو او ځانونه یې د شاعرانو په کتارکې وشمیرل.

ماچې د ۱۹۶۴-۱۹۶۵ کلونو کې د صوابۍ کالج نه د پېښور اسلامیه کالج ته ځان تبدیل کړو، نو په دغه کالج او ټول پېښور پوهنتون کې داسې محصلین موجود وو چې د خدایی خدمتگارو ځامن یا خپلوان وو او په دغه مناسبت بالواسطه نیپ پورې تړلي وو، لیکن هغوی زیاتره سیاسی او سازمانی چارو ته بې تفاوته وو، او فقط په خپلو درسی او نورو چارو کې بوخت وو.

ټول پوهنتون کې دښمېز ځوتنه محصلین وو چې مترقي تمایلات یې درلودل او د ملک سیاسي اوضاعو کې یې دلچسپي درلوده، او په ځینو مواردو کې فعال هم وو، چې د هغو د جملې څخه د عوامي نیشنل پارټي موجوده صوبايي صدر لطیف افریدي دیادوني وړ دی. لیکن په ټول پاکستان کې د نیشنل عوامي پارټۍ او نورو مخالف ګوندونو فعالیت ولسونه د ایوب خان د رژیم پر ضد راوپارول او د نیشنل عوامي پارټۍ صوبايي دفتر او خصوصاً اجمل خټک سره زمونږ پر له پسې تماسونه، چې څخوا هم د پېښور پوهنتون په محصلینو کې محسوس وو، د محصلینو یو داسې جنبش ته لاره هواره کړه چې ټول پښتانه محصلین یې راولړزول او د پښتون سټوډنټس فیډ ریشن ترنامه لاندې یو قوي او بیا وړ سازمان مینځته راغی. د دغه سازمان چې د مترقي ملګرو او نیشنل عوامي پارټۍ له خوا یې اصلي سازمان ورکوونکي اجمل خټک و، اصلي هسته مونږ ځوتنه مترقي او ملي شعور لرونکي محصلین وو، چې د ایوب خان د دیکتاتورۍ پر ضد او په محصلینو کې مترقي او ملي شعور پیدا کولو په ترڅ کې یې ارزښناک او تاریخي رول ولوباوه.

ماویزم د ټولې نړۍ په انقلابي او په تیره بیا کمونیستي نهضت کې نفاق، بدګماني، انشعاب او درز پیدا کولو سره د تکوسره افراطي شعارونو له لارې امپریالیزم ته زیات خدمتونه ترسره کړل. اما کوم تاوانونه چې یې د هند، پاکستان او خصوصاً پښتنو مترقي او ملي دموکراټیک جنبش ته ورسول

هغه ځان ته بيله څيرنه او تحليل غواړي . زه فقط په زغرده او دعوا سره دومره ويلی شم چې ۱۹۶۵ کی دهند - پاکستان تر منځ جګړې نه وروسته چې پاکستانی شوونيسی حلقوسره يوځای ماوبيستانو ورته عوامی جنګ رنګ ورکړ ، ماويزم ديوانحراف په توګه په مترقی اوملی دموکراټيک نهضت کی په څرګند ډول سر راوچت کړاو مترقی اوهغه سره تړلی ملی دموکراټيک غورځنګ کی درز واچاوه . نيشنل عوامی پارټی دوه ځايه شوه . دغه درز اوانشعاب دپښتنو په سيمه کی د ۱۹۶۷ - ۱۹۶۸ کلونو په دوران کی بشپړ شو . دومره تاوان ورسيد چې هغه ټول مترقی ملګری هغه چې په ډيرو خوار وزار و روزل شوی او راټول شوی وو تيت پرک شول او د ماويزم سره افراطی شعارونو ځان سره وبهيول . دغو دجملې څخه يواځينی کس اجمل ختک په خپله اصولی انقلابی لاره ټينګ پاتی شو او په دغه استقامت يې خپلو هلو ځلوته دوام ورکړ اوکوم نوی ځوانان محصلين يې چې روزلی وو ، چې زه هم په هغوکی يوېم ، هغوی يې په نيغه لاره روان وساتل .

زه ادعا کوم او دا يو تاريخي حقيقت دی چې که چيری دګران اجمل ختک دغه هلی ځلی اوکوششونه نه وی نونن به پښتنوکی د مترقی نهضت دا موجوده تانده ونه ، چې نيالګی يې د نوموړی په لاس ايښودل شوی دی ، نه وه . دا دخوشالی او وياړ ځای دی چې په پښتنوکی دغه تانده ونه د پاکستان دنورو مليتونو څخه زياتی زيلی او ريښی لري چې د نور دانقلاب څخه وروسته يې سيوری نور هم ګور شويدی . او به په ډانګ نه بيليږی . لراو بر ولسونه

یوه ژبه، یو تاریخ، یو تاریخي هیواد، یو کلتور، یو روایات او یو شان دوست او یو شان دښمن لري. زمونږ تاریخي دښمنانو په ډیرو مصنوعي کرښو او چلونو سره زمونږ د بیلتون د پاره دسیسې وکړې او روان دي کوي یې. پښتنو کې ملي شعور او د یو ملت د پیوستون احساسات په راپارولو کې او د لر و بر و پښتنو په سیاسي، ملي پیوند کې چې کوم رول باچاخان او د هغه خدايي خدمتگار نهضت په دې نږدې تیر شوي تاریخ کې لوبولی دی، هیڅوک ترینه سترگې پټولی نشي. مگر دې سره ترلې د لر و بر د مترقي او ملي دموکراتیک جنبش په نږدې والي، تفاهم او ارتباطا توجوړولو کې خصوصاً او د پاکستان او افغانستان مترقي جنبشونو په را نږدې کولو او پیوند ولو کې عموماً چې کوم رول اجمل خټک لوبولی دی او لگیا دی لوبوئ هغه هم د تاریخ برخه ده.

د نوموړي انقلابي شعرونو لکه څنگه چې د کوزه پښتونخوا د ځوانانو او پرگنو وینه گرځوله (اوگرموي) او هغوی ته یې د شعورنوي رڼا ور ښنبله (او ور بخښي)، د غه رنگ ذهني افغانستان په ټولو غونډو، مظاهرو او جلوسونو کې د ده شعرونه د ځکښنو ځوانانو د پاره د الهام او تشویق منبع گرځیدل. دې سره سره دلته افغانستان ته د ده تگ راتگ او سوال ځوابونو په خصوصي توگه د لر و بر او په عمومي توگه د پاکستان او افغانستان د مترقي جنبشونو یو بل سره تعارف او تفاهم پیدا کړ چې د هغې نتیجې مونږ نن د عمل په ډگر کې وینو.

په دې ترڅ کې که د بر خوانه د شهید استاد میر اکبر خیبر نامه یاده کړو او دهغه هلو ځلو او سیاسي پوهې او انقلابي ایمان ته ګوته ونه نیسو، نو تاریخ سره به زیاتې وکړو ځکه چې شهید خیبر هم پخپل وار سره (البته د خپل ګوند او ملګرو په مشوره) په دغه لاره کې ډېر تکلیفونه ګاللي دي، او دواړو جنبشونو ته یې یوه مشترکه ژبه او یو ادراک ورېخښلو په لړکې داسې ستر خدمتونه ترسره کړي دي چې کوږنی جنبش دغه خاطرات دیو انقلابي میراث په توګه پخپل تاریخ کې ثبت کړي دي چې راتلونکي مورخین به پرې ډېر څه ولیکي ځکه چې دهغه عظمت د وخت په تیرېدو سره نور هم زیاتیږي.

ددغه شعوري هلو ځلو او تلاشونو نتیجه وه چې دیارلس کاله پخوا ملګري اجمل ختک د نیشنل عوامي پارټۍ په فیصله کابل ته راغی او مونږ یې خان پسې راکښلو، او بلوڅو پښتنو فعالې جنګیالي مبارزې ته ګوتې واچولې نو د بلوڅو، پښتنو او افغاني ورونو ترمنځ تفاهم او تاریخي وروري نوره زیاته ټینګه او پیاوړې شوه. ددې نه پس د بیلتون پردې په داسې ډول وشوکیدلې چې اباسین سره تقریباً نږدې زمونږ دکلي ماښیري نه به سهار وختي ساده بزګر کلیوال را روان شو نو ماښګر به جلال آباد او ماښام به کابل ته را ورسید. دغه رنګ دلراوبر ولسونو ترمینځ نږدیکت دعمل جامه واغوستله او اړیکې د روښنفکري سطحې نه ولسي، سیاسي سطحې ته پراخې شوې، او هغه پښتانه چې په ضلعو کې وسیږي، هغوي یې خپل ملړنی تاتوبي ته رانږدې کړل چې دغه هر څه نن د انقلاب په پلوشو کې د انقلابي غورځنګ د پاره لویه خزانه ده

دغه شان د بلوڅو انقلابي جنبش هم افغانستان سره وتړلی شو او د هغوی سیاسي تفاهم خپل تاریخي ورور افغانستان سره نور هم زیات شو.

ما دلته ډیر په اختصار سره د ګران مشر اجمل خټک د شخصیت او مبارزې په هغه اړخونو سرسري رڼا واچوله چې تفصیلي څیړنې ېې د زمان د لحاظه دلته نشي ورکول کیدای، لیکن هغوته اشاره نه کول یا ترینه سترګې پټول، زموږ د لراوبر پاڅونونو ېې انقلابي نهضت سره د بیوفايي او جفا سره برابره معنی لري.

په پای کې به دومره زیاته کړم چې اجمل خټک یو انقلابي شاعر سره سره د یو ملي دموکراتیک شخصیت په توګه د ماضي، حال او مستقبل داسې امتزاج دی چې د زمان او مکان د تقاضو او غوښتنو سره سم ماضي سره طبیعي دیالیکتیکي اړیکې لري او آینده ته د نوي زماني، نوي انقلابي شعور په رڼا کې ګوري. زوړ، همځولي او زلمي ټول یو شان ایېل کوي او ټولو سره مشترکه ژبه پیدا کوي او په دې هر څه سربیره د لراوبر ترمینځ د یو مطمین پل خاصیت هم لري.

دسامبر - ۱۹۸۵

پوهیالی خالق رشید

تلپاتې غني

دنړۍ د ادبیاتو په ادبي بهیرکې ډیر داسې ادبي ستوري چې انساني ژوندلې دهنرې خیالونو په سینګار ښکلې کړې ترستر ګوکیږي، دوی په مجموع کې دانساني ټولنو او بشریت د ویاړ وړ دي. دنړۍ په ادبي بهیرکې چې نن سبا په لویو لویو شاعرانو اولیکوالو باندې په نړیواله سویه خبرې کیږي، هغوی خامخا دخپل هنري ژوند په سپړغیو کې هرچاته ځلیږي، همدا علت دی چې هر یوه ته د ادبي پرتلې په ډګرکې ځانګړی مقام او درېځ ورکول کیږي چې دغه درېځ هر یوه ته په لومړي قدم کې په ملي سطحه کې او په دوهم قدم کې په بین المللی ادبي بهیرکې دځانګړې اهمیت وړ دی. خوسخ پر هغه چا چې دخپل ادبي بهیر ځلانده څیرې په نړیوال ادبي بهیرکې نړیوالوته ورو پیژني، چې داکار هم لویو لوړستونزو سره ملګری دی. زموږ پښتانه شاعران اولیکوال هم دهغو شاعرانو اولیکوالو په کتارکې درید ای شي چې په نوره نړۍ کې دریدلي دي، پښتو ادب یې بډای کړی او ددغو ادبیاتو مختلف ادبي بهیرونه یې د ادبي تاریخ په اوږدو کې روښانه ساتلي دي. چې یوه سپېره او ځلانده بیلګه یې پښتو معاصر ادبیات بللای شو.

ځکه په دغه ادبي بهير کې زموږ ادبياتو ته نوې ساه ورننوتله او په نوي ډول يې
د ودې علمي او هنري لاره خلاصه کړې ده، په علمي او هنري لحاظ ديوې
جامع پديدې په توګه پر مخ روان دي. د شکل او محتوى په لحاظ دا سې
نوښتونه زموږ په معاصر ادب راګډ يږي چې هم ملي ارزښت لري او هم نړيوال
زموږ زياتره معاصر کلاسيک شاعران نن په هنري او ادبي لحاظ علماً دې ته
ځير دي چې خپل عصر بايد د خپل عصر د هنداري په توګه وځلوي او بالاخره
خپل ادبيات بايد ديوې ژوندۍ او تلپاتې پديدې په توګه راتلونکو او تاريخ
ته ډالۍ کړي، چې راتلونکې او تاريخ ته ډالۍ په خپل وار د ادبي بهير په تلپاتې
توب کې يو مهم اصل دی. خو دا کار هغوی سرته رسولای شي چې په راتلونکې
ايمان ولري او په راتلونکې باندې باوري وي. شته ډير داسې شهکارونه
او ليکوال چې يوازې ديوه تاکلي تاريخي او ټولنيز بهير شهکارونه او وتلي ليکوال
او شاعران ياديدل او ياديږي. مګر تلپاتې ځيرې تلپاتې افکار او آثار يوازې
خپل عصر ته نه ليکي بلکې تر خپل عصر هم وړاندې ځي آثار راتلونکې ته کوي. او
راتلونکې ته د مسووليت په توګه تخليق کوي لکه چې ګورکي په دې باب ليکي:
"..... موږ نه يوازې د دوو واقعيتونو يعنې د تيرې زمانې او حال زمانې
د واقعيتونو په هکله چې د هغو په جوړولو کې مستقيمه برخه اخلو ناچار يو بلکې
بايد دريم واقعيت هم وپيژنو چې هغه د راتلونکې واقعيت دی. ده د راتلونکې
واقعيت په هکله يوازې د کلام د ښکلا په خاطر نه غږيږم بلکې هغه لکه د عصر

د انقلابي او غوڅ دستور په توګه احساسوم. موږ باید د خپلو آثارو په را منځ ته کیدو کی دغه درېیم اصل په نظر کی ونیسو......» (۱)

یاده شوي خبره دیوې میتودلوژۍ ځای لري، چې د همدغې میتودلوژۍ په رڼا کی د پښتو ژبې د معاصر شاعر غني خان غني او رنګین شعرونه خوږ ولوستونکو ته وړاندې کوو تر هغې مو په دغه ځمه او زرینه برخه کی د خپل نامتو شاعر انساني افکار په ځلاند او عالي توګه هر چا ته ځلولي وي.

غني خان زموږ د پښتو معاصر شاعر په توګه په دغه برخه کی په ملی سویه د پښتو ژبې د پلار خوشال خان ختک (۱۰۲۲-۱۱۰۰) هګري په سر کړي او د هغه پر ځای ناست دی ځکه هغه دا خبره کړې وه چې:

د خوشال قلم که اوس په هیچا نشته پس مرګه به بې یاد کا دېر عالم (۲)

او همدا رنګه په نړیواله سویه کولای شو هغه د لودیزو او ختیز د کلاسیکو او معاصرو شاعرانو لکه: بوکاچیو، ګورکي او داسی نورو غونډې وبولو دا ځکه چې ده په خپل وخت کی دیوه برلاسی شاعر په توګه خپل شعر ته په راتلونکی باندې دباور او چپه شملې ور په سر کړه او د ژوندانه په ټولو برخو بد مرغیو، خوښیو او خوشالیو کی یې شعر د غه رسالت سرته ورساوه، دا ځکه چې دی په راتلونکی باندې کلک ایمان لري ځکه نو «د پنجري چغار» په پای کی دیوه نثر په پلوکی موږ ته دغه ډالی راکوي او لیکي چې: «..... دا زما د ځان تصویر دی ډېر نامکمل او مات ګوډ دی ولی دا زه په خوشاله ضمیر ویلې شم چې دې کی چې هر څه دي زما دي

دا زما د دې بې ښکاره او بې مطلبه ژوند یوه خواره ډالۍ ده چې ما خپل قام او ملک له جوړه کړې ده ، کاش ! چې دې کې د ژبې د ښایست او د پوهې د کمال دریابونه ما ډک بهولی وی ولی څه وکړم همدغومره مې وس وا و ښړ د خپل وسه زیاتی په هیڅ نه دئ پړ ، که په دې خیالاتو کی دومره حسن وي چې له مانه پس هم ژوندی پاتی شي نو زه به وایم چې واقعی ما د آب حیات و موندله او س دوی ما ژوندی کړی دی ، بیا به دوی ما ژوندی کړي. " (۳۱)

د غني خان د غه خبره د محتوی په لحاظ دومره او چته برېښي چې په کلاسیکو او یدیز ادبیاتو کی له بوکاچیو او د هغه د افکارو سره سیالی کولی شي ځکه د هغه « دیکامیرون » په همدغه ستنه ولاړ و چې خلک یې د بدمرغیو څخه د سبا او نیکمرغۍ خواته په تیره بیا په « دیکامیرون » سره رهنمایي کړل همدا سبب دی چې دیکامیرون نن د نړیوالو په ادبیاتو کی د یوه نامتو شهکار په توګه یاد شوی او یادیږی او یاد به شي . ځکه هغه د انسان د روښانه سبا لرلید تا کلی او د غني خان په خبره هغه لومړی خلک را ژوندي کړل ځکه خلکو وس دی او د ده ادبي آثار ژوندي ساتلی دي . کیدای شي د غني همدغه پورتنۍ خبره د ګورکی له یادې شوی خبرې سره هم پرتله کړو ، او په نتیجه کی دا و وایو چې غني هم لکه د نورو نړیوالو شاعرانو غوندی د انساني ارزښتونو او ګله انساني فرهنګ د څرګندوني په اړخ کی د یو شمیر نورو هم عصرو شاعرانو په څیر پښتو معاصر شعر د رولی دی . موږ نه هغه په معاصرو ادبیاتو کی دومره لوړه

انسان ښکاري لکه چي ده ته يي په هنر کي انسان دی، هغه انسان چي دی
يي د هنر په مناره کي د خپل شاعرانه خوب په شاعرانه تصوير کي نيکمرغه
انځور دی او وايي چي:

خوب وينم عالمه! که يي څوک راکړي مانه
پروت يم سر مي ايښی د خپل يار په ځنگانه

***

خوب وينم چي پورته په هوا لکه د باز شومه
کيناستم په بام د محمود سترگي د اياز شومه
پورته د خاموش زړگي نه خوږ د ميني ساز شومه
خرڅه مي په حورو کړه د ډمو زمانه
خوب وينم عالمه که يي څوک راکړي مانه.....

***

خوب وينم چي باغ دی د گلونو او ماښام دی
سره سترگي ساقي د ساقي سره گوتو کي جام
لاس په ستاره پروت ليونی مست لکه خيام دی
اوري پري نڅري نڅري د ميني افسانه
خوب وينم عالمه که يي څوک راکړي مانه

***

خوب وينم چي زه لکه لولکه په سيل ووتم
پورته د نرگس نه ستوم په خوا د راميل ووتم
تا د سپيني غاړي د ليلي په اميل ووتم پټ مي وته ووې سلامونو جانانه

خوب وینم عالمه که یې څوک راکړی مانه

***

خوب وینم چې پورته لکه چغه د منصور شومه

یا یو موتی خاوره وم یا لوی دریاب د نور شومه

خو: بانګ د سحر و شوزه را ویښ شوم کرم کور شومه

خوب یو وره خوبونه راتوندی شوه زمانه

وی پریوځه لیونیه ! تیروه د جیلخانه (۴)

غنی زموږ د عصر د پخلیو حالاتو په تاوده ډګر کی شاعرانه قدم کیښود، زموږ د عصر تر اثر دی، ماتې، بری، غمونه او د خلکو د بیداری غږونه او فریادونه دیر ښه اوری هغه که دیوی خوا د تاج محل په ښکلو او رنګینو ګلونوکی د خپل یار تلپاتی سینه شاعرانه انداز ته سپاری خوله بلی خوا د هری پور، حیدر آباد او نورو جیلونو تورتمونه هم ده د شعر رنګینی ته بل د ول رنګ او خوند ورکوي، او ورسره سمه دا خبره کوی چی زموږ د عصر د انسان خوښونکی او په انسان مین شاعر او لیکوال لوی رسالت د خپل عصر خپل محیط او خپل تاریخ غږ او چیغه ده. دا چې غنی خان هم لکه دیوه مبارز غوندي د غه شاعرانه لوړ او عالی مسوولیت ته ځیر شوی او په دغه برخه کی یې اوچت قدم ایښی د مبارزی ، ننګ او میړانی په ډګر کی هم دي د روښانه سیا په لور روان دی ، د زندان له ځنځيري څخه د سپیدو لاره څاري ځکه چې دي څو په یوه هود د زندان تیاري تیروی هغه دا چې ده ویلي وو :

که په خپلو وینو نه وم لمبیدلی   په ما پلیتوی دجومات غاړې
چې قطرې قطرې مې پوځ د دښمن نه کا   موږې ماپسې په کوم مخ به ته ژاړې
یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم   یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې (۵)

نو ځکه د استاد الفت خبره د ده په هکله ډیره په زړه پورې ده چې لیکي: «..... دغني خان په اشعارو کې چې څه شی زما ډیر خوښیږي هغه د فکر او خیال آزادي او د تقلید له تلقینا تو څخه سرکښي ده، د ده رندانه مقام ته هر څوک نه شي رسیدلای او هغه څه چې دی یې د خپل ښاغلي لیونتوب له برکته ویلي شي د نورو خولو پرې سوزي..... » (٦)

د استاد الفت د خبرې مهمه برخه زما په نظر د غني «ښاغلي لیونتوب» دی، غني کولای شي د خپل ښاغلي لیونتوب په مرسته داسې څه ووایي چې زموږ د موضوع سره په اړیکه کې یې هم نور څوک ډیر لږ وایي ځکه د غني په لیونتوب کې د ماتې او تسلیمي خبره نشته دا ځکه چې موږ کولای شي د عصر په ملي او ازادي غوښتونکي غورځنګ کې د ده ونډه په زړه پورې ارزیابي کړو، داسې شاعران چې د ارمان په لور لاره ورلنډوي نو بیا د هغوی په هنر کې تر ټولو د مخه ارمان ته د رسیدو زیری ترسترګو کیږي ځکه نو د ده په ښاغلي لیونتوب دا ټکي هم دیوه زرین ټکي په توګه ځلیږي لکه چې وایي:

ستاګولي دی پیرنګیه زموږ سینې   زموږ وار به یو ورځ وویني ویني
دا ستا حال د کمال به په زوال شي زوال   در به کړي د غیرت د جرئت نمونې

دا زمونږ چې څه ږ ژاړي نن ددې او ښکو په ځای به ځي ستا سوويني
او به رو روښي د ب بيا لاهو کړي وطن دا سيلاب به يو ورځ لاهو کړي ستا چمني
قسمت د غونډه لاندې نن زه سبا ته نن زموږ ه جګر سبا ستا سو سيني (۷)

د يوه ناقد په قول :« دا صيل شاعر او هنرمند دنده دا نه ده چې خلکو په زړونو کې بې اساسه هيلې وروزي . بلکې دهغه لومړنۍ دنده دا ده چې دامکان تر سرحده لټولنې حالت او پرمحيط باندې برلاسي وحشت ، جنون او بدمرغۍ ښکاره کړي ، په دغه ليد سره دې شاعر هڅه وکړي چې انسان په هغه درځ کې چې دئ انځور کړي ، نه په داسې خيالي موقعيت او درځ کې چې دسړي په ذهن کې د ناځرګندو نصيحتونو په توګه جوړيږي چې د تورتم د دغو وحشتنا کو بدمرغيو په څرګندولو سره کيداى شي تورتم له منځه لاړ شي او ورځ راورسيږي ....»(۸)

د غني خان په هکله د يورتني ناقد خبره صدق کوي ، غني تل ورځ لټوي او غواړي چې د ورځې په رڼا کې له ده سره يو ځوک د زړه له کومې وخاندي . زه له دغه نظر سره د غني په هکله موافق نه يم لکه چې زموږ يوه ليکوال ليکلي : « ....غني ځای پر ځای په خپلو شعرونو کې د انسان د ماضي او مستقبل په باب خپل نظر څرګند کړيدئ . هغه نه په ماضي کې خوندويني او نه هم په مستقبل کې بلکې د دغو دواړو سمندرونو منځ کې يوه ښيبه د خوند او رنګ ښيبه ژوند بولي .... »(۹)

د دغې خبرې د سنه اثبات په خاطر د «پښتيرۀ دادنيا» شعر را وړاندې کوي چې د سرېيتونه يې داسې پيل کيږي :

خانده نن مه کوه غمونه د سبا — سبه پوهیږې ډېتیره د ا دنیا

دکر وخت کې دغو بل فکرونه مه کوه — خوره او څښه حساب کتاب یې مه منا ... (۱۰)

که چیرې د نوموړې موضوع سره په ځنګ په دې ده وه ولګوو چې ګواکې دا دنیا سپیره ده خپره کیږي نه او هیڅ بقا نه لري زه فکر کوم چې دا به مو د خپل رسالتمن شاعر په برخه کې ظلم کړی وي. ځکه د هم دغه شعر د سر په بیتونو کې د نن او سبا کلمې په صراحت بیان شوې او لوستونکي ممکن دا فکر وکړي چې غني په دې دنیا او یا د دغې دنیا په نن او سبا باور نه لري، مګر خبره داسې نه ده که چیرې لږ د عقیدې له پولې را دې خوا شو او استدلال ته پناه ور وړو نو د شعر د سر بیتونه به پر ځای پرېږدو او د شعر د پای بیتونه به ولولو چې غني یې وایي:

صبا بیا خدای د چرسیانو مسئله ده — ترینه نشته زوره وره مسلا

نن دې زړه له قول اختیاره پادشاه کړه — خدای خبر چې څه درپېښه شي سبا

راځه وخانده چې وخاندي غني هم — ولې نه وکړي خوند ځانله خندا ..... (۱۱)

په دغو بیتونو کې خبره داسې نه ده لکه چې ظاهراً برېښي بلکې اصلي خبره باید په رموز کې داسې توضیح کړو چې: غني په دغو بیتونو کې یوازې د مطلب نه افاده کوي چې هغه نه په ماضي کې چورت وهي او نه هم په مستقبل کې، که چیرې له دغې خبرې سره سم پوښتنه داسې رامنځ ته کړو چې آیا د غني صبا نه هم لکه د هغوی د صبا په شان وي چې هغه هیڅ صبا نه لري او که به د چرسیانو په شان وي چې هیڅ ډول عملي لارې د هغې لپاره په لاس او فکر کې نه لري؟

د همد غو دواړو د لوله سبا څخه زما په نظر هم دغني نن بهتر دئ ، هغه سبا چي سبا کيږي نه او هغه سبا چي په کي سبه والي او په زړه پوري والی نه وي ، نو هغه غني هم نه غواړي او تر هغه سبا چي غني نن ورته خوا شيني دی په خوله يي خندا نه راځي نو بهتره داده په دې خاطر چي غني ډيره سرکښي ونه کړي ، له محيط او چاپيريال څخه يي خوک ونه تړي نو بيا چيله خبره په دې راوړي :

راځه وخاندو چي وخاندي غني هم ورله نه ورکوي خونه خاندله خندا

موږ کولای شو په دغه برخه کی دغني ډير او چت افکار نور هم را وسپړو او ځانته دا دليل پيدا کړو چي غني تر ډيره حده هغه کړي چي خپل ادبي مسوولیت دوخت په حالاتو کی ډيوه برلاسی انسان په توګه سرته ورسوي دهغه سرکښي واقعاً يوه علمي او منطقي کاږه يي ده چي په محيط کي يي هم کړي لکه چي ډيوې پوښتني په ترڅ کی وايي :

کعبه جوړه ابراهيم کړه ، زه جوړ کړي يم الله
او س نو څوک لوی شو او چت شو ؟ وايه وايه ای ملا ؟ (۱۲)

که غني تر دې هم سرکښ معرفي کړو فکر کوم چي نوره به ځانته اجازه ونه کړی خو دا بايد و وايو چي غني په صوفيانه دريځ کی هم هغه ناڅرګند دريځ نه دی غوره کړي چي د ده څخه دې خپل ماضي هيرشي هغه که دې خوا په خپل ماضي کی د حسين بن منصور حلاج غوندې سرکښ انسان وينی چي د مخلوقاتو په ظاهري

جلوه کی اصلي او معنوي راز لیدای شي ، د بلې خوا خو بیا د خپل وطن مور ته داسي ندرې هم بولي چي :

ای زما وطنه د لالونو خزانې زما
ستا مره دره کې دي د تورو نښانې زما ..

ستا عزت چي نه وي زه به نوم او عزت څه کړمه — نه چي خوار او زار يې زه به خوب او راحت څه کړمه
ستا سر چي وي ټیټ نو زه به شان او شوکت څه کړمه — مستي به دې خاوره کړم په وینې مستانې زما
ای زما وطنه د لالونو خزانې زما ..... (۱۳)

همدا رنګه کولای شو د غني بیلګې هم دلته ولیکو چي :

.... هیر دې کړ منطق کې — په مینه کې دې ونه مونده
زه يې مدام ویسم — د غمونو په دریاب کې
حسن د ره نه ورک شو — د کعبې په دیوالو کې
ورک دې سمندر کړ — مړ له تندې شوې سراب کې
زار دې شم له زیري ملا — سوال د لیوني واوره
نوم پرې د کافر نه بد ره
د دې غزل جواب کې (۱۴)

استاد بېنوا هم زموږ له موضوع سره سم د غني خان تلپاتې افکار څېړلي او د ده د تلپاتې والي په هکله لیکي چي : " ..... او د غني په افکارو کې ترېنګ ورو ستنه څه نا څه تحول پیدا شو ، تر ډېره بخوا که یو اځي شاعر و ، اوس فیلسوف هم شو

او هغه وخت که یې یوا ځې د پښتون غم خوړ او س دانسانیت غم خوړ هم شو دغه د شاوخوا خلکو ژوند ورته ټوکې مسخرې ښکاره شوې او دده د خیالاتو غزونې دده د شاوخوا محیط پېتګنا ې کې نه ځا ئیدلې نو ځکه له خپل محیط او خپلې اجتماع ځنې بې پرواشو او د خپل شاوخوا په تصنعي او ساختګۍ ژوند پورې یې ټوکې او مسخرې شروع کړې او د حقیقي انسانیت په لټون پسې یې هڅه وکړه او دلیوني مین په څیر یې خپله ورکه لټوله نو ځکه په « لیوني فلسفي » مشهور شو او که به هر څو مره دده ناره کړې چې :

نه زه فلسفي یم خلکه ! نه زه لیونی یم
یو غریب بچې زه د پښتون د پلار ګنې یم

خو خلکو چې به دده « ګډې وډې » اروېدې یا لوستلې نو دا یې نه شوه منلا ی چې دی ګوندې دلیونی فلسفي خاوند نه دی ، دا ځکه چې دغني خان فکر او کره وره د عادي خلکو دافکارو او کړو سره ډیر توپیر درلود او دده د « سبا » خیال د « پرون » خلکو ته لیونتوب ښکاریده نو ځکه دې خپله وایي :

بعضې ځا ی کې لږ بعضې ځا ی کې ډیریم خدای لوی کړی
خیال مې دسبا دی پیدا شوی پرونی یم ..... (۱۵)

که څېرې دملاغني لیکنې په پلو شو کې هم غني وڅېړو نو دې نتیجې ته رسیږو چې غني ان په خپلو فلسفي افکارو کې هم د سبا او راتلونکې ټکې ښکاره کړي دي او داښکاره وي چې دغني فلسفه هم داسې څه نه دي چې په هغه کې به کوم نوی والی

نه لیدل کیږي بلکې دهغه فلسفه هم په دغه زرین اصل ولاړه ده چې دراتلونکې په هکله باید یو فلسفي لرلید هم له نظره ونه غورځوي. په اوسني عصر کې هم دا یو منل شوی حقیقت دی چې د علمي فلسفې یو مهم اړخ دا دی چې دغه فلسفه په راتلونکې کلکه باوري ده او په دغه ټکي باندې بنسټیزې ستنې ولاړې دي. موږ دا په صراحت سره نه شو څرګندولای چې دغني فلسفه به په علمي اصل ولاړه وي مګر دا ویلای شو چې دده فلسفي اړخ یو شمیر داسې ټکي لري چې هغه علمي دي او په زړه پورې دریځ غوره کولای شي.

لنډه دا چې غني دخپلو ادبي افکارو په رڼا کې زموږ د معاصر ادب په تنده یو تلپاتې شاعر دی. په دې معنی چې دده افکار د شکل او محتوی له مخې زموږ په فني ادب کې نوې دي، دده افکار زموږ د ملي ادبیاتو د هویت ډیره په زړه پورې عالي بېلګه کېدای شي ځکه چې دده شعر د کښلي توره په شان د خپل ملي او توپاني ارمان تخمه ننګه کړې او ده ته یې له موږ سره، له نړیوالو سره تلپاتې مقام تر لاسه کړی دی. غني یوازې زموږ د عصر شاعر نه دی، هغه د راتلونکي عصر او راتلونکي تاریخ شاعر دی، هغه په راتلونکي او راتلونکو باندې ډیره مخلص او وتلی شاعر په توګه باوري ځکه نو وایي: یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم

یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې

"پای"

اخځونه:

۱- اسدالله حبیب، راهګوري کې د ژوندګې وهنر، ژوندون (۴) ګڼه، ۱۳۶۲ کال (۲۵) مخ

۲- خوشالخان ختک، کلیات، ۱۳۵۹، کابل، دولتي مطبعه (۱۲۳) مخ

۳- غني خان غني، پلوشې، ۱۳۳۹، کابل، دولتي مطبعه (۲۳۶) مخ

۴- همدغه اثر (۱۲۵) مخ

۵- همدغه اثر (۱۲) مخ

۶- ایضاً سریزه

۷- ایضاً (۳) مخ

۸- رضابراهني طلا در مس (۲۳۲) مخ

۹- اکبر کرګر، خیام په پنځمه پیړۍ کې او غني خان له مو بیره، کابل مجله، (۶) ګڼه ۱۳۶۴ (۵۹) مخ

۱۰- پلوشې (۱۴) مخ

۱۱- ایضاً (۱۴۱) مخ

۱۲- همدغه اثر (۲۳۴) مخ

۱۳- همدغه اثر (۱۰۶) مخ

۱۴- همدغه اثر (۵۸) مخ

۱۵- عبدالروف بینوا، اوسني لیکوال، دریم ټوک، ۱۳۴۶، دولتي مطبعه (۹۷۷) مخ

بریالی باجوړی

د اوسني پښتو نظم او غزل ځوانه معاصر شعري حریفي
د اجمل خټک نوښتونه

زه د نظم په تال زانګم غزل لیکم
حریف وایي په دې فن کې ماهر نه یم

ګلونه تګلونه، اجمل (۲ مخ)

په دې کې څوک شک نشته او دا خبره هر چا ته لکه د لمر روښانه ده چې اجمل خټک د نظم استاد او په دغه میدان کې ډیر مخ ته تللی دی خو له دې سره سره په غزل کې هم له چا نه وروسته نه دی او هغه نوی رنګ چې ده غزل ته ورکړی یو نوی قدم او یوه نوې لاره ده.

که د اجمل خټک په شاعرۍ کې له نظم نه راسره شو او تر غزله پورې راشو نو په دواړو برخو کې ډیر داسې بدلونونه ګورو چې د ستاینې وړ دي او د نوښت په توګه یې منلای شو.

اجمل خټک په نظم او غزل کې نه په زړو لارو تللی دی او نه د نا اړو لارو پلوی دی هغه دوخت له غوښتنو سره زاړه قالبونه مات کړي او نظم او غزل ته

يې د شکل او مضمون په لحاظ نوی رنګ او خوند ورکړېدی، چې په خپله وايي:

فتوې پرې لګولي غـزل خوانو شاعرانو
پرېښودی دی خټک د دوی د شعر روايت دی

(ګلونه تکلونه، ۴۷ مخ)

په کوزه پښتونخوا کی د انجمن اصلاح الافغانيه په تاسيس کيدو (۱۹۲۱ع)
سره پښتو نظم په منظمه توګه د قامي تحريکونو او د پښتون اولس د مبارزو په خدمت
کی شه چی د غه وخت د پښتو نظمونو ډيره برخه د پښتنو د مبارزو منعکس کوونکی وه.
د پښتو نظم دغه سلسله د خدای خدمتګارو د ګوند د جوړيدو (۱۹۲۹ع)
او پښتون اخبار د خپريدو (۱۹۲۸ع) او بيا تر را وروسته وخت پورې رار وانه ده
او په د غه وخت کی د د غه نظمونو چې محتوا يي په ملی مسايلو د که وه، نامتو سرلاری
او ويونکی يي چې د د غه دور په لومړی نسل کی راځی له فضل محمود مخفی، عبد المالک فدا
محمد اسلم کمالی، محمد اکبر خادم، عبد الخالق خليق، ميا احمد شاه، عبد الاکبر
اکبر، سمندر خان سمندر، فضل حق شيدا، عبد الله جان اسير او نور محمد عباس دي.
د دغې دورې نظمونه د محتوا په لحاظ، د قامی تحريک خوراښې بيلګی دي خو په
هنري لحاظ د شعری ښکلا له اړخه نه لوړې يې برخې دی او يوازی د شعرونو په محتوا
باندې د هغه وخت له ضرورت سره سم ډير ټينګار شوی چې د قامی احساساتو، جذباتو
او جد وجهد ښې نمونې ور ته ويلای شو.

خوله دې وروسته چې کله خبره دوهم نسل ته رارسي نو د پښتو نظم په هغه

پخوانی حال نه پاتې کیږي په شکلي لحاظ ښکلا پیدا کوي او د مضمون په لحاظ تکمیلیږي.

د زړېنو ځانګو لیکوال : "بل نسل ځوانو شاعرانو، اجمل خټک، اشرف مفتون قلندر مومند، همیش خلیل، سیف الرحمن سلیم، ایوب صابر او نورو د پښتو نړه شاعرۍ بېرته ځوانه کړه او د قالب ماتونې په ساحه کې نوی او ابتکاري ګامونه واخیستل او د زړو کالبونو په ځای یې نوي کالبونه جوړ کړل." (۱)

په دې کې نه یوازې دا چې اجمل خټک پښتو نظم ته ښکلا ورکړه او د ښایست په ګانه یې سینګار کړ بلکې له دې سره سره یې د نظم په محتوا کې د قامي مسئلې سره جوخت نوې نظریې او نوې مفکورې هم په ځای کړې او په نظم کې د معاشرې د نابرابرۍ، بې روزګارۍ د تمثیل اضافه وشوه او پښتو نظم د ښکیلاک ګرو او زبېښاک ګرو په وړاندې ودرېد او دا به لومړی ځل وو چې اجمل خټک په ډاګه وویل:

اورېدلی یم په داسې ساده ګانو چې بازان ولي په دب کې د ګونګیانو
نړه یم لوړ شوی د خانۍ جرګې مې پرېکړې دوی واېي ته کړې او به خوړه دې زوزانو

(د غیرت چغه - اجمل خټک، ۱۲۵ مخ)

او یا دا چې:

په دوا رو سترګو به میخونه وو په خوله به هم خیردي مهرونه وو
چې د غلې په خمبوته کیناستې لوږې ته خنګه دیوالونه وو

(د غیرت چغه، ۱۳۰ مخ)

نو ویلی شو چې اجمل خټک ملي نظمونه په شعري ښکلا او ګانه ښایسته

دی او همدغه وجه ده چې زړه راښکونکي او اثر بخښونکي دی او که د نوی مفکوري داخلول په پښتو نظم کي لکه چې پورته ذکر شول د اجمل خټک نوښت و گڼو نو نظم ته شعري ښکلا ورکول هم د اجمل خټک نوښت دی.

همدغه د شکل او مضمون تناسب او ښایست دی چې د اجمل خټک د نظمونو مجموعه هر وخت او هر ځای لاس په لاس گرځیده او بیا په ذهنونو کي ددې مجموعي نظمونه داسي ځای په ځای شول چې د هر چا په خوله به د اجمل نظم وو او د هغه د غیرت چغه.

د اجمل خټک د شعر په باب د گل پر هر د سریزې لیکوال وايي:

« استاد خټک که له یوې خوا په گل پر هر کي د ژوند ډیر عمده ملي او طبقاتي مسایل ځایوي د دې ترڅنگه د خپل شعر ښکلا ته يې هم پام دی. ډیري سیاسي خبري دده په شعر کي په ملیحه ژبه او خوږو الفاظو بیان شوي دي، چې لوستونکي خپلو لوستو ته رابولي او پر احساساتو يې اغیزه کوي یعني دا چې له شعر نه يې شعار نه دی جوړ کړی چې د شعر ښکلا او هنر تر خپلو سیاسي اهدافو ځار کړي او څو بربنډ او لوڅ الفاظ په غیر هنري شیوه په شعر ور ننه باسي او د شعر مزیت احساس او ښکلا ته زیان ورسوي او د جذب قوه يې لړزه کړي.» (۲)

د اجمل خټک په نظمونو کي داسي کوم نظم نه وینو چې هغه دې د شعري ښکلا او یا محتوا له پلوه نیمگړی وي او دا ځکه چې هغه هم د خپل وخت شاعر او لیکوال دی او هم د خپل وخت مبارز او د سیاست په میدان کي ازمویل شوي مبارز دی.

هغه دخپلې تولنې ناخوالې اونا دودې په خپل شعر کې رانغاړي نتيجه ځنې اخلي او د شعر په پيغام کې د سبانې راتلونکې زيرې ورکوي او دا هر څه په هنرمندانه ډول خپلو خلکو ته وړاندې کوي. په داسې ژبه چې هغه دېو شاعر ژبه ده خوږه او روانه ژبه چې اوريدونکې ترې متأثر کيږي او خوند ترې اخلي.

هغه خپل مقصد وچ په وچه او نيغ په نيغه په ځوتشو الفاظو کې نه وړاندې کوي بلکې له خوند سره يې رنګ هم يو ځاى کوي او کله چې په هراړخيزه توګه د قبليدو وړ ګرځي نو بيا يې خلکو ته وړاندې کوي، چې دا ديو رښتينې شاعر کار دى او سنه شاعر هم دغه دى چې ديوې تولنيزې محتوا الرونکې او په شعرى ښکلا ښايسته وي. چې دلته يې د ګوجر تر نامه لاندې يو نظم د نمونې په توګه داوړم:

"ګوجر"

ميښې منمه دنواب صاحب دى
دى کې خبره کول توان دچا دى
ولې اى اى دانسانانو ربه
دغه ګوجر غريب انسان دچا دى

دې خواته ميښې څريدلې پرتې
اخوا ګوجر دى سيليدلى ولاړ
دى خوا مړې ګيډې ښخوندونه وهي
اخوا نهر دى زيږ ښينلې ولاړ

دوي په يخ سوړې غزېدلي پرتي
دي په غرمو دی کيناستی تري نه شي
هغوی که ستړي شي دمه ورکوی
دی که مري مړي ستړي کيږي تري نه شي

***

دده دخوار بدنه توله وينه
دي ميښو اوچه کړه سحرو ما ښام
دهغوی که غولنز ډک تيونه
دده په شونډو تري يو ځاځکي حرام

***

دی لوڅ لغړ په پښو پښي ابل ګرځي
کوتک په ولي دخاوړو دپاره
که مړي نو هم ددوی دپاره به مري
او که ژوندی وی هم ددود پاره

***

خپل ما شومان يي په ژړا پرېښي
ددوی ګټي په خټ کی سوګه څوي
بچي يي لوږي نه کوکله پراته
کمتو ته غيږه کی اخوا ګرځوي

***

هغوي که ميښي دي نو ميښي خو دی
دی که انسان دی هم انسان نه شو

گوره هغوی دپاره دی هم شته دی   دده نوز خه چی خپل ځان نه شو

*

دنواب میبنه دی نوا به گرځی
دخدای انسان دې خدمتگاروی ورته

هغه پرسیږی دی دده په وازدو
دی دې خدمت کې خوارو زاروی ورته

*

انسان انسان دی ستادشان اینه

دد دودام نه قربانیږی دلته
که ستاخدایي ورته کتی شی ربه

انسانیت خو نه صبریږی دلته

*

ستا دخدایي نه په سل واره قربان
انسانیت خو صبریدی نه شی نور

داچی نماشره یی اوشـلوله
ددوی شالونه تینگیدای نه شی نور

*

ستادخدایي دتقاضو په خاطر
انسانیت باندې سوگند کومه

که داخدایي دې اپوته شی راته
زه دانسان په شانی ژوند کومه

(دغیرت چغه، ۵۰-۵۳مخونه)

اجمل خټک دخپلې اوږدې دوره له دستو پاک مادول پیدا کول چې پالنه داسې خپلواکه ولولې

اجمل خټک دخپلې تولنې دیورسالتمند شاعر په توګه خپله دنده ترسره کړېده او هغه څه چې یې دخپلو خلکو دویښتوب لپاره ضروري ګڼلي دي. ده په خپل شعر کې ویلي دي او نه تش ویل بلکې دلارې سنبودل، دمترقي قوتو متحد کول او دمبارزې تاوده سنګرته دهغوي رابلل داجمل خټک دشعر اساسي برخه جوړوي.

اجمل خټک پدغه لارکې دځان سره ډیر پلویان پیداکړل او په پښتو شعر کې ډیر کسان په دغه لار روان شول نوځکه خوایي:

خټکه تاچې په پښتوکې شاعرې شروع کړه
یوه سره لمبه دې راپیداکړه دکلام په شفق

(ګلونه تکلونه، ۸۷ مخ)

او یو بل ځای وایي:

خټک اشعار نه وایي ده خولا پخوا ویلي
دوطن ځوان ته دغیرت داسرې لمبې ورکړې

(ګلونه تکلونه، ۹۰ مخ)

په ګلونو تکلونو کې د« اجمل خټک او دده دشعر » ترعنوان لاندې په یو ځای کې لولو :« په پښتو مبارز شعر کې اجمل دزیاراېستونکو دتحریک دنوی انداز انقلابي طرز مبتکر دی، دده دشعر اعجاز په دې کې دی چې دنوی دوران انقلابي عقاید یې دپښتو شعر له متبو عنعنا تو سره داسې اخښلي

دی چې پښتانه په هغه کې هیڅ بیګانګي نه احساسوي.» (۳)

هو همدغه د اجمل خټک ابتکار و چې د زیار ایستونکو د تحریک آوازې د نظم په ژبه رواجت کړې، د پښتو نظم مخه یې په دغه خوا روانه کړه او بیا نورو هم په دغه لاره قدمونه واخیستل.

د اجمل خټک نظمونه د پښتون اولس د آزادۍ غځښتونکې نهضت محرکین او د زیار ایستونکې طبقې د مسلسلې مبارزې آواز دي چې د پښتون اولس د کلیو، غرو، رغو او بانډو نه راوتلي او د دوی د ژوندانه تول کړه وړه یې په ځیله غېږه کې رانغښتي دي.

خو د ده د نظمونو تر پیره لا نورو څخه په دې کې دی چې دا هر څه په لوڅو لغړو الفاظو کې نه رانغاړي بلکې په هنري ژبه په شعري ژبه یې وايي چې ښکلا ښایست او مزیت یې زیاتوي. او همدغه وجه ده چې سعدالله جان برق اجمل خټک تر روماني ترقي پسند لیکوالو کې وایي هغه یوځای د اجمل خټک په باب وايي: «اجمل خټک او س زموږ په دور کې د ټولو نه لوی روماني ترقي پسند لیکوالو کې دی نه شم ویلي چې هغه به چېل د اتعریف خوښ کړي او که نه یا به د چېل ځان په باره کې ورته د دې حقیقت علم وي او که نه! خو د هغه تخلیقات سراسر د دې خبرې ګواه دی.» (۴) او د سعدالله جان برق مقصد هم دا دی چې اجمل خټک دیوه مترقي اندیښې سره د خپل شعر ښکلا او شعریت هم ساتي او یوه مترقي مفکوره د الفاظو په رنګینۍ او ښکلا کې په خوږه او هنري

ژبه ورانديې کوي.

لنډه دا چې اجمل خټک د نظم په ميدان کې له هرڅه نه زيات کار وکړ. د پښتو نظم نيمګړتياوې پوره کړې او نظم يې خپل معراج ته ورساوه، نظم ته يې داسې ښکلا او ښايست ورکړ چې غزل ته يې نږدې کړ او د معنى په لحاظ يې په نظم کې د ملي مسألو سره طبقاتي مسايل يو ځای کړل چې همدغه نوی قدم په رومبي ځل د ده له خوا نه اوچت شو. په دې توګه اجمل خټک د پښتو نظم تکميل کړ او د اولسونو د غوښتنو ځواب ويونکی شه.

هر شعر يې هيواد کې د ملالې لوښه شوه
خټک د غره د سره چپل نظمونو ته ګوري

(ګلونه تکلونه، ۴۲ مخ)

اجمل خټک نظم ليکي، شعر وايي، غزل ليکي د خپلو خلکو لپاره، د اولس لپاره د هغوی د ژوند ښيوب لپاره، د حرکت لپاره، نن هم، بخوا هم په هر حال کې په لوږه، تنده، بې کوره، بيديا او هر حال کې چې په خپله وايي؛

ښه خو غني خان دی چې خم تش کړه نظم وليکي
خوار خټک ته ګوره چې شعرونه په اوبو ليکي

(ګلونه تکلونه، ۲۸ مخ)

د اجمل خټک له نظم نه که راتېر شو او د هغه غزل ته راشو نو لکه د نظم په څېر په غزل کې هم ده ډېره حده نوی لار غوره کړې ده او د غزل په زړه لار نه دی

روان شوی . هغه غزل د ژوند لپاره د اولس د غوښتنو لپاره وکاراوه او د غزل په تنګه لمن کې یې داسې څه ځای کړل چې هغه د ژوند انه د هر اړخ ځواب ویونکې دی.
هغه د هر ګل شانته تکل، د ګل د سور رنګ شانته سره وینه او د زلفو په تیاره کې زنځیرونه او د ظلم تیارې په ګوته کوي.

که د پښتو ژبې د معاصر غزل پلار امیر حمزه شینواري پښتو او پښتو یې په غزل کې رانیسته نو اجمل خټک په غزل کې د ښایست او ښکلا سره سیاست هم ګډ کړ او د غزل په ژبه او د حسن او عشق په ښنوبي د خلکو دردونه، ظلم تیري، نابرابري د ټولنې ناخوالې او یا په لنډه توګه ملي او طبقاتي مسایل راڅرګند کړل او خپل غزل ته یې د یو نوي غزل نوم ورکړ چې وایي :

یارانو د چاپت د زلفو ول لیکلی نشم
زور فن کې د خپل نوي دور غزل لیکلی نشم
د خیاله لږ زما د ژوند کوډ لې ته راکوز شه
جونګړو کې عیشونه د محل لیکلی نشم
زاره استادان نوي جذباتیان دي خفه نه وي
سرې شونډې د خپل زخم په بدل لیکلی نشم
په زړه کې خوبه تا سوي هم او منئ ملګرو
چې دار په سر خبرې د اوربل لیکلی نشم
لږ وګورئ چې ناوې د پښتو د چاسره ده   پردي کورکې یې حسن د کاکل لیکلی نشم .

خه خوشی لیوني نه دي خټک ډیری قصې دي

د مینې مسئلې یې په یو ځل لیکلی نشم

(ګلونه ټکلونه، ۴۰ مخ)

اوس به د اجمل خټک د شاعرۍ ځینې ځانګړتیاوې په ګوته کړو، دومبی دا چې د اجمل خټک په شعر باندې د پښتو د اولس ادب ژور تاثیر شته چې هم دغه تاثیر زموږ د پښتو په عروضي شاعرۍ کې خه نه خه شته چې د پښتو شعر ته خوندښکلا او ساده ګي ورکړې ده.

لکه د لنډیو، متلونو، فولکلوریکو کیسو او داسې نورو چې تاثیرات یې په پښتو معاصره شاعرۍ کې شته او د اجمل خټک په شعر کې هم دغه تاثیرات وینو، چې څو بیتونه د نمونې په توګه راوړم:

خیالونه رانه الوزي او وبل د درخانۍ ته
په ذهن مې د فکر اباسین په چپو راشي

(ګلونه ټکلونه، ۵۹ مخ)

دا دلته بزغونې آدم رباب په کومه ګوته
چې ورانګو د آسمان کې راپیل وږمه تنګ شو

(ګلونه ټکلونه، ۸۵ مخ)

لاسونه زړ د زړو د زنځیر نه ورته خلاص کړئ
سور جام د رته په خولې پورې نیولی ګل ملکې دي (ګلونه ټکلونه، ۵۴ مخ)

برکت د سپینو لیچو سره و بنگړو دی
دا د مینی گودر ته چی ودان دی

(گلونه تکلونه، ۱۰۱ مخ)

بهرام شه ملا دې وتړه تکل وړسپی وکړه
له دیوه گل اندامه به زاړو کله خلاصیږې

(گلونه تکلونه، ۴۳ مخ)

همدا راز اجمل ختک د پښتون اولس د نومیالیو او اتلانو له کارنامو او سره سندونو هم متأثر شکاری او په خپلوا شعارو کی یې ځای په ځای یادونه کوی لکه د خوشحال خان، ایمل خان، دریاخان، باچاخان او نورو چی د لته د دې خبرې د روښانتیا لپاره یو څو بیتونه د نمونې په توگه راوړم:

هم ځولو د اسی می د زړه تا دونو واخیستمه
لکه لوگی د تناره بی غـــر یدونکی یوړم
د خوشحال خان د غیرتی وینی په څـرېکه راغلم
تش څوزوندی او د شاه د ولو په گډا واوړیدم
ماوې چې څم د ایمل خان د توری زنگ څتمه
او چې باره کی د سیلیو په شغا واوریدم
د دریاخان په انغری کی می بخـری کـتل
د ږیتیانو په دروغ او په رښتیا واوریدم

دیوسفزو درنو میرونه ورسیدم

د درهند خواکی دنهرو په ژړا واوریدم

(دغیرت چغه، ۷۲ مخ)

مأخذونه :

۱- دافغان یاد ، دغلام محی الدین افغان دشپیتم تلین په ویاړ دلیکوالو دمقالو مجموعه ، خپرونکی: کابل پوهنتون ، دژبو او ادبیاتو پوهنځی دولتی مطبعه ، ۱۳۶۰ کال (۶۷ - ۶۸ مخونه)

۲- ختک اجمل ، گل پرهر ، خپرونکی : دقومونو او قبایلو دنشراتو او تبلیغاتو ریاست ، ۱۳۶۴ ش کال ، (۹ مخ)

۳- سمندر ، د بدرسنو ، دادب منارهٔ پیښور ، ۱۹۵۸ کال (۹ مخ)

۴- ختک اجمل ، گلونه تکلونه ، دولتی مطبعه ، کابل ۱۳۶۲ کال (اجمل او دده شعر ، سلیمان لایق) (ج مخ)

محمد زيرب

غني او اجمل
د افغاني مطبوعاتو په هنداره کي

غني او اجمل خټک د پښتو ژبي د معاصرو ادبياتو وتلي څيري دي. د دوی د ژوند او شعر په باب لر او بر ډير کار ونه شوي وي، ما په دي ليکنه کي د هغو آثارو او مقالو يو لنډ جاج اخيستی دی کوم چي د دوي په ژوند او شاعری د افغانستان په مطبوعاتو کي نشر شوي دي، ما تر خپله وسه پوري زيار ايستلی دی، چي د غه خپري شوي مقالي په دي ليکنه کي معرفي شي، که څيري څيني آثار زما په دي ليکنه کي نه وي ياد شوي او را نغښتي پاتي وي، هيله لرم، چي لوستونکي به زما معذرت ومني ځکه چي ما به نه وي پيدا کړي.

دغني پلوشي، دغني خان داشعارو ديوان دی چي په ۱۳۳۹ ش کال کی د پښتو ټولني له خوا چاپ شوی دی، په دي کتاب باندي مرحوم استاد گل پاچا الفت هراړخيزه سريزه ليکلي ده، او د غني د فکر او خيال آزادی او د تقليد له تلقيناتو څخه د هغه کښي يې ډيره ستايلي ده.

د اوسنی لیکوال لومړی ټوک چې په ۱۳۴۰ ش کال په کابل کې د مطبوعاتو له خوا چاپ شوی دی، لیکونکی یې استاد بېنوا دی، په دې کتاب د اجمل خټک مفصله پېژند ګلوي او معرفي راغلې ده.

داجمل په یاد مشاعره دا دهغې رسالې نوم دی چې په هغه کې یوه داسې مشاعره راغلې چې د اجمل خټک دیوه بیت په اقتفاء په کابل کې جوړه شوې وه دا مشاعره د راډیو افغانستان څخه برود کاست شوې ده، د رسالې ټولوونکی سیلاب ساپی دی، رساله ځلوېښت مخونه لري او په ۱۳۴۲ کال په کابل کې چاپ شوې ده.

کتاب سال انیس چې په ۱۳۴۶ ش کال دانیس د نشراتي مؤسسې څخه چاپ شوی دی، په دې کتاب کې د پښتونستان مبتکر او فلسفي شاعر تر عنوان لاندې یو مضمون شته، دغه مضمون چې استاد بېنوا کښلی دی، د غني خان د پېژند ګلوي او دده د ابتکارونه د کوخیالاتو او افکارو یادونه او ذکر یې شوی دی.

د اوسنی لیکوال دریم ټوک لیکونکی استاد بېنوا دی. دا کتاب د هغه وخت د مطبوعاتو د مستقل ریاست د پښتو د تعمیم او انکشاف د لوی مدیریت له خوا په ۱۳۴۶ ش کال کې چاپ شوی دی، په دې کتاب کې د غني خان عالي افکار

لوړه پوهه او د پېژند ګلوی او ژوند بهير په مفصله توګه بيان او ليکل شوي دي .

د پښتو ادبياتو لنډ تاريخ د مرحوم پوهاند حبيبي د تدريسي ياداښتونو مجموعه ده چې د ادبياتو او بشري علومو د پوهنځي د خپرونو په سلسله کې په ۱۳۴۷ ش کال کې چاپ شوې ده ، په دې کتاب کې د احمل خټک پر شاعرۍ بحث شوی او ليکلي يې دي چې احمل طوفاني احساس لري او هر شعر يې د منتر کې کار کوي .

د وږمې مجلې د ۱۳۴۷ ش کال په لومړۍ ګڼه کې د احمل خټک په باب د خانبابا تنيوال په قلم يو مضمون نشر شوی دی ، په دې مضمون کې ليکوال د خټک په لنډه پيژندګلوی او ادبي او هنري خواوو باندې خبرې کړې دي .

د کابل مجلې د ۱۳۵۴ ش کال په اتمه ګڼه کې يو مضمون نشر شوی دی چې ليکونکی يې دکتور عارف عثمان او مترجم يې خير محمد ساد دی ، د مضمون عنوان دی : احمل خټک حماسه ويونکی مبارز شاعر .

دوخت چيغه د احمل خټک د شعرونو مجموعه ده چې په ۱۳۵۶ ش کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا آمريت له خوا چاپ شوې ده .

د پلوشې مجلې د ۱۳۵۶ ش کال په پنځمه گڼه کې (د وخت چیغه) تر عنوان لاندې د زلمي هیواد مل په قلم یو مضمون خپور شوی دی، په دې مضمون کې لیکوال د اجمل ختک د پښتو د معاصر ادب پر ارزښتناکه کتاب د وخت چیغه باندې د لنډې تبصرې وروسته د نوموړي په بیوگرافۍ او دده د ادبي ژوند او د علمي او ادبي آثارو د معرفۍ په باب په تفصیل سره خبرې او خبرې شوې دي.

د وږمې مجلې د ۱۳۵۶ ش کال دریمه گڼه کې د پوهاند رښتین په قلم د (عبدالغني خان غني) تر عنوان لاندې مضمون خپور شوی دی، په دې مضمون کې لیکل شوي دي چې غني په خپل وطن او اولس په خپله ژبه او ادب مین دی، د خپل قوم او وطن سرلوړي یې د زړه ارزو ده او د خوشحال خان په څیر د تورو په میدان کې لوبیدلی او د فکر او قلم ډگر یې د ښو لاندې کړی دی او د شعرونو په زمزمو یې ویده زړونه راویښ شوي دي، لکه چې وایي :

چې خاورې شنې مې په قبرونو ولاړې   که غلام مړوم راځي تو کې پرې لاړې
که په خپلو ښو نه یم لمبیدلی   به ما پلیتوي د جماعت غاړې

د ۱۳۵۶ ش کال د زیری جریدې په یوه دیرشمه گڼه کې د پتنگ له خوا یو مضمون خپور شوی دی چې عنوان یې دی (د وخت چیغه)، په دې مضمون کې د اجمل ختک نوموړی کتاب په مفصله توگه معرفي شوی دی.

اجمل ختک او دوخت چیغه، دا د هغې مقالې نوم دی چې د ۱۳۵۷ ش کال د زیری جریدې په څلورمه ګڼه کې نشر شوې ده، د مقالې لیکوال د دغه کتاب پر ادبي ارزښت او د اجمل ختک په شاعرۍ خبرې کړې دي، د مضمون لیکونکی: س، ش دی.

په اوسنی شعر کې د ژوند څپې، دا د هغې رسالې نوم دی چې مرحوم استاد پوهاند عبدالحی حبیبی لیکلې ده، په دې رساله کې د اجمل ختک پر شاعرۍ یو عمده بحث راغلی دی، رساله په ۱۳۶۰ ش کال کې د افغانستان د علومو اکاډیمي له خوا چاپ شوې ده.

د افغان یاد، د هغه کتاب نوم دی، چې په ۱۳۶۰ ش کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي تخنه د غلام محی الدین افغان د شپیتم تلین په ویاړ د زلمي هیوادمل په زیار چاپ شوی دی، په دې مجموعه کې (د پښتو د نني ادب) تر عنوان لاندې د برېښ په قلم مقاله لیکل شوې ده چې د غني خان او اجمل ختک د آثارو په باب خبرې او ذکر په کې راغلی دی.

د ژوندون مجلې د ۱۳۶۱ ش کال په څلورمه ګڼه کې (د عبدالغني خان د خپلو افکارو په پلوشو کې) تر عنوان لاندې مضمون چې لیکوال یې اکبر کرګر دی

نشر شوي دي، ليکو نکي په دغه مقاله کې دغني خان په استعداد دو نو او خيالونو ښکلا چولی او ډير ښه يې پر ليکلي دي.

په ۱۳۶۲ ش کال کې دګلونه او ټکلونه په نوم يو کتاب چې د اجمل خټک د اشعارو مجموعه ده، د قومونو او قبايلو د چارو وزارت له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شوي دي، دا کتاب په پيل کې دوې سريزې لري چې د ښاغلو لايق او بختاني خدمتګار له خوا ليکل شوي دي.

د ژوندون مجلې د ۱۳۶۲ ش کال په دوهمه ګڼه کې د اکبر کرګر په قلم يو مضمون خپور شوي دی چې عنوان يې دی (ګلونه او ټکلونه)، ليکوال په دې مضمون کې په نوموړي کتاب باندې د پاملرنې ور خبرې کړې دي.

د غيرت چغه د اجمل خټک د اشعارو مجموعه ده چې په ۱۳۶۳ ش کال کې د قومونو او قبايلو د چارو وزارت له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده

د زيري جريدې د ۱۳۶۳ ش کال په ۲۳ او ۲۴ ګڼه کې د پوهيالي خالق رشيد له خوا مضمون ليکل شوي دی چې عنوان يې (په اوسنيو پښتو ادبياتو کې د غني خان د شعر يو ښکلې اړخ) دی، ليکو نکي په دې مضمون کې د غني خان

دشعر خوار خیزه خیرنه کړې ده او دهیواد سره دغني په لېوني مینه یې کافي رښا اچولې ده .

دجرګې مجلې د ۱۳۶۳ ش کال په شپږمه ګڼه کې (د پښتنو د هنر د نړۍ بل مشال غني خان) په نوم مضمون کې دغني خان په ژوند لیک ، هنراو د ده په شخصیت او شعري جهان باندې خبرې شوې دي .

دعقیدت ګلونه دمحمد نواز ختک پر مزار مشاعره دادهغه کتاب نوم دی چې په ۱۳۶۳ ش کال کې دقومونو او قبایلو دچارو وزارت له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی ، په دې کتاب کې د (اجمل ختک یو سرېزه راغلې ده چې نوم یې دی داوښکو په ژبه .

دمیرنی اولس ادبیات کتاب په ۱۳۶۴ ش کال کې دقومونو او قبایلو وزارت دنشراتو او تبلیغاتو دریاست له خوا چاپ شوی دی ، دکتاب لیکوال ګ .ف .ګیرس او مترجم یې سرمحقق محمد اکبر معتمد دی ، ددې کتاب په ۱۸۰ مخ کې د (غني خان روما نتیک ریالست شاعر) تر عنوان لاندې یوه لیکنه شته چې تر ۱۸۴ مخ پورې غځېدلې ده . لیکوال په دې لیکنه کې دغني خان په باب لیکي چې نوموړي دلومړي ځل دپاره په پښتو ادب کې دجنون فلسفه رواج او تبلیغ کړېده

او د ده شعر په همدغه وخت کې د شعر د معنوي قانون او لفظي اسلوب د یوه سخت مخالف په توګه منځ ته راغی. په همدې ډول په دې کتاب کې د اجمل خټک د شعري افکارو سنه څیړنه شوې ده، او دی یې ژور شاعر او د سخت او عظیم طبیعت داد راک ښښتن ګڼلی دی.

دمی در دنیای غني د (و) حامد لیکنه، حقیقت انقلاب ثور ۱۳۶۴ ش کال د اسد اوومه، په دې مقاله کې د غني خان د شاعرۍ د ځینو اړخونو په باب په ډېره ژوره بحث شوی دی.

ګل پرهر د اجمل خټک د اشعارو مجموعه ده چې په ۱۳۶۴ ش کال کې د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو ریاست له خوا چاپ شوې ده.

د ۱۳۶۴ ش کال د کابل مجلې په شپږمه ګڼه کې د اکبر کرګر په قلم یو مضمون خپور شوی دی چې عنوان یې دی (خیام په پنځمه هجري پیړۍ کې او غني خان له موږ سره) په دې مضمون کې د غني خان د پوهې، شخصیت، شعر او عالي افکارو په باب اوږده څیړنه شوې ده.

د ننګونو شاعر د هغو مقالو مجموعه ده چې د مرحوم محمد اکبر خادم

د ژوکړې د سلمې کالیزې په نسبت دقومونو او قبايلو وزارت دنشراتو دریاست له خوا په ۱۳۶۴ ش کال کې چاپ شوې ده ، په دې کتاب کې د پوهنیار لطيف بهاند یوه مقاله راغلې ده چې عنوان یې دی (په لرو بنبتنو کې آزاد شعر او بې قافيې نظم) لیکوال دلرې پښتونخوا د شاعرانو په لړکې دغني خان او اجمل خټک د اشعارو پر ادبي ارزښت خبرې کړې او په دې باب یې مثالونه راوړي او لاندې مه یادونه یې کړې ده .

د جرګې مجلې د ۱۳۶۴ ش کال په پنځمه ګڼه کې يو مضمون خپور شوی چې عنوان یې دی (په کوزه پښتونخوا کې دپښتو معاصر ادب ته يوه لنډه کتنه) په دې مضمون کې دغني خان او اجمل خټک د شعر او شاعرۍ په باب ښې خبرې شوې دي .

افضل تکور

دلیونی فلسفی په نوم
دغني خان "گډې وډې"

دغني دی همه لاړې گډې وډې
خان سره بې سره لوکا سرنها
"غني"

د پښتو په معاصرو ادبیاتو کی دغني خان نوم په اول کی دلیونی فلسفی په عنوان هغه وخت زیات شهرت وموند چی د پښتون په مجله کی "چی د پښتون اخبار په نوم خلکو کی زیات شهرت لری" دغني خان گډې وډې د نظم او نثر په تر به خپریدلی او دا هغه وخت وچی دانگریزی ښکیلاکگرو پرضد د پښتنو د مبارزو میدان سنه گرم و، او د پښتنو یووالی په یو کلک سنگر بدل شوی و، په تکر، هاتی خیلو او چارسده کی د سلهاوو پښتنو بی گناه وینی

تونیدلی. خوولی دپښتون اولس دمیړانی او سرښندنی لړۍ سنه گرمه روانه وه چې دپښتون مجلې دپښتون دقهرمان اولس دمبارزو میدان لا پسی گرمندی کړی و، دپښتون په هره گڼه کی به د پښتنو میړانی او بهادری په هکله بیلابیلی لیکنی کیدلی، قومی اووطنی ترانی، شعارونه او ډیرا صلاحی مضامین به بی خپرول.

غنی خان هم دهغه وخت دنورو پښتنو لیکوالو غوندی پښتون ته ډیر په زړه پوری مضامین لیکل. غنی به دپښتون د پاره دلیونی فلسفی په نوم "گډی وډی" لیکلی چې دهمدغو گډوډو له کبله دلیونی فلسفی په نوم دغنی خان شهرت زیات شو، دپښتنانه لیکوال مؤلف لیکی چې:

" ددغه نوم نه ورانډی ادبی دنیا کی غنی خان په لیونی فلسفی پیژندلی شو او دخپلو مزاحیه شعرونو له کبله چې اکثر به په اوه ورځنی مجله " پښتون " کی شایع کیدل، هم ددغی مجلی په ذریعه لیونی فلسفی نه صرف په خپل ماحول کی بلکه ترلیری لری مشهور شو. " (۱)

کله چې په ۱۹۳۸ عیسوی کال پښتون دد ریم ځل د پاره په خپرونو پیل وکړ نو غنی خان د ادب دنیاته راوتلی و. دهغه د شعر پلوشی هره خواخپری شوی وی او په پښتون کی خو داځل بیا دغنی برخه دهر چانه ډیره وه. پښتون که له یوی خوا دغنی خان دی شعر ښکلی کړی وچې:

چې خازی شنی می په قبر وی ولاړی   که غلام مړوم راځی تو کړی پرلاړی

نوله بلې خوا د غني خان "ګډوډي" چې د نظم او نثر په شهپه به يې پښتون له ليکل د پښتون لوستونکي او مينه وال لا پسې زيات کړي و. دا ګډوډي د غني خان هغه بېلا بېلې ليکنې دي چې د خپل وخت عمده مسايلو ته پکې ګوته نيولې شوې ده. او په پښتون کې به د ليونی فلسفي په نوم خپريدلې

د غني د ګډوډو په باب يو پوه ليکي چې :

".....کوم پښتون نارينه يا زنانه به وي چې د هغه دوراندې دې د "پښتون" رساله تيره شوې وي او هغه به د غني د عظمت نه خبر نه وي. پښتون په دې لړکې ډېره لويه کارنامه داکړې ده چې د اعظيم شاعر يې د پښتونخوا په ګوټ ګوټ کې هرچا سره متعارف کړې دې. پښتون په غني پښتون او غني په پښتون غني....." (۲)

د ليونی فلسفي په نوم د غني خان د غه ګډوډې ډېرې انتقادي او اصلاحي بڼه لري. د معاشرې د ځينو کردارونو غندنه په داسې ټکو کې کوي چې په هغې کې د ژوند لورې ژورې خوږې او ترخې ښې ليدلې شو. د د غو ګډوډو په هکله يو بل پياوړی ليکوال ليکي چې :

"......ګډوډي د پښتون اخبار تول د ول سينګار و او د غه ګډوډي چې زرګونه سمې دمې ترې زارشه، به پښتون له "ليونی فلسفي" ليکلې او د غه ليونی فلسفي بې د غني نه بل څوک کيدې شي....." (۳) يو بل محقق د غني د ګډوډو په باب کاږي :

«.... پښتون اخبار کې "ګړی وړی" به غني په نظم او نثر دواړو لیکلی دا ګړی وړی به داسې وې چې په زخمي زړونو به لکه تکور ونه لګیدلې ....» (۴)

د اوسنی لیکوال مؤلف د غني د ګړوړو په هکله داسې کښلي دي چې؛

«.... خلکو به چې د ده "ګړی وړی" او ریدلی نو دا یې نه شوه منلی چې دې ګوندې دلیوني فلسفې خاوند نه دی داځکه چې د غني خان فکر او کړه وړه د عام خلکو د افکارو او کړه وړو سره ډیر توپیر درلود، او د ده د "سبا" خیال د پرون خلکو ته لیونتوب ښکاریده ......» (۵)

د غني خان د غه ګړی وړی د لومړي ځل د پاره د ۱۹۳۸ عیسوي کال د پښتون په پرله پسې ګڼو کې پیل شوي چې بیا یې د لیوني فلسفې په نوم په پښتون کې د غني خان ډیری لیکنې د ګړوړو تر سرلیک لاندې خپرې شوې دي.

د غني شخصیت او د غه ګړی وړی داسې یو ځای ښکاري چې بیلول یې ډیر ګران دي. په د غو ګړوړو کې د غني تصویر او د هغه خلاقیت دواړه ښه وینو، هغه خپل ژوند د ادب د پاره او ادب یې بیا د خپلې ټولنې د پاره وقف کړی دی. غني په د غو ګړوړو کې کو ښښ کوي او هغه مسایل مکې را انغاړي چې په ورځني ژوند کې یې پیښیږي او هغه څه چې په ماحول کې پیښیږي د هغې بیان کوي. خو د لیوني فلسفې په نوم او د ګړوړو په عنوان .

د غني په ګړوړو کې د هغه د شعر بلوشي، مستي، ځواني جانان او رنګین جهان ښه ځلیږي، د غه ګړی وړی مستي هم لري او ځواني، سره دم لري

او خمار هم، سرکشي هم لري او غرور هم، مينه هم لري او حسن هم، خو کومه مينه.
د انسان سره مينه د د هغه ذيدلي انسان سره. د خپل اولس سره مينه، د خپل وطن
سره مينه، د خلکو او آزادي سره مينه، د پښتون او پښتونولي سره مينه، د سولي
او آرامي سره مينه. او هم داخبري دي چي د غني خان د ګډ و ډو شمزي جوړوي.
غني په د غو ګډ و ډو کي د مارغانو او قارغانو سره په خبرو کي د معاشري
"تولني" نابرابري بيانوي، دلته به د خپلي خبري د تخلي د پاره د د غو ګډ و ډو
بيلګه راوړو چي:

" هغه بله ورځ ...... روتي وم يو قارغه مي وليد ماوي اوهوي اشنا
دا ته تري ښنګه پاتي شوي يي؟ رو نه تر بوران خودي تول د بد مذهب د
مسئلي مطابق دا واګون په چکرکي راغلي دي، او د وکالت د ګرځي يي حاصل کړي
دي خو ته هغسي دلته پاتي يي.

يره نها قارغان ډير خوښ دي، ځکه چي زما ليډران هم خوښ دي
او وکيلان هم ..... نو قارغه وي يره چپ شه زره مي بايللي دي. يو څوسړي
رباعياني خوراته وکه ماوي د دلربا نوم دي څه دي، وي چي د تقدير په دربا ب
کي په يوه بي نومه جزيره کي يو نا معلوم ښار دي چي په هغي کي زما دلربا په نه مکه
اسمانونو کي د تولو قارغونو ښکلي دلکشه قارغه " ناموس " اوسي. ماوي مهو کړه
دي و تقوم نوته دلته په سو تو کي څه جوار لتي هلته ولي نه ځي؟
وي زه څه وکوم يوه لاره وه او هغه دا ورپل دي. بس د زرين عقاب وزري

غواړي ...... دعقاب وزري پيدا کړه ؟ وي نه شم . نو ما وي سنه بچيه ورکه سوتو له زور ......» (٦)

دغني په ګډ وډوکي د هغه دخيال ژورتيا او دفکرلوړ والي ليونتوب او فلسفه داسي سره بيا نسوي ، چي ښکلا يي ورته زيا ته کړي ده . هغه دهيڅ پروانه ساتي خه چي ويني هغه کټ مټ ليکي . غني دګډ وډ ويوکمال دادي چي هغه په دغو ليکنوکي دپرديو « اجنبي » لغا تونو او کليمو نه ځان ساتي ، او دژبي سوچه والي لري . دغني دګډ وډ و زړه پښتني چاپيريال او پښتني خبري دي چي داپي يو ځانګړي خصوصيت هم دي .

غني لکه څنګه چي وايي هغسي ليکي . مغلق ترکيبونه او دراني تکي دهغه په ليکنوکي نشته ، او هم دا وجه ده چي لوستونکي ډير ژر کولي شي چي د موضوع عمق ته ننوځي دا هم دبيلګي په دول دغني دګډ وډ وڅخه :

« ...... ليونيه لاله چي کټ تش پروت وي نوځوک به را ويښ کړي .
ماوي چپ شه بي وقوفه ، ته په سياست څه پوهيږي . په سياست خو زه پوهيږم او يو خادم ملا . سنه لاله وايه کنه دا څه دي .

نه شته په دالان کي شته کوټه کي د زړينو
تن که پري واچي تري جوړ به شي تنو

لاله مي ورته خپت وګړاوه . دا خپت به تول قطري قطري کړي او حل به يي نه کړي خکه د دي جواب ورک دي .

بله وا وره :

مخ د مولا که د کبل جوړی   سر الو که وهه تری توری

الله د بنیر غوته : جوړی تیر وتم د دی نه د دی نه خو مله جوړ شو..." (۷)

او دا یې هم بله نمونه :

صیبه یو تمیکس کیدهٔ به لویو لویو ږیرو

ورنه کړی مانی که ځوک د سوات ولاد دیرو

تول خلک به وی چی یو دیر هوښیار زیرو

خیال د خزانی د دیر د دی غریب وطن لری

لویه او ږد ږیره صیبه او ږد آمدن لری ...... الخ (۸)

او دا هم د شعر او شاعری په باب د غنی د ګډوډ ویو بیلګه :

"نو بر خورداره که شاعری سره دی شوق وی نو اول خان له یو زوړ اور نوم خوښ کړه، که خیل دماغ دی نه رسی د هندوستان د چا شاعر نه قرض واخله دانن سبا عام فیشن دی، او شعر کی څه شرم ؟ بیا پر دی بیتونه لیکه او کسی کی خپل راوله او که لږ ی شان سترګی کلکی کړی نو ګټه به وکړی ..... که سبق دی ویلی وی او په اردو پوهیږی نو بیا معامله بالکل اسانه ده بس د خلکو بیتونه سره د وږنو ترجمه کوه، او وهه را کاږه .... (۹)

د غنی خان د ګډوډ وداسی ډیری نمونی شته چی ډیر عمده مسایل په کی د نثر او نظم په ژبه را وړل شوی دی چی دلته د موضوع د اوږد والی له امله

نشو کولی چې هغه راوړو. خو ولې په خلاصه ډول ویلی شو چې:

د غني په دغو ګډوډو کې هم کوم څه ډیر ارزښت لري هغه د غني بیان دی هغه د ټولني ښېګڼې په داسې انداز سره بیانوي چې خلاقیت او ابتکار یې کې له ورایه وینو. ډیر مهم مسایل په ساده الفاظو کې بیانوي تر څو لوستونکي پرې ښه وپوهیږي. دغه ګډوډي د موضوع له مخې سیاسي او اصلاحي بڼه لري. د پښتو اولس د آزادۍ غوښتلو او قربانۍ جد و جهد په کې ډیر ښه تمثیل شوی دی او د اولس د اجتماعي نابرابرۍ او ناخوالي، د بې وزلو او خوارانو د ژوند بیان او د انګریزي ښکیلاک پر ضد د پښتنو د انقلابي شعور عکسونه په کې ښه لیدلی شو. د شکل له مخې دغه ګډوډي هم ځانګړې خصوصیت لري هیڅ خبره ګونګه نه پریږدي هره خبره یې بې ترس او هراس نه بیان شوې دي د بیان انداز یې کټ مټ ساده اولسي او هم ژبې سوچه والې دي. جملې یې لنډې لنډې او لوستونکي ترې ډیر ژر مطلب اخستلی شي که څه هم د غني دلیکنې دود لږ څه مشکل دی خو بیا هم یې په هغه ژبه لیکلي چې په ورځني ژوند کې پرې خبرې کوي.

په دغو ګډوډو کې د غني استقامت، خلاقیت، هم او د پښتنو د مبارزې او سرښندنې په ډاګه وینو، د دې په څنګ کې د انګریز ښکیلاک پر ضد یې ژوند او تل پاتې کېدونکي مسایل ډیر شته دي د غني دا ګډوډي چې د نظم او نثر په ژبه یې لیکلې د پښتو ادب د ډیر ارزښتمن هغه قیمت لرونکي مغلۍ دي چې پښتو به پرې تل د پاره ویاړ کوي او د غني خان نوم به تل د پاره ژوندی ساتي..

لمن لیک :

۱- پښتانه لیکوال، ۱۹۵۸ع کال، پېښور چاپ، اول ټوک "همیش خلیل" اوه لسم مخ.

۲- پښتو خپرونې ۱۳۵۶ هـ ش کال د پښتو د پراختیا او پرمختیا امریت کابل دوهم مخ "حبیب الله رفیع".

۳- همدا اثر، همدا مخ.

۴- پښتو مجله، پېښور، پښتو اکیډمي نولس سوه دری اتیایم کال، د جون ګڼه "غني خان د ترانو خالق" جهانزیب نیاز پو خلویښتم مخ.

۵- د پېغور چغار ۱۹۵۶ یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، پېژندګلو "ماسټر عبدالکریم" الف مخ.

۶- پښتو مجله، پښتو اکیډمي "اعتراف نمبر" غني خان د پښتو ادب د شلمې صدۍ شخصیت "فضل غني غني" نولس سوه اته اویایم کال، شماره (لسمه او یولسمه او اویا مخ).

۷- اوسني لیکوال ۱۳۴۶ کال، کابل، دریم ټوک، ۹۷۷ مخ "بینوا عبدالرؤف".

۸- پښتون جریده ۱۹۳۹ع کال "ګډې وډې" یوني فلسفي ۱۱ ګڼه (۱۹۱) مخ.

۹- همدا اثر، همدا کال، ۱۴ ګڼه، (۲۰) مخ.

۱۰- همدا اثر، همدا کال د اپریل ګڼه (۹ مخ).

۱۱- همدا اثر، همدا کال، ۶ ګڼه - (۱۲ مخ).

میر احمد گوربز

د غني په اشعارو کې استعمار ضد روحیه

دغني خان د (پلوشې، پنجرې چغار، پانوس) شعري کتابونو د څېړنې

داسې معلومیږي چې دغني دشعرونو مضمون او محتوی په عمومي توګه په عشقي

انتقادي او نورو ټولنیزو مسألو باندې بنا ده. په دې کتابونو کې یې د سیاسي

مبارزې سره د انعکاس خوا کمزورې معلومیږي. که څه هم غني د سیاسي

مبارزې په نوم د وخت واکدارانو له خوا د جیل په تورو ګوټو کې زنداني شوی دی

مختلف تکلیفونه، زحمتونه، لوږې او تندې یې په راوستې دي، روحي او جسماني

شکنجې یې ورکړې دي، د خپلو خپلوانو د لیدنو کتنو څخه یې لیرې ساتلی دی.

په جیل کې یې د (پنجرې چغار) په نوم شعري اثر لیکلی دی، دغني خان د جیل

دشعرونو څخه داسې معلومیږي لکه چې غني خان په جیل کې نه وي، څکه

هغه لیکوالانو او شاعرانو چې په جیل کې یې پنځه ورځې تیرې کړې دي

د دوی په شعرونو کې او لیکنو کې په دومره زیاته اندازه او مبالغه امیزه توګه د جیل د سختیو، تکلیفونو او کړاوونو څخه فریاد و نه او د غم ساره اسویلي ایستلي دي چې لوستونکي يي د و بلو توان نه لري او هغه به هک پک ولاړ پاتې شي او فوراً دا خیال ورته پیدا کیږي چې ایا دا د جیل خاوند انو ته انسانان ویلي شو، ځواب يي څرګند دی ؟

دغني خان دا د جیل په شعرونو کې کله کله د خپل تاتوبي او مینو یادونه لیدل کیږي، خو په هغه کې هم د جیل د تکلیفونو او کړاوونو څخه شکایت نه کوي او داسې نه معلومیږي چې غني خان دې دا شعرونه په جیل کې ویلي وي. خو زما فکر دا دی چې غني خان ته خپل لوړ عالي همت او پښتونوالي غرور دا اجازه نه ورکوي چې د واکدارانو د ظلم، استبداد او بندیخانې څخه دې لږ شکایت او ګیله هم وکړي، او د ښمن ته دا سې معلومه شي چې ګوندې غني خان په جیل کې خفه دی او د جیل د فشارونو او تکلیفونو طاقت نه لري او دا کار دغني خان نهایي استغنا، په ځان باور، متانت، میړانه او پښتني غرور ښيي او دا خپل د ښمن ته ښايي چې زماله پاره کور، کلي، ماڼۍ او جیل ټول یو شان دي، پر ما د سرو پښتو قلاء اثر هم نه کوي، غني خان په بندیخانه کې هم کله کله داسې شعرونه وايي چې په ملګرو دې ملنډې ووهي او هغوی دې کله خفه او کله خوشاله کړي او کله دې وژړوي او کله دې وخندوي چې ډیر ښه يي مثال يي (ښپږ زمري) شعر دی. غني پلوشې (۱۸۶ مخ)

زما په نظر دا ډیر مشکله خبره ده چې د غني خان د شعرونو او لیکنو له مخې دی د ده د مفکورې او غوښتنې په باب سمه قضاوت وکړو چې د ده د ژوندانه په مختلفو دورو کې هغه داسې ژوند چې ټول عمر یې په لوړو ژورو کې تیر شوی دی د فکري تمایل تله کومې خواته درنه ده او موږ هم دلته هرڅه چې لیکو هغه د ده د شعرونو او لیکنو د محتوی په رڼا کې ده او هغه زموږ خپل قضاوت او نظر دی.

د قومونو او قبایلو چارو وزارت دا یونوی ابتکار او نوښت دی چې د دوه تنو ژوندیو شاعرانو او لیکوالانو کالیزې لمانځي که دوی دا زموږ د لیکنو په باره کې په خپله رڼا واچوي د ابه زموږ له پاره چې په نورو وختونو کې د نورو پخوانیو لیکوالانو په باره کې یوڅه لیکو روښانه دود نماپرانیزو.

د غني زمانه داسې زمانه ده چې انګریزي استعمار کلونه د دې خاورې په او سید ونکو حکمروائي چلولې ده، د پښتنو او په تیره بیا د پښتنو د مشرانو او خپلواکي غوښتونکو په ضد یې د هر ډول شکنجو، ظلم، استبداد او د سیسونه کار اخستی دی هغه یې کړی ده د پښتنو سیاسي مشران یې په مختلفو نومونو سره بد نام کړي او د پښتنو نظر د دوی نه وګرځوي او د دوی خپل قام او اولس د دوی په ضد راپورته کړي، یو قبیله د بلې سره وجنګوي، د بې اتفاقۍ تخم یکې وکړي، په دې توګه د پښتنو سیاسي مشرانو ډول ته صدمه ورسوي.

انګریزان ترهرڅه زیات د پښتنو په رسم او رواجونو ښه پوهېږي

نو ځکه انګریزان د خپلو استعماري اهدافو د سرته رسولو په غرض تر هر څه زیاته هڅه کوله چې د دوی د عنعناتو په پوهیدو او نظر کې نیولو سره خپلو کوښښونو ته داسې بڼه ورکړي لکه چې دا د دوی خپل کلتوري ارزښتونه دي او په دې توګه د پښتنو د عنعناتو په جامه کې خپل استعماري افکار په دوی ومني او په دې لارکې زیات بریالیتوبونه ورپه برخه شوي هم دي.

غني خان چې د انګریزانو او د دوی د نمایندګانو د سیسې او ظلمونه په سترګو ویني او هم د خپل اولس په روحیه ښه پوهیږي او په دې باور لري چې یو وخت به دا میړنی اولس د انګریزانو او پردیو په ټولو دسیسو او نیرنګونو پوه شي خپلې ټولې بې اتفاقۍ او بد بینۍ به یوې خوا ته کښیږدي او د خپل مشترک دښمن پیرنګي په مقابل کې به سره یو لاس شي د انګریزانو د استعماري قدرت لاس به تل لپاره د دې خاورې نه لنډ کړي. غني خان ته دا هم ښه معلومه ده چې پښتانه د سولې سره زیاته مینه لري او وسله د دوی ګاڼه او جنګ ساعت تیري او میله ده.

دا خو منلې خبره ده چې په دنیا کې هیڅ استعماري قدرت دې ته نه حاضریږي چې په خپله خوښه خپلو استعمار لاندې ملتونو ته خپلواکي ورکړي او د خپلواکۍ اخستل د ټولو خلکو د یوه ستر پاڅون او قیام پرته امکان نه لري همدا وجه ده چې غني خان په خپل شعر کې د پښتنو د روحیې او هم د یوه عمومي اصل چې خپلواکي په وینو سره خړوبه نه شي لاس ته نه راځي په نظر کې

نیولوسره پښتانه وسله والي مبارزې اوسرښندنې ته رابولي، غني خان ددې لپاره چې دانګریزي استعماري قدرت واکداران اونماينده ګان يې هم دا رکړي اودې ته متوجه کړي وي چې که نن ورځ دپښتنوسینې د ستاسو په مرمی سوري سوري کیږي اوزموږ ماشومان دلوږې نه اوښکې تویوي، سبا به هرومرو دستاسو زړونه په خنجر دا سوري اودا اوښکو پرځای به دستاسو دسترګونه داوښکو لښتي روان کړو، اودې ته ددوی پام رااړوي چې پښتانه هیڅ وخت خپل وارچاته نه دي پریښي دي که په سلونوکالونه هم تیرشي خپل بچ اخلي اوانتقام نه اخیستل پښتنو په کلتور اوعنعنه کې سخته بې غیرتي ده اوتردې زیاته بلکه بې غیرتي نشته اوبې غیرتي بیا په خپله دبې ننګۍ مرګ دی دپښتنوسره دښمني دخپل ځان اونورونسلونوسره دښمني ده که څوک هوښیار وي اويوڅه عقل هم ولري دپښتنو دښمني دې ځانونه وساتي ، اودا روحیه غني خان په خپل يوه شعر کې داسې بیانوي :

کړخیروی

ستاګولې دې پیرنګیه ! زموږسینې ... زموږ واربه یو ورځ ووینې وینې

داستاحال دکمال به زوال شي زوال ... دابه کړو دغیرت دجرئت نمونې

دازموږبچي چې نهرژاړي نن ... دهې اوښکو به ځای به ځي ستاسو وینې

اوبه رورو شي بیالاهوکړې وطن ... داسیلاب به یوورځ لاهوکړي ستاچمنې

دقسمت دغوندې لاندې نن زه سبا ته
نن زموږ جگر سبا ستاسو سينې

(غني پلوشې دريم مخ)

غني دغلامۍ کړې نه مرگ سپه گڼي، دپرستنې او بې غيرتۍ مرگ نه بد وړي، دداسې مرگ نه کرکه کوي، خپلو پښتنو ته وصيت کوي چې که زه د دښمن په گوليو نه يم شهيد شوی په ما د جومات غاړې مه پليتوئ او هم خپلې مور ته وايي: اې مورې! که دد ښمن فوځ مې توتې نه کا په ما پسې به اوښکې نه توېوې، دا ټول هغه وصيتونه دي کله چې يو پښتون د خپلواکۍ جنگ ته درومي خپلې مور او مينې ته په وصيتونو سره دا د گيرنه وړ کوي غني خان چې يو اولسي شاعر دی، هر څه د اولس په ژبه او د اولس درچې سره سم خپلو پښتنو ته وړاندې کوي :

دپښتنو په کلتوري ارزښتونو کې هغه ميړنې او غيرتي پښتون، په بدلو، لنډيو او سندرو کې په مختلفو نومونو سره ستايي او دده ټول خصوصيتونه په تراژيديي ويرنو کې بيانوي چې په سر توره د خپل قام او اولس نه دفاع په لاره کې شهيد شوي وي، او دده نوم دهميش له پاره په اولسي ادبياتو کې ژوندی وي او سينه په سينه نورو نسلونو ته پاتې کيږي، د اولسونو د تاريخي مبارزو او وسله والو جگړو په جريان او هم دځوانانو قرباني را ملبو په وخت کې دځوانانو او نجونو له خوا ويل کيږي او هغوی ته د تيرو قهرمانانو د کارنامو

او میړانو یادونه کوي، غني خان د پښتنو د کلتوري او عنعنوي ارزښتونو دا اړخ واقعاً په پښتنو لي او اولسي روحیې سره په ډېره ساده او خوږه ژبه تمثیلوي لکه:

وصیت:

چې خاورې شني مې په قبروي ولاړې / که غلام مړوم راځئ تو کړئ پرې لاړې
که په خپلو وینو نه وم لمبیدلی / په مامه پلیتوئ د جومات غاړې
چې قطرې قطرې مې فوځ د دښمن نه کا / موږې ماپسې په کوم مخ به ته ژاړې
یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې

(غني پلوشې د دولسم مخ)

د مخه موهم یوځه روښانه کړه چې غني خان د خپلواکۍ او آرام ژوند د تامین او لاس ته راوستو په خاطر د مبارزې یوه لاره پېژني هغه توره په لاس او په میړانه سره د دښمن په مقابل کې وسله واله مبارزه ده. غني خان غواړي چې په دا ـ خپل کوچنیان او ځوانان وروزي او دوی ته دا د خپلواکۍ غوښتنې رزمي احساس چې زموږ د پلرونو او نیکونو څخه په میراث را پاتې دی ور تلقین کړي.

د دې لپاره چې د غني خان دا مفکوره چې هغه د خپل وطن آزادي په سر ښندنه وینې تو یدنه او وسله واله مبارزه کې وینې زموږ نظر نوره هم

صدق پیدا کړی وی، د ده د کلام ښونمونی را وړم او قضاوت لوستونکو ته پرېږدم:

هغه چا ته چی غنی خان له نږدی نه پیژنی پرېږدم:

ترانه:

کړم به خپل وطن د ټول جهان د ننداروو · ملک به کړم آزاد
نه جوړیږی بې ځما دوینې دا دارو · تل به وی ناښاد
یا چی ځان قربان کړو · په وینو یی سم ورا کړو
یا چی یی سم جوړ کړو · یا چی یی سم ورا کړو
ځی چې بیایی وینې د انقلاب کړو په نارورو · هسی شو برباد
کړم به خپل وطن د ټول جهان د ننداروو · ملک به کړم آزاد
وا چوی ښایسته ور دی · سره به وینو سره ورد ئ
گوره مور ته خپل پردی · نن به شی ښکاره مرد ئ
ځان دخندا نکړی ای تورلا رورو · دا وخت دی د مراد
کړم به خپل وطن د ټول جهان د نندار ورو · ملک به کړم آزاد
څه به کړم بی ننگه تام · څه به کړم بی جنگه تام
یا به پرې لوگی شم یا به یې جوړ کړم بی داړه ورو · دا وطن برباد
کړم به خپل وطن د ټول جهان د نندار ورو · ملک به کړم آزاد

(غنی پلوشی نځلسم مخ)

د هلکانو ترانه:

خوږ دی ما ته ملک زما	خوږ تر کل جهان
زه به ځم په جنګ د قام	زه چې شمه ځوان
وینه ډ توډه زما رګونو کې د ننګ	سر که مې قام غواړي زه به یې نه کړم په څنګ
زور دې ما لیدلی هم د توپ هم د تفنګ	زور مې د غیرت دی د همه زړونو ځان
زه به ځم په جنګ د قام	زه چې شمه ځوان
نوم ناموس یې څه وي چې یې نوم وي د غلام	دا نوم به بدل کړم یا به کړم بدل جهان
زه پښتون بابا د خپلو ویښو پیدا کړی	زه پښتني مور په غیرت پیولی کړی
مور به پلار نیکه د مړدي کارونه کېږي	زه به غلام نه شم که غلام شي ټول جهان
زه به لوی غږ کړم لکه شیر شاه دنګالي لرم	مت به ابدالي لرم همت به روهیلي لرم
سر به ښکته نه کړم که نړۍ ګونه کشالي لرم	ربه ښکته مه کړې چا سر ته د افغان
زه به ځم په جنګ د قام	زه چې شمه ځوان

(غني پلوشې پنځه دېرشم مخ)

محقق نور محمد شهیم

غني او د هغه شاعري

کله چې د پښتو معاصر شعر او پښتو معاصرې شاعرۍ څخه خبره رامنځ ته کېږي، نو غني خان غني (۱۹۱۶ ع زوکړی) (*) هغه یوازینی شاعر دی چې د نورو زیاتو سبو او دردمنو شاعرانو په لړ کې د یوه ځلیدونکي ستوري په څېر سترګې جلبوي او شعر یې هم ښکلاوې رانغاړي چې له شعر څخه یې انتظار کېږي، ځکه بر سېره پر دې چې د غني خان شعر له خیالي او عاطفي ژورو ممیزاتو څخه ډک دی، له ښکلې اوزه وړونکي آهنګ څخه هم سمه برخمن دی، او په دې سربېره د محتوا او مضمون له پلوه هم غني دی او پر پیمانه او هر اړخیزه شتمني پکې نغښتې ده، او له ژوند او خوند سره سره ژور فلسفي مسایل هم د ده د شعر پراخې زمینې جوړوي.

خو کله چې په شعر کې د غني خان غني د ژوند دیوازیني هیلې او آرمان پوښتنه رامنځ ته کېږي، نو بر سېره پر دې چې د دې پوښتنې ځواب ګرانېږي او یوه پېچلې مسأله ګرځي، سپړل یې هم پر پیمانه ستونزې را د مخه کوي ځکه د ده شعر د ژوند بېلابېلې برخې راچاپېروي او له همدې امله څو

(*) یادونه: د شاعر د زوکړې نېټه په اوسني لیکوال دریم توک او پښتو مجله اعتراف نمبر کې ۱۹۱۴ ع ثبت شوې ده.

ار خیز والی پیدا کوی او له دی سره سره هغه لاړه هم نه تعقیبوي چې نوموړ
د شعري بهیر کاروانیانو خپله طبع ازمایي پکې کړي او په پرله پسې توګه یې تعقیب
کړې او تعقیبوي یې . دی په شعر کې مرسوم دود ونه او چوکاټونه په لغته
وهي او ځانته په بشپړه توګه یوه جلا لاره ټاکي او جلا لاخه چې اصلاً دانه
پکې ښکاري چې غني په کومه خوا روان دی ، څنګه روان دی او چیرې سفر کوي
کټ مټ هغې سیلۍ ته ورته دی چې له نامالومې خوا راوالوځي او په نامالومو خوا
کې ورکه شي لکه یو پوه چې وایي :

« دغني خان شاعري لکه دسپرلي دسحر باد په خپلې خوښې او دخپلې
خوښې په لوري ، په خپل وخت او نیته په خپل رفتار او خپلې بې باکۍ سره په
شرنګا شرنګ راوځي ، ملک په خپلو وږ موسره په سر واخلي او خپل دپسرلي
روح پکې چوف کړي ، بې خبره راشي ، والوزي او بې خبره چې څرنګ راغلې وي
لاړه شي ، دغني خان شاعري سیلۍ ده چې محسوس کیږي خو نه نیول شي او
نه تلل .» (۱)

خوله دی ټولو خبرو سره سره غني خان هغه شاعر دی چې په خپل
هر کلام کې انسان او انسانیت ته خدمت نه هیروي ، دی که په ژوند مسخري
کوي او دنیا توکي ټکالې او خندا وي جوړوي او یا څه ناڅه نوره ژور فلسفي مسایل
راخلي ، یوازې او یوازې انساني هدف راانغاړي او روزنه او پالنه یې کوي
که څه هم دغه هدف ته د شاعر د رسیدو لاره ډیره پرله پیچلې اسپي

اوله بې شمېره تضادونو سره سره دغني د رک هم کومه ساده مسأله نه برېښي.

په حقیقت کې دغني د شعر همدغه غنا، ژورتیا او پېچلتیا، هراړخیزوالی او کله کله د هغه د درک گرانښت او په دې برسېره دهغه د بېلا بېلو شعرونو د محتوا یوتر بله تضاد ددې باعث شوی چې خلک یې «لېوني فلسفي» وبولي او د گڼ ود فکر خاوند ورته ووایي، سره له دې چې ده یو شمېر داسې ژور فکرونه راخیستي چې لېوني خولا ایسته پرېږده زیاتره هوښیاران ورته گوته په غاښ شي.

داسې برېښي چې دغني هر شعر د بېلا بېلو افکارو او عواطفو په نسبت ولاړوي او له همدې امله خپله خاصه بڼه او خاص منطق لري. دې د شعر په ډگر کې په بشپړه توگه آزاد دی. دده هر فکر او هر خیال خپل استقلال لري او د ځانگړي درک په ساحه کې تصویرېږي، مثلاً کله که مینه پرې زورشي نو په بشپړه توگه مطیع ښکاري هرڅه هرڅه ترمحبوب ځاروي او که په مینه زورشو نو په دې ډگر کې د قدرت تولي واگې په خپل اختیار کې ونیسي، هرڅه هرڅه دی شي، لکه:

زه یم زه یم رنگ سرور او شرنگا زه یم — دجانانِ سترگو کې مړاوی خمار زه یم
داتعبیر زما د مستې نشه د تالاش دی — یار زما د زړه ارمان دی د لدار زه یم
دا زما زړه چې د ښیست او رنگ شي وړي — پسرلی سره گلونه راشي بهار زه یم
دا چې نه شم د مسکو شونډو لېواله — لیلی جوړه کړم د حسن معما زه یم
دا خوزه د ځیگر سوز په هوا سور کړم — روح، مطلب آواز د ستار زه یم

چې زه نه يم بې معنې جنت آسمان دی   د جهان د سوز او مينې مختار زه يم
دومره پوه شوم دی وروکی غونډ ژوندی کی   يار ما کمال، کمال د دلدار زه يم

يو پوه ليکي :

« د شعر حقيقت بنسټ احساس، معنوي فکر او تصوير دی، له همدې امله د شعر منطق خوځند دی او هره ګړۍ د عواطفو او افکارو د غوښتنو له مخې خاصه بڼه اختيار وي، نو ځکه هر شعر، خپل خاص منطق غواړي چې يو عاطفي او تصويري منطق دی او ممکنه ده چې ديوه شعر منطق د نورو د ټولو اشعارو له منطق سره توپير وکړي. » (۲)

په رښتيا هم دا خبره چې هر شعر د بېلا بېلو عواطفو او افکارو د غوښتنو له مخې خاصه بڼه اختياروي او هر شعر خپل خاص منطق غواړي نه يوازې يوه پخه او ډېره منلې خبره ده بلکې د شعر جوهر اساس هم جوړوي. خو دا به ددې مانا و نه لري چې ديوه شاعر ديوه شعر محتوا او مضمون له بل سره په تضاد کې واقع شي او هر شعر يې خپله ځانګړې او بېله غوښتنه وپالي او وې روزي او يا دومره هسکې الوتنې وکړي چې کله کله يې ځمکه په ياد هم نه وي .

په همدې ارتباط که څه هم يو پوه زموږ د شاعر په باب ليکي: « چې د غني آثار په خپل منځ کې يو تر بله سره تضاد لري. » او بيا زياتوي : « کله چې شاعر په فلسفي افکارو کې غرق شي نو بيا له وزرو ډېر لوړ الوتل کوي او ډېر لږ د ده هنري تخيل د ځمکې خواته راښکته کيږي . » (۳) خو که څېړې د ده په شعر کې د غه موارد

یوې خواته پرېږدو نو نه یوازې زموږ شاعر یو زیات شمیر نځي او په علمي موازینو برابرې خبرې کړي بلکې د فلسفي مفاهیمو پر اساس موضوع (چې د ژوند د حقیقت څرګندول دي.) ډېر ښه راغلي او د شعر په خوږه ژبه يې ښه رڼا پرې اچولې ده لکه :

لنګه تیاره شوه رڼايي راوړه — آدم چې مست شو «حوا» يي راوړه
مرګ چې د خپل ژوند تلاش کې ووت — ژوندون يي راووړ اوسا يي راوړه
توري چې چیغه د کفر وکړه — ډال يي پیدا کړ قلايي راوړه
چې اوښکې سرې شوې شراب ترې جوړ شو
چې غم بابا شو، خندا يي راوړه (۴)

او يا دا چې :

نه منم یاره مرګ انجام د هستۍ نه دی — خلاصیدل شراب په جام کې اختتام د مستۍ نه دی

او يا لکه :

ژوند او قرار او ارام او به دی نه به یو ځای شي نه یو ځای کیږي
تیاره او نور یو د بل جوړ دي داسې به تیره شي دا چې تیریږي
لکه د سیند د ژوند هم لاره کله په غره کې کله میدان کې
بنده عجب، عجب پیدا دی کوږی په خاوره کې ځای یي آسمان کې

او په دې لاندې شعر کې وګورئ چې زموږ شاعر خپل منظومه د رسیدو لاره په خوږه ښو شعري بارېکیو کې راغاړي چې حتی د منصور په شان دار ته ختل ورته یوه

بهانه ایسی لکه چې وایي:

د انګور په شان ورک شه فنا شه   چې خمار شې د چا سترګو سرو له
د منصور په شان وخېژه دار ته   څه بهانه لټوه رسید وله

ښاغلی همیش خلیل لیکي: "کیف او بې خودي، سرور او خمار، شوخي او رندي، حسن او عشق، رنګ او خیال، د جذباتو او واقعاتو رسمه ترجماني د غني خان د کلام روح دی. د هغه په رنګین او حسین تخیل کې درد هم شته او درمان هم، شرنګ هم شته او ترنګ هم، جام هم شته او جهان هم، جلال هم شته او جمال هم." (۶) او له دې تو لو سره سره پښتو هم شته او پښتنی غیرت او میړانه هم، آزادي هم شته او له آزادۍ او خپلواکۍ سره توده مینه هم او هغه دیوه پوه خبره: "وطنپرستي او د استبداد، ارتجاع او استثمار ضد مبارزه او په معاشره کې د منفي کرکټرونو پر ضد احساسات هم شته." (۷) لکه یوه پښتون ځلمي ته چې وایي:

یا څه ای ځلمیه! مستي توره او ایمان واخله
شرق شه، اور شه، تندر شه او نړ شه خپل جانان واخله

ځار دې د ښنو بریتو شم غلام د غلام زوي یې ته
پروت په دوسی کې یې که زر ځله ځلمي یې ته

توره دې را واخله ننګ پښتو او اسلام پورته کړه
له خپلو مستو سترګو دې نامه د غلام پورته کړه

پاڅه ننګیالیه! نن دلبر او جانان وګڼه
ننګ د پښتون وګڼه ناموس د افغان وګڼه
ټول جهان حیران کړه د خپل شان په تماشا
ای د احمد ننګیالیه! ای بچیه د شیر شاه! (۸۱)

له دی سره سره غني هغه شاعر دی چي حقایقو ته په ځیره ګوري او نه یوازي یي سمه تصویرکښي کوي بلکي خپلو لوستونکو ته هم هڅه کوي چي د حقیقت پېژندني ته ځیرشي او یوازي د پښنو په ظاهري بڼه ونه غولیږي.

په دی ارتباط موږ کولای شو چي د انګریزی مېنکیلاک په وخت او په صوبه سرحد کی د هغوله چلونو او دوکه بازیو څخه د غني خان غني برداشت د مثال په توګه یادکړو. یوپوه وایي چي: «په صوبه سرحد کی استعمار چیانو د دی د پاره چي پښتانه د خپل استعمار او استثمار په کړه غیرني جال کی ورګیر کړي، د هیڅ راز زور زیاتي، وهلو، ټکولو، ربړولو، وژلو، جبر او ظلم څخه ځانونه نه دی ژغورلي او چي په دی لاره کی د پښتنو د سخت مقاومت سره مخامخ شوي او ناکام شوي دی نو بیا یي په دسیسو، خدعو او چالونو لاس پوري کړي دی او زیاري یي ایستلی دی چي ځیني په زړونو پاک او ساده پښتانه په خپلو فریبونو وغولوي، یو له دی چلونو څخه دادی چي استعمار چیانو وس کړي دی چي خپل استعماري سیاست د دین سره سم وښیي او د اسلام پاک نوم د خپلو استعماري چارو د پرمختګ د پاره استخدام کړي او د اسلام له دین نه یي...

د انسانانو د غلامولو، محرومولو او حقوقو سلبولو په لاره کې ناجایزه استفاده کول غوښتي دي."(۹) د انګریزي ښکیلاک د غځېدو او د هغه د چلول د غني په زیاتو شعرونو کې ښه رانښکاري، په دې توګه لیدل کیږي چي د غني خان له بار کیبینو ستر ګونه د فلسفي ژورو مفاهیمو په څنګ کې د ورځني ژوند تراخه او خوا ږه پېښې تېره بیا د لوټمارو او سپېره زړونو د چلول دا مونه هم پټ نه دي او دی په خپل ښه استعداد او سالم تخیل سره د هغو د علت ښه څرګند ونه کوي او په غوره توګه بېله کومې ویرې د هغو په باب خپله رایه څرګند وي. غني په خپل شعر کې د ارنه پېژني او حقایق لکه څنګه چي دي، را اخلي، ښه، ښه بولي او ناوړه تر سخت او سپېره کوونکي انتقاد لاندې نیسي او ملنډې پرې وهي، او په دې توګه له ځینو موارد و پرته خپل شعر ژوند ته ور څېرمه کوي او هغه ته د امید څه هیله پکې روزي او دا نو د ده د شاعرۍ د لوړتوب او ستر توب څرا ښیي.

په پای کې به د غني خان هغه شعر را واخلو چي له خپلي خاورې سره او د هغې له آبادۍ او ودانۍ سره د شاعر ناپایه مینه پکې ځپانده ده او هغه کلک هوډ پکې ځلیږي چي د هر باد رده انسان زړه تسخیروي او کار او عمل ته یې وربولي دوای:

چي خازې شي مې په قبر ورولاړې — که غلام مړه ومره ځي توکړې پرې لاړې
که په خپلو وینو نه وم لمبیدلی — په مامه پلیتوئ د جومات غاړې
چي قطرې قطرې مي یوځ د ښمن نه کا — موري ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې
یا به دا بي ننګه ملک باغ عدن کړم — یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې

مأخذونه:

۱- پښتو مجله، اعتراف نمبر، پښتو اکاډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۷۸
نومبر- دسمبر- ۷۴ مخ.

۲- طلا درس، رضا براهني، تهران، ۱۳۴۷، ۴ مخ.

۳- د ميړني اولس ادبيات، گ، ف، گيرس، مترجم معتمد شينواري
۱۳۶۴، دولتي مطبعه، ۱۸۱- ۱۸۲ مخونه.

۴- د پنجرې چغار، عبدالغني خان، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۱۹۵۶، ۵۴ مخ.

۵- پورتني اثر، ۱۴۶ مخ.

۶- پښتو مجله، اعتراف نمبر، ۱۹۷۸- نومبر- دسمبر- ۵۲ مخ.

۷- کابل مجله، ۶ گڼه، ۱۳۶۴ کال، ۶۵ مخ

۸- د غني پلوشې، ۱۰۷ مخ.

۹- اوسني ليکوال، عبدالروف بېنوا، دريم ټوک، ۱۳۴۶ کال،
دولتي مطبعه (۹۹۳- ۹۹۵ مخونه)

محمد مومن ستوال

دغني د ديوچاپي کتابونو مشترک شعرونه

کله موچي دغني خان د دريو سره چاپ شوي آثار لکه د پنجرې چغار ـ دغني پلوشې او پانوس کتابونه مطالعه کړل، نو په دغو دريوارو چاپ شويو آثارو کې داسې اشعار راغلي دي چې هغه په دغو دريوارو کتابونو کې تکرار راغلي دي او ځينې يې داسې اشعار دي چې هغه يوازې په دوو کتابونو کې تکرار دي. اول د پنجرې چغار ټول اشعار پر ته له دغو څو عنوانونو څخه لکه دعا، مخ (۸)، ژوند، مخ (۲۲) ـ خيال او رنګ، مخ (۱۴۴) شهرت، مخ (۱۷۸) او جنت، مخ (۲۰۳). نور د کتاب ټول اشعار د پلوشې او پانوس په کتابونو کې تکرار دي او په لاندې ليکو کې ښودل کيږي:

۱ـ ثنا ـ د پنجرې په ۹ مخ کې او ثنا د پلوشې په ۱۲۵ مخ کې تکرار راغلي ده او کوم توپير يکې نه ليدل کيږي.

۲ـ د جيلخانې خوب ـ د پنجرې په ۱۰ مخ کې ـ د جيلخانې خوب د پلوشې په ۱۲۵ مخ کې، او د جيلخانې خوب د پانوس د کتاب په ۱۶۳ مخ کې يوشان تکرار راغلي دي.

۳ـ قيد ـ د پنجرې په ۱۳ مخ کې قيد ـ د پلوشې په ۱۲۷ مخ کې او قيد د پانوس

په ۱۶۵ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی .

۴- خاوري - دپنجر په ۱۶ مخ کی ، خاوري دپلوشې په ۱۲۸ مخ کی اوخاوری دفانوس په ۱۶۵ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی فقط دومره توپیرلري چې دفانوس په اخري بیت کی (ملا) راغلی او دپنجري په کتاب کی (لالا) راغلی دی .

۵- گوگل - دپنجري په ۲۴ مخ کی ، اوگوگل دپلوشې په ۱۳۲ مخ کی او گوگل دفانوس په ۱۷۴ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی اوکوم توپیر پکی نه لیدل کیږی .

۶- جناب شیخ - دپنجري په ۲۶ مخ کی ، جناب شیخ دپلوشې په ۱۳۳ او ۱۳۴ مخونوکی او جناب شیخ دفانوس په ۱۷۶ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی .

۷- ساز - دپنجري په ۲۸ مخ کی ، ساز - دپلوشې په ۱۳۵ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی .

۸- اور - دپنجري په ۳۰ مخ کی - اور - دپلوشې په ۱۳۶ مخ کی او اور دفانوس په ۱۸۰ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی اوکوم توپیر پکی نه لیدل کیږی .

۹- گواه - دپنجري په ۳۳ مخ کی ، اوگواه دپلوشې دکتاب په ۱۳۸ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی .

۱۰- خومره - دپنجري په ۳۴ مخ کی ، اوخومره دپلوشې په ۱۳۸ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی .

۱۱- بل څه - دپنجري په ۳۵ مخ کی ، او بل څه دپلوشې دکتاب په ۱۳۸ مخ کی یوشی دی اوکوم توپیر نه لري .

۱۲- تش جام - د پنجرې په ۳٦ مخ کی ، او تش جام د پلوشی دکتاب په ۱۳۹ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی .

۱۳- آدم - د پنجرې په ۳۷ مخ کی ، آدم د پلوشې په ۱۴۰ مخ کی ، او آدم د فانوس په ۱۸۳ مخ کی یوشی او تکرار دی .

۱۴- غم د پنجرې په ۳۸ مخ کی ، غم د پلوشې په ۱۴۰ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی .

۱۵- هوش د پنجرې په ۳۹ مخ کی ، او هوش د پلوشې دکتاب په ۱۴۱ مخ کی یوشی او تکرار دی .

۱٦- حسن د پنجرې په ۴۱ مخ کی او حسن د پلوشې په ۱۴۲ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی .

۱۷- اورکې د پنجرې په ۴۵ مخ کی او اورکې د پلوشې دکتاب په ۱۴۴ مخ کی یوشی او تکرار دی .

۱۸- نه کیږي په عقل د پنجرې په ۴۳ مخ کی او نه کیږي په عقل د پلوشې په ۱۴۳ مخ کی یوشی او تکرار دی .

۱۹- حساب د پنجرې په ۴۸ مخ کی ، او حساب د پلوشې په ۱۴٦ مخ کی یو شی او تکرار راغلی دی .

۲۰- لوږه - د پنجرې په ۵۲ مخ کی لوږه د پلوشې په ۱۴۸ مخ کی او لوږه د فانوس په ۱۸۸ مخ کی یوشی او تکرار راغلې ده او کوم توپیر پکې نه لیدل کیږی .

۲۱- غزل - د پنجرې په ۵۱ مخ کی ، او غزل د پلوشې په ۱۴۷ مخ کی یو شی

او تکرار راغلی دی .

۲۲- دغم لور- دپنجرې په ۵۴ مخ کی، دغم لور دپلوشې په ۱۴۹ مخ کی، او دغم لور دپانوس په ۱۹۰ مخ کی یوشی او تکرار راغلی ده اوکوم توپیر نه لیدل کیږی .

۲۳- قسمت - دپنجری په ۵۵ مخ کی، قسمت دپلوشې په ۱۴۹ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی. دقسمت عنوان په پلوشې کی دری ځایه راغلی دی چی یو یې دپلوشې سره تکرار دی، او د (۳۳ مخ او ۱۶۱ مخ) یې ورسره توپیر لری ، اوقسمت په فانوس دوځایه په (۵۸- ۲۴۷) مخونو کی راغلی دی چی دغه ټول سره بېخبل منځ کی او هم دپنجری د ۵۵ مخ او دپلوشې ۱۴۹ مخ سره توپیر لری او تکرار نه دی .

۲۴- دفریدون دمورخط - دپنجرې په ۵۶ مخ کی، او دفریدون دمورخط دپلوشې په (۱۴۹- ۱۵۰) مخونو کی یوشی او تکرار راغلی دی او کوم توپیر پکې نه لیدل کیږی .

۲۵- عقل مې حیرانه - دپنجرې په ۶۰ مخ کی ،عقل مې حیرانه دپلوشې په ۱۱۳ مخ کی ، او عقل مې حیرانه دفانوس په ۲۸۵ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی .

۲۶- بت - دپنجرې په ۶۱ مخ کی ، بت دپلوشې دکتاب په ۱۵۱ مخ کی، او بت دفانوس دکتاب په ۱۹۱ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی او کوم توپیر پکې نه لیدل کیږي .

۲۷- ولی؟- دپنجرې په ۶۳ مخ کی ، او ولی؟ دفانوس دکتاب په ۱۹۳ مخ کی یوشی او تکرار دی .

۲۸- اول سترګې ستا دلید وخورا دپنجرې په ۶۵ مخ کی ، اول سترګې دلید وخورا دپلوشې دکتاب په ۱۱۰ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی .

۲۹- تموقه- د پنجري په ۶۸ مخ کې، او توقه د پلوشې د کتاب په ۱۵۲ مخ کې یو شي او تکرار راغلې ده.

۳۰- ډنډکې- د پنجرې په ۷۳ مخ کې او ډنډکې د پلوشې د کتاب په ۱۵۳ مخ کې یوشی او تکرار راغلی دی.

۳۱- دوزخ- د پنجرې په ۷۵ مخ کې، دوزخ د پلوشې د کتاب په ۱۵۴ مخ کې او دوزخ د فانوس د کتاب په ۱۹۶ مخ کې یوشی او تکرار راغلی دی.

۳۲- جنت د پنجرې په ۷۸ مخ کې، او جنت د پلوشې د کتاب په ۱۵۶ مخ کې یوشی او تکرار راغلی دی.

۳۳- زړه- د پنجرې په ۸۰ مخ کې، زړه د پلوشې په ۱۵۷ مخ کې، او زړه د فانوس د کتاب په ۱۹۹ مخ کې یوشی او تکرار راغلی دی.

۳۴- پسرلی- د پنجرې په ۸۱ مخ کې، او پسرلی د پلوشې په ۱۵۸ مخ کې یوشی او تکرار دی.

۳۵- ژوندون- د پنجرې په ۸۴ مخ کې، او ژوندون د پلوشې په ۱۵۹ مخ کې یوشی او تکرار راغلې دی.

۳۶- بلهار- د پنجرې په ۸۷ مخ کې، او بلهار د پلوشې د کتاب په ۱۶۰ مخ کې یوشی او تکرار راغلې ده.

۳۷- قسمت د پنجرې په ۸۹ مخ کې او قسمت د پلوشې په ۱۶۱ مخ کې یوشی او تکرار راغلی دی، قسمت د پلوشې په ۳۳ مخ کې او قسمت د فانوس د کتاب په ۲۴۷ مخ کې یوشی او تکرار راغلی دی او کوم توپیر نه لري.

۳۸- اوبښ- دپنجرې په ۹۵ مخ کې، اوبښ دپلوشې په ۱۶۶ مخ کې، او اوبښ دفانوس دکتاب په ۲۰۰ مخ کې یوشی اوتکرار راغلی دی.

۳۹- مرګی- دپنجرې په ۹۲ مخ کې، مرګی دپلوشی دکتاب په ۱۶۴ مخ کې او مرګی دفانوس دکتاب په ۲۰۲ مخ کې یوشی اوتکرار راغلی دی اوکوم توپیر یکې نه لیدل کیږی.

۴۰- کمتره- دپنجرې په ۹۹ مخ کې، اوکوتره دپلوشې په ۱۶۸ مخ کې، اوکمتره دفانوس په ۲۰۳ مخ کې یوشی اوتکرار راغلې ده. یوازې په عنوانوکی لږ څه توپیر لیدل کیږی، اودفانوس دکتاب په اول بیت کی لږ څه توپیر لیدل کیږي هغه داسی دی. وایې:

دجنت مرغۍ کمترې دغم درد ده بې خبره

سبایې چې دا (بې خبرې) وي، اوپه چاپ کی به غلطی شوې وي ځکه چې په پنجرې اوپلوشې دواړوکی (بې خبرې) راغلی اوهغه درست هم دی.

۴۱- چینډخ- دپنجرې په ۱۰۱ مخ کی، اوچینډخ دپلوشې دکتاب په ۱۶۹ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی ده.

۴۲- میږی- دپنجرې په ۱۰۳ مخ کی میږی، دپلوشې دکتاب په ۱۷۰ مخ کې اومیږی دفانوس دکتاب په ۲۰۵ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی اوکوم توپیر نه لیدل کیږی.

۴۳- ماشی- دپنجرې په ۱۰۶ مخ کی، ماشی دپلوشې په ۱۷۲ مخ کی، اوماشی دفانوس دکتاب په ۲۰۸ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی اوکوم توپیر یکې نه لیدل کیږی.

۴۴- اس بدو- دپنجرې په ۱۰۹ مخ کی، اس بدو دپلوشې په ۱۷۳ مخ کی، او اس بدو دفانوس دکتاب په ۲۱۱ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی اوکوم توپیر یکې نه لیدل کیږی.

۴۵- قارغه - دپنجرې په ۱۱۱ مخ کی، کارغه دپلوشې په ۱۷۵ مخ کی، او کارغه دفانوس په ۲۱۳ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی.

۴۶- مږه - دپنجری په ۱۱۳ مخ کی، اومږه دپلوشې دکتاب په ۱۷۶ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی ده.

۴۷- بازیگرکمتر - دپنجری په ۱۱۵ مخ کی اوبازیگرکوتر، دپلوشې په ۱۷۷ مخ کی یوشی تکرار راغلی ده.

۴۸- کوچی - دپنجرې په ۱۱۷ مخ کی، اوکوچی دپلوشې دکتاب په ۱۷۸ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دي.

۴۹- تورانئ - دپنجرې په ۱۱۹ مخ کی، اوتورانئ دپلوشې دکتاب په ۱۷۸ مخ کی یوشی اوتکرار راغلي ده. یوازې په پنجره کی رنا (رڼا) لیکل شوې اوژوندون په جملون لیکل شوی دی.

۵۰- ملاچرجک - دپنجرې په ۱۲۰ مخ کی، اوملاچرجک دپلوشې دکتاب په ۱۷۹ مخ کی یوشی اوتکرار دی اوکوم توپیر یکی نه لیدل کیږي.

۵۱- چرگ - دپنجرې په ۱۲۲ مخ کی، چرگ دپلوشې په ۱۸۰ مخ کی، اوچرگ دفانوس دکتاب په ۲۱۵ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی، مگر په فانوس اوپنجری کی دملایانو پرځای ملیانو راغلی دی.

۵۲- بورا - دپنجرې په ۱۲۳ مخ کی، اوبورا دپلوشې دکتاب په ۱۸۱ مخ کی یوشی اوتکرار راغلی دی.

۵۳- تاړو - دپنجرې په ۱۲۵ مخ کی، او بوا دپلوشې دکتاب په ۱۸۱ مخ کی یو شی او تکرار دی.

۵۴- کورکوره - دپنجرې په ۱۲۸ مخ کی، او کورکوره د پلوشې په ۱۸۳ مخ کی یوشی او تکرار راغلې ده.

۵۵- مچ - دپنجرې په ۱۲۹ مخ کی، او مچ د پلوشی دکتاب په ۱۸۴ مخ کی یوشی او تکرار راغلی دی.

